# ليکوالي

# املاء او انشاء

د

ګل پاچا «الفت»

پښتو ټولنه

www.ulfat.de

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو ټولنې(۱۵۲) لمبر خپرونه

# لیکوالی

## (املاء او انشاء)

لیکوال: ګل پاچا «الفت»

دوهم چاپ
چه له پخوا نه د ېر څه پکښې زیات شوه
شمیر: دری زره
د ۱۳۳۹ هـ ش د دلو میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دا کتاب

د پوهنې د وزارت له خوا د يوولسمو ټولګيو دپاره د درسي کتاب د مرستيال په حيث ومنل شو او د شمېر د لږوالی په وجه دوهم ځل چاپ کړی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مضمونونو فهرست

عنوان ..... مخ

املاء ..... 1
ټکی او لیک ننبي ..... 7
د املاء په باب ..... 10
د پښتو ټولنې فیصلې ..... 10
لومړی فیصله: ..... 11
دوهمه فیصله: ..... 13
دریمه فیصله: ..... 15
پښتو املاء په پښتو کتابونو کښې: ..... 19
د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا: ..... 20
د میا روښان د خیر البیان املاء: ..... 21
د اخوند درویزه د مخزن الاسلام املاء: ..... 23
د ملا مست د سلوک الغزات املاء: ..... 24
د میرزا انصاری د قلمی دیوان املاء: ..... 25
د دولت د قلمی دیوان املاء: ..... 25
د آخوند قاسم د فواید الشریعة املاء: ..... 26
د خوشحال خان املاء: ..... 27
د عبدالقادر خان ختک املاء: ..... 29
د عبدالرحمن بابا قلمی دیوان: ..... 29
د محمد هوتک د پټې خزانې املاء: ..... 30
د احمد شاه بابا د دیوان املاء: ..... 31

(c) ketabton.com: The Digital Library


د راورټي د ګلشن روه املاء:........................................................................32
د پښتونخوا د شعرهار و بهار:......................................................................33
لمړی کتاب د پښتو: ..................................................................................33
پښتو مرکه:...........................................................................................35
د منشي احمد جان املاء: ..........................................................................36
د پښتو ادبی انجمن:.................................................................................37
انشاء(لیکوالی )......................................................................................39
سبک ...................................................................................................57
رحمان او خوشحال د فکر له حیثه:..................................................................60
د خوشحال خان ختک سبک:.......................................................................64
د رحمان بابا سبک:...................................................................................65
د حمید سبک: ........................................................................................67
پښتو څنګه ولیکو؟ ...................................................................................70
په پښتو ژبه کښي ځیني لغوي او ګرامري تغیرونه.................................................73
الف- د لغاتو برخه:....................................................................................74
ب- ګرامری تغیر: .....................................................................................79
ګرامری اختلاف.......................................................................................82
مبتداء او خبر:..........................................................................................82
ادبی انتقاد .............................................................................................86
شعر او ادب............................................................................................90
د ادب راز .............................................................................................95
د پښتو پخوانی نثرونه.................................................................................98
د تذکرة الاولیاء د نثر نمونه:..........................................................................98

(c) ketabton.com: The Digital Library


د خیر البیان د نثر نمونه: ............................................................... 99
مخزن الاسلام: ............................................................... 101
د خوشحال خان نثر: ............................................................... 102
د پټې خزانې نثر: ............................................................... 104
اوسنی نثر............................................................... 106
آدم خان او دُرخانۍ ............................................................... 108
له شعر نه څه غواړئ؟ ............................................................... 111
د غوټې زندګي ............................................................... 118
د اوښکو ارزانی............................................................... 120
د خاندان خولۍ............................................................... 121
لاربنوونکی ............................................................... 123
نوی کال نوی زېری............................................................... 125
د مشهد لیدنه کتنه............................................................... 128
زړه زړه نه دی ............................................................... 131
دوه دهقانان............................................................... 135
دوه جنازې ............................................................... 138
دعـا............................................................... 140
د غاښو ایستل............................................................... 141
د ژبې نعمت............................................................... 141
رزان خیز............................................................... 143
ګله ! ............................................................... 145
ته لړم نه ئې ! ............................................................... 147
پـیر ............................................................... 148

(c) ketabton.com: The Digital Library


پاکه پانګه ........ 149
د دعوو وکیل ........ 151
کونډه نجلۍ ........ 156
جومات او قبر ........ 165
ښه هم ښه بد هم ښه ........ 167
صاحب جانه ........ 169
ملاله ........ 173
اعتبارات ........ 175
اعتبارات ........ 176
لنډۍ وېناوې ........ 177
د علم په باب کښې ........ 178
برکت ........ 186
مړاوی ګل ........ 196
غازی محمد جانخان ........ 198
نوی کال ........ 201
پښتنه مېرمن ........ 205
ملیت او ملي استقلال ........ 215
ملي یووالی ........ 219
ژوند ........ 223
مترقي ژوند ........ 225
د خلکو نظر ........ 227
د حق اظهار ........ 230
ډار ........ 232

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت ........................................................................................ 234
زما نظر........................................................................................ 235
عشق او هوس........................................................................................ 236
مضر احتیاط ........................................................................................ 240
حاکمانو ته وایم........................................................................................ 243
میلونر خیرات خور ........................................................................................ 246
ګرانه لیکواله ! ........................................................................................ 247

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# املاء

املاء او ملاٌ په لغت کښې مهلت ورکولو[1] او ډکولو[2] ته وایي:
په ادبی اصطلاح خپلې خبرې یا د بل خبرې په صحیح ډول لیکل دی که څوک له ځانه څه نشی لیکلی مګر د بل لیک له مخې نقل کولی شی د غسې نقل ته املاء نشو ویلی.
د املاء خاوند باید دا ټکي په نظر کښې ونیسی:
۱- څه چه لیکی باید د صحیح تلفظ له مخې ئې ولیکی او په غلط تلفظ پسې لاړ نشی په هره ژبه کښې د عوامو تلفظ او صحیح تلفظ یو څه فرق لری.
ځینې الفاظ شته چه په ویلو کښې یو راز او په لیکلو کښې بل راز دی لکه چه په فارسی ژبه کښې (او) ویل کیږی او (آب) لیکل کیږی په پښتو کښې هم (الک) وایی او هلک لیکي.
۲- د الفاظو په لیکلو کښې د ګرامر (صرف، نحو) مراعات ډیر په کار دی.
ځینې جملې په وینا کښې دومره لنډې شوی دی چه یوې کلمې غوندې وی لکه (څېکی) چه باید د ګرامر له مخې (څه ئې کوې) ولیکل شی.
دا راز مخففات په نورو ژبو کښې هم شته چه په لیک کښې نشته لکه چه په فارسی کښې (مچم) وایی او (من چه میدانم) لیکی.

---

1- و املی لهم: ملهت ورکولو دوی ته (قرآن کریم).

2- لا ملئن جهنم یعني هر ګوره ډک به کړو جهنم (قرآن کریم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دوه بیلي کلمی به یو له بله په لیکلو کښې نه نښلوو یعنی دا راز کلمات (ټول سړي) (لوی کور) باید داسې ونه لیکو (ټولسړی)، (لویکور).
۴- که له دوو کلمو څخه یوه کلمه جوړه شوې وی لکه (ټولیمشر) نو بیائي په لیک کښې بېلول ښه نه دی.
همدغه شان به (ټولواک) د یوې کلمې غوندې لیکو او واک به له ټول نه نه بېلوو.
د دغه اساس له مخې باید د (بېلنانه) کلمه د جدائی په معنی داسې ونه لیکلو لکه چه (بې له تا نه) لیکو.
۵- د کلماتو په لیکلو کښې دا مراعات هم ضرور دی چه یوه کلمه د یوې بلې کلمې په شان ونه لیکو او څومره چه کېدای شی د التباس او اشتباه مخه ونیسو.
مثلاً (پوښتنه) د تپوس په معنی او (پښتنه) د پښتون مونثه کلمه باید په لیکلو کښې فرق ولری.
همدا رنګه (ګوډ) او (ګډ) باید یو شان ونه لیکو او نه (پریښی) لکه (پری ایښی) ولیکو به (نوی) د جدید په معنی او (نه وی) د نباشد په معنی په لیکلو کښې باید فرق ولری. په عربی، فارسی او پښتو لیک کښې داسی کلمات شته چه د لیک له مخې یې له ځینو نورو کلماتو نه فرق نشی کېدای لکه: (شیر – شیر) چه یوه کلمه د پیو (شودو) په معنی ده او بله د (زمری) په معنی چه د محل او مقام له مخې ئې معنی معلومېږی، مګر د پښتو لیک کښې دغسې التباس او اشتباه نسبتاً لږ پېښېږی ځکه چه په پښتو کښې معروفه او مجهوله (ی) فرق لری یعنې (تېر) لکه (تیر) نه لیکی.
همدارنګه غړی لکه (غړې) نه لیکل کیږی او د تانیث (ی) مخصوص شکل لری. سره له دی بیا هم ځینی کلمات شته چه باید د محل او مقام له مخې یې معنی معلومه کړو لکه: خوله، خوله، خوله) په دی جملو کښې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوله ئې په سر وه – په خوله کښې يې خبره نه دريږی – خو له يې وکړه.

۶- په پښتو کښې د نفي توری او د نهې توری (نه – مه) له افعالو څخه جدا ليکل کيږی لکه ( نه ځی، نه کوی، نه وينی، مه وايه، مه کوه، مه ځه، مه غواړه) مګر په (نشی، نشته، نکړی، مشه، مکړه، ناخلی) کښې يې زياتره متصل ليکی.

۷- پښتو توری:

په پښتو کښې ځينې توری شته چه په فارسی او عربی کښې نشته.

د دغو تورو ځای پيژندل او په خپل محل کښې يې ليکل په پښتو املاء کښې ډير اهميت لری چه هغه دا دی:

ښ: دا توری ځينې پښتانه لکه: (خ) يا (ځ) ته نږدې ادا کوی او حينې يې داسې تلفی کوی چه آواز يې (ش) غونډې وی.

نو دغه دوه يا درې مختلف غږونه چه يوځای بل ځای د لهجې د اختلاف په وجه د ځينو لغاتو په تلفظ کښې شته په ليک کښې د دغه توری په ليکلو دغه اختلاف له منځه تللی او د ليک يو راز والې يې ساتلی دی.

دا توری په داسې لغاتو کښې ليکل کيږی: (ښه – لوښی – اوښ) چه څواک يې يو ورا او څوک ئې بل راز تلفظ کوی.

کومه کلمه چه يوازی د (خ) يا يوازې د (ش) آواز لری هلته دغه توری نه ليکل کيږی لکه: (ختيه – خاوره – شګه – شولی) په دغه اساس بايد (خندل) په (خ) او (شندل) په (ش)وليکو او(ښندل ) په (ښ) وليکل شی چه د دريواړو کلمو معنا ګانی وساتو.

ږ: دا توری هم ځينی پښتانه لکه (ژ) او ځينی يې لکه (ګ) ادا کوی، نو ځکه په هغو کلماتو کښی ليکل کيږی چه د لهجو د اختلاف په وجه دغه دوه آوازونه ولری لکه (ږلۍ – لږ – کوږ) دغه توری هم په پښتو املاء کښی د لهجو د اختلاف مخه نيولی ده او د ليک يووالی يې ساتلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم کلمات چه یوازې د (ګ) یا یوازې د (ژ) آواز لري، هلته دا توری نه لیکل کیږي او هماغه (ګ) یا (ژ) لیکی لکه (مالګه، ګوره، ژبه، ژرنده).
ځ: د دې توری آواز له (ز) نه لږ غوندې دروند دی چه په ځینو پښتو کلماتو کښې یې لیکل ډیر ضرور دی لکه ځان، ځنډ او داسې نور...
په پښتو کښې ځینې کلمات شته لکه (ځه) چه د تللو امر دی چه په پښتو (ځ) لیکل کیږي، که دا کلمه په (ز) ولیکو نو (زه) د متکلم ضمیر ترینه جوړیږي. همدغه شان (ځوږ) که په (ز) ولیکل شی نو د (زوږ) سره مشتبه کیږي.
دا توری د پښتو په پخوانی رسم خط کښې ډیر استعمالیده اوس یې په ځینو لغاتو کښې ځای (ز) نیولی دی لکه:
زما، زغمل، زمری، زوی، ګرزېدل او داسی نور، دغه تغیر او تحول ته چه ګورو دا اټکل کیدی شی چه څه زما نه وروسته به دغه توری له منځه ولاړ شی او خپل ځای به (ز) ته پرېږدی ځکه چه د دې دواړو تورو تر منځ په تلفظ کښې دومره واضح فرق نشته چه هر څوک پرې پوه شی او له یوه کلی قانون لاندې راشی دلته چه کومه قاعده یو څه تطبیق پیدا کوی هغه دا ده چه:
کوم کلمات چه په فارسی کښې په (ج) ویل کیږي او په پښتو کښې په (ځ) نو هلته باید همدغه پښتو (ځ) ولیکو لکه:
ځوان، ځان، ځنګل او داسې نور، سربیره په دې په هغو کلماتو کښې یې هم لیکل ضرور دی چه که په (ز) ولیکل شی، نو له یوه بل پښتو لغت سره التباس پیدا کوی لکه ځږېدل، زږېدل.
څ: دا هم پښتو توری دی چه په فارسی او عربی کښې نشته تلفظ یې (س) ته نږدې دی او ځینې کسان یې په ځای د (س) توری استعمالوی که د دغه توری په ځای (س) ولیکل شی، نو د ځینو کلماتو معنی بدلیږي لکه: (څټ – څوک) چه (ست – سوک) ترې جوړیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډ، ړ، ټ: دا درې توری په پښتو املا کښې ډیر زیاته برخه لری چه ځای پېژندل یې ډېر ضرور دی او صحیح تلفظ یې په کار دی که یو لیکوال په لیکلو کښې او ویونکی په وینا کښې (ټ) په (ت) او (ړ) په (ر) یا (ډ) په (د) بدل کړی دا املاء او دغه تلفظ صحیح نه ګڼل کېږی او په ځینو لغاتو کښې د معنی د تغییر موجب ګرزی لکه: ورړ، ټول، ډار چه (ور–تول–دار) ترې جوړېږی.

ڼ: دا توری له (ن) څخه دروند اداء کېږی لکه: (منه، بڼ، تنۍ) پخوانو لیکوالو او اوس ځینو لیکوالو دا توری داسی (نړ) لیکلی دی چه دوه توری (ن – ړ) ئې یو ځای کړی دی او د یو توری نوم ئی پری ایښی دی دا توری باید په بسیط ډول (ڼ) ولیکو ځکه چه په مرکب ډول یې لیکل په ځینو کلماتو کښې مشکلات پېښوي لکه: (نړۍ – خونړۍ – کونړ- نړول – نړېدل – نړ) او داسی نور.

و: په پښتو کښې ځینی کلمات شته چه (و) پکښی لیکل کیږی او ویل کیږی نه لکه: (غونډ – لونګۍ) چه (و) د لومړی توری پیښن ښکاره کوی او په تلفظ کښی برخه نه لری.

ځینی نور کلمات دی چه (و) پکښی نیمګړی غوندی اداء کیږی او د مجهول (و) په نامه یادیږی لکه: (لور) د طرف په معنی، دغه راز (و) له معروف (و) څخه فرق لری او کله د یوه لغت معنې بدلوي لکه: (لور) چه په معروف (و) د دختر په معنی دی او په مجهول ډول د طرف معنی پیدا کوی.

همدارنګه (سور) او (سور) یا (توره) او (توره) بېل بېل لغتونه دی او بېلی معنی ګاني لری.

ی: دا توری په پښتو کښې په پنځه ډوله دی چه نومونه یې دا دی: (ملینه یا، معروفه یا، مجهوله یا، تانیثی یا، ثقیله یا) دا پنځه ډوله یا ګاني پدی کلماتو کښی وګورئ: سړی (مفرد) سړي (جمع) (مستې – خولۍ – واخلئ) د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو یاګانو په بدلون کله یو لغت په بل لغت بدلیږی او په معنی کښې یې تغییر راځی لکه:

(مېنه – مینه – غړی – غړې – شړی – شړې – وینې او وینئ) د دغو یاګانو برخه په پښتو ګرامر کښې هم ډیره زیاته ده یعنی مفرد د جمع – مذکر او مؤنث فعل او اسم، غایب او مخاطب د همدغو یاګانو په وجه معلومیږی.

که دا یاګانی په لیکلو کښې فرق ونلری، نو (وړی) او (وړئ) به یو راز لیکو او (راځی- راځې- ښی- ښې) به په لیک کښې یوه ډول وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ټکی او لیک نښې

بې له تووروونه ځینې ټکی او نښې شته چه د لیک په لوستلو کښې دخل لري او یوه جمله یا کلمه له اشتباه او ابهام څخه ژغوري یعنی د دغو نښو او ټکو په لیکلو سړی پوهیږي چه په کوم ټکی باید سړې ودریږي او کومه جمله یا کلمه په بلې پورې وتړي.

د تعجب، ندا، پوښتنې، خطاب او نورو کیفیاتو څرګندونه په همدغو نښو او ټکو کیږي چه په لیکلو کښې ډیر اهمیت لري او دلته یې په مختصر ډول ښیو:

۱- (،) دا نښه د هغو کلماتو ترمنځ لیکی چه یوه په بلی عطف وي لکه: زما په باغ کښې مڼې، ناک، زردآلو، شفتالو شته. همدارنګه یوه وړه یا نیمګړې جمله له بلې نه په همدغه نښه بیلیږي لکه: څه دې چه راکړه، بیرته مې درکړه، دی نښې ته فاصله (بیلوونې) وایي.

۲- (؛) دا نښه له فاصلې نه زیاته وقفه راولي او د داسې جملو په آخر کښې وی: زه له چا سره بد نه کوم؛ بدی مې نه ده خوښه؛ نیکی می خوښه ده؛ دا نښه وقفه (درووني) بولی.

۳- (.) دا نښه د یوې کاملې جملې په آخر کښې ږدې او د خبری د تمامښت علامه ده لکه: زمونږ هیواد ډیر غرورنه لري. شپانه په غرو کښې او قصابان په ښارونو کښې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- (:) دا نښه د هغې جملې یا کلمې په آخر کښې وی چه شرح او تفصیل یې ورپسې وی لکه: زړه می غواړی: یو ښه دوست پیدا کړم؛ یوه ښه کتابخانه ولرم او د ښه نامه خاوند شم.

۵- (-) دا نښه څو ځایه او په دې ډول استعمالیږی: اول: د معترضه جملو د ښودلو دپاره لکه: هغه ورځ – خدای دې بیا نه راولی – په ما باندی څومره وغمیده چه ته رانه خوابدی شوی.

دوهم: چیرته چه په کوم داستان یا مقاله کښې د دوو تنو سوال و جواب وی، نو د هغوی نومونه نه اخستل کیږی او دغه علامه د یوه او بل د نامه کار ورکوی لکه:

احمد وویل: محموده – چیرته ځې؟

- محمود: کابل ته ځم.

- څه کوی؟

- د کالیو دپاره ټوټې اخلم.

دریم: په همدغسې ځای کښې لیکل کیږی لکه چه دلته وروسته له اول، دوهم، دریم نه ولیکل شو.

۶- (؟) دا نښه د سوال او پوښتنې علامه ده د هرې جملې په آخر کښې چه دغه نښه وی هغه جمله د استهفام معنی لری لکه:

دی باغ ته ځی؟ احمد سبق وایی؟ که دغه علامه د دغو جملو په آخر کښې نه وی نو دا نه معلومیږی چه د لیکونکی مقصد اخبار دی او که پوښتنه.

۷- ( ! ) دا نښه د خطاب، تعجب، تحسین او افسوس دپاره ده لکه: په دې لاندې جملو کښې: ښاغلو ! ملګرو ! عزیزانو ! پاڅیږئ ! د وطن خدمت وکړئ !

دریغه ! چه ستاسو په ځای زه وای.

او څومره ! ښکلی دی.

آفرین ! د خدای رحمت شه ! د پښتنو په مړانه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نښه کله د جملې په آخره کښې وی او زیاتره همدغه ډول استعمالیږی چه په پورته جملو کښې یې وینئ !

۸- ( ) د دغسې دوه لینده ئیزو کرښو ترمنځ هغه توضیح یا معترضه جمله لیکی چه ډیر زیات اهمیت نه لری او حذّول یې جملې ته څه زیان نه رسوی لکه:

د رحمان بابا اشعار (چه ستا خوښ دی) د ساده انشاء په ډېره ښه نمونه ده.

خاص نومونه، اعداد او خارجی کلمات هم په دغو کرښو کښې لیکی لکه: زما ملګری (احمد ) راغی؛ ستا ورور له مانه (۱۰) کتابه وړی دی.

۹- [ ] دا نښه هلته په کاریږی چه په یوه معترضه جمله کښې بله معترضه جمله یا کلمه راشی نو دغه دواړه جملې داسې لیکی: که رښتیا ووایم [خدای(جل جلاله) مې دې غاړه نه نیسی] دا سړی ډېر بد سړی دی.

۱۰- « » کله چه یو عبارت له کوم کتابه را نقلوی یا کومه مقوله راوړی نو په دغو کظشو کښې یې لیکی لکه:

زمونږ لارښوونکی ویلی دی: «د وطن مینه د ایمان جزء دی».

۱۱- (...) څوټکی څنګ په څنګ اینښودل د خبرو د قطع کولو او د ځینو کلمو نه دلیکلو علامه ده لکه:

زما په کتابخانه کښې د دغو علومو کتابونه شته. صرف، نحو، منطق، فقه ...

زما ځای ته څو تنه راغلل چه نومونه یې دا دی: زلمی، غرزی، ګلالی ...

۱۲- (* * * ) چیرته چه د یوی مقالی یوه برخه تمامه شی او بله برخه شروع کیږی نو د دواړو برخو تر منځ دغه نښه یعنی ستوری لیکی چه یوه برخه له بلی نه بیله شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د املاء په باب
## د پښتو ټولنې فیصلې

پښتو لیک که په زړوکتابونو کښې ګورو او که د اوسنیو لیکوالو په آثارو کښې هرچیرته او هر کله دیوه او بل په لیک کښې ځینې اختلافات شته چه د رسم خط یووالی ته ئې زیان رسولی دی او رسوی ئې.

په همدغه سبب دي خبری ته ډیر ضرورت لیده شی چه د ځینو ادبی جرګو او مرکو په وسیله دغه راز اختلافات له منځه ورک شی او په ټوله پښتونخوا کښې پښتو الفاظ او کلمات یو راز ولیکل شی یعنی هغه د هلجو اختلافات چه دلته او هلته د یوه او بل په وینا کښې شته په لیک کښې داخل نشی او یو لغت څو رازه ونه لیکو. لکه (لمر، نمر، نور، مېر، مر) یا (خوله، خولۍ، خولې، خېله، خېلې).

همدارنګه (ژبه، جبه، زبه) د یوه لغت مختلف شکلونه دی چه څوکې ئې یو راز تلفظ کوی او څوک بل راز، که مونږ دغه ټول صورتونه په لیک کښې قبول کړو په ژبه کښې ادبی وحدت نشی پیدا کیدی او په مرور د زمانه له یوې ژبی نه څو ژبی جوړیږی.

د دغه ادبی ضرورت په وجه پښتو ټولنی له ډیر پخوا نه د لیک مسئلی ته توجه کړی ده او هر کله چه پښتانه لیکوالو او پوهان را غونډ شوی دی د لیک

(c) ketabton.com: The Digital Library



په باب ئی بحث کړی او د مفاهمی له لاری ئی په دغه باب کښې څه فیصلې صادر کړی دی چه باید پښتانه لیکوال ئی له نظره ونه غورځوی.

لومړی فیصله:

په ۱۳۲۱هـ ش کال کښې د جوزا په ۲۱ مۀ د ۱۹۴۲ ع په جون کښې د پښتو ټولنی په غوښتنه د افغانستان (۲۵) تنه لیکوال او پوهان په پښتو ټولنه کښې راغونډ شوه او په (۲۱) اختلافی موادو باندې ئی وروسته له بحث فیصله وکړه چه دا لاندی کلمات باید داسی ولیکل شی:

| اختلافي صورتونه: | فیصله شوی صورت: |
| --- | --- |
| شونډی – شونډان | شونډې |
| کښیناست – کښینوست | کښېناست |
| ټول خلق – ټوله خلق | ټول خلق |
| ټولی خبری – ټوله خبری | ټولې خبرې |
| پاته – پاتی | پاته |
| که راغلی وای – که راغلی وی | که راغلی وای |
| لویه – لو | لویه |
| تویه – تو | تویه |
| میږونه – مږونه (او داسی نور) | مېږونه |
| ولید – ولیدو – ولیدئ – ولیدلو | (ولید په ټولو ماضی ګانو کښې دغه یو شکل غوره شو مګر په ځینو کښې به په آخره کښې (هـ) هم ورزیاتوی لکه ولیداهه) |
| لخ – لوخ | لخ |
| وشو – وسو | وشو |
| شوی – سوی | وشو - شوی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| اختلافي صورتونه: | فیصله شوی صورت: |
|---|---|
| شته – سته | شته |
| لږه ډوډۍ – لږې اوبه | لږه ډوډی – لږې اوبه |
| لږ ډوډی – لږ اوبه | |
| ښی خبری – ښه خبری | ښی خبری |
| غږ – ږغ – غګ – غاګ | غږ – ږغ |
| ځینی وایی – ځنی وایی | ځینی وایی |
| له ده ځنی – له ده ځینی | له ده ځنی |
| چلوونکی – چلونکی | چلوونکی |
| ښوونکی – ښونکی | ښوونکی |
| ښوونځی – ښونځی | ښوونځی |
| کښی – کښ – کی | کښې |
| پری – په «پدای مثالو کښې: احمد سترګی لری مګر لا پری نه وینی – په نه وینی» | پری |
| ویل – ویله (لکه احمد ویله چه) | ویل |
| ولاړ – لاړ | ولاړ |
| وکړ – وکی – وکه | وکړ |
| وکړئ وکئ | وکړئ |
| مونږ – موږ | مونږ |
| زما – زمونږ – ځما – ځمونږ | زما – زمونږ |
| زه – ځه (د متکلم ضمیر) | زه |

په دریمه فیصله کښې چه د لرو او برو پښتنو یعنی د پیښور او بلوچستان د پښتنو لیکوالو او د افغانستان د لیکوالو غونډه د پښتو ټولنی په بلنه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل کښې د ۱۳۳۷ ش کال د سنبلې په ۲۵ مه د ۱۹۵۸ د اګست په ۲۷ مه وشوه نو په لومړۍ فیصله کښې داسې تعدیل وشو.

| لومړۍ فیصله | دریمه فیصله (تعدیل) |
|---|---|
| پاته | پاتې |
| مونږ | مونږ – موږ دواړه صورتونه ومنل شو |
| ولاړ | ولاړ – لاړ دواړه صورتونه ومنل شو |
| لخ | لوخ |

بې د دغو څلورو مادو له تعدیل نه په نورو موادو کښې لومړۍ فیصله تائید او تصویب شوه.

دوهمه فیصله:

په ۱۳۲۷ ش کښې د سنبلې په ۸ مه د ۱۹۴۸ ع د اګست په ۳۰ مه په کابل کښې د پښتو ټولنې په غوښتنه د لرې او برې پښتونخوا (۱۹) تنو پښتنو لیکوالو او پوهانو د پښتو لیک د ځینو اختلافي موادو په باب داسې فیصله وکړه.

| اختلافي صورتونه: | فیصله شوی صورت: |
|---|---|
| ڼ – ڼړ | ڼ |
| زه، ته، ده، زۀ، تۀ، دۀ | زه، ته، ده بې همزې په ټولو دغسې مثالو کښې |
| اوربدل – اخیستل، آوریدل، آخیستل | اوریدل – اخیستل (بې مده) |
| ولید، وګوره، اولید، اوګوره (داسې نور) | ولید، وګوره (بې الفه |
| مې، دې، پرې، لاندې، باندې، د، | مې، دې، پرې، لاندې، باندې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| اختلافي صورتونه: | فيصله شوی صورت: |
| --- | --- |
| پر، لاند، باند (داسی نور) | |
| لومړی، کوچنی، ګوډ، ګوته، بوخت، لمړی، کچنی، ګډ، ګته، بخت | لومړی، کوچنی، ګوډو ګوته، بوخت |
| چاپ، ګړی، چهاپ، ګهړی | چاپ، ګړی |
| ښ | دا توری به د (ش) او (خ) په ځای نه ليکو |
| ږ | دا توری به د (ژ) او (ګ) په ځای نه ليکو |
| ځ | دا توری به د تلل د مصدر په فعل حال او دغسی نورو افعالو کښې ليکو لکه: ځی، بوځی، راځی |
| ژوند، جوند، زوند | ژوند (پدغسی لغاتو کښې به له (ژ) نه کار اخلو |
| ځينی - ځنی | د بعضی په معنی په (ځينی) او د (از) په معنی به (ځنی) ليکو |
| ويل - وې | ويل (يوازی په شعر کښې (وې) جايز دی) |
| کښې - کښ | کښې |
| د ماضی بعيد ضميرونه | وم- وه- وې- وی- و- وه- و- وې يعنی د مفرد د غايب او جمع غائب دپاره يو (و) ليکل کيږی |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| اختلافي صورتونه: | فيصله شوى صورت: |
| --- | --- |
| د شول د مصدر مشتقات | شوم- شوو- شوې- شوئ- شو- شول- شوه- شوې بايد وليکل شي. |
| د ټولو افعالو د مذکر جمع | په لام ليکل په کار دی لکه راغلل – وليدل |
| ټولې مطلقې ماضې ګانې | بايد داسې وليکو: وليد، وکوت، وکړ، مګر وتاړه وواهه بايد په آخره کښې (ه) ولري |

دريمه فيصله:

په **۱۳۳۷** ش. هـ **۱۹۵۸** ع کښې چه د پښتو ټولنې په بلنه د پېښور او بلوچستان پښتانه ليکوال او پوهان کابل ته د خپلواکۍ د جشن په ورځو کښې راغلي و د سنبلې په پنځمه د اګست په **۲۷** مه د پښتو ليک په باب مجلسونه او ادبي بحثونه شروع شوه، وروسته له خو غونډو او ډيرو خيړنو د ليک د ځينو اختلافي موادو په باب دا راز فيصله صادره شوه.

| مختلف صورتونه: | فيصله شوى صورت: |
| --- | --- |
| ځمکه- مځکه- زمکه | ځمکه |
| زمرى- مزرى- ځمرى | زمرى |
| کښته- ښکته- خکته | کښته |
| پښه- ښپه- خپه | پښه |
| کښل- ښکل (د ليکلو او ويستلو په معنى) | کښل |
| کښلى-ښکلى (دښايست په معنى) | ښکلى |
| ماسخوتن – ماخوستن | ماسخوتن |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| مختلف صورتونه: | فیصله شوی صورت: |
| --- | --- |
| ورځ – روځ | ورځ |
| موږی – میږوی | موږی |
| لوبښت-ولښشت | لوبښت |
| ورک – روک | ورک |
| خسر – سخر | خسر |
| خوسا – سخا | خوسا |
| سکروټه – سروټکه، سکوروټه | سکروټه |
| ورور – رور | ورور |
| وروڼه – روڼه | وروڼه |
| ورورولی – رورولی | ورورولی |
| وروسته – روسته – روستو | وروسته |
| وروستی – روستی | وروستی |
| سیوری – سوری | سیوری |
| اخلم، اخلي، اخم، اخی، الم، الی | اخلم – اخلی |
| بښل، بښنه، بخښل، پخښنه | بښل، بښنه |
| ماسپښین، مازپښین، ماپښین | ماسپښین |
| کوم، کم | کوم |
| اغږل، اخښل، اخل | اغږل |
| نمږی، مږی، نوږی | نمږی |
| زوی، زامن، ځوی، ځامن | زوی، زامن |
| زېږېدل، څېږېدل | زېږېدل |
| زغستل – ځغستل | زغستل |
| سوځل، سېځل، سوزل، سیزل | سوځل، سیځل |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| مختلف صورتونه: | فیصله شوی صورت: |
|---|---|
| خوځیدل –خوزېدل | خوځېدل |
| غورځنګ، غورزنګ | غورځنګ |
| زغمل، ځغمل | زغمل |
| ژرند ، زرنده، جرنده | ژرنده |
| ژبه، زبه، جبه | ژبه |
| ژړا ، زړا ، جړا | ژړا |
| ژوند ، زوند ، جوند | ژوند |
| ژمی، زمی، جمی | ژمی |
| ژوبل، زوبل، جوبل | ژوبل |
| خېژی، خېږی، خېجی، خېزی | خېژی |
| ژی، زی، جی | ژۍ |
| ژور- زور- جور | ژور |
| نژدې- نزدې- نږدې | نژدې |
| لمر- نمر- نور- مر- مېر | لمر- نمر |
| نمسی- لمسی- نوسی | نمسی- لمسی |
| لمونځ –نمونځ –مونځ | لمونځ –نمونځ |
| نمانځنه –لمانځنه –مانځنه | نمانځنه –لمانځنه |
| پسرلی، سپرلی | پسرلی –سپرلی |
| ږغ –غږ | ږغ –غږ |
| کنځل –ښکنځل | کنځل –ښکنځل |
| مینځل –وینځل | مینځل –وینځل |
| مینځه –وینځه | مینځه –وینځه |
| لامده –لانده | لامده –لانده |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| مختلف صورتونه: | فیصله شوی صورت: |
|---|---|
| جینۍ–نجلۍ-جلۍ–جیلۍ | جینۍ–نجلۍ |
| لمبر-نمبر | لمبر |
| نولس، نونس | نولس |
| وېده–بیده-اوده | ویده |
| ویاله–بیاله-واله | ویاله |
| اوبدل–اودل–اوبل | اوبدل–اودل |
| وزه–بزه–بیزه | وزه |
| نښتل–منښتل | نښتل |
| بزرګان – ملکان – بزرګانان – ملکانان | بزرګان–ملکان |
| کارغه–قارغه–کارګه | کارغه |
| ڼ–نړ | ڼ |
| کجیر، قجیر | کجیر |
| ټوک، پړک، چکړې، ټوقه، پړق، چقړې | ټوکه، پړک، جکړې |
| زړه، ته–زه–زړۀ–تۀ–زۀ | زړه–ته–زه |
| لوی–دوی–هغوی–لو–دوئ–هغوئ | لوی–دوی–هغوی |
| لوېدېز – وویل – لوئیدیز – اووئېل | لوېدیز، وویل |
| یو، اینده، ائینده | یو، اینده |
| ې | دا توری (مجهوله یا) باید بېخابه او د معروفې یا په ځای استعمال نشي |

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتو املاء په پښتو کتابونو کښې:

د پښتو ژبې زاړه کتابونه تر اوسه ډېر لږ په لاس راغلی دی او په دغه باب کښې يو سم لټون هم نه دی شوی. مونږ د ځينو قلمی آثارو نومونه اورېدلی دی او ليدلی مو نه دی يا موئی د نظم او نثر کومه نمونه چيرته له نظره تيره شوې ده، په همدغاه وجه د پښتو ليک تحول او تطور په پوره ډول نشو ښودلی او يوازی د موجودو آثارو له مخی د پښتو لیک مختلف شکلونه او صورتونه څه نه څه ښيو.

تر دغه وخته چه د پښتو ادب لومړی نمونه په لاس راغلې ده هغه د امير کروړ نظم دی چه د ۱۳۹ هـ په شاوخوا کښې ئی ويلی دی.

دا شعر د انشاء په برخه کښې د پښتو د لرغونی ادب ښکلی والی څه نه څه راښيی مګر د املاء په برخه کښې ترينه صحيح او پوره استفاده نشو کولی ځکه چه د خپل وخت په کوم زاړه قلمی کتاب کښې ئی نه مومو چه زوړ رسم خط راوښيی بلکه د محمد هوتک په کتاب (پټه خزانه) کښې ئی ګورو چه د شاه حسين هوتک په امر په ۱۱۴۱ هـ کښې ليکل شوې ده او د محمد هوتک پښتو املاء ښيی.

کوم کتاب چه د پښتو ليک لومړی نمونه راښيي، هغه د سليمان ماکو د تذکرة الاولياء څو پاڼې دی چه د پښتو ليک تاريخچه اوس مونږ له همدغه ځايه شروع کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا:

دا کتاب له ۶۱۲ هـ څخه وروسته لیکل شوی دی چه نور کتاب ورک دی او (۸) مخه ئې له کومی قلمی نسخې نه د پښتانه شعراء په لومړی ټوک کښې زنګوګرافی شوی دی.

دا نشو ویلی چه دغه څو مخه د مؤلف پخپل قلم دی که وروسته تر ده بل چا له کومی قلمی نسخی نه را نقل کړی دی. په هر حال د دغو څو پاڼو املاء چه د اوومی هجری پېړی د املاء نمونه ده پدې ډول ده:

۱- پښتو توری ئی داسی لیکلی دی: (ټ- ځ- څ- ډ- ړ- ږ- ښ- ڼ) یعنی د دغو تورو شکل اوصورت له دې اوسنی لیک نه همدغومره فرق لری چه د (ځ) له توری لاندې ئې یو ټکی ایښی دی:

۲- کوم توری چه اوس د حرکاتو د اظهار دپاره په اوسنۍ املاء کښې لیکل کېږی د تذکرة الاولیاء په لیک کښې نشته یعنی هلته (هـ- و- ی) د (زور- زېر- پېښ) د ښکاره کولو دپاره نه دی لیکل شوی او په همدغه وجه ځینی کلمات له اوسنۍ املاء نه فرق لری چه مثالونه ئی دا دی:

| د تذکرة الاولیاء املاء: | اوسنۍ املاء: |
|---|---|
| م | مې |
| د | دې |
| پات | پاتې |
| ک | که |
| ل | له |
| پ | په |
| مزک | مزکه (ځمکه) |
| لر | لری |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| مړ | موړ – مونړ |
| مین | مینه |
| تنناک | تنهاکی |

۳- سره لدې چه د تذکرة الاولیاء په املاء کښې حروف د حرکاتو د اظهار دپاره نه دی لیکل شوی، مګر (چه) ئې څو ځایه (چې) لیکلې ده.

۴- دا کلمات (شی- شوی- شو- شوم- شول) په (ش) لیکل شوی دی او ډېر لږ په یو دوه ځایو کښې (سو – سوه) په (س) وینو او بس. د (شو) او (سو) په آخر کښې هم (و) لیکلی دی.

۵- ځینی نور کلمات لکه: (ویاله- لوی- توی) په همدغه ډول لیکلی دی چه د مؤلف د استوګنې د ځای اوسنۍ محلی لهجه دغسی نه ده، ځکه چه هلته اوس (بیاله لو- تو) وایی مګر یو ځای پکښې (لو) هم لیکل شوی دی.

۶- د ماضی مطلق صیغې داسی لیکی: (نومیده –ولاړه- اوسیده- ګرځیده وکړ) یعنی (نومېدی- ولاړی- وکی- اوسېدی- ګرځېدی) نه لېکی.

۷- کښې داسی لیکی (کښ).

۸- د پښتونخوا کلمه (پښتنخا) لیکی او (هیواد) (ایواد) لیکی.

مګر (اوسېږم) (هوسېږم) لیکلی شوی او (څرګند) هم (سرګند) لیکلی شویدی.

د میا روښان د خیر البیان املاء:

وروسته د سلیمان ماکو له تذکرة الاولیاء څخه د میا روښان خیر البیان د پښتو زوړ او پخوانی کتاب دی، دا کتاب مونږ نه دی لیدلی مګر نوم ئې هر چا اوریدلی دی.

اخوند درویزه پخپل کتاب (مخزن الاسلام) کښې دا کتاب ډېر یادوی او د خبرو تردیدئی کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناروېژی مستشرق (مارګین ستېرن) پخپله یوه مقاله کښې د هند د زړو آثارو په مجله کښې خپره شوه د خیرالبیان له کتاب څو نمونې را اخستی دی[1] او په دې مقاله کښې د املاء په برخه هم رڼا اچول شوې ده، دغه مستشرق د خیرالبیان یوه نسخه په (۱۲۷) مخو کښې له (سرډینسن راس) مستشرق سره په (۱۹۳۲ ع) کښې په لندن کښې لیدلی ده چه د ۱۰۲۱ هـ د روژې په ۲۰ د چارشنبې په ورځ ئې د فقیر بهار طوسی په قلم خاتمه موندلې ده.

هر کله چه میا روښان په ۹۲۳ هـ ۱۵۱۲ ع کښې زیږیدلی او په ۹۹۴ هـ کښې مړ شوی دی نو د ده لیک د لسمی (۱۰) پیړۍ د املاء نمونه ګڼلی شو.

مارګین ستېرن د دغه کتاب د املاء په باب خپله نظریه داسی څرګندوی.

۱- په خیرالبیان کښې د نورو پخوانو پښتو کتابونو په شان چه تر ده وروسته لیکل شوی دی (و- هـ- ی) د حرکاتو د اظهار دپاره نه دی لیکلی مثلاً: (حرفونه حرفونو) داسی لیکل شویدی (حرفون) همدارنګه (نشته – اسپی – باسی). په دی ډول دی:

(نشت- اسپ- باس) مګر (اوبه، لېوه) په آخر کښې (هـ) لری.

۲- ځینې مستقلې کلمې په لیکلو کښې یو له بله نښتی دی لکه: په شپیډیرګرزی (پکښمی) چه اوس داسی لیکل کیږی ( په شپې ډیر ګرزی، پکښې می).

۳- د پښتو خاص حرفونه ئې داسی لیکلی دی:

(ټ- څ- ډ- ړ- ښ- ږ- ڼ) او د (ځ) په عوض هم له (څ) نه کار اخستل شویدی.

۴- بایزید اورمړ که څه هم د وزیرستان دی، مګر د ده د لیکلو ژبه له نورو کلاسیکی کتابو سره چه ظاهراً د هغو اساس د یوسفزو په لهجه اینبودل شوی

---

1- بایزید روښان (خادم)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی مطابقت لری مثلاً: (لار- ګبینه- نمر- ستا- ثلور) د وزیرستان په لهجه (لیار-ګیمنی، میر –ایتو- ثلویر) نه لیکی.

د اخوند درویزه د مخزن الاسلام املاء:

اخوند درویزه چه د میا روښان معاصر دی او د هغه له افغکارو او عقایدو سره سخته دښمنی لری په پښتو کښې د مخزن الاسلام په نامه یو مشهور کتاب لری چه املاء ئې په دی ډول ده:

۱- د پښتو خاص توری ئې داسی لیکلی دی:

(ټ، ډ ، ړ، ښ، څ) مګر (ڼ) په دغه ډول لږ او (نړ) ډیر لیکلی دی د (څ) په ځای هم (ځ) لیکی.

۲- دا توری (و- ه- ی) د حرکاتو د اظهار دپاره نه راوړی او دا کلمات: (تاسی- هسی- ولی- څنی- غوندی- می- دی- یی) داسی لیکی: (تاس- هس- ول- څن- غند- م- د- ی) همدارنګه (نشته- به- په- ته- لکه- پښتو- مو- عالمانو) داسی لیکی: (نشت، ب، پ، ت، لک، پښت، م، عالمان).

۳- د افعالو په آخر کښې زیاتره (ن) زیاتوی لکه: (کوین- لرین- وړین) او داسی نور.

۴- ډیر ځله (کښ) لیکی او کله کله (کښی) هم لیکی.

۵- اکثره (چه) لیکی او لږ لږ (چی) هم لیکی.

۶- وینځه –وینځل په (و) لیکی یعنی مینځه- مینځل نه لیکی.

۷- د (وقت) کلمه په مفغن صورت یعنی (وخت) نه لیکی.

۸- دا کلمات: (نمونځ-نمر-نمسی-نوړی) په (ن) لیکی.

۹- د (هیر) کلمه (وهیر) لیکی.

۱۰- ځینی توری په لیک کښې له ځینو کلماتو سره نښلوی او داسی ئې لیکی: (لهغو- پریمړده- لهرحاله- لکرداره).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- د دی کلماتو په ځای (وکړئ- واخلئ- وخورئ) دا کلمات زيات استعمالوی (وکانړی- وخانړی- وخوانړی).
۱۲- دغه کلمې: (غبرګ- برخه- هومره- زمری ړومبی (ړونبی) وروستی پرته) داسی ليکی: (بغرګ- بخره- هنمبری مزری- ړنبلی- وروستلی- پروته) شوکله (شه) ليکی او کله (شو) او د امر په ځای کښی (ش) ليکی.

د ملا مست د سلوک الغزات املاء:

ملا مست د سلوک الغزات په نامه په پښتو يو کتاب په ۱۰۴۰ هجری کښې ليکلی دی چه يوه قلمی نسخه ئې د مطبوعاتو په کتابخانه کښې شته. د دې کتاب املاء په دی ډول ده:
۱- د پښتو مخصوص توری داسی ليکی: (ټ- څ- ډ- ړ- ښ- ږ- نړ) دی هم د (ځ) په عوض (څ) ليکی او له دغه توری نه د دوه تورو (څ- ځ) کار اخلی.
۲- (و- ه- ی) دا توری د حرکاتو د اظهار د پاره کله کله يو نيم ځای ليکی او اکثراً دغه راز الفاظ: (سره- پوري- پوښتنه- زمکه- ګنه- توره- کړه- وژنه- لره- هوري- صورتونه- بخره- تختونه- لکه- نمونځونه- وړاندې) داسی ليکی: (سر- پور- پورښتن- زمک- ګنړ- تور- کړ- وژن- لر- هور- صورتون- بخر- تختون- لک- نمونځون- وړاند).
۳- د ربط توری له خپلو روستيو مربوط کلماتو سره متصل ليکی لکه:
(پظاهر- لښه- کهرڅو- هسی نچه- تهغه- پور- پوړاند- پغوږو- لکور).
۴- کښې په دغه ډول کښی ليکی:
۵- دا کلمات: (نمر- موږ- همنبر- زمک- وقت- زلمی- مزری- بيارت- غند- زوی- ژوندون- شی- بخر- مرغونه- ووزی- نمونځ- خموږ- ورڅ) همدغسی ليکی.
۶- چه- په همدغه ډول ليکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میرزا انصاری د قلمی دیوان املاء:

میرزا انصاری چه د پښتو په پخوانو شاعرانو کښې لوړ مقام لری او دولت لوانی ورته په ډېر لوی حق قایل دی، املاء ئې په دې ډول ده:

۱- د پښتو مخصوص توری داسی لیکی: (ټ، ځ، ډ، ړ، ښ، نړ)

یعنی د (ځ) په ځای هم (ځ) لیکی او د (ڼ) دپاره ئی (نړ) شکل غوره کړیدی.

۲- کښې – په دغه ډول لیکی او (چه) کلمه دغسی او کله (چې) لیکی.

۳- (و- هـ- ی) کله د حرکاتو د اظهار دپاره لیکی او کله ئی نه لیکی چه مثالونه ئې دا دی: (پښتن- زمکه- باند- کاند- روڅی- بخره- لکوم (له کوم) لموره (له موره) نلیده- مین (مینه)- ویره له مخ).

له دغو مثالو څخه دا هم معلومیږی چه (له – نه) اکثراً له وروستیو کلماتو سره نښلوی.

۴- دا کلمات: (سوځی- زلمی- وینځی- نمر- رونړا- وهیر- ورځ- وقت- ګرزی- څښتن- وستری) په همدغه ډول لیکی.

د دولت د قلمی دیوان املاء:

د میا رونړان په پیروانو او مریدانو کښې د پښتو مشهور شاعر دولت لوانې د شعر یو دیوان لری چه یوه قلمی نسخه ئې په کابل کښې د مطبوعاتو د ریاست په کتابخانه کښې شته او د املاء خصوصیات ئې دا دی:

۱- د پښتو په خاصو تورو کښې (ټ- ځ- ښ- ړ) په همدی ډول لیکی او له اوسنۍ املاء نه څه فرق نلری مګر دا دوه توری (ځ- ږ) داسی لیکی: (د- ذ)

یعنی د لومړی توری په ځای (د) لیکی او یو ټکی ترینه لاندی ږدی او د دوهم توری په عوض (ذ) استعمالوی. د پښتو یو بل مخصوص تور (ڼ) کله همدغسی په بسیط ډول لیکی او کله (نړ) لیکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سربېره پر دې د (ژ) توری هم کله داسی لیکی (ږ) او کله داسی (ژ) یعنی د (ر) په توری یو ټکی پاس او یو لاندی ږدی.

۲- دا توری (و – ی) د حرکاتو د اظهار دپاره نه استعمالوی او اکثراً دا راز کلمات: (واخله، وګڼه، مینه، خلقو، باندی، راشی، خبری) په دې ډول لیکی: (واخل، وګڼ، مین، خلق، باندی، راشی، خبر).

۳- اکثراً (چی) لیکی.

۴- کښې په همدغه ډول لیکی لکه چه اوس ئې مونږ لیکو.

۵- هېر هم (وهیر) لیکی.

۶- د ښښتن په ځای (تښتن) لیکی.

۷- لمر نه لیکی (نمر) لیکی.

۸- وقت په (ق) لیکی.

د آخوند قاسم د فواید الشریعة املاء:

آخوند قاسم د فواید الشریعة مؤلف د پښتو له هغو نثر لیکونکو څخه دی چه په یوولسمه هجری پیړۍ کښې ئی ژوند کاوه او دینی مسایل ئې پښتو کړیدی. د ده د کتاب یوه قلمی نسخه چه د لیکلو تاریخ او کاتب ئې نه دی معلوم د پښتو ټولنې په کتابخانه کښې شته چه کاغذ ئې ډیر زوړ معلومیږی او د ډیری زړې نسخې ګمان پرې کاوه شی.

د دغې نسخې املاء په دې ډول ده:

۱- پښتو خاص توری داسی لیکی: (ټ- څ- ډ- ړ- ږ- ښ- نړ).

۲- دا توری (و- ه- ی) د حرکاتو د اظهار دپاره ډیر لږ او کله کله لیکی په دغه وجه دا راز کلمات. (ښکته، پورته، لکه، له، لویه، ده، کاندی، وړاندی، مې، هسی، مومنانو، خوله، امامانو) داسی لیکی: (ښکت، پورت، لک، له، لوی، د، کاند، وړاند، م، هس، غند، مومنان، خله، امامان).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- هغه معنی دا توری چه اوس له خپلو وروستیو کلماتو څخه جلا لیکل کېږی متصل لیکل شوی دی لکه: (لهغه، لد ، لښه، نوی، پطب، پما ).
۴- کښ، چه، همدغه شان لیکی.
۵- د (وقت) کلمه په (ق) لیکی او د (نمونځ) کلمه یې په (ن) لیکلې ده.
۶- دا کلمات: (بربنډ ، هومره، زما ، زمونږ، زمکه، برخه، مینحی، ړومبی، ببرته) داسی لیکی: (برمنډ ، همبره، ثما ، ثمونږ، زمکه، برخه، وینځی، وړنبلی، بیارت).
۷- د ماضی فعل په آخر کښې عموماً (ن) زیاتوی لکه: (کوین- وړین- ښییځن)
۸- اخانړی، کانړی ډېر لیکی او د (واخلئ) په ځای (وانړی) هم لیکی.
۹- شو –وشو داسی لیکی: (شه–وشه)

د خوشحال خان املاء:

خوشحال خان خټک په ۱۰۷۲ هـ (یوولسمه پیړۍ) کښې یو پښتو کتاب ولیکه چه د ستار نامه ئی نوم دی او په نثر لیکل شوی دی د دې کتاب یوه قلمی نسخه په ۱۱۱۹ هـ کښې عبدالحلیم نومی کاتب د افضل خان په امر ولیکه او دغه نسخه په پېښور کښې عبدالشکور خان په زړه او پخوانۍ املاء چاپ کړه. د دې کتاب له مطالعې څخه معلومېږی چه خوشحال خان په پښتو لیک کښې. ډېر تحول پېښ کړی، او ملائې له نورو پخوانیو لیکوالونو نه ځینی فرقونه لری چه هغه دا دی:
۱- دا توری (و-ه-ی) د حرکاتو د اظهار د پاره لیکی لکه:
(هسی-تاسی-غوره-اوسپنه-ګوندی-موژ-عالمانو-عابدانو )
او ځینی کلمات ئې بې له دغو تورو هم لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- د پښتو د مخصوص توری (ښ) په ځای (ش) لیکی لکه: غوشه، پشتون.

۳- د (ږ) په عوض (ژ) لیکی لکه: غوژ- کوژ- لژ.

۴- څ- د دې توری د پاره ئې دا شکل غوره کړی (ح) یعنی له (ح) لاندی دوه ټکی او له ټکو لاندې همزه ږدی.

۵- ځ- دا توری داسی لیکی (ح) یعنی د (ح) لاندی ټکی لیکی او له ټکی لاندې ئې همزه لیکی.

۶- ړ- دا شکل هم ده داسې اړولی دی (ر) یعنی د (ر) په سر همزه لیکی.

۷- ڼ- د (ن) په سر همزه لیکی او د (ڼ) کار ترې اخلی غرض دا چه د دغو دوو تورو د حلقې کار له همزه څخه اخلی.

۸- ټ- په (ط) لیکی لکه (مط) چه مونږ ئې (مټ) لیکو.

۹- نمونځ- نمسی- نمر- نمړی- نمدیدل په (ن) لیکی.

۱۰- کشتې په دی ډول لیکی (کشتی).

۱۱- زما- ستا- داسی لیکی (دما- دتا)

۱۲- دا کلمات زمری- زمکه- برخه- هومره- څومره- هیر- پیرړ) داسی لیکی: مزری- مزکه- بخره- هونبره- څونبره- هیر- پیر ړ).

۱۳- ځینې افعال په دې ډول لیکی: (څه چه غواړو- که په اتفاق واستی- که جدا شواستی هسی به مات شیو- ویاستل).

۱۴- د (دی) جمع (دیو) لیکی چه اوس مونږ (دوی) لیکو.

۱۵- دا کلمه (ټنګسه) داسی لیکی (تنګځه) چه ښاییی د تنګ ځای مخفف وی.

۱۶- شو- وشو داسی لیکی (شه – وشه) او د جمع په صورت کښې شول لیکی.

۱۷- وقت دا کلمه په (خ) او کله په (ق) لیکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- ځینی معنی دار توری چه اوس ئې مونږ له نورو کلماتو نه جلا لیکو ده متصل لیکلی ده لکه (پکورپعلم- بنوی.)
۱۹- د (کړی- کاندی) په ځای (کا) ډېر لیکی.
۲۰- دا کلمات (زلمی) (زغلول) (ګرزی) په (ز) لیکی.

د عبدالقادر خان ختټک املاء:
عبدالقادر خان د خوشحال خان ختټک زوی د اشعارو یو ښه دیوان لری چه یوه قلمی نسخه ئې په کابل کښې د مطبوعاتو په کتاب خانه کښې شته د دغه دیوان املاء لکه د خوشحال خان د دستارنامې املاء ده.
یعنی عبدالقادر خان هم د خپل پلار مخصوصه املاء غوره کړیده – او دیوان ئی په همدغه املاء لیکلی دی.

د عبدالرحمن بابا قلمی دیوان:
د عبدالرحمن بابا د دیوان یوه قلمی مصوره نسخه د مطبوعاتو په کتاب خانه کښې شته چه په آخره کښې ئې داسی لیکلی دی (تمام شد کتاب عبدالرحمن حسب الفرمایش عالیجاه رفیع جایګاه شیر محمد خان ولد میاخان بر درانی افغان پور در خط کشمیر جنت نظیر بد سخط ملا ولی).
د دغی نسخی املاء هماغه املاء ده چه له خوشحال خان نه د مخه وه یعنی د پښتو مخصوص توری ئی داسی لیکلی دی: (ټ- ځ- ډ- ړ- ښ- ږ- ڼ) او (څ) د (ځ) په ځای استعمالوی یعنی (ځای) څای لیکی.
همدارنګه (و- هـ- ی) کله د حرکاتو د اظهار د پاره لیکی او کله ئې نه لیکی چه مثالونه ئی دا دی.
(حرفون- غوند- خاور- له کوم- زمکه- جونه کاند- لاند- وراند- نه د (نه ده) مې- ګنړ) (کښبی) هم کله همداغه شان او کله (کښ) لیکی شو وشو داسی لیکی (شه- وشه) (چه) هر کله په همدغه ډول لیکی او دا کلمات (نمونځ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(نمانځه- نمسی- نمر) په (ن) لیکی: (پما- لما- پژړا- نغواړم) اکثراً متصل لیکلی.

د محمد هوتک د پټې خزانې املاء:

پټه خزانه چه د محمد هوتک د شاه حسین په امر لیکلی او په ۱۱۴۲ هـ کښې ئې خاتمه موندلی ده، د قلمی نسخې املاء ئې په دې ډول ده:

۱- د پښتو مخصوص توری داسی لیکی: (ټ- څ- ځ- ډ- ړ- ږ- ښ- ڼ) یعنی د (ځ) توری په دغه شکل لیکلی او د نورو په شان له (څ) نه د دوه تورو کار نه اخلی همدا رنګه (ڼ) هم په بسیط ډول لیک یا و په مرکب شکل ئی نه لیکی.

۲- (و- هـ- ی) د حرکاتو د اظهار دپاره لیکی لکه: (به- په- له- نمانځنه- وقتونه- مځکی- هوری- له نورو- خبرو- وموند- موږه) مګر کله (کتابون) او (سنګارون) دغه راز هم لیکی.

۳- دا کلمات (لمسی- لمر) په (ل) لیکی مګر (نمانځنه) په (ن) لیکی.

۴- کښې په دری ډوله لیکی (کی- کښ- کښی).

۵- ماضي افعال په دوه ډوله لیکی چه مثالونه ئې دا دی:

(ولید- وموند- اوسیدی- بهیدی- ګنل- کیدی).

۶- کله (شو- شی- شوی) لیکی او کله (سو- سول- سوی- وسو) استعمالوی. کله د (سو) په ځای (سه) لیکی.

۷- ورځ، ورځ په دواړو صورتو لیکی.

۸- چه، هر چیرته په همدغه یو ډول لیکی.

۹- کله د (ټول) په ځای (ټوله) لیکی او کله پخپله (ټول) استعمالوی.

۱۰- کله (له- په) له وروستیو کلماتو سره په لیک کښې نښلوی او داسی ئی لیکی. (لکتاب- پملتان- پخوړو).

۱۱- زوی، زلمی، په (ز) لیکی او (ځما) ئی په (ځ) لیکلی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمد شاه بابا د دیوان املاء:

د احمد شاه بابا د دیوان یوه قلمی نسخه د محمد حامد درانی په قلم لیکلی ده چه د ۱۱۲۳ هـ کال د روژې په آخره ورځ ئې لیک ختم شوی دی دا نسخه د تاشکند د اکاډمی د شرق پیژندنې د ځانګی په کتابخانه کښې ده چه د املاء ځینی خصوصیات ئې دا دی:

۱- دا راز کلمات: (ځان- ورځ- ځما ) په (څ) لیکی یعنی همدغه یو توری د دوه تورو په ځای استعمالوی.

۲- (ڼ) داسی لیکی (نړ).

۳- د پښتو دا دوه خاص توری ئی (ږ- ښ) اکثراً داسی لیکلی دی (ژ- ش) یعنی دا کلمات (موژ- پوشتن) په همدغه ډول لیکل شویدی مګر ځینی کلمات ئی لکه (روژه- نشی) داسی لیکلی دی: (روږه نښی).

۴- په ځینو کلماتو کښې ئې (هـ- ی- و ) د حرکاتو د اظهار دپاره ندی لیکلی لکه: (تاس- لک- هس).

۵- دا کلمات په دې ډول لیکلی دی (پوطن- لشراب- کښ).

۶- دا کلمات د ده له خپلې محلی لهجی مخالف لیکلی دی لکه: (ورځ- بخره- وشی- وشو او داسی نور).

د احمد شاه بابا د دیوان هغه قلمی نسخه چه د مطبوعاتو د ریاست په کتابخانه کښې ده املاء ئې په دی ډول ده:

۱- کله کله (ځ) داسی لیکی (د ) یعنی د (د ) توری ته دوه ټکی ورکوی چه یو پاس او بل لاندې ږدې مګر اکثره (څ) د (ځ) په ځای استعمالوی.

۲- الفاظ او کلمات ئی عموماً د پیښور او ننګرهار په لهجه لیکلی دی لکه: (نمر- ورځ- شته- راشه- بخره- ویره- اوښې- چرې- باسی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د ربط توری اکثر له وروستیو کلماتو سره نښلوی لکه: (پلاس-پکوڅه-لحیات-پمینه-بخه).
۴- (و، ه، ی) کله د حرکاتو په ځای لیکی او کله ئې نه لیکی لکه په دی کلماتو کښې: (غند- ګلون- پټ- خزانه- زړون- نشته- مونږ- ویره-تورسترګی).
۵- (چه) کله همدغسی او کله (چی) لیکی. همدارنګه (شه- وشه- شو، وشو) په دواړو ډولو لیکلی دی.
۶- کښ همدغسی لیکلی دی.

د راورټی د ګلشن روه املاء:

راورټی پخپل کتاب ګلشن روه کښې چه په ۱۸۶۰ ع کښې چاپ شویدی د پښتو له زړه کتابونو څخه د نظم او نثر نمونې رانقل کړیدی چه یوه نمونه له بلې څخه په املاء کښې ځینی فرقونه لری هغه دیپاچه چه ده لیکلی ده هغه هم د ده له منتخباتو څخه په املاء کښې څه لږ او ډېر تفاوت لری مثلاً دی په خپله دیباچه کښې (کښ) په همدغه ډول لیکی او په هغو پاڼو کښې چه ده له تاریخ مرصع څخه را نقل کړیدی (کښې) په دغه ډول ډېر لیده شی.
همدارنګه د ده په دیباچه کښې (ڼ) په دغه شکل وینو او په منتخباتو کښې ئې کله (نړ) او کله (ڼ) وینو.
کوم شی چه د راورټی په ګلشن روه کښی د املاء په باب نوی په نظر راځی هغه دا دی چه دی په هغی (ی) باندی همزه لیکی چه تلفظ ئی ثقیل دی لکه په دې عبارت کښې (پښتانه اکثر له خوش نویسئ بیګانه دی). همدارنګه (ترمزد ورئ) دغه شان لیکی چه په (ی) باندی د پاسه همزه ږدی.
بله دا چه غایب ضمیر په دې ډول لیکی «ئی» لکه په دې عبارت کښی:
«سبب ئی دا دی...» راورټی هم (څ) د (ځ) په ځای استعمالوی او دا توری (و-ه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



ی) ډېر ځله د حرکاتو د اظهار دپاره لیکی لکه: (ژبه- پښتو- کتابونه- په- دی- زمانه- می...)

د پښتونخوا د شعرهارو بهار:

ډارمستېټر فرانسوی د پښتونخوا د شعرهارو بهار په نامه یو کتاب ۱۸۸۸ ع ۱۳۰۳ هـ کښې چاپ کړیدی چه د پښتو غزلی- چهار بیتی... متلونه- قصې- لندۍ- چیستانونه پکښې شته او د املاء په لحاظ ئی ځینی برخې له ځینو نورو برخو نه اختلاف لری یعنی کله (مې) داسی لیکی او کله داسی (م) مګر (کښ) هر چیرته همدغسی لیکی او (نړ) هم په همدغه شکل لیکلی دی.

(شه) هر چېرته همدغه شان لیکی او (شو) نه لیکی. هر چېرته د (ځ) په ځای (څ) راوړی. او (و-هـ-ی) کله د حرکاتو د اظهار دپاره استعمالوی او کله نه.

اوس چه مونږ تانیثی (ی) او ثقیله (ی) داسی لیکو: (ۍ- ئ) په هارو بهار کښې دغه دواړه ډوله یا ګانې داسی لیکلی دی (ئ) چه مثالونه ئی دا دی: (سپوږمئ، نوړئ، ټاټئ، وهئ، راځئ، کړئ) په دغه کتاب کښی (زلمی، ګرزم، زوی) په همدغه ډول لیکلی دی، او (مونږ) هم په څلورو تورو لیده شی.

لمړی کتاب د پښتو:

په ۱۳۳۳ هـ ق کښې سراج الملة والدین امیر حبیب الله خان شهید د پښتو ژبی تدریس د (حبیبیه مدرسې) په تعلیمی نصاب کښې داخل کړ چه معلم ئی د پښتو زوړ خدمتګار مولوی صالح محمد قندهاری و دغه نباغلی په پښتو کښې یو کتاب ولیکه چه نوم ئی (لمړی کتاب د پښتو) دی. دا کتاب یو ځل د کابل په سنګی مطبعه کښې او بل ځل د لاهور په دین محمدی مطبعه کښې په ۱۳۳۲ کښې چاپ شو.

د دې کتاب په املاء کښې دا ټکی د یادولو دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- د پښتو مخصوص توری (ځ) داسی لیکی: (خ) یعنی (ح) لیکی او د (ج، خ) دواړه ټکی ورکوی.

۲- (ڼ) په همدغه بسیط ډول لیکی او دا شکل (نړ) غلط ګڼی.

۳- په کومو ځایو کښې چه اوس مونږ (وکړه، کړه) لیکو دی (وکی، وکه، که) لیکی.

۴- دا کلمات: (سو، وسو، سوی، سته، راسه، ولاړسه) لیکی.

۵- معروفه او مجهوله (ی) چه د کلمی په آخر کښې راشی معروفه (ی) ګردی لیکي او مجهوله یا اوږده لیکی که د کلمی په منځ کښی وی نو څه فرق ئی نه کوی.

۶- زما، زموږ په (ز) لیکی او (زوی) هم په پښتو (ځ) نه لیکی.

۷- د ظرفیت توری هر چیرته (کی) لیکی او یو ځای ئی ورسره په کرښو کښی (کښ) لیکلی دی.

۸- په پښتو کښې خلورم حرکت د (فتحه مماله) په نامه یادوی چه اوس ورته زورکی وایو.

۹- د مفرد غایب ضمیر داسی لیکی (یه) چه اوس ئی مونږ داسی لیکو (ئی).

۱۰- هغه کلمات چه اوس په مفغن ډول لیکو ده په هماغه غربی شکل لیکلی دی لکه: (قمیص، صبا، قوم، قومی، وقت، وقتی، ناوقته).

۱۱- ځینی کلمات چه اوس پکښې د ځینو حرکاتو د اظهار دپاره (و، ه، ی) لیکو ده دغه توری پکښې نه دی لیکلی که څه هم یوې کلمې له بلی سره التباس پیدا کړی دی لکه پدې جمله کښې: (دا ګډ هلک په اوبو ګډسو) مګر د دې لامله چه دغه کتاب په سنګی مطبعه کښې چاپ شویدی نو د دغه دوو کلمو فرق په حرکاتو شوی دی. همدارنګه په دغه کتاب کښې دا کلمات (ټینګ، ړوند، لومړی، ناجوړه) داسی لیکلی دی (تینګ، ړند، لمړی، ناجړه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲- کله چه (د شی) جمع (شیه) لیکی نو داسی ئی لیکی (دوه شی یه) همدارنګه یو ځای ورمه ورځ داسی لیکی: (وړمروخ).

پښتو مرکه:

د پښتو ژبې د پاللو او روزلو دپاره د پښتو یو ادبی انجمن په کابل کښې جوړ شو چه د پښتو مرکه ئې نوم و په دی انجمن کښې د پښتو ژبی مشهور پوهان شامل و او په ۱۳۰۲ هـ ش کښې ئی د سنبلی په ۲۳ یو کتاب چاپ کړ چه د پښتو صرف و نحو لومړی برخه ده او د پښتو پښویه ئی نوم دی. په دغه کتاب کښې د املاء په لحای دا ټکی د یادونی وړ دی:

۱- د پښتو خاص توری داسی لیکی: (ټ، ځ، څ، ډ، ړ، ږ، ښ، ڼ) یعنی د (ځ) په ځای (څ) نه لیکی مګر ځ داسی لیکی: چه د (ح) توری ته د (ج) او د (خ) دواړه ټکی ورکوی او (ڼ) هم په همدغه ډول لیکی.

۲- چه- داسی لیکی: (چې).

۳- کښ- اکثراً همدغه شان لیکی او کله (کی) لیکی.

۴- د حرکاتو د اظهار دپاره (و، هـ، ی) ډېر نه لیکی او اکثراً دا راز کلمات: (موږ، خومره، لاندی، باندی، کوڼ، پوښتنه) داسی لیکی: (مز، خمره، لاند، باند، کڼ، پښتنه).

۵- دا کلمات: (شوو- شو) ډېر ځله په (س) (وسو) او (سه) لیکی.

۶- دا راز کلمات: (نمر- نمونځ) په (ل) یعنی (لمر- لمونځ) لیکی.

۷- د حرکاتو په بحث کښې څلورم حرکت د مجهولی فتحی په نامه یادوی چه اوس ورته زورکی وایو.

۸- په لیک کښې هر راز (ی) په همدغه یوه شکل لیکی یعنی مجهوله، معروفه، ثقیله (ی) په لیکلو کښې څه فرق نلری که څه هم معروفه او مجهوله (ی) په نامه یادوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- د غایب ضمیر یعنی (یې) داسی لیکی: (یه).

د منشی احمد جان املاء:

منشی احمد جان د پښتو ژبی یو مشهور لیکونکی او د تالیف و تصنیف خاوند دی چه له ډیرو ښو نثر لیکونکو څخه ګڼل کیږی. د ده کتابونه د پښتو انشاؤ په لحاظ د پښتو متونو حیثیت لری او د ډیر خوږ سبک خاوند دی د ده دوه کتابونه (تاریخ افغانستان د قصه خوانی ګپ، په ۱۹۳۰ ع کښې چاپ شویدی چه املاء یی په دې ډول ده:

۱- د ( څ) توری د (ځ) په ځای استعمالوی او همدغه یو شکل ئې د دواړو تورو د پاره د پخوانو لیکوالو په شان قبول کړی دی.

۲- (شه و شه) هر کله همدغسی لیکی: یعنی په آخر کښې ئی (و) نه لیکې.

۳- هغه (ی) چه د مخه ترینه زورکی وی په اسماؤ کښې وی که په افعالیو کښې یعنی په اوسنۍ اصطلاح تانیثی وی که ثقیله داسی ئی لیکی (ئ) لکه: (ماتوئ) ښبئ، سپلئ، نقاشئ).

۴- ړ دا توری داسی لیکی: (نړ).

۵- هغه (ه) چه د مخه ترینه زورکی وی پاس په سرئی همزهع لیکی لکه: (زۀ- ښۀ).

۶- د غایب ضمیر داسی لیکی: (ئ).

۷- د جمع د پاره (شول، کړل، وتښتېدل، وختل) لیکی یعنی په آخر کښی ئې (ل) لیکی.

۸- د وقت کلمه کله په (ق) او کله په (خ) لیکی.

۹- کښې هر چېرته همدغسی لیکی.

۱۰- د پښتو (ځ) ئی په ځینو کلماتو کښی نه ده لیکلې او په عوض کښې ئې (ز) لیکلی ده. لکه: (ګرزیدل، زوی) او داسی نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- په ځینو کلماتو کښې د ځینو حرکاتو اظهار د تورو په وسیله نه کوی یعنی (کاند ، لاند ، باند ، م، د ) همدغسی لیکی.

د پښتو ادبی انجمن:
په ۱۳۱۱ هـ ش کښې پښتو ادبی انجمن جوړ شو چه یوه پښتو مجله ئې را ویستله او د (پښتو خبری ) په نامه ئې یو کتاب په ۱۳۱۵ هـ ش کښې چاپ کړ چه املا ئې په دې ډول ده:
۱- د تانیث (ی) او ثقیله (ی) داسی لیکی (ی ء ) یعنی په سرئې همزه لیکی لکه: (چوکئ، کرکئ، لرئ، کوئ).
۲- (مجهوله ې) که د کلمی په آخر کښې وی او که ... یې لیکی او که په منځ کښې و نو ټکی ئې لاندی باندی ږدی چه له معروفی (ی) څخه ئې فرق وشی لکه:

مینه – مېنه.
۳- دا کلمات: (سو - سی - سته- سوی- وسو ) د دغه توری په ځای نه لیکی.
۴- ځ دا توری همدغسی لیکی او (څ) د دغه توری په ځای نه لیکی.
۵- ڼ دا توری داسی لیکی (نړ).
۶- د ظرفیت توري (کښې) داسې لیکی (کې).
۷- ځینی کلمات چه اوس اکثراً په (ز) لیکل کېږی په دغه کتاب کښې په (ځ) لیکل شوی دی لکه: ځملې- یواځې- مځکه.
۸- د غایب ضمیر (یی) داسی لیکل شوی دی (یه).
۹- ځینی کلمات لکه: (ایږدم، کښېنوست، چښم، یاست، واست) همدغسی لیکلی دی.
۱۰- د ماضی مطلق ضیغې اکثراً داسی لیکلی دی: (ولیدئ- ودرېدئ- ولاړئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- دا کلمات: (موږ- ورځ) په ټول کتاب کښې په همدغه یوه ډول لیکلی دی.

۱۲- سو- وسو همدغسی لیکلی دی یعنی په آخر کښی (و) لری[1].

1– وروسته تر دې چه په ۱۳۱٦ کښې پښتو انجمن او فارسی انجمن یو ځای شوه او بیا څه موده پس دغه انجمن د پښتو ټولنی په نامه ید شو پښتو ټولنی د لیک د یووالی په غرض د املاء په باب ځینی مجلسونه جوړ کړه او د اختلافی مسایلو په باب ئې څه فیصلې صادرې کړې چه د مخه په مفصل ډول راغلی دی او په اوسنۍ املاء کښې ډېر دخل او تاثیر لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انشاء(لیکوالی)

د انشاء لغوی معنا ایجاد دی یعنی دیوه نوی شی پیدا کولو ته انشاء وایی. په ادبی اصطلاح یو نوی فکر او نوی خیال په الفاظو کښې ثرګندول انشاء ده.

انشاء دوه ډوله ده: نثر، نظم.

نظم اکثراً شعر وی او نثر کله کله شعر شی.

شعر: هغه وینا ده چه الفاظ ئې ښکلی وی او ویونکی پکښې فکر، پوهه، ذوق، د زړه هیجان او د روح اغیزه سره ګډ کړي.

دا راز کلام نظم وی او که نثر وی شعر دی.

نه شعر: هغه ساده بیان دی چه احساسات او باطنی هیجان ورسره ګډ نه وی او یوازی د مطلب ثرګندونه پکښې وی.

د انشاء فن او د لیکوالی هنر دا دی چه سړی خپل مطلب په صحیح ډول اداء کړی او څه ئې چه په زړه او ذهن کښې وی په ښو الفاظو ئې د ژبې له قانون سره سم په موثر ډول د فصاحت او بلاغت په اصولو برابر ثرګند کړی.

د ښو کلماتو انتخابول او د الفاظو ښه تالیف د انشاء مهمه برخه ده.

یو شاعر او ادیب سربیره په دې چه باید د کلماتو په نښلولو او استعمالولو ښه پوه وی باید دا قدرت هم ولری چه نوی افکار او نوی معانی پیدا کړی او ښکلا پکښې واچوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بشری روح تیاره کوټو نه روښول، د پیدا ښت په ننښو ننبانو کښې ځیر کېدل، د ټولنې پټ رازونه او رمزونه څرګندول، له عادي پېښو نه نوی او په زړه پوری نتایج اخیستل، نوی او بکر مضامین پیدا کول د شعر او ادب د خاوندانو کار دی.

دا کار یو لوړ ادبی استعداد او شاعرانه قریحه غواړی چه سلیم ذوق او دقیق احساس یې مظهر دی.

ځوک چه دغه راز استعداد لری هغه له خپلو کتنو ، اورېدنو او تجربو څخه د پوهې او معرفت ډېره ښه پانګه راغونډوی او له خپلو حواسو او مشاعرو نه ډېر ښه کار اخلی. دغه د طبیعت ښکلا چه یو شاعر او ادیب یې په شنو ناوونو ، ګڼو ځنګلونو ، ښکلو درو ، سمسورو باغونو ، مستو سیندونو ، لوړو غرونو ، د آسمان په لمنو د مرغانو په نغمو ، په ښو سترګو او ښکلو مخونو کښې وینی د غرو شپانه او ساده خلق ئې هم وینی مګر دا لیدل او هغه لیدل ډېر فرق لری.

د بلبلو په نظر ګلو ته ګوره　　لیلا نه ده چا لیدلې بې مجنونه

دا روښانه لمر او سپینه سپوږمۍ یا راښه ستوری هر چا لیدلی دی مګر هر یوه ته ئې د خدای په لوری رهبری نه ده کړې او هر چا (لا احب لاافلین) نه دی ویلی.

د کوه طور په لمنو کښې ډېر خلق ګرزېدلی دی مګر د حق او حقیقت رڼا هر چا نه ده لیدلې.

که ځوک غواړی چه د خلقت او فطرت په رمزونو او اسرارو پوه شی او په یوه شنه پاڼه کښې د معرفت دفتر وګوری خپل عقل، شعور او احساس دی په کار واچوی او د زړه سترګی دی وغړوی.

په یوه لاره ډېر خلق تېرېږی مګر یو نیم پکښې چیرته یوه ښکلې مرغلره پیدا کړی چه د چا له امېله پربوتې او په خاورو کښې پرته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر لاروی په یوه لاره روان وی ځوک یوه خوا ګوری ځوک بله خوا ، د چا یوه شی ته پام شی د چا بل شی ته. یو پکښې د دېواله له کنډوه کوم ښکلی مخ ووینی، بل د بام په سر توره کتېوه. د یوه نظر د خان او ملک په بنګله وی، بل د خوارانو او غریبانو جونګړو او کنډوالو ته ګوری.

ځینی ډېر لرې ډېر واړه شیان لیدای شی، ځینی نور له پښو لاندی ځمکه نه وینی او هوا ته ګوری.

په یوه باغ کښې ځوک خس او خاشاک ټولوی او ځوک د ګلو دستې جوړوی.

د چا دیدار په کاروی او د چا دینار، کارغه په یوه خوا ځی بلبل په بله خوا، یو ځان نه وینی او بل جهان وینی.

څنګه چه د انسانانو په ظاهری نظر کښې ډېر تفاوت موجود دی دغه راز د ټولو خلقو د زړونو سترګی هم یو راز څارنه کوی.

همدغه د فکر او نظر اختلاف دی چه د لیکوالو او شاعرانو د لیک او وینا په طرز ئی اغیزه کړېده او د هر یوه په انشاء او ادبی سبک کښې ئې خصوصیت پیدا کړیدی:

د انشاء شروع: درې ډوله ده:

۱- بې مقدمې په اصل مطلب پیل کول:

دا لاره ډېرو اروپائی لیکوالو غوره کړې ده چه اوس ډېر رواج لری او د دې لارې تلونکی ورځ په ورځ زیاتېږی.

که مطلب ډېر لنډ وی یا پخپله اصل مطلب جذاب وی نو مقدمې لیکلو ته څه ضرورت نشته.

۲- له مطلب او موضوع نه د مخه یوه مقدمه لیکل.

دا یوه زړه او پخوانۍ ذریقه ده او ډېر لیکوال په دغه لاره تللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مقدمې لیکلو رواج پخوا دومره ډېرو ، چه شخصی او رسمی مکتوبونه او فرمانونه هم ترېنه خلاص نه و او منظوم حکایتونه به هم په یوه مقدمه شروع کیدل لیکوالو او شاعرانو به په مقدمه کښې ډېر زور لګاوه او په دې وسیله به ئې د لوستونکو توجه خپل مضمون ته راګرزوله.

په مقدمه کښې به د لیکلو اسباب او علل بیانېدل او کله به له اصل مضمون نه مقدمه اوږده شوه اوس که څوک مقدمه هم لیکی هغسی نه وی او له پخوا وخت نه ډېر فرق لری.

مقدمه باید ښکلې وی او له موضوع سره ښه ارتباط او نژدې مناسبت ولری چه د لوستونکو توجه مضمون ته راجلب کړی.

۳- دریمه طریقه دا ده چه مقدمه نه لیکی مګر مضمون او موضوع هم له سره نه شروع کوی بلکه د یوه داستان مینځ یا اخر د شروع دپاره انتخابوی او وروسته له نتیجې ته د داستان متن لیکی.

یعنی اول ئې جذابه برخه را اخلی او بیا نوره قصه تماموی.

دا طریقه ډېر مهارت غواړی که څوک په دغه چل ښه پوه وی او په ښه ډول ئې سرته ورسوی ډېره جالبه طریقه ده مګر په ماهرانه ډول نه وی او بې تناسبه وی نو نتیجه ئې ښه نه ده.

لیکوالو ته په کار دی:

چه تر لیکلو د مخه خپل هدف ښه وټاکی او په دې پوه شی چه څه لیکم؟ د څه دپاره ئې لیکم او د چا دپاره ئې لیکم؟

ډېر ځله داسی پېښېږی چه د یوه لیکونکی په ذهن او فکر کښې ګډی وډې خبرې ګرزی یا یو مغشوش او مبهم غوندې مطلب ورسره وی چه د یوې تورې شبحې په شان له لرې یوه سیاهی معلومېږی او تشخیص ئې ګران وی نو د ده لومړی کار دا دی چه خپل هدف ښه وټاکی او په هغه څه ځان ښه پوه کړی چه نور پرې پوهوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته تر دي چه د موضوع حد او حدود معلوم شوه نو بیا په کار دی چه په داسی طریقه ئی بیان کړی چه د نورو د پوهولو ډېر لحاظ پکښی ساتل شوی وی او د اداء طرز ئي غلط او بېخونده نه وی یعنی انشاء ئي ښه وی. د انشاء د ښه والی دپاره د پوهې او ادب خاوندانو ځینی مقررات ټاکلی دی چه باید په لیک او وینا کښې ئې مراعات وشی.

ښه انشاء: هغه ده چه دا صفتونه پکښی وی:

وضاحت: دښې انشاء یو مهم صفت وضاحت دی په لیک او وینا کښې باید هیڅ قسم ابهام التباس او خفانه وی موجوده او دا کار هله کېږی چه د کلماتو دلالت پخپله معنی باندی واضح او روښانه وی.

په جمله کښې باید ډېر آدات روابط او عوامل رانشی او نه پکښی د ضمیرونو تشتت او ډېر تعدد ولیدل شی.

د جملو سبک باید جلی وی او عبارات داسی اتصال او ارتباط ولری چه هیڅ راز تعقید او التباس پکښی نه وی.

معترضه جملې باید ډېری نشی او په خبره کښې بچی نمسی او کړوسی پیدا نشی.

صراحت: صراحت دا دی چه په انشاء کښې د تالیف او ترکیب ضعف نه وی او الفاظ له مقصودی معناګانو سره تناسب ولری.

د صراحت او وضاحت فرق دا دی چه هر صریح او واضح وی مګر هر واضح صریح نه وی.

د عوامو کلام واضح وی مګر صریح نه وی ځکه چه د ترکیب او تالیف ضعف پکښې وی.

صراحت هغه وخت په کلام کښې پیدا کېږی چه الفاظ فصیح وی او د بیان طرز داسی وی چه معانی یو په بل بار نه وی، هره معنا ځانته حیثیت ولری، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



فصل او وصل مراعات په ښه شان شوی وی او د عطف و استیناف ځایونه معلوم وی.

ضبط: له ضبط څخه مقصد دا دی چه په کلام کښې زیاتې او بې ضرورته برخې او د حذف و اضمار په واسطه د کلام تمکین او متانت په ښه شان ساتل شوی وی.

طبیعت: یعنی په کلام کښې له تکلف او تصنع څخه کار نه اخستل.

څنګه چه په وینا کښې فصاحت ښه دی او تفصح (په تکلف سره فصاحت ښودنه) ښه نه ده ادبی صنعت هم باید په طبیعی ډول وی او په دغه باب کښې له تکلف او تصنع څخه کار وانخستل شی.

غرض دا چه په انشاء کښې په صنعت، ښکلا او رنګ آمیزی په داسی ډول وی چه هر چا ته به طبیعی معلومېږی نه دا چه صنعت او ښکلا به پکښې بیخی نه وی او ادبی رنګ به نه لری.

د ادب ګرانوالی هم په همدغسی دقیقو مراعاتونو کښې دی چه سړی باید د هر شی اندازه وساتی او د هنر بار پکې په نظر کښې ونیسی.

ادبی ذوق ډېر نازک مزاج لری او ترضیه ئې ډېر ګران کار دی.

د هنر خاوندان د عوامو په شان نه دی چه په محض سرو او شنو رنګونو وغولېږی او په مصنوعی ګلونو د حقیقی ګلانو ګمان وکړی.

سهولت: سهولت آسانی ته وائی په انشاء کښې د سهولت مراعات او په آسانه لاره تلل په کار دی.

څنګه چه بې لاری تګ ښه نه دی دغه شان آسانه لاره پرېښودل او په ګرانه لاره تلل هم ښه کار نه دی.

د انشاء خاوند باید کوشش وکړی چه د ژبی آسانه او بې تکلیفه لاره پیدا کړی او په پیچومو او لوړو ژورو سرنشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينو بلغاؤ ويلي دي پام کوئ چه پخپلو خطابو او ويناؤ کښې له ډېرو عميقو الفاظو او مشکلو تعبيراتو نه کار وانخلئ.

د لفظ او معنا حسن په آسانۍ کښې ولټوئ او د لاس غوټه په خوله مه خلاصوئ.

انسجام: په لغت کښې د اوبو جريان ته وائی د بلغاؤ په نزد هغه کلام منسجم دی چه لفظی او معنوی تعقيدونه پکښې نه وی او د اوبو په شان روانی ولری.

تاسی فرض کړئ چه په يوه لښتی کښې اوبه ډېری ورو او ډېر روانی دی چه لکه يو ډنډ معلومېږی او په بل لښتی کښې د اوبو جريان ګړندی دی او روانی يې زياته ده په همدغه وجه دا اوبه او هغه اوبه د پاکۍ او صفايۍ په لحاظ د هر چا په نظر کښې ډېر فرق لری.

د يوه او بل انشاء هم د روانۍ او انسجام په لحاظ مختلف مدارج لری او هماغه انشاء زړونو ته ژر لاره پيدا کوی او د عام مقبوليت درجې ته په بيړه رسيږی چه روانی ئې زياته وی.

لکه چه د رحمان بابا د شعر په نسبت چا ويلی دی:

ستا اشعار دی رسيدلی تر هر ځايه هر پښتون ته
د اوبو په شانی وينم ستا د شعر روانی

اتساق: د معانيو ټينګ اتصال او ارتباط ته اتساق وائی که د کلام تناسب ښه وساتل شی او جلمې يو له بله يې ربط نه وی نو په انشاء کښې دغه صفت پيدا کېږی او د انشاء حسن زياتوی.

جزالت: ښه معانی په مناسبو الفاظو اداء کول جزالت دی. د معنا او مقصد د اداء کولو دپاره مختلفی لاری موجودی دی، ځينی تعبيرات سپک او رکيک وی ځينی ښه او مهذب وی سړی کولی شی چه يو مطلب په رکيک او ناوړه تعبير هم پوره اداء کړی چه هيڅ خفاء او اشتباه پکښې نه وی مګر د ادب او اقلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ژبې سره دغه راز تعبيرات ته ښايي اديب او ليکوال بايد ښه عبارت پيدا کړي او د معنا شرافت وساتي.

ساده ګي: کوم صفتونه چه د ښې انشاء دپاره په کار دي هغه دا لازموي چه بايد لېکوال د ساده سبک پيروي وکړي او شعر و ادب دې د خلقو فکر او فهم ته نژدې کړي.

په اوسنی عصر کښې چه طبقاتی امتيازات له مينځه تللی يا د تلو په حال کښې دي د خواصو هغه آسمانی مقام زمکی ته راښيتې شوی او عوامو ته اوس (کا الانعام) څوک نشي ويلی.

شعر او ادب هم بايد اوس د ديموکراسۍ او سوسيالستۍ اقتضا آتوته وګوری او د څو تنو له حسن نظر نه عمومی التفات او عام مقبوليت وګټي.

که مونږ په عمومی ډول د شعر او ادب تاريخی سير او اوسنی موقف په نظر کښې ونيسو دا به ومنو چه تر ډېره حده د شعر و ادب مخه د جاء و جلال له پارګاه نه د خلقو درګاه ته را ګرزېدلې ده او خپله قبله ئې بدله کړېده.

ځنګه چه په اوسنی ادب کښې خلق او وطن د غزلی سروی بايد د ادب ژبه هم د خلقو له فکر او فهم سره برابره وی او ليکوال داسی کلمات او تعبيرات انتخاب کړی چه د عوامو ذهن ته نژدې وی.

اوس هغه وخت نه دی چه په نظم او نثر کښې به له لفظی او معنوی صنايعو نه ډېر کال اخستل کېده او په استعارو او اشارو به خبری کيدې په نثر کښې به هم سجع قافيه يا وزن موجود و، جملې به ډېری اوږدې او کړکېچنی وې يو مطلب به څو ځله په څو ډوله په غريبو الفاظو اداء کېده مکررات او مترادفات به ډېر زيات او د پېريانو ژبه به وه چه خاص يو څو تنه پرې پوهېدای شوه او بس.

اوس د خلقو د پوهولو دپاره په آسانه او ساده سبک څه ليکل په کار دی چه ګټه يې عامه وی او ډېر خلق ترېنه استفاده وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس د وقت قيمت چا ته دا اجازه نه ورکوی چه د کوم ادبی اثر په مطالعه د اغلاق او اشکال په وجه ډېر وخت ضايع کړی.

د دې زمانې ځينې ليکوال او پوهان هم ساده انشاء ښه ګنی او مشکل سبک ته په ښه نظر نه ګوری.

ځينی وائی هغه انشاء چه ډېری قلقلې پکښی وی او ډېر جلبل لری يعنی لکه رعد او برق ځلېدل او غرېدل ئې زيات وی د ليکونکی عجز او تصنع ښئ، دا راز هنر ښودنه د واعظانو کار دی په شعر او ادب کښې سادګی لوی صفت دی نه کاکه توب او طمطراق، ځومره چه د چا فکری او معنوی پانګه زياته وی هغومره ئې سبک ساده او روښانه وی.

مغلق او پيچيده ليکل غالباً د ليکونکی له علمی او معنوی فقر ځخه پيدا کېږی هغه ځوک چه د عبارت په ډول وسينګار پسی ډېر ګرځی او له لفاظۍ نه ډېر کار اخلی خپل معنوی فقر د الفاظو په برق او زلق پټوی.

رحمان بابا هم خپله انشاء ساده بولی او همدغه ساده انشاء د هر چا په نزد ډېره مقبوله ده.

<u>ګرامری لحاظ:</u> په انشاء کښې بايد ګرامری غلطی نه وی او کلمات د ژبی له قوانينو سره سم په صحيح ډول استعمال شی.

په دې برخه کښې ځکه ډېر دقت په کار دی چه د پښتو د مشهورو ليکوالو په ليک او انشاء کښې هم د ژبې د ګرامری قوانينو په لحاظ ځينې اختلافات موجود دی چه فيصله ئې په کار ده.

ځينې کلمات لکه (موضوع، موسيقی، راډيو...) د يوه په ليک کښې په مذکر ډول راغلی دی او د بل په ليک کښې مؤنث ګڼل شويدی.

همدارنګه کله چه مبتدا او خبر د تذکير او تانيث له لحاظ موافق نه وی نو هلته د جملې په آخر کښې ځوک (دی) ليکی او ځوک (ده) راوړی لکه په دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمله کښېږ: دا نړۍ د ځينو دپاره دوزخ دی (ده) يعنی يو مبتدا ته اعتبار ورکوی او بل خبر ته.

په دغسی ځايونو کښې د يوه ليکونکی په اثارو کښې هم دواړه مختلف او مخالف صورتونه موندلی شو په ځينو داسې جملو کښې: ښځه ووژل شوه (ووژل شوه)، خبره ومنل شوه (ومنله شوه) د ليکوالو ليکونه يو راز نه دی.

د اړوونکو تورو په لحاظ هم ځينی اختلافی جملې شته چه د ژبې د قوانينو په لحاظ فيصله غواړی مثلاً يو ليکي: (د پښتانه په کاله کښې) او بل ليکی (د پښتون په کور کښې) د يوه په ليک کښې وينو (وريجی ئی پخ کړی دې، ډوډی ئې پخ کړې ده) بل ليکی (وريجی ئې پخې کړې دی، ډوډی ئې پخه کړې ده) په صرفی فحاظ هم د ځېنو اختلافاتو فيصله کول په کار دی چه بايد يو صحيح صورت انتخاب شي لکه: (ونيوه – ونيسه، واوښت، واوربد- ببولی دی- بوتللی دی...)

<u>د لغاتو استعمال:</u> خومره چه کېدای شی بايد د پښتو خپل لغات استعمال شی او بې ضرورته پردی لغات رانوړل شی.

غرض دا نه ده چه ليک دې په خالصه پښتو وی ځکه چه دا کار په دايمی او عمومی ډول ممکن نه دی او که ممکن وی نو مفيد نه دی.

د پښتو له هغو مړو او متروکو لغاتو نه چه پښتانه ئی په معنا نه پوهېږی د هغو پردو لغاتو استعمال ښه دی چه په پښتو ژبه کښې له ډيرو وخته داخل دی او په عامه محاوره کښې هر چېرته او هر کله استعمالېږی بلکه عوام ئې په پرديتوب نه پوهېږی او خپل ئې گڼی. مگر داسی پردی لغتونه چه عوامو ته ئې معنا نه ده معلومه او په پښتو کښې ورته الفاظ هم موجود دی ليکل ئې نه دی په کار ځکه چه يو خو د دغسی لغاتو ليکل ژبه له عام فهمیِ څخه لرې باسی او بل دا چه ډېر ځله ئې ليکوال په استعمال کښې تېروزی او بې ځايه ئې استعمالوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پردی لغتونه چه په پښتو کښې استعمالېږی که د جمع په صورت ئې راوړو باید د پښتو ژبې په قانون ئې جمع کړو لکه: عالم- عالمان، کتاب- کتابونه، درس- درسونه، درخته- درختې، زلف- زلفې، زورور- زورور، غلطی- غلطۍ... که دغه راز لغتونه د پښتو په قانون جمع نکړو او عربی لغتونه د عربی ژبی په قانون جمع کړو د ډېرو غلطیو د پېښېدو احتمال شته او کېدای شی چه په معنا کښې ډېر تغیر راشی لکه چه په یوه کتاب کښې لیکل شویدی: (د پټې خزانې د نثر جملې وړې وړی دی او عواطف هم پکښې لږ استعمال شویدی) په دې عبارت کښې د لیکونکی غرض عطفونه دی چه عربی جمع ئې (عطف، عطفه) راځی او عواطف د عاطفی جمع ده.

فعلونه: ځینی فعلونه شته چه هم په بسیط صورت استعمالېږی او هم په مرکب ډول مګر له دوهم ډول نه د لمړی ډول افعالو استعمال غوره دی یعنی له ښکاره کولو نه څرګندول، له پیدا کولو نه (د موندلو په معنی) موندل، له تبېنتی کولو نه تښتېدل غوره دی چه باید افعال ترېنه مشتق شی.

همدارنګه په داسی مصدرونو کښې لکه کښېناستل، کښیناستېدل لمړی صورت د افعالو د اشتقاق د پاره بهتر دی د افعالو ډېر تکرار هم د نورو کلمو د تکرار په شان انشاء بېخونده کوی.

استدلال او منطق: په انشاء کښې باید د منطق او استدلال په لحاظ قوت موجود وی- او په همدغه قوت د انشاء متانت او معقولیت وساتل شی مګر په ادبی او شاعرانه مضامینو کښې استدلال او منطق هم باید شاعرانه وی. لیکوال باید د انشاء او مضمون حال ته وګوری او له محل او مقام سره مناسب دلیل پیدا کړی، که څوک شاعرانه او ادبی مضامین په املائی منطق او محض علمی استدلال تحلیلوی (د ادب مانۍ به ټولی کړی میراتی).

آهنګ: په انشاء کښې د آهنګ مراعات هم ضرور دې ځېنی توری او ځینی کلمات شته چه د سماع په لحاظ یې خونده نشته او د کلام لفظی او صوتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند له منځه وړي د يوه ښه ليکونکی هنر دا دی چه د کلماتو په انتخاب او تاليف کښې د رواني او ښه آهنګ لحاظ و ساتی.

د لفظ او معنا – تول: له ليکوال سره بايد يوه حساسه او دقيقه تله موجوده وی چه د لفظ او معنا تول په ښه ښان وکړی چه خبره ئې په کنډه برابره وی يعنی لفظ او معنا بايد مساوی وی او په کلام ښې د مساوات لحاظ ساتل شوی وی مثلاً يوه ليکلی دی (خلکو پخوانی ملا له ملائی څخه وويست) دلته د ملائی کلمه دومره ښه نه ده لکه چه د امامت کلمه مناسبه ده ملايی که څه هم د ځينو په محاوره کښې د امامت معنا لری مګر ملا په اصل کښې د (امی) په مقابل کښې استعماليږی خلق کولی شی چه يو ملا له امامت څخه لرې کړی مګر له ملائی څخه ئې (په هغه اصلی معنی) نشی ويستلی.

په يوه جمله کښې زايده کلمه چه په لرې کولوئی معنا ته زيان نه رسيږی د انشاء ارزښت کموی يوه ليکوال په يو ځای کښې ليکلی دی (رسم ګذشت شروع شو او مونږ ئې د تيريدلو ننداره کوله) دلته د تيريدو کلمه هماغسی ده لکه چه څوک د ليلة القدر شپه ووائی.

نه پوهيږم چيرته می په کوم کتاب کښې وليدل (مونږ د دې حقيقت له پيژندلو سره نا آشناوو) په دغسی ځايونو کښې بايد همدومره وويل شی (مونږ له دې حقيقت سره نا آشناوو) يا مونږ دغه حقيقت نه پيژانده – دا حقيقت مونږ ته معلوم نه و.

د مضمون راښکون: د مضمون ترتيب او د بيان طرز بايد داسی وی چه لوستونکی په ځان پسی راکاږی او د لوستلو شوق و رغبت زيات کاندی که ليکوال د انشاء په هنر ښه پوه وی هغه لومړی د انشاء شروع په ډېر خوندور ډول کوی او بيا دغه شروع په داسی ډول آخر ته رسوی چه د جملو او کلماتو د جذب قوت نه قطع کيږی يعنی سړی چه يوه جمله لولی يا ئې اوری نو بلی جملې ته ئې تنده او تلوسه زياتيږی او غواړی چه ژر نتيجې ته ورسيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لیکوال عقیده: څوک چه څه لیکی هغه باید د ده د زړه او ضمیر آواز وی او ټینګه عقیده پرې ولری.

یو لیکونکی هغه وخت نور خلق د خپلو افکارو او احساساتو له تاثیر لاندې راوستلی شی چه دی پخپله د عقیدې او ایمان خاوند وی او په لیک کښې ئې صمیمیت او صداقت موجود وی.

هغه څه چه له یوه ساړه زړه نه راووزی او لیکوال پخپله پرې معتقد نه وی د یوه بې روحه جسد مثال لری چه که هر څومره ښکلی وی د چا عشق او علاقه ورسره نه پیدا کېږی.

د انشاء ژوند او حیات په همدغه شی پوری تړلی دی او ژوندی اثر هماغه دی چه د ایمان او عقیدې مظر وی.

نظم او ترتیب: په انشاء کښې ګډوډی او بی ترتیبی لوی عیب دی.

لیکونکی باید یوه موضع په داسی ډول آخر ته ورسوی چه د مضمون سلسله بې نظمه او بې ترتیبه نشی.

د تالیف معنی همدغه ده چه د موضوعاتو او مطالبو تر منځ مناسبت او رابطه موجوده وی هغه افکار چه ګډوډ لیکل شوی وی او یو له بله رابطه ونه لری د تالیف ارزښت نلری او د انشاء صحیح مفهوم نشی پیدا کولی.

هغه نظم چه ناظمان ئې د لفظ په اعتبار په یوه منظوم کلام کښې ساتی د انشاء خاوندئې باید په نثر کښې د معنا او مضمون په لحاظ وساتی او د مطالبو ترمنځ داسی ارتباط قایم کړی چه یوه خبره له بلی سره اړخ ولګوی او یو مطلب له بل سره نا آشنا او بی علاقې نه وی.

ابتکار: په انشاء کښې له ابتکار نه کار اخیستل ډېر ستر اهمیت لری او د ادب په دنیا کښې ډېره لویه کامیابی همدغه ده چه سړی نوی فکر او نوی مضمون پیدا کړی یا ئې د اداء طرز نوی وی یو شاعر او لېکوال چه د ابتکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوه لري هغه خپل فکر او نظر په داسي رنګ او طرز کښې ښيي چه خلقو ته نوی معلومېږي او نوی ايجاد ئې ګڼي چه ځيني کسان ورته تخليقي ادب وائي.

د همدغه قوت په وسيله سړی له خپلو کتنو، اوريدنو څخه تری فکرونه پيدا کوی او له عادی پېښنو نه فوق العاده نتايج اخلي.

که دغه قوت په چا کښې نه وی هغه نوی معانی نشی خلق کولی او د يوه نقال او مقلد حيثيت لری.

ابتکار د انشاء معنوی برخه ده او په معنی پوری تعلق نيسی يعنی يو نوی لفظ او نوی ترکيب يا نوې استعاره او نوی تشبيه د نوی فکر او نوی مضمون ځای نشی نيولی همدغه وجه ده چه نوی فکر او نوی مضمون ته بکر ويلی شو او بکره موضوع هم ادبی اصطلاح ده.

څنګه چه يوې کوچنۍ او صغيری نجلۍ ته باکره نه وائي او دا صفت له پېغلی سره ښائي يعنی بلوغ پکښې شرط دی همدارنګه ناقص کلام چه مضمون ورته نشو ويلی د ابتکار په صفت نه ستايل کېږی.

تخيل: دا قوه د ابتکاراتو منه ده، څومره چه د يوه شاعر، يا ليکوال تخيل قوی وی هغومره ئې د ابتکار قوه زياته وی.

د همدغه قوت په مرسته سړی هغه څه پخپل تصور کښې راوستلی او مجسم کولی شی چه په سترګو ئې نه وی ليدلی او په غوږو ئې نه وی اورېدلی کله چه د تخيل له قوت سره عقل هم ملګری شی نو داسی ادبی آثا ترېنه پيدا شی چې زمانه ئې نشی محوه کولی.

د شعر او ادب دنيا يوه خيالی دنيا ده او په خيال ودانه ده.

شاعر او اديب په همدغه قوه الوزی او همدغه الوتنه د انسان د نظر سطحه لوړوی او له بل عالم سره ئې آشنا کوی.

شاعرانه تخيلات هغه خواږه او خوندور خوبونه دی چه يو شاعر او ليکوال ئې په ويښه وينی او نور ئې په خوب کښې هم نشی ليدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوق: د ادب په اصطلاح هغه قوه ده چه د لطف او ښکلا درک کوی او د هنر خاوندان ورته ډیر اړ دی. څنګه چه د انسان په خوله کښې یوه قوه او استعداد موجود دی چه د څکلو په وسیله خوندور او بیخونده شیان پیژنی دغه راز یوه بله قوه هم په ځینو انسانانو کښې شته چه د کلام خوندونه او ښیګڼی پری معلومیږی.

د فن او صنعت خاوندان د دغه قوت په مرسته پخپلو هنری آثارو کښې ښایست او ښکلښتوب پیدا کوی او ډیر ښه هنر هماغه دی چه له سلیم ذوق نه پکښې کار اخستل شوی وی.

رسامی، نقاشی، معماری، موسیقی او شعر و ادب د انسان د ښه ذوق په مرسته ترقی کوی او په جهان کښې ښایست او ښکلیتوب زیاتوی.

په شعر او ادب کښې ځینی داسی ښیګڼی او عیبونه شته چه هغه یوازې د ښه ذوق په مرسته معلومیږی او بې له سلیم ذوقه بل معیار نلری.

همدغه سبب دی چه ادبی پوهه یوازی په زده کړه او تعلیم نه حاصلیږی او ذوقی برخه ئې د ذوق لاربښودنه غواړی.

حافظه: هغه څه چه انسان ئی احساس او ادراک وکړی نو بیائې حافظه له ځان سره ساتی او د ضرورت په وخت کښې ئې بېرته انسان ته یادوی ځکه دغی قوې ته حافظه یا ذاکره وایی.

دا قوه له یوه لیکوال سره په انشاء کښې ډېره مرسته کوی یعنی د انشاء مواد همدغه قوه تهیه کوی که دا قوه نه وی نو څوک له خپلو کتنو اروېدنو څخه معنوی استفاده نشی کولی او د پوهی پانګه ضایع کېږی.

حافظه دقت ته ډیر ضرورت لری، څومره چه د یوه لیکوال حافظه د یوې موضوع جزئیات په ډیر دقت ثبت کړی هغومره ئې په لیک او انشاء کښې د هغې موضوع مکمل او دقیق تصویر موجود وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چه د یوه رسام پوره مهارت دا دی چه یوه منظره پخپل رسم کښې هماغسې وښئی چه ډیر واړه شیان او جزئیات په نظر کښې نیول شوی وی او د باریک بینۍ برخه زیاته وی د یوه لیکوال هنر هم په دې کښې دی چه خپلی لیدنې کتنې یې په پوره ډول او په ډیر دقت پخپل لیک کښې ثبت کړې وی او په حافظه کښې ئی دقت موجود وی هغه کالی چه یوه ښه خیاط ګنډلی او هغه چه یوه بد خیاط ګنډلی دی همدغه فرق لری چه یوه په سکښاو او ګنډلو کښې دقت کړی او بل نه دی کړی که دغسی نه وی نو هر کمیس غاړه لستونی او لمن لری.

حس: هر څوک چه څه واوری، څه ووینی او په څه پوه شی نو ښه باید اثر پری وکړی او په حال کښې ئی تغیر راشی، خپه کیدل، خوشحالیدل، تعجب کول د همدغه اثر نتیجه ده او دغه تاثیر قبلولو ته احساس وائې.

څومره چه د یوه لیکوال او شاعر حسن قوی وي او حساسیت ئې زیات وي نو په لیک او وینا کښې ئې تاثیر موجود وې او په لوستونکو یا اوریدونکو ډیر اثر کوی. په بل عبارت څومره چه یو لیکوال ډیر غمجن شی هغومره نور هم غمجن کولی شې، په هره اندازه چه دې خوښ یا متعجب شی په هغه اندازه په نورو کښې خوښې او تعجب پیدا کوی. په همدغه وجه حساسیت او قوی احساس د شاعر او لیکوال دپاره ډیر په کار دې، دی باید په لږ شی خپه او په لږ شی خوشحاله شی او د تعجب برخه ئی له نورو نه زیاته وی.

ذکاء: چه ذهن هم ورته وائی د انسان هغه استعداد دی چه د عامو او معانیو ادراک کوی.

د یوه لیکوال دغه برخه هم باید نیمګړې نه وې او په دغه وسیله ئې باید له علومو او معارف څخه ښه برخه موندلی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز معنوی قوتونه او استعدادونه که په یوه لیکوال کښې موجود وی او ښه کار ترینه واخلي د هغه لیک او انشاء په انساني افکارو او احساساتو ډیر اثر کوی او د یوه ملت په زړه او دماغ حاکمیت پیدا کوي.

دا راز کسان هماغه خلق دی چه پس له مړیني هم د دوی تسلط او معنوی نفوذ په انساني جوامعو باندې باقې وی او په پیړیو پیړیوئی اثر نه محوه کېږي.

د لیکوال شخصیت او اخلاقی شجاعت: د هر چا په لیک او انشاء کښې د هغه شخصیت او اخلاقی شجاعت ډېر اثر لری.

کوم لیکونکی چه ځانته په درانه نظر ګوری او ځان ورته سپک او وړوکی نه ښکاری خپل مسئولیت د یوه لیکوال په حیث ښه پېژني او د جامعې په مقابل کښې ورته خپله وظیفه ډیره درنه معلومېږی.

همدغه احساس هغه ته جرئت ورکوی چه د ناپوهانو له انتقاد او ملامتې نه ونه وېرېږي او د جامعی عیبونه او دردونه په صراحت بیان کړی.

د ډیرو لویو لیکوالو زیات شهرت د همدغه صفت مرهون دی او د لیکوال هماغه لوړ شخصیت دی چه د ده په انشاء کښې خپل عظمت او جلال ښیی او خلق ورته په احترام سر تیتهوی.

د ادبی آثارو مطالعه: د لویو او سترو لیکوالو د آثارو مطالعه د انشاء د زده کوونکو دپاره ډېر ګټوره ده ځکه چه ښه انشاء او د ادب ټولې ښیګڼې ځوک چا ته په درس او تعلیم نشی ښودلی، دا پوهه تر ډېره حده د ادبی آثارو په مطالعه حاصلېږی.

سړی باید د نظم او نثر ادبی متون په دقت ولولی او د همدغی مطالعی په وسیله د ادب په باریکیو، رمزونو او ذوقی کیفیاتو پوه شی چه هغه د ادبی اصولو او قوانینو په زده کړه نه حاصلیږی مګر دا زده کړه باید داسی نه وی چه لیکونکی به له یوه او بل نه څه را اخلی او خپله انشاء به ئی ګڼی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د انشاء معنا دا ده چه نقل او غلا به نه وی ایجاد به وی.

د ادبی آثارو مطالعه باید لکه غذا او طعام په انسان کښې قوت پیدا کړی او داسی تحلیل شی لکه چه له غذائی موادو نه معنوی قوتونه پیدا شی او ماهیت ئی بدل شی څنګه چه له خبری نه خبره پیدا کېږی باید د یوه او بل له افکارو نه نور نوی او تازه فکرونه پیدا شی او په ذهن او دماغ کښې د انشاء دپاره نوی مواد وزېږوی.

د فکر آزادی: څومره چه یو لیکوال یا شاعر آزاد فکر کولی شی او له ذهنی اسارت نه خلاص وی هماغومره ئی انشاء هم له تقلید او ابتذال څخه لرې وی.

په همدغه وجه لیکوال او شاعر ته ښائی چه د اجتماع او محیط، عرف او عادت په مقابل کښې د نورو په شان په پټو سترګو سرقت نکړی بلکه د خرافاتو او موهوناتو په مقابل کښې د بغاوت جنبله ولری.

هغه څوک چه ډېر مقید او محتاط روزل شوی او وېریدونکی وی فکر او خیال ئی له کورنی مرغه لوړ پروازنشی کولی او په آثارو کښې ئی د عالی فکر او آزاد خیال نښی نښانې نشو لیدلی.

چېرته چه اندیښنې او تصورات لکه بندیان او قدیان په ذهن او دماغ کښې ایسار وی او د جرئت و جسارت لاس و پښی تړلی وی لیکوالی هم هلته غلامانه حیثیت لری او په ادب کښې حریت او شهامت نشی پیدا کېدای. د لیکوالۍ د ترقۍ او انکشاف دپاره د دیموکراسۍ مساعد محیط په کار دی چه د فکر او عقل سترګی نه وی تړلی او د ژبی، قلم او عقیدې آزادی موجوده وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سبک

د سبک حقیقی معنا سره یا سپین زر ویلی کول او په قالب کښې اچول دی.
مجازاً د بیان او اظهار خاص طرز ته سبک وائی.
هر لکیوال د خپل فکر او خیال د ښرګندولو دپاره یوه خاص طرز لری چه هغه د ده سبک باله شی.
د ځینو لیکوالو او شاعرانو سبک ته دومره ښکاره وی چه ادب پیژندونکی ئې د الفاظو له انتخابولو ، د کلماتو له ترکیب او د تعبیر له طرز څخه پېژندلی شی مثلاً رحمان بابا ، حمید او خوشحال خان خټک بیل بیل سبکونه لری چه د فکر او معنی له حیثه او د الفاظو او تعبیراتو له خوائی رنګ او ډول له ورا معلوم دی.
همدغه شان د کاظم خان شیدا اشعار که څه هم د حمید له اشعارو سره په نازک خیالۍ او ځینو نورو ادبی خصوصیاتو کښې ډیر مشابهت لری مګر بیا هم د شیدا او حمید شعرونه د ادبی ذوق خاوندان یو له بله پیژنی.
څنګه چه د دوه تنو څیری که څه هم یو له بله ډېری نزدې وی او ډېر خلق پری تېروزی بیا هم ځینی فرقونه لری چه یو له بله بیلوی د دوه سبکونو ډېر نزدیوالی هم له یو څه مغایرت نه خلاص نه وی او ځیر کتونکی ئی فرق کولی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه شان چه د دوو تنو په آواز کښې فرق شته او یو مقصد یو سړی په یوه راز او بل ئې په بل راز څرګندوي د لیکوالو او شاعرانو په انشاء کښې هم ډېر لفظی او معنوی فرقونه شته چه د سبک او اسلوب بیلتون ښئی.

مثلاً: د پښتو ژبې دوه لوی او مشهور شاعران (خوشحال خان او رحمان بابا) دواړه خپل استقامت او صبر و ثبات بیانوی یا مونږ ته د مقاومت او زغم درس راکوی نو یو راته وائی:

د عالم ډیری خبری د جهان توری لښکری
زړه می نه ښوروی له ځایه غر خو هسی وی کنه

هغه بل یعنی رحمان بابا همدغه مقصد په دی ډول بیانوی.

لکه ونه مستقیم پخپل مکان یم        که خزان راباندی راشی که بهار

د خوشحال خان باتور شخصیت او رزمی احساس همدغه تقاضا لرله چه د ډېرو لښکرو او ډېرو خبرو په مقابل کښې خپل زړه لکه غر ځای په ځای ولاړ وښئی او خپل زړورتوب په دغه ډول څرګند کړی مګر رحمان بابا د خپل صوفیانه او عارفانه ژوند او احساس په غوښتنه بل راز فکر کوی او داسی تعبیر پیدا کوی چه د ده له ذوق او نظر سره موافق دی.

دی لکه یو حکیم د دنیا دورنګی، خزان او بهار، غم او خوشحالی په نظر کښې نیسی او انسان ته دا درس ورکوی چه سړی باید د زمانی د حوادثو او انقلابونو په مقابل کښې لکه ونه مستقیم ودرېږی چه نه ئی د دنیا بهار له چتې وباسی او نه ئې خزان ملا ماته کړی.

دغه د سبک او لهجی اختلاف چه د دې دوو ستره شاعرانو په وینا کښې شته په دی دوه بیتو کښې ئې ډیر فرق راووست او په یوه مطلب کښې ئې دوه مضمونونه پیدا کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله دا سې پېښېږي چه دوه شاعران يو مضمون افاده کوی چه ځينی الفاظ ئې هم مشترک وی او دا گمان پيدا کېږي چه يوه به له بل نه اخستی وی مگر د همدغسی مضامينو د بيان طريقه بيا هم يو څه فرق لری چه د يوه سبک له بل نه بيلوی او د ادبی لهجې په لحاظ د يوه افاده له بل نه غوره ښيی لکه د رحمان بابا او حميد دا بيتونه:

چه له څنگه مې دلبر په لاس کښې جام دی      نن اورنگ د زومانې زما غلام دی

(رحمان بابا )

هر چه تا غوندې دلبر يې به څنگ کښېنی      د پنهو په ځای هغه ته اورنگ کښېنی

(حميد )

مقتولان ستا د غمزو دی لاله نه دی      چه په سره کفن له خاورو را بيرون دی

(رحمان)

سره لاله له هغې زمکی زرغونېږی      هرچه ستا د مقتول وينی وی پرې رغښتی

(حميد )

پدې بيتونو کښې د مضمون په لحاظ څه ډېر فرق نشته او ځينی کلمات چه په يوه بيت کښې راغلی دی په بل بيت کښې هم عيناً استعمال شوی دی مگر بيا هم د رحمان بابا او د حميد خبری د سبک او لهجی په لحاظ ښکاره توپير لری او شعر پېژندونکی پوهيږی چه شعری قوت ئې يو راز نه دی.
دا خو د شاعرانو په سبک کښې هغه توپير دی چه د عبارت او لهجی په لحاظ د يوه شاعر وينا له بل نه بېلوی او د اداء په طرز پوري تعلق لری مگر د سبک او اسلوب په بيلتون کښې سربېره په الفاظو او تعبير په طرز د ليکونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شعراؤ د فکر او نظر اختلاف هم ډېره برخه لری چه د لیکوالو او شاعرانو په مقایسه او مقابله کښې دغه خوا هم ډیره مهم او درنه ده.

رحمان او خوشحال د فکر له حیثه:

دواړه لوی او مشهور شاعران دی مګر د دواړو فکر او نظر یو راز نه دی او په ادبی سبکونو کښې ئې د فکر له حیثه ډېر فرق موجود دی.

د خوشحال خان شاعری د روح او معنی په لحاظ پښتنی شاعری ده او پښتونولی پکښې ډېره زیاته ده که څوک د ده اشعار په یوه بله ژبه هم ترجمه کړی نو پښتنی رنګ او پښتونتوب تربنه نه ځی ځکه چه د ده افکار او احساسات پښشتنی دی او د افغانیت نمایندګی کوی. که څوک غواړی چه د افغان ملت یوه ښه مکمله پښتنی نمونه وګوری نو پخپله خوشحال خان خټک د افغانیت ډیر ښه مثال دی او د ده اشعار د پښتو او پښتونولۍ کامل تصویر ګڼلی شو مګر رحمان بابا دغسې نه دی د هغه افکار او احساسات تر ډېره حده له مطلق انسانیت او انسانی سلوک سره تعلق لری او د بشری اخلاقو درس راکوی خوشحال خان پخپلو اشعارو کښې مونږ ته یو داسې سړی راښئی چه د ده په نظر کښې د سړیتوب او نارینتوب ډېر ښه مثال دی او دی ورته په مردۍ او رجلیت قایل دی چه یو څو بیتونه ئې دا دی:

| | |
|---|---|
| مـرد بـه نشـې پـه ګفتـار | څـو پیـدا نکـړی کـردار |
| چـه دی وکنځـی مـرد نـه یـې | کـه لـه تـا، نـه وی پـه دار |
| چـه څـه دی خـو انتقـام دی | د مردانـو کـارو بـار |
| عفـو هـور تـه ځـای لرینـه | چـه نـه عیـب وی او نـه عـار |
| چـه عبـت ورخخـه نـه وی | هغـه مـرد نـه دی پـه کـار |
| هـم مهـره لـری هـم زهـر | ښـه مـردان وی لکـه مـار |
| چـه هـم تنـدر هـم بـاران وی | تـر هغـو مردانـو ځـار |

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــرد بـــه غـــم د خپـــل هنـــر کـــا　　نـــــــــه د زر او د دینـــــــــار
مـــرد بـــه غـــم کـــا د خپـــل شـــرم　　د عـــــــــــزت د اعتبـــــــــار
نـــامرد فخـــر پـــه نســـب کـــا　　مـــرد نـــه مـــور لـــری نـــه پـــلار

ځنګه چه په پښتو او پښتونولۍ کښې پت او عزت ساتل دومره اهمیت لری چه پښتانه ترینه سر او مال دواړه قربانوی نو خوشحال خان هم په دغو بیتو کښې د پښتنی ذهنیت ډېر ښه ترجمانی کوی او وائې انسان باید د انتقام اخستلو قوت او قدرت ولری چه څوک ورته په سپکه سترګه ونه ګوری او هر چا سترګه تری وسوزی مګر یوازې دا کافی نه ګڼی چه خق ترینه وډارشې بلکه د مینې او محبت لرل هم ضرور ګڼی او ښه کردار ته په ډیر اهمیت ګوری، په یوازې نسب فخر کول نامردی ګڼی او وائې مرد باید د خپل عمل او کردار اولاد وی او پخپلو کارنامو وپیژندل شې.

د خوشحال خان د ژوند او د ده د عصر او محیط تقاضا دا وه چه پښتنو ته د ملی عزت ساتلو او د وطن له غلیمانو نه د انتقام اخستلو درس ورکړی ځکه ئې ویل:

څـــو وانخلـــی لـــه غلیمـــه انتقـــام　　مرد نه خوب کا نه خوراک کا نه ارام
که په توره ئې ځواب ورکړی مردی ده　　که وجود دې څوک ازار کاندی په چوب

عبدالرحمن بابا چه یو صوفې او اخلاقی شاعرو او له مینې، محبت سره ئې ډیر کار درلود هغه پښتنو ته نور څه ویل او د غضب او انتقام جذبه ئې په دی ډول سروله:

شـهیدان نـه دی هغـه خونفروشـان　　چه خونی ته خونبها نکړی معـاف دی

رحمان بابا که څه هم پښتون و مګر د خوشحال خان په شان د پښتنی احساساتو او جذباتو له تاثیر لاندې نه و راغلې او په همدغه وجه ئې په اشارو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د پښتنی ذهنیت اغیزه ډېره لږ وینو یائې په بل رنګ او بل طرز کښې وینو.

دی هم مردی او مردانګی ستائی مګر هغه نارینتوب چه خوشحال خان ئې تفسیر او تعبیر کوی او هغه چه رحمان بابا ورته مردی وائې یو له بله ډیر فرق لری. دی وائی:

| | |
|---|---|
| مړنــــی ویلـــی بویــــه و هغــــه تــــه | چـه بی وجهـی ازار نـه کـا هـیخ سـړی |
| حـرام خـور د مخنشـو پـه حسـاب دی | کـه پـه تـوره یـا پـه تیـغ وی مړنـی |
| د مکـی سـفر آسـان دی مـرد هغـه دی | چـه لـه ځانـه سـفر کانـدی سـفر دا دی |
| هیخ ترښه می نشی په تش ډاډ د کورو کلی | مرد بویه چه واخلی د غم پیتی له غمګینه |

دغه عارف او صوفی شاعر نارینتوب دیته وائی چه سړی د نورو د خیر او ګټی دپاره له خپل ځانه تیر شی او د یوه غمجنی د غم پیتی پخپلو اوږو واخلی، څوک ئی بی وجهی له لاسه ازار نشی، د چا مال په زور او ستم لاندی نکړی.

دی لکه خوشحال خان چا ته نه وائی که څوک دی په لرګی وهی ته بې په توره وهه بلکه د عفو او ګذشت درس ورکوی او غواړی چه د خلقو په زړونو کښې د رحم او عاطفی احساس ورو زی او په عالم کښې همدردی او مهربانی پیدا کړی.

ده د نرم زړه خاوندان ښه ګڼل ځکه ئی ویل:

| | |
|---|---|
| ډیر عزیز دی موم د لان تر سکندلانو | ته یو څاڅکی شه د اوښکو ګوهر مشه |

خوشحال خان په ننګ او غیرت، په توره او افغانیت فخر کاوه او ویل یې:

| | |
|---|---|
| د افغـان پـه ننـګ مـی وتړلـه تـوره | ننګیالی د زمانی خوشحال ختېک یم |

مګر رحمان بابا ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه عاشق یم سرو کار می دی له عشقه نه خلیل نه داؤدزی یم نه مومند

لنډه دا چه خوشحال خان یو ملی شاعر دی چه ملی روح تقویه کوی او قوم جوړوی مګر رحمان بابا د مینی او محبت شاعر دی او په کلام کښې ئې عرفانی تصوفی او اخلاقی خوا ډېره درنه ده.

د ده تعلق له عشق سره ډېر زیات دی او د عشق په حقیقت ډېر ښه پوه شوی دی.

د عشق او محبت سندرې د خوشحال خان په دیوان کښې هم ډېری دی مګر په عاشقانه سندرو کښې ئی هم د شجاعت او شهامت اغیزه موجوده ده او د ننګ و غیرت روح پکښې ډېر حلول کړی ځکه ئی غزلو هم حماسی ښه پیدا کړېده یعنی زړورتوب او زورورتوب په عشق کښې هم له خوشحال خان سره ملګری دی او کله چه له ښکلو معشوقو سره خبری کوی بیا هم اکثراً د یوه قهرمان او توریالی شان او حیثیت پکښې ځان ښئی وګورئ ! د ده د غزلو ځینی بیتونه:

کـه زه نـه وای تـا بـه ځان لـره بلبل ځوک په پالنګ به دی دا هسی درختل څوک
کـه نیـولی زرکـه بـاز پریـږدی لـه چنګـه زه بـه هـم لـه لاسـه پرېـږدم شـوخ شـنګه
د غمزی په تیغ ئی خوږ ښه ئی خوشحاله مړنـی پـه روغ صـورت نـه ځـی لـه جنګـه
تـوره چـه تېریـږی خـو ګـذاره لـره کنـه زلفی چه ولول شی خو خپل یار لـره کنـه

د خوشحال خان په عشقی غزلو کښې تواضع او عجز و نیاز هم شته مګر په هغه اندازه چه رحمان بابا د عشق او محبت په مقام کښې د شاعرانه او عاشقانه ادابو رعایت کوی دی ئی نکوی.

خوشحال وائی:

زه خوشحال کمزوری نه یم چه به ډار کړم په ښکاره ناری وهم چه خوله ئی راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر رحمان بابا د دلبرانو په مقابل کښې بيدلی او بی زړه توب خوښوی او وائی:

دغـه ځـای د بيـدلانو دی رحمانـه      د دلبـرو پـه کوڅـه د لارو رمشـه

د خوشحال خان ختک سبک[1]:

د خوشحال خان لومړی خصوصيت دا دی چه پخپلو اشعارو کښې ئی د مليت او وطن دوستئ احساس په ډېر قوت ګډ کړی او پښتنو ته ئی د خوئ او خپلواکئ پيغام وړاندی کړی دی حماسی برخه ئی په شعر کښې ډېره درنه او له قوته ډکه ده.

د مضامينو د تنوع او د شعر د اقسامو او انواعو په لحاظ څوک له ده سره برابری نشی کولی.

د فکر آزادی، بی قيدی او جرئت و جسارت ئی ډېر زيات دی ځکه ئی په اشعارو کښې بېباکه او بې پروا زړورتوب وينو.

د ده اعترافات او رندانه وينا په دغسی وضاحت او صراحت د نورو په اشعارو کښې نه وينو دی له اقوامو او اشخاصو نه نه دی وېرېدلی او د عرف و عادت، د رسم و رواج په قيد کښې ډېر نه دی راغلی.

د ده اشعار د ده له ژوند او ورځينو پيښنو سره ډېر ارتباط لری او د خپل وخت ډېر حالات ئی د شعر په ژبه بيان کړی دی ځکه ئی له اشعارو نه د عصر او محيط رنګ او ډول ښه معلومېږی او د ده معنوی څېره د ده په اشعارو کښې ليدلی شو.

د ده په ديوان کښې تصوفی، اخلاقی او عشقی اشعار هم شته مګر د ده د شاعرئ اساسی جزء او مهمه برخه ئی نشو ګڼلی، دا ويلی شو چه دی د راز راز

---

1– دلته د ده د نثر سبک نه څېړو يوازی شعر يې په نظر کښې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوماتو او مطالعاتو خاوند و او له دغو خواؤ نه ناخبره نه و مګر په شاعرۍ کښې ئی هدف د ملیت د جذبې ویښول و او اسای توجه ئی همدغی خوا ته وه خوشحال خان په شعر و شاعری کښې د الفاظو ډېر پروا نه ده ساتلی هر لفظ چه په هر ځای کښې په کاریده خپل و او که پردی غریب و او که فصیح ده ترېنه کار اخستی او کله ئی د یوه لغت هډوکی هم مات کړی او په وچ زور یې په یوه ځای کښې لګولی دی په همدغه وجه د ده د دیوان د لغاتو حل کول او په ټولو اشعارو یې پوهیدل ګران کار دی.

ترڅو چه سړی له ځینو هندی ژبو او د پښتو له مختلفو لهجو او محاورو نه خبر نه وی د ده په اشعارو پوره نشی پوهیدلی.

دغومره ډېر اشعار ویل ضرور له الفاظو سره یوڅه بی قیدی او بی پروایی غواړی او د اشعارو په دغسی لویو دیوانونو کښې ارو مرو له پردیو او نا آشنا لغتونو نه کار اخستل کیږی خوشحال خان ته د پښتونولۍ نبض او رګونه ډېر ښه معلوم و او د ننګ و غیرت په پارولو ډېر ښه پوهیده ځکه یی اشعار د پښتنو په ذوق او فکر ډېر برابر دی او پښتونولی پکښې ډېره زیاته ده.

د همدغه مقصد دپاره ده پښتنو ته ډېری طعنی هم ورکړی دی او په سپوروستو غو ویلو کښې یې هم کمی نه دی کړی ده ځینی ډېر ترخه حقایق هم بیان کړیدی چه پښتانه خپلو نیمګړتیاؤ ته ملتفت شی او ځان وپېژنی.

د ده په اشعار کښې زړه ماتوونکی رقیق احساسات نشته او په ویونکو کښې لوړ همت، ټینګ عزم د آزادی مینه او د وطن عشق پیدا کوی.

د رحمان بابا سبک:

رحمان بابا د ساده انشاء خاوند دی او په سبک کښې یې د فصاحت او بلاغت ډېر مراعات شویدی له اشعارو نه ئی هر څوک خوند او فایده اخلی او عام و خاص پکښې برخه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د معنایو مخ ئی هر چا ته ښکاره دی او بل مخ ئی خواص وینی او مخصوص خوند پکښې مومی د عبارت روانی او عام فهمی ئی په کلام کښې ډېره اغیزه کړېده ځکه ئی عام مقبولیت پیدا کړی.

اشعار ئی عارفانه دی او اخلاقی ارزښت لری چه رحمان بابا ئی هر چا ته صاحب حال او سالک معرفی کړی په همدغه وجه خلق ده ته ډېر ښه عقیده لری او د غی عقیدې د ده د وینا تاثیر ډېر زیات کړیدی.

د اشعارو یو مهم خصوصیت ئی دا دی چه ډېر بیتونه یی لکه متلونه دا سی دی چه د استدلال کار تری اخستل کیږی دا ځکه چه د ده اشعار د ژوندانه له هر اړخ سره تماس او تعلق لری او خلقو ته په حیاتی چارو کښې ډېره ښه لارښودنه کوی په همدغه سبب خلق د ده په دیوان کښې فالونه ګوری او هغه څه پکښې مومی چه د یوه او بل له حال سره سر خوری او د هر چا د زړه خبری په کښې شته.

د ده اشعار د زمان او مکان په محدوده او تنګه دایره کښې بندنه و ځکه ئی په هر ځای او په هر وخت کښې هر څوک خوښوی او له هر مجلس سره اړخ لګوی سازنده ئی د بزم په مجلس کښې وائی او خطیب ئی د منبر په سر لولی د غم او ماتم خاوندانو ته پکښې ډېره ښه تسلی شته او مینانو ته د معشوقو له خوا ډېره ښه پیغامونه.

له دنیا نه د چا زړه بیخی نه توروی او د دنیا مینه هم په زړونو کښې دومره نه پرېږدی چه زړونه تور کړی.

د عشق او مینی په باب رحمان بابا د حسن او ښکلا له مقامه تیر شوی او معنی ته رسیدلی دی دی کومه ښکلی او ښایسته محبوبه نلری بلکه په حسن او ښکلا مین دی، هر چیرته چه وی او په هر څه کښې چه وی دا مینه له ده سره دومره پخه شوه چه په خپله عشق د ده معشوقه شوه او له سینګار او ښکلیتوب نه زیات په مینه مین شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی په دې حقیقت ډېر ښه پوه شو چه ښکلا له عشق او مینې پیدا کېږی او د عشق پرتو چه په هر څه ولوېږی نو هغه ښکلی او ښاغلی شی.

رحمان بابا عشق پیر، وپیشوا گڼی او د جملهٔ مخلوقاتو پلار ئی بولی.

د ده په اشعارو کښې قومی او محلی رنگ دومره تسلط نه دی موندلی چه د یوه قوم یا د یوه هېواد د شاعر وګڼل شی دی په هغو شاعرانو کښې راځی چه که د ژبې نا آشنائی نه وی نو بین المللی شاعر که ورته ونه وایو یو بین الاسلامی شاعر خو ورته ویلی شو ځکه چه د ده تعلق تر ډېره حده له انسان او انسانیت سره دی او نه محیطی خصوصیاتو ګردئې له ځانه څنډلی دی.

زه عاشق یم سرو کار می دی له عشقه　　　نه خلیل او داؤدزی یم نه مهمند

ده ده په الفاظو او جملاتو کښې روانی، وضاحت او خوږوالی موجود دی او کلام یې له تعقیدونو او ابهام څخه خلاص دی.

له تشبیهاتو او استعارو نه ئی ډېر کار نه دی اخستی او د معنا ښایست ئی د عبارت له سینګار نه ډېر زیات دی.

د ده د اشعارو ښکلا داسی ده لکه چه یو ډېر ماهر خیاط له یوه سنګین، ساده مګر ډېر قیمتی ټوکی نه داسی لباس جوړ کړی چه د اغوستونکی له قد او اندام سره ډېر زیات مناسب وی او په نیولو، پریکولو او ګنډلو کښې ئې ډېر دقت شوی وی.

د حمید سبک:

عبدالحمید مومند په شعر او شاعرۍ کښې له نازکخیالۍ او له تشبیه او استعارې نه ډېر کار اخستی دی د شعر دپرې نازکۍ د ده په کلام کښې شته او په دغه صنعت کښې یو ممتاز مهارت لری د فن او هنر په لحاظ چه څومره لفظی او معنوی ښېګڼې د شعر دپاره په کار دی دی پرې ډېر ښه پوه شوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل هنر ئی ډېر ښه ښودلی دی موشګافی د ده کار دی اسمان ته د شعر زینی اېښودل د اسمان ستوری د شعر په لړ کښې پیل د ده هنر دی.

د ده په سندرو کښې د عشق سوې او ګداز ډېر اغیزه کړی ده او له ښکلا سره ئی تعلق ډېر زیات دی.

په کلام کښې ئی ځینی لفظی او معنوی تعقیدونه شته او حینی لغات پکښې داسی استعمال شوی دی چه معنی ئې ښه واضحه نه ده یا په ګرامری لحاظ نقص او عیب لری همدارنګه په ځینو قافیو کښې ئی هم ځینی عیبونه موجود دی چه د فن په لحاظ ورته ادبی نقص ویلی شو مګر په اشعارو کښې ئی ادبی خوندونه هم دومره زیات دی چه د غه راز عیبونه پکښې پټ او ورک دی. حمید په مضمون افرینۍ کښې لوی لاس لری او د هر شی له لیدو کتو نه یوه ښه معنی پیدا کوی. په شعر کښې ئی پند و نصیحت او اخلاقی لارښودنی شته چه د ژوندانه په لارو چارو کښې تربنه ښه استفاده کیږی په عشق کښې لکه رحمان بابا ډیر پورته او لوړ نه دی ختلی چه د حسن او ښکلا له سرحده هم تیر شوی وی مګر د عشق هنګامه ئی ډیره توده ساتلی ده او د سوزناری ئی ډیری سوزنده دی.

یا د ښکلو د پاولیو شرنګهار دی　　　یــا د عشــق د لیونیــو د ځنځیــر

که د حمید شعر له یوه لباس سره مشابه کړو نو ویلی شو چه دغه جامه ډېرې غټې او میده بخۍ لری او ګل دوزی پکښې ډیره زیاته ده په دی ټوکی باندی هر راز بوټې او ګلونه شته او د صنعت مهارت پکښې له ورا معلوم دی دا جامه که د ټوکی او رخت په لحاظ ډیر قیمت ونلری نو دغه انځور او نقش و نګار ئی هم قیمت لوړولی شی.

غرض دا چه په دغو اشعارو کښې د صنعت برخه زیاته ده او داسی مثال لری لکه چه یو شعر او یوه قطعه یو ډېر ماهر خطاط ولیکی او د خطاطۍ فن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلې دومره ارزښت پیدا کړی چه خلق د شعر مضمون ته دومره نه ګوری لکه چه د خط ښایست او ښکلا ته ګوری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پښتو څنګه ولیکو؟

ځینی وائی پښتو باید سوچه کړو، پردی لغات تربنه وباسو او یو ټکی فارسی یا عربی پکښې پرې نږدو.
دا نظریه په ډېر افراط بناء ده او دا کار کېدونکی نه دی په دنیا کښې داسی ژبه نشته چه پردی لغات پکښې نه وی او نیلی ریښی ئی له نورو ژبو سره تړلی نه وی جهان اوس یوه کور غوندی دی او د ملتونو فرهنګی او اجتماعی تعلقات ورځ په ورځ زیاتېږی اوس د هر چا غږ د بل غوږ ته رسیږی او نا آشنا آواز نه له یو بله آشنا کیږی.
هره ژبه له بلی نه څه اخلی او څه ورکوی.
د ولسونو د ګډ ژوند سیاست په ژبو باندې هم تاثیر لری او پردی لغتونه خپلېږی هغه وخت چه هیوادونه یو له بله ډېر لری ؤ او اولسونه به یو د بل په ژبه نښه نه پوهیدل بیا هم په ژبو کښې دخیل کلمات وجود ؤ او د لغاتو په نړۍ کښې معرب، مفرس مفغن الفاظ پیدا شوی و نو اوس دا څنګه کیدای شی چه په پښتو ژبه کښې دې پردی لغات نه وی هغه نوې معنا ګانې او نوی مفهومونه چه په جهان کښې اوس را پیدا کیږی، طبعاً په پښتو کښې نوم نه لری او دا نشی کېدای چه ټولو ته د نوو اختراعاتو په شمول په پښتو ژبه کښې نوی نومونه پیدا کړو که څوک په دی فکر کښې وی چه مونږ دې له نورو ژبو نه څه نه اخلو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې پښتو لغتونه دې استعمالوو، د دی معنی دا ده چه خپله ژبه دې محدوده وساتو او خپل فرهنګ دې په ډېر ابتدائی حال پرېږدو.

دا فکر باید له مغزو نه وباسو او هيڅکله دا ونه غواړو چه په پښتو کښې دې دخیل او مفغن کلمات نه وی مګر د دې معنا دا نه ده چه مونږ به د پښتو موجود او مستعمل لغات غورځوو او په عوض کښې به ئې پردی غلات بی ضرورته محض د تفنن دپاره راوړو ځکه چه دا کار هم ژبی ته زيان رسوی بلکه ژبه په مرور د زمان محوه کوی په پښتو کښې د اشتقاق له اصولو سره سم د نوونو مواو اصطلاحاتو وضعه هم په کار ده مونږ باید ژبه به د جمود په حال پری نږدو او وخت په وخت د زمانی له ضرورت او احتیاج سره سم نوی تعبيرات او نوی نومونه پیدا کړو او کوښښ وکړو چه د ژبی لغوی استعداد او د افادی قوت زیات شی. او دا کار هلته کېږی چه مونږ د پردیو لغاتو او اصطلاحاتو په قبلولو کښې له غور او سنجش نه کار واخلو او هر څه په پټو سترګو بی ضرورته قبول نکړو پښتو ژبه په پيړيو پيړيو له ليک او لوست نه لری پاته شوی او نوری ژبی د پښتو په هیواد کښې د دفتر او دیوان ژبی وی په همدغه وجه نن د قلم ژبه د پښتو له ډېرو لغاتو سره نا آشنا ده ډېر ژوندی لغات چه د عوامو په محاوره کښې ډېر زیات استعمالېږی د لیکلو په خوله نه راځی او په ځای ئی پردی لغات لیکل کیږی مونږ اوس د تش په ځای خالی لیکو، زړور ته دلير او زمری ته شېر وايو د دروند په ځای سنګين او د مينی په ځای محبت ليکو، ترکاڼ ته نجار او پښ ته آهنګر وايو پردی راته بیګانه شو او د پښتو لمر او سپوږی رانه په فارسی ابر کښې پنهان شوه ځکه ئی ځای آفتاب او مهتاب یا شمس و قمر ونیو او توری په حرف بدل شو.

په پښتو ادب کښې ځینی داسی اشعار هم شته چه عربی او فارسی لغاتو پکښې د پښتو ژبی رنګ او بڼه داسی اړولی ده چه عام پښتانه ئې هيڅ په معنی نشی پوهيدلی لکه دا بیت چه ګورئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــخ دې شـــجر حســـن ثمــر دی         یدین رجلین پی لګوم ثمر به خورمه

د عربی او فارسی ژبی علمی او ادبی سلطه په پښتو ژبی دومره قایمه شوه چه د دغو ژبو لغات ادبی او مهذب وګڼل شوه او پښتو لغتونه بی تهذیبه په نظر راغله.

په همدغه وجه د معشوقو شونډو ته لب وویل شوه او بیا ترینه په لام او بی تعبیر وشوه د ښکلو څڼو او کوڅیو ته مو زلفی وویلی او بانه مو مژګان وبلل چشمان رخسار او دندان د غزل ژبه شوه او پښتانه شاعران په چاه زنخدان کښبې ولوېدل. اوس په کار دی چه له دغه تاثیره ځان خلاص کړو او د پښتو ژوندی او مهجور لغتونه په پښتو ادب کښبې راننباسو مګر دا هم باید په نظر کښبې ولرو چه د یوی ژبی کور په دی دومره نه ورانیږی چه پردی لغات پکښبې ډیر راننووزی بلکه د ژبی له ترکیب او تالیف سره لوبی کول او د نورو ژبو په سبک او اسلوب جملی جوړول ژبه خرابوی او اساس ئی ورانوی یعنی د ژبی ګرامر او محاوری مراعات ډیر په کار دی او په دغه برخه کښبې د لیکوالو بی پروائی د ژبی د مسخ کیدو سبب ګرزی.

په یوه پښتو کتاب کښبې د یوه مشهور لیکوال دا جمله (دغه صورت د مستقبل د وارداتو د امتزاج نه یو ځلانده ماضی ته تخلیق ورکوی).

په دې لحاظ دومره بده نه ده چه عربی لغات پکښبې ډیر دی بلکه په دی وجه ډېره بده ده چه د جوړولو طرز ئی ښه نه دی او په ترکیب کښبې ئې ډیر ورانی موجود دی په پښتو کښبې ځینی لیکوال شته چه د پښتو خالصه لغات ډېر زیات استعمالوی مګر جملی ئی بل راز وی او ګرامی نقص پکښبې وی پښتانه لیکوال باید د ژبی اصول او قوانین په نظر کښبې ونیسی او د نورو ژبو د تقلید په وجه پښتو محاوره هیره نکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په پښتو ژبه کښې ځینې لغوي او ګرامري تغیرونه

ژبه هم لکه نور موجودات د تغیر او تحول د قانون تابع ده.

د نن ورځی مترقی ژبی هم د خپل پیدا ایښت په ابتدا کښې ډېری نیمګړی وی چه محدود لغات او اصوات ئی لرل، د ترکیب او تالیف په لحاظ هم ډېر سادګی پکښی وه او لغات به د مفرداتو په شان استعمالیده په لومړی مرحله کښې د محسوسو شیانو نومونه پیدا شوه بیا ورو ور د نورو مفاهیمو او معنوی امورو دپاره استعمال شوه او ځینو الفاظو له اسمی معنا نه فعلی معنا ته انتقال وکړ لکه چه له (غوږ نه) (نغوږل) جوړ شو او له (کسی) نه (کسل) همدارنګه ځینی اصوات په افعالو بدل شوه یعنی له (ډز) نه (ډزول) او له (ټک) نه (ټکول) پیدا شوه.

د ژبی له تدریجی تکامل او ترقی نه په ژبه کښې ګرامری قوانین کشف شوه او مکمله صرف و نحوه را پیدا شوه.

یعنی د مذکر او مؤنث فرقونه او د مختلفو عواملو تغیرونه په ژبه کښې زیات شوه او د افعالو په نوعیت کښې ډېر زیاتوالی راغی مګر وروسته تر دغی مرحلی چه ژبی له ډېر استعمال لاندی راغلی او لیک و لوست ډېر زیات شو، نو ځینو ژبو خپل ډېر ګرامری خصوصیات او ممیزات له لاسه ورکړه او لغاتو هم بسیط شکلونه پیدا کړه. د افعالو مرکب ډولونه په بسیطو بدل شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګر دغه تغیر او تحول په ټولو ژبو کښې په یو راز نه دی عملی شوی او ټولی ژبی اوږه په اوږه وړاندی نه دی تللی.

د پښتو ژبی د تغیر او تحول مراحل مونږ اوس نشو ښودلی ځکه چه د دی ژبی د ډیرو پخوا زمانو لیکلی زاړه اثار له مونږ سره نشته او دا نشو کولی چه په دغه باب کښې مدلل څه ولیکو او دا معلومه کړو چه پښتو په کومه مرحله کښې واقع ده مګر په لنډ او مختصر ډول دومره ویلی شو چه پښتو ژبی د لغاتو او ګرامر په برخه کښې له څه مودی پخوا نه تر اوسه پوری ځینی تغیرات قبول کړی دی چه دلته ئی د یوه بحث د آغاز په ډول ښیو.

الف- د لغاتو برخه:

ځینی لغات پخوا مستعمل و چه اوس متروک دی یائی په تلفظ کښې تغیر راغلی او ځینی نور پخوا یو شان استعمالیده او اوس بل شان یعنی په معنی کښې ئی تغیر راغلی دی چه یو څه مثالونه ئی دا دی:

<u>اغوستن</u>: دا کلمه میا روښان او اخوند درویزه د جامو او کالیو په معنی داسی استعمال کړیده (اغوستن نه اغوندی) چه اوس یوازی مصدری معنی لری او په دغه معنی ئی څوک نه استعمالوی.

<u>هلک</u>: اوس یوازی مذکر طفل ته د زیږیدو له وخت د ځلمیتوب تر وخته ویل کیږی چه په فارسی ورته (بچه) وائی مګر په زړو کتابونو کښې هر واړه او کوچنی څیز ته هلک ویل شوی دی لکه (هلک خبره- هلک حج- داس سر دی هلک وی. هلک جنګونه).

<u>ښاغلی</u>: په زړو کتابونو کښې ښه خط ته هم ښاغلی خط ویلی شوی مګر اوس یوازی ښه سړی ته ښاغلی وایی او بس.

<u>اغوندوی</u>: اوس اغوندی استعمالیږی لکه: (جامی اغوندی) او که څوک بل چا ته د جامی ور اغوندی نو په دغسی مورد کښې (ور) زیاتوی یعنی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغوستل، وراغوستل استعمالیږی، مګر پخوانو (اغوندوی) د (وراغوندی) په معنی استعمال کړیدی.

خپلسر: دا کلمه په پخوانیو کتابونو کښې ډیره راغلی ده چه اوس متروکه ده.

جوکل: د تللو (وزن کولو) په معنی په فوائد الشریعت کښې داسی استعمال شویدی: تله حق ده یارانو په صراط وجوړیږی... عملونه به دواړو، وجوکل شی. د بندګانو پری نیکی بدی جوکیږی.

ځبله – وبله: دا لغتونه هم په اوسنی لیک کښې نشته او پخوانی لیک کښې ډېر استعمال لری.

پاتی کړی: سلیمان ماکو او خوشحال خان ختک د (پریښی) په معنی پاتی کړی لیکلی چه اوس مونږ یوازی (پاتی شوی) په لازمی ډول استعمالوو او متعدی صورت ئی متروک دی.

ګانده: د فرد او راتلونکی ورځ په معنی په زړو کتابونو کښې راغلی دی چه اوی نه استعمالیږی.

بیارته: اوس پکښې تخفیف راغلی او (بیرته) استعمالیږی.

پیرړ: پخوا (پېرړ، پریړ) لیکل کیده او اوس (پیړ) لیکو.

وروستلی – ړونبلی: دا دوه کلمی هم اوس په مخفف ډول (وروستی، ړونبی) لیکل کیږی او له پخوا نه پکښې تخفیف راغلی دی.

ویلړین: دا کلمه اخوند درویزه ډیره زیاته استعمال کړېده چه اوس ئی څوک په معنی ښه نه پوهیمی لکه په دی جملو کښې: ادب ئی ویلړین، ناروائی ویلړین، دا شهیده ویلړین، وبال ئی ویلړین.

دا کلمه په مخزن الاسلام کښې په (۱۲) جملو کښې ولیدل شوه او د مختلفو مقامونو له استعمال نه داسې معلومه شوه چه د بوللو او ګڼلو په معنی به وی چه ځینی پوره جملی ئی دا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- په هېڅ زمانه کښې اولياء تر انبياؤ نه افضل و نه به وين څلور څلويښت بخر هر انبياء تر اولياؤ په بره مرتبه ئې ويلړين.
۲- امام اعظم زر ځله ښه خداى په خوب ليدلى ځکه دى په امامانو کښې په بره مرتبه ئې ويلړين.
۳- يوه ياروويې على ته چه ما خداى په خوب ليدلى مرتضى وې دغه هسې پر بازار هر څوک وينى ولى دا زده کړه چه مطلق ليده ئې نشته په دنيا کښې چه مطلق تجلى لکه ئې ذات دى په قيامت ئې ويلړين.
۴- يو بيڅونه بى چګونه بل بى عيبه بې نقصانه وسکه دا دواړه سلبى او تنزيهى ويلړين ولى نور لکه محى، مميت، معز، مذل، خداى دى صفات فعليه ئې ويلړين. اخوند قاسم په فوايد الشريعته کښې هم دا کلمه داسى استعمال کړى ده: اسلام جوړ په پنځه څيزه پنځ بنائى ويلړين.
په دغه جمله کښې هم د بوللو او ګڼلو معنى ښه اړخ لګوى.
يو بل لغت چه عبدالحميد پخپلو اشعارو کښې استعمال کړى له همدغى مادى څخه مشتق معلومېږى چه هغه د (ويلاړ) کلمه ده لکه په دې بيت کښې:
شپون غوبه ځکه سنګدله ويلاړه شى     چه روګار کاندى له کاڼو د بيديا

دا بيت په يوه بله نسخه کښې داسى هم راغلى دى:
وهير: دا کلمه په پخوانيو کتابو کښې داسى استعمال شويده (وهېر کړ، وهير شه) چه اوس (هير) ليکو مګر د وهير (و) هغسى نه دى لکه چه په ځينو محارو کښې د جملى يا کلمى په سر کښې راځى لکه: (وماته- وتاته) ځکه چه وهير په داسى جملو کښې هم استعمال شوى: (د وهير غاړيو) (نه وهيروى)
سکه: دا لغت په زړو انشاء کښې ډير راغلى يعنى خوشحال خان اخوند درويزه او نور داسى استعمال کړى دى (سکه احتياط ورځنى وکانئ، سکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرهیز دې هر څوک وکا ) چه په اوسنی لیکنه کښې نه استعمالیږی مګر د لغمان او تګاب په محاوره کښې وایی (ته به سکه وایی - ماسکه ویلی ).

وراکړه: دا لغت د لری کړه په معنی په زړو کتابونو کښې راغلی دی لکه (د غیر فکر له زړه وراکړه ) (د نبی له منډه ورادی ) چه اوس په دغه ډول مستعمل نه دی که څه هم دا وایو (له ورا معلوم دی ).

ویی: اخوند درویزه د (قول ) په معنی راوړی دی لکه:

(دا ویی د پاک نبی دی ) چه اوس نه دی مستعمل.

دغه راز ډېر لغتونه پخوانیو شاعرانو پخپلو اشعارو کښې راوړی دی چه اوس مستعمل نه دی لکه:

زوم: د حمید په دی بیتو کښې:

د خوبانو هلک غم به ئی زورزوم کړی | که رستم د زمانی وی پخپل زور کښی
دا چه ته ازمیې زور نن په کمزوری | دغه زور به شی سبا درخخه زوم

وست:هغه‌وست‌د محبت‌په‌صحرا موندشی | چه مونده نشی په ښهر د لاهور کښی

(حمید )

پیخم:زه‌په‌وصل‌کښې‌هجران‌هسی‌پیخمه | لکه‌څوک‌چه‌خالی‌لاس‌وی‌په‌بازارګډ

(رحمان)

سهېدل: نه له تا سره سهیږم نه بی تا | مبتلا دې کړم په څه بلا بتا

اتند:څه‌به‌غم‌د‌مال‌و‌ملک‌د‌دین‌و‌دل‌کړم | چه لاستا له غمه روغ ګرزم اتند دی

(رحمان)

اړل: بورا په بوی د ګلونو پائی | تل ګند ګی ته جعل اړل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(خوشحال)

بلبښ: که هر څو مې لکه و وړکي د پرهيز په اوني بلبښ
تپند زړه را څخه ترکو عاقبت ځان ته را کېښ
(حميد )

ځله چه تناکي د محنت لري په لاس کښې — هغه نه ګوري په ځله د ګوهر مخ

(حميد )

نغومې: هر سړی چه د اخلاص په لاري درومې — که هر څو په غرونو درومې نه به نغومې

(خوشحال)

لړومې: بنه چه زه په عاشقيه کښې شهيد شوم — په دا لار کښې څه لړ نه دی لړومې

(خوشحال)

وتنه: په دنيا وتنه دانه ده هوښياره — چه دی هېڅ په دنيا مال نه وی تنه
آسپه: د دنيا مالونه واړه سره اسپه — د دنيا په مال د زړه نه وی ترڼه

(خوشحال)

ورمونه: هوښيار به مينه په ورمونو زياته کا — ورمونه وايم که څوک مخ ماته کا
غوبر: سيلاب په څو ځاځکو غوبر پيدا کا — بنياد ئی نشته غر پرې په دا کا

(خوشحال)

په همدغه سبب چه په ژبه کښې لغات محاورات او اصطلاحات وخت په وخت تغير کوی د ځينو بيتونو پوهيدل مشکل دشوی دی او د رحمان بابا په ساده انشاء او عام فهمه ژبه کښې هم داسی بيتونه شته چه په معنائی هر څوک بنه نشی پوهېدلی چه يو څو مثالونه ئې دا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | |
|---|---|
| د چکنا جکنۍ ببلتون په نيمه شپه وی | ستا زما په حال غماز شته د سبا مخ |
| د هارون چرخ پای نيلی دی د سپهر | خو به دو کا چه ئی دو په سر د بام وی |
| هسی آب ئی دی د دوه سترګو په تيغ کښې | چه بی سره په سر نه لری حباب |
| هيڅ مزه په دی جهان کښې پاتی نشوه | د يخ سيوری په اوبو پوري کول دی |
| په ويلاړ ويلاړ به ځان وريسی ورک کړی | چري نه وی چه د ترکو په ويلاړ شی |
| ډېر له سره می تودګی بازارګی تېر دی | څوک دی نه کا په ما قنج او بازارونه |

ب- ګرامری تغير:

سړی: اوس سړی يوازی په مذکر ډول استعمالېږی مګر پخوانيو مخصوص خوشحال خان خټک (سړې) د مؤنث دپاره استعمال کړېده چه اوس دغه تانيثی صورت متروک دی.

مرغوبه: د مرغه جمع په زړو آثارو کښې مرغونه راغلی دی چه اوس مرغان ليکو همدارنګه (غل) په (غلونه) جمع شويدی.

پروته: اوس د (پروت) مؤنث (پرته) ليکو او پخوانيو (پروته) ليکلی دی چه له ګرامری قانون سره مطابقت لری.

وم: اوس مونږ (مو) ليکو او پخوانيو کتابونو کښې په مقلوب شکل (وم) ليکلی دی لکه په دی جمله کښې (اذان به وم تر غوږ شو) په ځينو آثارو کښې (مه) ليکل شوی لکه (دا مه ډېر بد وکړه).

د يو: خوشحال خان خټک د (دوی) په ځای (د يو) ليکلی دی.

زويه: اوس د (زوی) جمع (زامن) راځی او په زړو کتابونو کښې (زويه) د جمع په ډول مستعمل دی.

به: دا توری هم په استعمال کښې له پخوا نه فرق لری مثلاً خوشحال خان او ځينو نورو داسې استعمال کړی (بيا مې به) چه اوس مونږ (بيا به مې) ليکو همدارنګه اخوند درويزه ليکی: (حال مې به څه کېږی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په فوايد الشريعة کښې هم (به) داسې استعمال شوی: (به کافر شي- به کوين)

شواستئ – واستئ: اوس (شوئ- وئ) ليکو مګر خوشحال خان (شواستئ- واستئ) ليکلی دی يعنی لکه چه په فارسی کښې اوس (ګفتی) ليکی او پخوا (ګفتستی) ليکل شوی په پښتو کښې هم د ځينو کلماتو په استعمال کښې دغه راز تخفيف راغلی دئ.

و: دا توری په ځينو پخوانو کتابونو کښې د (ته) په ځای داسې استعمال شوی دی: (وما راکړه) يعنی ما ته راکړه.

د تا – د ما: خوشحال خان او ځينو نورو د (ستا – زما) په ځای (د تا – د ما) ليکلی دی لکه چه اوس هم په حينو ځايو کښې همدغه شان ويل کېږی. ځينو له (ستا) سره د اضافت (د) هم ملګری کړی او (د ستا) ئی ليکلی دی.

کا – وکا: پخوا دا دوه کلمی ډېرې زياتی استعمالېدی مګر اوس (کړی، کوی، وکړی، وکوی) استعمالېږی.

وکاندئ – مه کاندئ: پخوا په ځينو افعالو کښې د امر و نهی صيغی په دغه ډول ليکل کېدې لکه: (وکاندئ- واخاندئ- وروانئ- واخواندئ چه) اوس مونږ (وکړئ- واخلئ- وروړئ- وخورئ) ليکو.

لرين – کوين: پخوا د فعل حال په اخر کښې اکثراً (ن) ليکل کېده لکه: (وړين- ساتين- شړين- ګټين) او داسې نور.

لاړو- لاړ دی: په ځينو زړو کتابونو کښې دا دوه کلمی په همدغه شکل ليکلی دی. اوس هم په ځينو ځايو کښې لکه د غلجو حصارک همدغه شان استعمالېږی مګر په اوسنيو ليکلو آثارو کښې عموماً (لاړ) يا (ولاړ) د ماضی مطلق دپاره داځی او د ماضی قريب او ماضی بعيد دپاره (تللی و – تللی دی) ليکل کېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



<u>ومږ:</u> دغه فعل پخوا ډېر زيات مستعمل و چه اوس ئی په ځای (مړ شو) استعمالېږی.

<u>جوړېدلی:</u> په پخوانيو کتابونو کښې (جوړېدلی - وجوړېده) ډېر راغلی دی چه اوس ئی څوک نه ليکی.

<u>شه - وشه:</u> اوس مونږ (شو - وشو) ليکو او په پخوانيو آثارو کښې (شه، وشه) ډېر ليده شی.

<u>رسی:</u> پخوا دغه فعل په مجرد شکل (رسی - ورسی) ډېر استعماليده چه اوس (رسېږی- ورسېږی) اکثريت لری.

<u>ژوی:</u> دا کلمه په فعلی معنا پخوا مستعمله وه او اوس نه ده.

<u>کولی نشی:</u> په دغسی مثالونو کښې اوسنی ليکوال کله اصل فعل له (نشی) څخه وروسته راوړی او کله د مخه يعنی (نشی کولی) او (کولی نشی) دواړه صورتونه د دې وخت په ليک کښې شته مګر پخوانيو آثارو کښې ډېر ځله وينو چه اصل فعل د مخه راغلی دی لکه (خوړلی نشی- نيولی نشی) او داسی نور.

په اوسنی ليک کښې هم (شی) په مثبت ډول هر کله له اصل فعل نه وروسته راځی يعنی (شی کولی) څوک نه ليکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګرامري اختلاف

په پښتو ليک او انشاء کښې ځينې ګرامري اختلافونه شته چه دغو روږ دي:

مبتداء او خبر:

د مبتداء کلمه د لفظ په اعتبار مؤنثه ده او خبر مذکر دی مګر مبتداء لکه عصري مېرمن د مخه وي او خبر وروسته راځي.

کله د مبتداء او خبر مصداق هم د تذکير او تانيث په لحاظ مختلف وي يعنی هغه لفظ چه مبتداء ورته وايو مؤنث وي او هغه لفظ چه خبر يې بولو مذکر وي لکه: (مړانه ښه صفت دی)

کله بالعکس مبتداء مذکر وي او خبر مؤنث وي.

لکه: (جهالت لويه بدبختی ده).

په دغسې مواردو کښې ديوه او بل انشاء په ګرامري لحاظ فرق لري يعنی يو مبتداء ته اعتبار ورکوي او بل خبر ته، څوک د جملې په آخر کښې (دی) ليکي او څوک (ده). دا اختلاف د اوسنيو ليکوالو په آثارو کښې هم شته او د پخوانيو په آثارو کښې هم. خوشحال خان خټک په دغسې ځايو کښې مبداء ته اعتبار ورکوي لکه چه وائي:

| | |
|---|---|
| د چنـدن د ونـې لـړ لرګـی تحفـه دی | نـه د بلـې بـدې ونـې درسـته سـته |
| مـخ دې آيينـه دی بانـدی نـه دی ترسـېری | آه د خـوار عاشـق دی ډارئـې وکـړه د ډېـری |

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای چه راته وايې عاشقی شرم وپېغور ده　　واړه می قبول دی که مې شرم که پېغور شته
پــه آواز ســره ســړی بندیخانــه دی　　د ښاروی عــلاج پــه ترکیــږی پــه پــړی

په دی بیتو کښې خوشحال خان د تحفی له تانیث ښځه د لړګی تذکیر معتبر وګاڼه. آیینی ته ئې ونه کتل مخ ته ئې وکتل، د شرم او پېغور پروائې ونکړه. عاشقی ئی په نظر کښې ونیوله، د بندیخانی له تاثیر لاندې رانغی د سړی مراعات ئی وکړ.

عبدالرحمن بابا په دغسی مثالونو کښې له خوشحال نه مخالف دی یعنی دی لکه اهل خبر، خبر ته ګوری او د کلام خاتمه په نظر کښې نیسی لکه په دی بیتو کښې:

په تسبیح دې تانده ژبه وچ لرګی شه　　پوچ ګوئی لره بلبل غوندې ګویان یې
زندګی که څوک پوهېږی حضور دم دی　　آینــده ورفتــه کلــه د چــا یــاد وی
روښنائې می د چشمانو ستا دیدن دی　　په دا کور کښې بل څراغ او مثال نشته
که روګار دی په جهان کښې عاشقی ده　　د دی نور عالم روګار څه روګار نه دی

عبدالحمید مومند کله د رحمان بابا په شان د خبر حال ته ګوری او د مبتداء رعایت نه کوی لکه په دی بیتو کښې:

د جملــه بــدیو ســر تــن آســانی ده　　خرڅاوه شــی لــټ غــویی پــه قصابانو
عــاقلانو لــره عــار هنــر نمــائی ده　　آئینــه تــوره تــی کــړی د جــوهر مــخ
د نابودې دنیا بود برق و برېښنا ده　　نشــی زبرمــه د برېښــنا پــه رنــا هــېڅ
مینه ملک د آرامی نه دی فتور دی　　خطا شوی پکښې وارد هر مغرور دی

په ځینو نورو بیتو کښې عبدالحمید د خوشحال خان په شان مبتداء ته کتلی دی او خبر ته ئی اعتناء نه ده کړی چه مثالونه ئې دا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـه بوتـانو د بوسـې تمـه تـاعون ده        مـومې څـوک د شـوم لـه دره نوالـه
ما هم زده چه سر د وصل بهانه دی        تـه قبـول کـړه دا قليـل کثيـر لـه مـا
د جهان ښادی پرې غم ده خواږه زهر        چه د عشق له طاعونی رنځه رنځور دی

د او سنيو ليکوالو په آثارو کښې چه دغه راز مثالونه ګورو د خبر رعايت پکښې ډيره ليده شې او يو نيم مثال پکښې داسی هم وينو چه مبتداء ته پکښې اعتبار ورکړ شوی لکه په دی لاندې جملو کښې.

بېنوا ليکی:

د پښتون ژوند سر تر پايه بدبختی ده.

د پښتون د ټولو بدبختيو سبب ناپوهی ده.

مېړانه د پښتنوالی تينګ اساس دی.

د نر او ښځی رضا شرط ده.

رښتين ليکی:

سکندره د سکندر لودی يادګار دی.

د ښار ننداره د سترګو درپ کار دی.

سمندر يوه لويه هستی ده.

د هوټل باړه پنځوس کلاداری ده.

خادم ليکی:

دا کتاب زما د فکری او قلمی زيار نتيجه ده.

کلکه اراده يو مهم خوی دی.

دا نړۍ د ځينو د پاره دوزخ ده.

له دغسې پلټنو او لټونو څخه دا نتيجه په لاس راځی چه په دغسې موارد و کښې خبر ته کتل په کار دی نه مبتداء ته ځکه چه اکثريت په همدې خوا دی او د (دی) يا (ده) په ليکلو کښې د نږدې جزء حال معتبر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکب مجهول افعال:

ځيني فعلي جمعلي هم شته چه زمونږ او سنی ليکوال پکښي عملاً اختلاف لری لکه: (دا ښځه بدبخته ګڼل کېږی – بدبخته ګڼله کېږی)

په دغسي مثالونو کښي ښاغلی بېنوا اکثراً داسي ليکی:

دا بدپختی د ټولو بد بختيو سره بلله کېږی.

پښتنی خاوره بلله کېږی.

ښاغلی رښتين ليکی:

ژبه د قوم د لوړتيا او له خښته ګڼل کېږی.

دوا په پارسل کښي استوله کېږی.

داسي ښځه بدبخته ګڼل کېږی.

د اختر ورځ ګڼله شوېده.

ښاغلی خادم وائی په دغسي جملو کښي بايد ګڼل کېږی وليکو.

دا راز افعال: «ووهل شو، وواهه شو، ووهلی شو».

د ليکوالو په آثارو کښي په مختلفو صورتو ليدل کېږی او په ليک کښي ګرامری اختلاف ښئی.

د دغسي ګرامری اختلافاتو مثالونه نور هم شته چه فيصله ئی د پښتو ژبي د پوهانو کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ادبی انتقاد

دلته ادب د ادب مخه نیولی ده ځکه یو په بل ادبی انتقاد نشی کولی.
همدغه سبب دی چه په پښتو لیک کښې ادبی غلطۍ لکه د پارلمان غړی مصونیت لری او اعتراض پری نشی کېدای.
دلته خبرې بې توله دی او ادبی تله په کار نه ده لوېدلی چه غلط او صحیح معلوم شی.
چیرته چه د خبرو تول نه وی د خبرو قدر او قیمت هم نه وی.
د ادب تپله باید ډېره حساسه وی او ډېره لږ غلطی هم خلقو ته وښئی که مونږ ادب او ادبی لیکنو ته لوړ قیمت ږدو او ارزانه ئی نه ګڼو باید په هغه تله ئی وتلو چه در او ګوهر پرې تلل کېږی.
څوک چه جواهر تلی په دی پوهېږی چه د ږدن دانی قدرتفاوت هم ډېر دی ځکه په تول کښې ډېر دقت کوی او خپلی تلی ته په بارک نظر ګوری.
هغه چه ټېبرتلی په تول کښې ئی د مثقالونو تفاوت څه اهمیت نلری زمونږ په لیکنو کښې هم ورې- ورې غلطۍ د چا نظر نه جلبوی او له دقیقو انتقادونو سره آشنائی نه ده پیدا شوی.
که مونږ کله په کوم ادبی اثر انتقاد کوو نو باید ښکاره لغوی یا ګرامری غلطۍ وښیو چه هر څوک پری پوه شې او وئی منی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه غلطی چه یوازې د سلیم ذوق خاوند پرې پوهېدلی شی او ډېره باریک بینی غواړی په اوسنیو انتقادونو کښې ډیره برخه نلری ځکه چه دغه راز قضاوتونه لا تر اوسه مینځ ته نه دی راغلی.

که مونږ په دقیق او عمیق نظر د دې وخت ادبی آثارو ته وګورو د ډېرو مقتدرو لیکوالو په لیکنو کښې د ادب او انشاء په لحاظ ډېر غلط تکی موندلی شو مګر ښودلی ئی نشو په همدغه وجه هغوی ته باید مقتدر لیکونکی ووایو او د چا مبارک نوم په خوله وانخلو.

ځینی مشهور لیکوال لیکی: (یو نوی څیز زما په نظر راغی چه ما باندې هغې ډېر اثر کړیدی)، (څه چه هغې دوو ځلمو ویلی و) یعنی د (هغه) او د (هغو) په ځای ئی (هغې) لیکلی و.

ځینی لیکوال ډېر زیار کاږی چه د فارسی او عربی لغاتو په ځای پښتو لغتونه پیدا کړی او د خپلې ژبې لغوی پانګه زیاته کړې د همدې لامله پخپل لیک کښې داسې کلمات: (لنډیز، بندیز، لاس وینځونې، مړیستون) ډېر راوړی مګر ډېر ځله بیا د پښتو د مشهورو لغاتو په ځای بې ضرورته فارسې او عربې لغتونه هم ډېر استعمالوی لکه: (خالې، قسماقسم، ګیر، بلندی او نور).

یوه ښاغلی په داسې جمله کښې چه باید ووائې: (زه د شرکت له نماینده ښاغلی احمد سره ولاړم) داسې لیکلې و: (زه د ښاغلی احمد د شرکت له نماینده سره ولاړم) نور کتابونه خو پریږده زمونږ په اصولنامه کښې هم ځینی داسې عبارتونه شته چه مقصودی معنا ښه نه اداء کوی بلکه ظاهری افاده ئې بل راز ده لکه دا جمله: (هغه مامورین چه د ملی شوری په غړیو کښې شاملیږی... د وکالت دوره ئې د ترفیع په قدم کښې حسابیږی په شرط د دی چه د دوې ترفیع له دوو رتبو نه تیری ونکړې) د دې قانونی مادې اصلی مقصد دا دی چه د وکالت دوره د ماموریت په قدم کښې حسابیږې مګر که دغه قدم هر څومره زیات وی له دوو رتبو نه زیاته ترفیع پرې نشی کولې، خو له دغه عبارت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ظاهراً دا معلومېږی چه د وکالت دوره هغه وخت د ترفیع په قدم کښې حسابېږی چه د دوو رتبو د ترفیع له مودی نه تجاوز ونکړی یعنی که ترفیع ئې د قدم د مودې په اعتبار له دوو رتبو نه تجاوز کاوه نو بیا د وکالت دوره په قدم کښې نه حسابېږی ځکه چه که شرط له مینځه لاړ شی مشروط هم له مینځه ځی.

په یوه کتاب کښې مې ولیدل: (په دنیا کښې به داسې څوک وی چه خپل ځان د ترقۍ په اوچته بام ختلی لیدل نه غواړی) دا عبارت که د ګرامر په لحاظ صحیح وی او مطلب هم ښه اداء شوی وی بیا هم د پښتو ژبې د سبک او اسلوب په لحاظ نا آشنا او د اعتراض وړ دی.

دا راز جملې: (دلته همیشه جنګ او جګړې اوسی- که دا سړی ښه اوسی) د لغوی تدقیق په لحاظ ښی نه دی ځکه چه اوسی د اوسېدلو او استوګنې معنا لری او د (بودن) دپاره (وی) راوړل کېږی.

په یوه ځای کښې چا لیکلی دی: (د سوچه ږیرو کاتبان ناست و ) چه غرض ئی سوچه ږیرې کاتبان دی.

دا جمله: (د نه سره ورته ژبو ویونکی مهاجرین) چه په یوه مهمه ادبی مجله کښې لیکلې ده د پښتو سبک او اسلوب په لحاظ کړکېچنه معلومېږی.

دا مطلب باید داسې څرګند شوی وای: (هغه مهاجرین چه ژبی ئی سره ورته نه دی)

همدارنګه دا عبارت: (ادب د ټولنې کلیت ته استجابه کوی) داسې پښتو ده چه پښتون پرې ښه نه پوهېږی.

زمونږ ځینی لیکوال (پوهول راپوهول) ډېر استعمالوی او دی ته نه ګوری چه پوهول را پوهول لکه تګ راتګ یا وړل راوړل نه استعمالېږی که مقصد افهام او تفهیم وی نو باید پوهول او پوهېدل ولیکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه لیکلی و: (عصر په دې نبض کښې ټینګار لری) دا جمله که څه هم د الفاظو په لحاظ څه اشکال نلری او ډېره اوږده کړکېچنه هم نه ده مګر ښه جمله نه ده.

یوه بل لیکلی دی: (یو څو بازار ګوټی شته مګر هغه لکه ګڼ کلی غونډې دی)

په دې عبارت کښې (لکه – غونډې) یوځای کول بې ضرورته معلومېږی بله دا چه د مخه یو څو بازار ګوټی یاد شوی دی نو باید په مقابل کښې ئې ګڼ کلی د جمع په صورت یاد شوی وای یعنی عبارت داسې وای: (یو څو بازار ګوټی شته چه هغه ګڼو کلیو غونډې دی).

دا راز نیمګړې او معیوبې جملی یا غلط ترکیبونه په پښتو نثر او نظم کښې شته که اکثر لیکونکی ورته ملتفت نه دی او د ټولو راغونډول او نقص ته ئې ګوته ونیول شوه ګوندې دغه تذکر د ځینو دپاره ګټور وی او لږ غوندی دقت را پیدا کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شعر او ادب

د انسان په وجود کښې دوه شیه ډېر عزیز معلومېږی چه یوه ته زړه او بل ته دماغ وائی له دماغ نه علم او فلسفه پیدا شوه، له زړه نه شعر او ادب.

اروپایان زړه د عواطفو او نفسی احوالو ځای ګڼی، مسلمانان د ایمان او عقیدې په ځای ته زړه وائی.

صبر، رحم، کرم، شجاعت، سخاوت، د زړه کار دی.

عشق او مینه په زړه کښې وی.

شعر له زړه نه الهام اخلی او له زړه سره کار لری.

ډا ورین وایی: «هغه لوی کمال چه د تحول او تکامل په لاره کښې یوازی د انسان په برخه رسیدلی او نور ژوی ترېنه محروم دی د انسان قلبی عواطف دی چه په رحم، مروت، کرم، شجاعت، نوعه پرستۍ ترېنه تعبیر کیږی که انسان غواړی چه له حیوانیت نه لری وی، باید دغه عواطف ښه وروزی»

د عواطفو روزل د شعر کار دی او شعر ته د عواطفو او احساساتو د رهور او تجلیاتو کوه طور ویلی شو.

څنګه چه د لمر وړانګې او پلوشی لومړی ځل د لوړو غرو په څوکو پرېوزی او وروستۍ وداع هم د غرو له څوکو سره کوی دغسی د عواطفو او احساساتو پرتو هم د شاعر په زړه له نورو نه زیات لوېږی او ځینی زړونه لکه د غرو خمڅی او غارونه دغه رڼا یا بیخی نه وینی یا ئی ډیره لږه وینی همدغه عواطف او

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسات چه د شاعر له زړه نه الفاظو ته رانقل شی شعر تری جوړ شی او په زړونو اثر کوی.

هو ! د شعر موضوع ښکلی خیالات، عالی احساسات، د زړه تأثرات د غم او خوشحالی انګازی، د روحی او جسمی ښکلا اغیزې او عشق و محبت دی که دغه شیان په یوه ښکلی تعبیر او ښو الفاظو کښې بیان شی چه د فصاحت او بلاغت مراعات پکښې په ښه شان شوی وی شعر ترې‌نه جوړ شی او ډېره ښه شعر هماغه دی چه په دغه معیار برابر وی څومره چه د یوه شاعر فکر او خیال آزاد وی او د محدودیت له قیودو راوتلی وی هغومره ئی شعر لوړ او عالی دی.

که یو شاعر د نورو په شان هرچا ته او هر شی ته سر تیټوی او په فکر کښې ئی د بغاوت جذبه نه وی موجوده له هغه نه د ښه شعر هیله نشی کېدی.

شاعر باید د فکر انقلاب علمبردار او بت شکن وی.

شاعر ته نه ښایی چه د زاړه منطق درس د عقل له زاړه بوډا نه واخلی او په زړه لاره په زاړه فکر پسی لاړ شی.

د شاعر خیال باید ډیر لوړ پرواز وکړی او له ډېر هسک ځایه دغه جهان ته وګوری.

د شاعر نظر پاید نورو غوندی نه وی او هر څه په بل شان ووینی د شعر او ادب ژوند د فکر په ابتکار کښې دی او تقلید یا ابتذال د شاعر مرګ دی د شعر او ادب دنیا په دلداری او د لبری ولاړ ده شاعر باید په هر څه او په هر وخت کښې زړه ته رجوع وکړی او ډېر حساس زړه ولری.

هغه څوک چه په زړونو کښې هیجان، تأثر او حساسیت نشی پیدا کولی او زړونه نه خوځوی شاعر ورته نشو ویلی.

که دا خبره رښتیا وی چه انسان په هر وخت او په هر حال کښې د زړه په خوښې پسی روان دی او زړه په دماغ باندې حکومت لری یعنی د عقل ادراک د قلبی تمایلاتو له تاثیر لاندې وی نو ویلی شو چه د یوه ملت عقلی او ذهنی سیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حرکت هم د شعر او ادب تابع دی او شاعران په نفسیاتو او روحیاتو کښې هم تغیر او تحول راوستلی شی.

همدغه شعر دی چه په زړو کښې زلزلی او طوفانونه پیدا کوی او کله پکښې داسی صبر او سکون ږدی چه غرونه ئې ثبات او استقامت ته حیران وی، که دا رښتیا وی چه د چرګانو په نارو ویده خلق له خوبه پاڅېږی، نو دا باید ومنو چه د شاعرانو په نغمو د یوه ملت مړه احساسات او جذبات راویښېږی او په دې اسرافیلی شپیلۍ کښې بل راز تأثیرات موجود دی.

کوم فیلسوف چه هر څه بد ګڼی او زندګی توره په نظر ورغلی ده هغه هم شعر ته په ښه نظر ګوری او شعر د انسان دپاره یوه پناه ګاه بولی.

شو پنهاوروایی ټولی بدبختۍ د انسان له نفس څخه نشئت کوی او له ژوند سره ډېر مصیبتونه او غمونه ملګری دی که څوک یوه داسی چاره لټوی چه له بدبختیو نه لرې غوندې په امن کښې شی باید په صنعت او هنر کښې مستغرق شی او د ښکلا په مظاهرو کښې ځان ورک کړی په دغه حال کښې سړی په ظاهره له خلقو سره وی مګر په معنی کښې یوازی وی او دنیا ورته لکه یو سراب معلومېږی چه د ده لمنه نشی لمدولی.

په همدغسی بېخودۍ کښې انسان د دنیا له شر او شوره آسوده کېږی او د بی نیازۍ مقام ته نزدی کېږی چه غیر له حقایقو بل شی ته متوجه نه وی، دغه صنعت او هنر چه د شوپنهاور په نظر کښې د ښکلا مظهر دی او دی ورته ښه پناه ګاه وائی شعر دی.

که چیرته په دغه غم لړلی جهان کښې د سعادت او نېکبختۍ پلوشې کله کوم کور رڼا کړی وی هغه به د شعر کور (بیت) وی.

د شاعر خیالی دنیا تر ډېره حده له غمونو او مصیبتونو نه پټه ده او هلته داسی بی درد سره بېخودی شته چه له سړی نه هر څه هېروی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسی شعر او ادب ته په عادی او معمولی نظر مه ګورئ د شعر تومنه او قدسیت په نظر کښې ونیسئ.

هغه څه چه په زړونو کښې پیدا کیږی او په زړونو اثر کوی هغه عادی او معمولی خیز نه وی.

دا د غم او خوشحالۍ ترانه د انسان په ژوندانه کښې ډېر زیاته اغیزه لری او انسان تربنه هېڅکله نشی بی نیازه کېدی.

د یوه ملت ژبه، کلتور، اخلاق په شعر او ادب ساتل کیږی د یوه ولس د ذوق او شعور د فکر او خیال د احساساتو او عواطفو هنداره شعر او ادب دی.

هر څومره چه د یوه ملت شعر او ادب عالی وی هغومره ئی اخلاق، نظر او روحیات لوړ وی او له لوړو ملکاتو او انسانی فضایلو سره ئی ارتباط او تعلق زیات وی.

شعر او ادب د شعور علایق له دین او مذهب سره ټینګوی او په هوښیارۍ کښی بینائی او همدردی پیدا کوی.

کله چه زړونه کلکیږی یا توریږی نو شعر پکښی رقت او صفائی پیدا کولی شی.

هغه څه چه انسان د مادیت له غلامۍ او بت پرستۍ نه ساتی شعر دی.

عارفانه ذوق، انسانی عاطفه، حکیمانه شعور د شعر په نغمو وده کوی او د حسن و نظر علایق همدغه شی ساتی.

کوم ملت چه شاعر نلری زړه نلری، سترګی نلری، عواطف نلری، او د ذوق و تمنا له خونده محروم دی.

شاعران دا کولی شی چه د انسان فرعونی غرور په تواضع بدل کړی و د دوهۍ ملنګ ته د شاه‌جهان خوی او مړی سترګي ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غم او سرور د شاعر هدیه ده چه له زړونو څخه ئی اخلی او زړونو ته ئی ورکوی، نو کوم قدر او قیمت چه د انسان په بدن کښې زړه لری په یوه جامعه کښې ئی شعر او شاعر لری.

(غوره نثرونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ادب راز

چا چه د شعر او شاعر په باب فکر کړیدی او دواړه ئی ډېر ښه پېژندلی دی هغه وائی ډېر ښه شاعر هماغه دی چه ډېر خودپرست وی او بې له ځانه په بل هیڅ شی کښې فکر نه کوی.

دغه راز شاعر خپل ځان پخپل شعل کښې ښیی او مونږ ګمان کوو چه زمونږ تصویر ئې ایستلی دی.

شاعر ځکه په مونږ ګران دی چه زمونږ د زړه خبرې کوی او زمونږ خاطرات دا یادوی.

شعر د زړه غږ دی او د زړه غږ د منطق له غږ نه ډېر قوی دی شاعر پوهېږی چه عقل او منطق، دلیل او برهان په مونږ باندی حاکم نه دی بلکه غرایز او احساسات زمونږ رهبری کوی د همدې لامله هغه له احساس او غریزی سره خپل تعلقات تینګ ساتی او له زړه سره کار لری.

هغه څوک چه زړونو ته ښه ښه پیغامونه راوړی او زړونه خوشحالوی شاعر دی، هغه پیغام چه د معشوقې له خوا عاشق ته راځی شعر دی شاعر له مونږ سره د عشق او مینې په کار کښې کومک کوی او له دېنه ښه کومک بل نشته.

شاعر پوهېږی چه له نا امیدۍ نه څنګه لذت اخیستل کېږی او غم څنګه خوږوالی پیدا کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعران لکه ماشومان ډیر ښه ښه خوبونه وینی او په همدغو خوبونو د زړونو تسلی کوی.
که دغه خواږه رؤیا او ښکلی تخیلات نه وی، د ژوندانه تحمل ډیر ګران دی څه شی چه مونږ ته ژوند خوږ او ښه ښکاره کوی، د هغه شی تصور دی چه په ژوند کښی بیخی نشته.
تاسی له شعر او شاعر نه علمی حقایق مه غواړئ، د شعر هدف حقیقت نه دی جمال دی، ښکلا او جمال لکه علم په تینګ اساس نه دی ولاړ د علم په دنیا کښې په څه پوهېدل خوند لری او په شعر او ادب کښې ابهام، او ایهام مزه دار وی.
دلته سر او راز، پرده او حجاب کمال دی، هلته تشریح، تفصیل، تحلیل او تجزیې ته ضرورت دی.
هغه جذبه چه د انسان په روح ډیر اثر لری د سر جذبه ده. هیڅ ښکلیتوب بی پردې او بې حجابه نه دی.
هر څه چه مونږ خوښوو، ارو مروئې په مخ باندې د سر پرده پرته ده انسان له هغو اشعارو سره شدیده علاقه لری، چه حینې برخې ئی ابهام لری او مختلف تعبیرونه پکښې کیدلی شی.
په شعر کښې یوازی د غریزی رهبری کافی ده.
شاعر باید د خپل فن په قوانینو کښې ډیر تاو او راتاو نشی چه لطف او زیبائی یا خپل معصومیت له لاسه ورنکړی.
د لوړ او عالی شعر د پېژندلو معیار بل شی نه دی، له ژوند سره ارتباط دی هرڅومره چه یو ادبی اثر له ژوندانه سره ښه ارتباط ولری، هماغومره ورسره علاقمندی زیاته وی.
په شعر او ادب کښې ساده انشاء له نورو سبکونو ته زیات پاینښت لری. مګر ساده انشاء دا نه ده چه بېخی بې پیرایې وی او مختلف اجزاء او عناصر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې نه وي. هغه انشاء چه مختلف اجزاء او عناصر پکښې داسې ويلی شوی او ګډ شوی وی چه تشخيص او تجزيه ئې نشی کېدای، ساده انشاء ورته ويلی شو څنګه چه د لمر رڼا ظاهراً سپينه او يو رنګ معلومېږی، مګر په حقيقت کښې له او وو رنګونو څخه جوړه ده، ساده انشاء هم له دغسی ترکيبه پيدا کېږی. غرض دا چه په شعر او وينا کښی ساده ګی ښه او ساده ګی له ښه امتزاج، له عالی نظم او د اجزاؤ له ښه تناسب څخه پيدا کېږی. هغه انشاء چه ډېرې قلقلی پکښې وې او ډېر جلبل لرې يعنی لکه رعد او برق وی د ليکونکی عجز او تصنع ښئې.

دغه راز هنر ښودنه له واعظانو سره ښائې، په شعر او ادب کښې ساده ګې لوی صفت دی، نه کاکه توب او طمطراق.

شعر له علم او فلسفې نه دين او مذهب ته ډېر نزدی دې او الهامی څيز دی.

په شعر کښې عواطف او خدائې فکرونه ډېر اغېزه لری.

په شعر او ادب کښې يوازې بشر ولتهوئ او بس.

اناتول فرانس چه په ادب کښې ډېر ژور فکر لری شعر او شاعر ادب او اديب ته په دغه نظر ګوری او دغسې ئې معرفي کوی.

(غوره نثرونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پښتو پخوانی نثرونه

لکه چه د املاء په برخه کښې مو وویل د پښتو زاړه کتابونه ډېر لږ موندل شوی دی ځکه د زړې انشاء او پخوانیو نثرونو په باب پوره څېړنه نشی کېدای مګر د دې دپاره چه د پښتو د پخوانی او اوسنی نثر رنګ او ډول څه نه څه وښودل شی د پخوانې نثر څو نمونې را اخلو:

د تذکرة الاولیاء د نثر نمونه:

«وایم حمد و سپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفی صلی الله علیه و آله و سلم چه دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو لوی لوی رحمتونه دې وی د هغه استازی پر آل او یارانو چه دواړه جهانه په دی دی روښانه اما بعد زه غریب خاوری سلیمان ځوی د بارک خان ماکو صابزی چه په ویاله د ارغسان هوسېږم او په د مزکو پائېږ په سنه دوه لس شپږ سوه د هجری تللی وم او د پښتنخا په راغو او کلیو ګرځېدم او مراقد د اولیاو او واصلینو می وپلټل او پر هر لوری مې کاملان وموندل او د دوی په خدمت خاکپای وم او هر کله په خدمت ولاړ، چه له دی سفره په کور کښېنستم او تنها کی مې وچاودې د پښو بیا پاخېدلم او له ځښتنه مې مرستون شوم چه احوال د هغو کاملانوو کاږم او دوی چه هغه ویناوې پاته کړیدی» دا نثر د نوعیت په لحاظ ساده دې چه تصنع او تکلف پکښې نشته مګر د ترکیب او تالیف په لحاظ ئی جملې د عربې او فارسی ژبی له تاثیر لاندې دی. مثلاً دا جملې: «تنها کی مې وچاودی د پښو – چه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی بادار د کونینو – دواړه جهانه په دوی دی روښان – د دوی په خدمت خاک پای وم» په پښتو طرز نهدی جوړی شوی همدارنګه ځینی نوری جملی هم وروسته راغلی دی لکه: «ډکه سوه مځکه د پښتنخا د دوی په کهول – سرېږ بن نه درلود زامن» چه مضاف پکښی له مضاف الیه څخه دمخه دی او فعل هم له فاعل او مفعول نه وړاندې راغلی دی حال دا چه په پښتو کښې مضاف الیه وړاندې او مضاف وروسته وي او پخپله فعل هم له خپلو متعلقاتو څخه وروسته راځی.

د ده په نثر کښې صفت هم له موصوف نه وروسته راوړل شوی دی چه دغه راز توصیفی ترکیبونه لکه: (خدای مهربان – مرقد مبارک) په پښتو کښې نشته او له فارسی یا عربی نه اخستل شوی دی.

د سلیمان ماکو د کتاب په دغو څو پاڼو کښې د پښتو دا لغتونه چه د اوه می پېړی په لیک کښې راغلی دی د اعتنا وړ دی.

پښتنخا، ژوی، وګړی، میشته، هسک، (د آسمان په معنی) ایواد، نړی، ګروهه...

د خیر البیان د نثر نمونه:

آدمیان زما په هستی کښی دی زما هستی ده په ادمیانو لکه کبونه په اوبو او اوبه په کبونو کښی لکه کبونه په اوبو ژوندی دی په ماژوندی دی ادمیان «و جعلنا من الماء کل شئ حی» په قرآن کښی ... ویلی دی سبحان کب چه په اوبو کښې ګرزی مخ ئی و اوبو ته شی هسی و هر لورو ته چه جاروزی مخ ئی وماته شی د ادمیانو.

❁ ❁ ❁

زه یم وینښته په پوست کښې د ادمیانو په وینو په غوښه د ادمیانو په رګ په پله د ادمیانو په هډو په ماغزه د ادمیانو په هر څه کښې یم چه څه شته د سرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځان تحقیق ده زما هستی له هره ځیزه بهر لکه ده له ادمیانو... زه نږدی یم و ادمیانو ته له ځانه.

د خیر البیان اصلی نسخه په لاس کښی نشته او دغه راز څو نمونی مارګین ستېرن ترینه پخپله یوه مقاله کښی را نقل کړی دی چه خپله نظریه ئی پری داسی څرګنده کړی ده.

«د خیرالبیان په نثر کښی د عربی ژبی رنګ او تاثیر ښکاره دی جمله بندی ئې عیناً په عربی سبک تطبیقېږی.

د مقفی نثر لومړی نمونه په پښتو کښې د خیرالبیان څخه لاس ته راحی، تر ده د مخه مونږ د دغسی نثر نمونه په پښتو کښې نه وینو.

په پښتو کښې دینی او اخلاقی مسائل او د آیاتونو او حدیثونو ترجمی هم غالباً له خیرالبیان څخه شروع کېږی».

د خیرالبیان نثر د لسم هجری قرن نثر یوه نمونه ده او په دغه وخت کښې فارسی نثر هم د عربی له تاثیر لاندی و ځکه چه د فارسی ژبی نثرونه له (۷-۸) هـ قرن څخه وروسته تر ۱۳ هـ پوری د سجع او قافیې له تاثیر لاندی راغلی دی او تصنع او تکلف پکښې ډېره اغیزه کړی ده، د جملو طرز هم پکښی عربی ته ورته دی لکه تاریخ وصاف. کشف المحجوب، اسرار التوحید، ظفر نامه، درهٔ نادره جهان کشای، ګیتی کشای او ځینې نور کتابونه چه دغه تاثیر پکښې ډېر ښکاره دی د پښتو ژبې لیک هم له دغه تاثیره نه دی خلاص او علاوه د عربی ژبې په اغیزه د فارسی ژبې هم ډېر اثر د خیرالبیان په نثر کښې لیده شی. یعنی ډېر فارسی لغات بې ضرورته پکښی راغلی دی لکه بازرګانی، توانګر، خوردن، میان، ګواهی، بیرون، ګناهان، جانوران، ادمیان، پوست او داسی نور دغه د پردو لغاتو ډېر والی او د ترکیب و تالیف بل راز والی د خیرالبیان نثر له عام فهمۍ او ساد ګۍ څخه لری باسی علاوه په دې لکه چه اخوند درویزه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایی میا روښان پخپلو لیکنو کښې له رمز او اشاری نه کار اخستی دی چه هر څوک ئی په مطلب او مقسد ښه نه پوهېږی.

مخزن الاسلام:

اخوند درویزه چه د میا روښان معاصر دی چه پښتو کښې د مخزن الاسلام په نامه یو کتاب لری چه د عبارت نمونې یې دا دی:

۱- ایمان په مثل د مرغه دی یو ځانګ ئی ویره بل امید دی چه مرغه په یوه ځانګ شی له الوتو نا امید دی. د ایمان دی مور پلار امید او ویره چه ایمان ئی دی زوکړی یا ایمان ئی دی ساتلی.

۲- محب اوسه د علم چه دا علم د عمل پخوا اودس دی. هر چه بې اودسه نمونځ کا همدغه کفر ئی بس دی. هر چه دی ئی پیژندلی او له کفره تښتیدلی تل و علم او عالمانو ته ئی هوس دی. هر چه بی علمه عمل کا زهد کاند دی په مثل د غو بی خوړو مګس دی. هر چه د ښنی کاندی له علم له عالمانو دغه مرتد د ابلیس په دود نا کس دی.

۳- تل خلوت در انجمن کړه، هم سفر اندر وطن کړه، هم د ایم نظر په دم کړه په مقصود پسی شیدا شه، تر ذره خپسر کوزګوره، د حق یا د په زړه بسیار کړه، په دوستۍ کښې یګان شه، له کل غیره ما وراشه.

د مخزن الاسلام په نثر کښې که څه هم فارسی او عربی لغات ګډ دی مګر عبارت ئی ډېر ګران نه دی په ځینو جملو کښې موازنه او سجع موجوده ده او کیدی شی چه ځینی جملی منظومی مصرې وګڼو لکه:

تل خلوت در انجمن کړه- هم سفر اندر وطن کړه. دا جملی لکه چه په وزن کښې برابری دی په دریف او قافیه هم برابری دی چه سړی ورته منظوم کلام ویلی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مسجع نثر نور جملی که له لومړنیو جملو نه د سجع په لحاظ مخالفی دی په وزن کښی ورسره برابری دی او موازنه ئی ساتلی ده په دوهمه نمونه کښی که په جملو کښی موازنه نشته یعنی ځینی جملې لنډی او ځینې اوږدی دی هلته بیا د سجع رعایت شویدی او د جملو په اخر کښې اودی، پس هوس، و مګس ناکس راغلی دی چه یوه کلمه د بلې قافیه کیدلی شی لومړی نمونه بیا داسی ده چه د ساده نثر نمونه ورته ویلی شو.

د معنی له خوا د میا روښان او اخوند درویزه کتابونه دینی او مذهبی کتابونه دی چه د مضمون او موضوع په لحاظ څه تنوع پکښی نشته او اجتماعی افکار او احساسات پکښې څه دخل نلری. البته دومره فرق یو له بله لری چه میا روښان په تصوفی او فلسفی افکارو کښی ډوب دی.

او اخوند درویزه ملائی بحثونه کوی او میا روښان ته ملحد وائی.

د خوشحال خان نثر:

څنګه چه خوشحال خان ختک په پښتو شعر کښې یو لوی تحول پېښ کړ او د شعر لمن ئی د لفظ او معنی په لحاظ په ادبی ښېګڼو ډکه کړه او نوی افکار ئی په شعر کښې ځای کړه د پښتو نثر ئی هم ښه وروزه او علاوه په دې چه اجتماعی افکار او نظریات ئی په پښتو نثر څرګنده کړه د عبارت له خوائی هم په پښتو نثر کښې یو ښه سبک او اسلوب را وایست چه د سادګۍ، روانۍ او عام فهمۍ ډیر مراعات پکښې شویدی.

خوشحال خان په ۱۰۲۷ هـ (یوولسمه پېړۍ) کښې په پښتو نثر یو کتاب ولیکه چه دستارنامه ئې بولی او د نثر یو څه نمونې ئی دا دی:

۱- د سړی کمال په علم په فضیلت کښې دی که ئې حاصل کا کمال ئې حاصل شو او که نه په نقصان کښې پاتو شه مثلاً وسپنه پیدا ده چه توره شی که د استاد تر لاس ورغله توره ورځنی سازه شوه، په صیقل شوه تیره شوه، موتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



میان ئی مرتب شول، تر ملا شوه، غزا پرې وشوه، د کافر تر ورمیږه پریوته، کمال ئی حاصل شه.

۲- جهان په دوه توکه انتظام او قوام لری په علم په توره که توره نه وی علم بی قوته دی، قوت ئې توره دی. د علم ښبتن محتاج د توری د ښبتن دی د توری ښبتن محتاج د علم د ښبتن دی.

ښه ځوانان هغه دی چه دواړه توکه لری. په یو لاس کتاب په بل لاس توره چه د دې جهان په دولت د هغه جهان دولت حاصل کا: د شجاعت بخره اول د پیغمبرانو ده بیا د پیرانو ده واړه پیغمبران مړنی و، تر واړونه مړنی محمد رسول اللهؤ.

د ده د شجاعت تاثیر ؤ چه اصحاب ئی مړنی و- دا مقرر دی چه سردارئې مرنی وی لشکر ئې مړنی وی.

۳- ملوک بویه چه د هر قسمه غله، مصالحه و غیره چه لوازمه د میلمانه ده په کور کښې مهیا ولری بلکه بغیر انګوری شراب نور هر قسم اشربه دی هم موجود لری لکه بنګ لکه پوست افیون مفرح. ګوره چه څه قسم میلمه ورکره راشی چه د دی احوال ښتن وی طعام بغیر کیف خوړلی نشی و هغه لره دی هر څه چه یاد کا ورسوی بغیر شراب انګوری که ئې غواړی عذر خواهی دی وکا په هسی شان چه آزار نشی په خندان په خرمی د ده په زړه ورسره کار راخرکا.

د خوشحال خان دغه منثور اثر د یوه ښه او ساده نثر ډېرې ښیګڼې لری او پخپله دی هم خپله دغه انشاء د عبارت په روانۍ او قریب الفهمی ستایی.

په دې نثر کښې د ترکیب او تالیف په لحاظ د بلی ژبې اغیره ښکاره نه ده او د بیان طرز ئی په پښتو محاوره برابر دی، جملې لندی دی او څه لفظی یا معنوی تعقید ونه پکښی نشته، د فصاحت او بلاغت د اصولو مراعات پکښې په ښه شان شوی، عطفونه پکښې ډېر نشته، مترادف کلمات او متعرضه جملې دومره نه استعمالوی چه د خبرو فهم مشکل شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکلف او تصنع پکښې نشته، د سجع او وزن سلسله ئې شاولی ده او په نثر لیکلو کښې ئی یوه نوې لار پرانیستی ده چه په پښتو لیکوالۍ کښې ورته ډېر ستر خدمت ویلی شو.

د پټې خزانې نثر:

دا کتاب د پښتو ادب په تاریخ کښې ډېر لوړ اهمیت لری چه د پښتو شعر تاریخچه ئی دوهمې هجری پیړۍ ته ورسوله ډیر نوم ورکی شاعران ئې په مونږ وپېژندل او د شعر ډېرې قیمتی نمونې ئی را وښودلې، سربیره په دی د پښتو نثر په لحاظ هم دغه کتاب د ډېرې اعتنا وړ دی او د دولسمې پېړۍ ښه نثر ورته ویلی شو چه څو نمونې ئې دا دی:

۱- دا ډېر وقتونه تېر سول چه ما غوښته چه زه د پښتنو شاعرانو تذکره وکاږم او د دوی احوال سره را ټول کاندم مګر زمانې ما ته فراغ نه راکا او دا هیله می په زړه کښې و چه سوه ځکه چه پر قندهار د ظلم او جفا تورتم پروت و او هیچا ارام نه درلود او نه فراغ، ګاهی به مغولو چپاوونه کوړل او ګاهې به د ګرګین د ستم سوران و اوس چه حق تعالی مونږ خلاص کړو له هغو ظلمو څخه او فارغ سوه زړونه زمونږ...

۲- په دغه کتاب کښې چه ما د کښلو ابتدا اوکا، ورځ وه د جمعې ۱۲ د جمادی الثاني سنه و ۱۱۴۱ هـ دغه کتاب پر درو خزانو منقسم دی لومړۍ خزانه په بیان د هغو شاعرانو چه پخوا تیر سوی دی. دوهمه خزانه په بیان کښې د هغو شاعرانو چه اوس ژوندی دی. دریمه خزانه په بیان کښې د هغو ارتینو او ښځو چه په دوی په پښتو شعرونه پاته کړی دی.

۳- بابا هوتکل علیه الرحمه لوی شیخ و او مشهور دی د ده کرامات نقل دی چه د ده پلار بارو علیه الرحمه د تور لرزوی و او د تولر پلار بابا غلجی رحمة الله علیه چه پخپل وخت کښې مشر ګڼل کیدی د پښتنو، هوتک په اتغر کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیږیدلی و په سنه هجری ۶۲۱ کښې او هغه وقت چه لوی سونو ئې کا د خدای عبادت او په اتغر او سوری کښی د قوم سردار او بادار و.

۴- خرښبون سړبنی رحمة الله علیه د پښتون بابا د کسی د عبدالرشید لمسی و خداوند تعالی ده ته ښکاره کمالات او کرامات ورکړی و د خدای په عبادت په بخت ونقل کا چه د پلار په ژوند کښې لا رخصت سو او دخپلو اولادو سره راغی له کسی څخه غوږې مرغی ته او کله به ولاړ د غنډان غره ته او هلته به ئې خدای ستایه او لمانځه.

❀ ❀ ❀

د پټې خزانې نثر ساده او روان نثر دی چه وزن او قافیه نه لری عام فهمی پکښې شته جملې ئی پیچلی او کړکیچنې نه دی مګر د ترکیب او تالیف په لحاظ د بلې ژبې اغیزه پکښې شته ځینې افعال له خپلو متعلقاتو څخه وړاندې راغلی دی چه د پښتو اصلی محاوره دغسی نه ده لکه په دې جمله کښې: حق تعالی مونږ خلاص کړو له هغو ظلمو څخه فارغ سوه زړونه زمونږ، پخپل وقت کښې مشر ګڼل کیدی د پښتنو.

راغی له کسې څخه غوړی مرغې ته.

ولاړ د غندان غره ته.

همدارنګه کله مضاف له مضاف الیه نه د مخه شویدی لکه:

زړونه زمونږ – بیان د هغو شاعرانو – مشر د پښتنو – پښتون بابا د کسی – د ده په نثر کښې کله الفاظ له معنی او مطلب څخه زیات وی لکه په دی جملو کښې.

(دا ډیر وقتونه تیر سول چه ما غوښته چه زه د پښتنو شاعرانو تذکره وکاږم)، (او هغه چه لوی سونو ئې کا د خدای عبادت)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوسنی نثر

د پښتنو علمی او ادبی نهضت دغه اوسنۍ دوره چه مونږ پکښې واقع یو په ډېرو لحاظونو له پخوانیو دورو نه بېلېږی که څوک د پښتو ادبیاتو تاریخ لیکی ښایی چه د دی دورې هغه ټول خصوصیات په تفصیل ولیکی چه اوسنی ادبی تحول پری بنا دی.

دلته همدومره ویل په کار دی چه د افکارو او خیالاتو په لحاظ د پښتو نثر لمن له پخوا نه ډېره پراخه شویده او ډېره تنوع پکښې راغلی ده.

د سبک او اسلوب په حلاظ هم ډېرې ښېگنی د دې وخت په نثر کښې وینو او نثر د اقسامو او انواعو په لحاظ ډېر وده کړې ده.

دلته د اوسنی نثر او انشاء مختلفې نمونې ښیو چه لوستونکی د دې وخت د لیکوالو له سبکونو سره آشنا شی.

د دې نمونو په انتخاب کښې دا لحاظ هم ساتل شویدی چه د کتاب دغه برخه د یوه ښه قرائت په حیث د ذهن او فکر په تنویر او انکشاف کښې ښه اغېزه ولری او د لیکوالۍ د فن او هنر په زده کړه کښې تربنه ښه استفاده وشی.

دا مضامین په ملې، اجتماعې، اخلاقې او تربیوې لحاظ مفید او گټور دی او اصلاحې هدف پکښې له نظر لاندې نیول شویدی دلته د پښتو د معاصر ادب او اوسنۍ انشاء د مطالعې او څېړنې د پاره مواد راغونډ شویدی چه ادبې تحقیقات پرې بناء کېدی شی او د نقد او تبصرې د پاره زمینه برابره شویده: په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي مضمونو کښې زمونږ د اجتماعی ژوند رنګ او ډول ليده شی او د خلقو د اخلاقو، عاداتو او افکارو انعکاس پکښې ځان ښئې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د منشي احمد جان د نثر نمونه:
د قصه خوانۍ ګپ نه

## آدم خان او دُرخانۍ

درخانۍ په صوات کښي د برې باز درې د يو طاوس خان نومی پښتون لور وه چه خدای ډېر لوی ښايست ورکړی و او د پاياوخان نومی پښتون هلک چنغله وه.

يوه ورځ د درخانۍ د ترور د لور واده و په هغې کښې ئې د کوزې بازدرې يو ادم خان نومی خانزاده باندی سترګې خوږی شوی «تپ له دواړه لاسه خېژی» هغه هم پرې باندې زړه بايلو د دې اور داسې لنبه وکړه چه د واده خلاصيدو او د مېلمنو رخصتيدو نه پس دواړو په لاره کښې هرو مرو يو بل ته په غلا غلا وکتل ماسخوتن په حجره کښې چه ادم خان يوه ګوته رباب ووهلو نو يو سوړ اسويلی ئې وکړا وميرو بلو خپلو خوږو يارانو ته ئې د زړه حال ووی د هغه دا مراد و چه په دې شپه د اشنا ديدن ته لاړی پردو کورونو ته تلل «د خالصی دل نه و ولې ميرو بلو هم ورته حلال کړی چرګان ؤ سمد ستی يې ملا وتړله او شپه په شپه برى باز درى ته لاړل بلوئې چيرته د څوکۍ دپاره ودرولو دوی دواړه د درخانۍ کور ته ورغلل ميرو ورته ورنيې روګو در صحيح کړی و، ادم خان د اشنا کټ ته ورسيد، درخوتار په تار په پالنګ اوده پرته وه څنګزنی سپوږمۍ او يونيم ستوری ئی په غلا غلا ديدن کولو ده يو ساعت په غټو سترګو ورته کتل چه ښه زور زبرئی ووېست نوروغوندې ئی د ښيې کتهٔ ګوته ترې نه ونيوله او وينښته ئی کړه چه درخو سترګی وغړولې نو هغه بشره ورته ولاړه وه چه د چا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خيال کښې اوده شوی وه، حيرانه شوه چه دا خوب دی که ويښه څو ځله ئی سترګی ومښلې او بيا ئی وغړولې چه ښه يقين ئی راغی نو پاڅيده او ورترغاړه وته غوږ کښې ئی ورته ډير ډير هرکلی ورکړ او بيا ئی د خپلی مينې دفتر ورته پرانست په خلقو لويه شپه تيره شو او په دی د سترګو رپ وميرو شپيلی وواهه مطلب ئی دا ؤ چه چرګانو بانګونه ووې ملايانو اخ تړوخ جوړ کړ هسی نه چه شرمينګی جوړه شی او د اوښ په شامو سپی ونه خوری ادم درخانۍ د اوښکو ډکی سترګی يو بل نه جدا شول دې نه پس د آدم د عمر مزه ورکه شوه او رورو داسی له برمه پريووت چه کټ ئی ونيو... پايا و هم زر ترزره واده جوړ کړ او د درخانۍ ډولی ئی راوړه... څو ورځی پس د هندوستان پاړوګان چيرته د ادم خان په حجره را پيښ شول چه د ادم خان داسی بد حال ئی وليدنو تپوس ئی وکړ ميرو قصه ورته تېره کړه هغو د ديدن ذمه ووهله «ړوند د خدايه څه غواړی دوه سترګی» ادم خان او ميرو د جوګی جامی واغوستی سرونه ئی ببر کړل او کښاوی ئې په پښو کړې د پاړو ګانو پاليکان شول تلل تلل په بره باز دره ورغلل د پايا و په ډيودۍ کښې ئې پيټارونه کوز کړل د مارانو تماشه ئې جوړه کړه د بين په اواز ډير هلکان جنکۍ او نر، ښځی پری را غونډ شول پايا و هم ورله را ووت درخو هم (تنبې نيمکښو کړی اشنا سره ئې د سترګو هر کلی وکړ «چا ماران کتل او چا ياران» پاړوګانو پاياو نه ښداره واخسته او کور سره يو باغ کښې ئې ډيره ونيوه هر چيرته چه به ګرزيدل خو دلته به راتلل درخو به هم وخت بيوخته باغ پلو مخ ښکاره کولو څو ورځی پس پايا و بدګمانه شه او دوی ئې له باغه وشړل دا اسره هم خوره شوه لږې ورځی پس ادم بخنۍ ووهاو او تبه پرېښ ئې ملګری شول په دارو درملو څه ښېګړه ونه شوه او اخرئې له دنيا نه سفر وکړ.

چه د ادم د مرګ خبر وګرزيد او درخو پری خبره شوه نو سمدستی په زمکه را پريوته سترګې ئې حق ته ونيولی خپل پردی پرې را ټ،ل شول لاس پښې ئې ورته ومښل سپيلنی ئې ورته لوګی کړل نظرونه مات شول لنډه دا چه دم، دعا ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



بند تعویذ هر څه خلاص شول خو درخانۍ وچه سا پکښې ونه غړیده یخه تخته شوه او تخته پاتې شوه چا هوښیار بنده چه وکته نو روح یې پخوا الوتی و. دا خبره هم مشهوره ده چه دوی دواړه په مړونی قبر کښې یوځای شوی دی خو دا راته هسې د یارنو ګپ ښکاری چه خلق ئې د خپل زړه خوشحالولو دپاره وائې دا هم خلق وایې چه د ادم خان قبر ډکی نه چه څوک شهباز جوړ کړی نو رباب ئې زر زده کیږی والله اعلم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجروح:

## له شعر نه څه غواړئ؟
## شعر غايه ده که وسيله

... شعر او ادب په دنيا کښې ډېر لوی رول لوبولی او لوبوی ئی د حماسی په صورت کښې ئی د جګړې هنګامه توده کړې او ځوانان ئې چړو او تورو ته ورکړی دی چه فلسفی رنګ ئی اختيار کړی نو فکری انقلابونه ئی په عالم کښې پيدا کړی دی او که يوازې د خوش ګذرانۍ او معاشقې سندرې ئی غړولی نوئی انسان د عياشۍ او بی مبالاتۍ په ګړنګ کښې غورځولی دی تراژدی ئې ډېرې سترګې په ژړا سری کړې دی او کميدی ئې ډېر تشی په خندا چولې دی نو په دی مواردو کښې خو شعر د وسيلې په څېر څرګندېږی او معلومېږی د څه نورو غاياتو دپاره شعر او ادب استخدام شوی دی مګر خير داسی لنډه فيصله به نه کوو، راځئ د انسان په ژوندانه کښې ښه ځير شو او د ده سلوک او رويه د ژوری مطالعې لاندې ونيسو او څه لږ نور تحليلات وکړو او مثالونه راوړو بيا حکم کول او فيصله صادرول څه دومره ګران کار نه دی مونږ د ژوندون د ساتنی دپاره خوراک، څکاک، اغوستن او پوشاک او يوې کوډلې او سرپناه ته او له درجه کښې احتياج لرو چه موګيډه مړه شوه او بدن مو پټ شو او د خپل کار روزګاره وزګار شو او پخپله کوډله کښې کښېناستو او ځان مو د لوږې تندی او تودوښی او د سړو او د غله او لېوانو نه په امن کښې وليد، نو بيا که مو شوق کېده سندرې به وايو مګر دلته يو سوال منځ ته راځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چه لوږه خو په وچه یا لمده ډوډۍ رفع کېږی نو دا دومره رنګارنګ طعامونو ته څه ضرورت دی؟ په طعام کښې د خوشبویۍ خوش خورۍ کیفیت پیدا کول حتی هغه کښې د رنګ او نمایش په لحاظ اعتناء کولو ته څه احتیاج دی؟

دا ښکلی چینائی لوښی، پاک او ستره دسترخوان، ډېرین مېزونه بخملی او پالش شوې کرسۍ ګانې د ډوډۍ د خوړلو په خونه کښې د لوږې د دفع کولو دپاره څه رول لوبوی؟ دا ښکلی صراحی، هغه بلوری ګیلاس د تندی د رفع کولو دپاره څه خدمت کوی او به هر لوښې نه چه را اووزی خپل خاصیت لری او تنده ماتوی نو ولې وائی اوبه د لوښی له رویه چښل کېږی یوه جامه کښې چه تاسې خپل ځان ونغاړئ د تودوخی او سړونه پرې خلاصېږئ مګر دا برګ برګ کالی د تودوخې د بندولو او د سړو په لرې کولو کښې څه دخل لری؟ کوم مزیت په دې لحاظ په ورېښم کښې شته چه په شړۍ کښی نشته دا چه فلانی خیاط ښه کالې ګنډی او ډېرې پیسی ورکوئ هغه د سکڼاو (برش) طریقه تاسی د سړو او تودوخی نه زیات محفوظ ساتی؟ د افریقا د بدویانو په کوډلو کښې هم شپه تېرېږی نو دا لوړ لوړ قصرونه و مجللې بنګلې د څه دپاره جوړېږی؟

ډېرین خو ځکه دی چه بنا مستحکمه او قوي وي ام ژر نه ورانېږي ښه منم خو دا ډېرې ولې دومره مرېږ رامرېږ او صیقل کوې ئې؟ مر مر او رخام او دا دغره نورې ګټې خو به د کلکوالي په لحاظ دومره تو پیر نلري نو څه دلیل موجود دی چه دا ګټې په دومره لوړ قیمت رانیسئ او پخپله بنګله ئې لګوئ؟

دا رنګ او روغن چه تاسی خپل کاله ته له بهر او له دننه خوا ورکړئ دا نو ساړه او تاوده ښه نیسی دانو عمارت ټینګوی د دې په معنی خو هېڅ پوه نشوم دانو څه معما ده دا خبری ټولی معماوی دی معما خو ځکه دی چه په خوراک کښې پوشاک کښې مېنه کښې انسان غواړی ښکلا او جمال پیدا کړی او د خپلو دې اولی ضروریاتو په ترخ کښې خپل ذوق هم تسکین کاندی، نو ښکلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه معما ده او د هغې تعبیر او تعریف او حدود ټاکل د یوې معما نه زیات فکر او دقت غواړي.

وګورئ په دې ښیزونو کښې چه ښکاره په ډاک پراته د ژوندانه د دوام وسایل دي د انسان ذوق او د بدیع حس دومره اغیزه کړې چه دغه حیاتي وسایل ئې هم تسخیر کړي او جمال خپل حکومت او بادشاهي د نورو په قلمرو کښې هم کوي او د دغې وسیلې سره سم جمال د یوې غایې په څېر څرګندېږي نو د شعر او د موزیک او د رسامۍ دنیا خو د جمال او د ذوق خپل ملک او بلا متنازع او مدعي محروسه ده نو څوک څه حق لري چه دي د خپله ملکه وباسي؟ نه څوک دا زور او قوت هم نلري ځکه هغه په هر چا قوي دي او په هر ځای کښې د هغه فرمان چلېږي کۀ تاسو د تلو او مسافرت زحمت په ځان قبول کړئ؟ زه به تاسې ته د هغه د حکومت اغیزه په یونو کښې هم دروښیم.

مخکښې مو وویل چه شعر د حیات په مختلفو صحنو کښې استخدام شوي او خپل رول ئې لوبولی دی دا د جمال مظهر او د حسن مداح و د ده اواز ته هر چا غوږ اېښود او د ده او ازهر زړه ته لار لرله نو خلکو د خپلو اغراضو دپاره دی استخدام کړی دی دا اغراض به کله ښه و او کله بدو منګر په دې نو شعر د خپل اسماني او ملکوتي مقامه نه را پریووزي او چا نه دی ویلي چه شعر به ګوندې بې له دې غرضه بل کار نه کوي او یا دې خپله اصلي وظیفه پرېږدي موسیقي باندې نن پرون ډاکتران د مریضانو علاجونه کوي مګر څوک حق نلري هغه ته دارو درمل او یا د علاج وسیله ووائې پدې شلمه صدۍ کښې چه د سرعت او د کار او برق او د مادیت قرن مو ورته ووایه اوس هم د حسن او د جمال معابد اوچت ولاړ دي د دې معابدو زایرین ډېر دي.

د سینما او تیاتر او نقاش خانو په دروازو کښې د دفتر او ادارو او مارکیټونو نه کم خلک نه لیدل کېږي هغه امریکا چه د اتم بم ئې جوړ کړي او هروشیمائی پری ورانه کړې ده، د بیټهګ بیوتي فلم هم جوړوي او د زړونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خونی پری ورانوی په لابراتوارونو کښې که د اشیاؤ او انواعو په مطالعه بوخت دی هلته هالیود کښې هم څه فعالیت جاری دی د هغه د ښارونو په کوڅو کښې او د باغونو په خیابانو کښې څه مجسمې لیدلې کېږی چه نه د کوم قهرمان یادګار او نه د کوم معبود (باطل) بست دی هغه محض د جمال او د ښکلا نمایندګی کوی.

ذوق او د ښکلا عشق او د شعر سره علاقه د یوه متمدن انسان او د یوه صحرائی او بدوی بنیادم سره یو راې شته فرق دومره دی چه د بدوی قومونو شعر هم ساده او صنعت او ارت ئی ابتدائی او غیر مهذب وی، واړه ماشومان څه مقفی او موزون الفاظ او کلمات لری او هغه په کوچنیتوب کښې غړوی او د هغی نه حظ او نشاط مومی دا د ماشومانو اشعار په هره ژبه کښې شته ظاهراً څه معنی نلری خو د وړو خوښېږی د اطفالو ذوق په دغه سن کښې یوازی په قافیه او وزن باندی هم قناعت کوی لیکن لویان او مشران بیا له شعر نه نور څه غواړی نو تر کومه وخته چه په انسان کښې دا ذوق او حس موجود وی شاعر به هم موجود وی او خپلې سندرې به د دغه ذوق د تأمین د پاره وائی د ماشین اواز د ده نشی چپولای او د کار خلک ده ته وزګار نشی ویلای هغه کسان چه شعر محض د شعر په لحاظ نه خوښوی او وائی دا دې په اجتماعی خدماتو کښې استخدام شی او د علم او تهذیب په لاره کښې دې ترې کار واخسته شی دا یوه ډله ده بله ډله هغه خلک دی چه شعر هډو خوښوی نه اوغواړی د شاعر په مرئ ګوتې کېږدی زه به د دی دواړو ډلو سره ځان له ځان وغږېږم.

اولی ډلې ته وایم زه دا نه وایم چه شاعر یو اسمانی موجود دی او د دنیا سره هېڅ کار نلری، نه شاعر د خپل محیط موجود دی هغه د خپل ماحول نه اړو مرو متأثر کېږی ښه ته په ښه وائی او بد ته به بد وائی کله به د یو روحی مربی په حیث زموږ تداوی کوی او کله به د یوه واعظ په څیر راته وینا کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو تاسو د شعر نه دا مه غواړئ چه هغه دې ضرور تاسو ته د رياضی فارمولونه دروښيې او (دوه دوه ثلور دی) په شعر کښې راوړی او يا دی د ساينس درسونه او د اقتصاد نظريې په نظم کښې ننباسی او يا دی شاعر غنم اوربشې په ملک کښې ډېری کړی، علم خپل ځای لری او شعر و ادب خپل مقام لری، علم د دې نه مستغنی دی چه هغه د شعر په زور په خلکو قبول کړو هغه دپاره بل قوت او زور په کار دی چه هغه ته دليل او برهان وائی د قومی اصلاحاتو دپاره د تبليغ او تنقيد ډيرې لاری موجودی دی البته په هغه کښې دا د شعر او ادب لاره هم ده د دې اسلحې نه به سړی د خرافاتو د مقابلې او د قومی اصلاحاتو د تعميم دپاره کار اخلی منګر د شعر روح به نه وژنی او چا چه شعر د شعر په غرض وايه هغه په د مری ځخه نه نيسو کار به هم کوو او د ذوق او صنعت نه به سم سترګی نه پټوو که موږ دا اجتماعی ماسکی د مخه لری کړو او يوه شپه او ورځ لکه څرنګه چه يو ، هم هغسی ځان خلکو ته وښيو عجيبه تماشا به جوړه شی مونږ چه کله د ځان سره څه فکرونه وهو او بعضی هوسونه کوو هغه چا ته نه وايو کوم وخت چه موږ يوه نه تنفر او د بل په نسبت په زړه کښې علاقه مندی پيدا کړو هغه دواړه راباندې نه خبرېږې مونږ هم د خپل خيال په دنيا کښې ډېر قصرونه آپادوو او ورانوو ډېری ميلې او مشغولې جوړوو ، ليکن ثوک پری نه خپرېږی اما د شاعر د احساساتو ريکارډ (سره د دې چه اکثره خود داری او ريا کاری کوی).

په شعر کښې پاته کېږی نو يوازی هغه مه ملامتوئ او د انسان د طبيعت په لحاظ دی معذور وګڼئ اوس هغه ډله چه بالکل شعر نه منی د هغو په خدمت کښې عرض کوم چه په دی صدۍ کښې کار ډېر زيات دی ستومانتيا هم زياته ده په دی جنجالی او پراشوبه دنيا کښې تشويش او سودا هم ډيره ده نو د دی ستومانتيا او الامو دپاره د دی تشويشونو او اضطرابونو دپاره به د شاعر ملکوتی اواز (زما په ګمان) د تسکين او راحت ښه وسيله وی او په بنيادم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېږي به د استوګنې او مقابلې قوه په دغه دنيا کښې زياته پيدا کړي هغه وخت چه تاسو يوازې ناست او د کار و روزګار نه وزګار ياست او مستقبل مو سترګو ته تورتم او تاريک معلوم شي او تاسي دغه تاريکی او ترږمي مشوش کاندي که شعر ستاسي په شونډو کښې يوه تبسم برېښنا پيدا کړه نو دغه تورتم به ستاسي د سترګو نه ورک شي نو دغه ځاى دى چه شعر خپله وظيفه سرته رسولي ده.

هغه وخت چه تاسي د منطق په زور خپل مشکلات حل نه کړل او د نا اميدۍ په درياب کښې ډوب شوئ او سامو لنډه لنډه کيده نو که د شعر د يو تنفس قدر تسکين او آرامش تاسو ته له درکړي ګويا خپله وظيفه ئی ادا کړې ده.

هغه وخت چه تاسو سود عناد او بدبينۍ په تيارو کښې روان ياست که شعر تاسو د څو لمحو دپاره له دغه عالمه بيګانه کړي او د ځان سره مو مشغول کړي يوه مقدوسه وظيفه ئی سرته رسولې ده. هغه وخت چه په دې پر اشوبه او طوفانی دنيا کښې چه بحر و بر کښې ئی د خونريزۍ ميدان ګرم دی او په ځنګلو او صحراګانو کښې ئی درنده حيوانات سرې ته پنا نه ورکوی که تاسو يوه ګړۍ شعر او موزيک په ځانګو نو د ځمکی له کرې نه اوچت شئ او د وريځو له ماورا نه د ځمکې دا ښکلی او ښايسته منظره او دورنما د ورايه ووينئ او دنيا مو په سترګو کښې عزيزه شی دا لويه خبره ده او شعر لوی کار کړی دی.

هو ! دا اعتراض پاتې کېږی چه د شعر او ارت دښمنان به ئې په ما وکړي هغه دا دی چه مونږ وروسته پاتې يو او پورپين او امريکايان مخ کښې تللی دی هغوی دپاره د ذوق د تامينولو او د هنر د قدردانۍ فرصت شته اما مونږ بايد اول ګېډه مړه او تن پټ کړو. دلته بايد دا ووايم چه د آرت او هنر تکامل د شعر او د موسيقۍ وجود د کوم ټاکلی پروګرام او تقسيم او انحصار د مخ نه نه کېږی او نه شوی دی اقوامو او ملتونو داسی نه دی کړی چه څو سوه کاله اول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئی د خپلو حیاتی ضروریاتو کار کړی وی او بیا ئی دی خوا مخ راګرزولی وی د بشر د پیدا ئیښت سره یو ځای د مذهب او مدنیت د تکامل سره ځنګ په ځنګ او د حیات په هره صحنه او ساحه کښې ذوق او هنر یو ځای روان دی او د تکامل او پیشرفت مزلونه کوی دا هنر د جماعت د نورو کمالاتو نمایندګی کوی.

هو ! په یوه جامعه کښې باید تمام مدنی مظاهر ټول ضروریات د خپل حد او اندازې سره سم او برابر تکامل وکاندی او که یوه خوا مهمله پرېښوده شی او بله خوا ډېره ترقی وکړی یورا عدم توازن تری پیدا کیږی چه هغه د یوه جمعیت دپاره خطرناک دی زه د توازن طرفداریم او د افراط مخالفت کوم او افراط د یوی ردی ملکی په حیث پېژنم خو تاسی هم د تفریط خوا مه نیسی او راځئ د شاعر او هنر پیشه سره صلح وکړئ.

(شعر او ادب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم

## د غوټۍ ژوندګی

ډېرې شپې ورځې تېرې شوې، موسمونه واووښته د سمندر د غاړې بادونو وربېځې د ځانه سره راوړې وریځو د دغه ځای په حالت وژړل او اوښکې ئې توئې کړې.

دا اوښکې خوږ رونډ شوه، بیا سیندونه شوه، او بیا ویالې شوې او وروسته د ګل په شاخ کښې وچلیدې.

خدای زده څومره علل او اسباب سره یوځای شوه او څومره شرایط وجود ته راغله چه پدغو ټولو باندې د غوټۍ ژندګی مرتبه شوه.

د سحر نرې شمال په دې غوټۍ ورو، ورو د شفقت لاس تیرولو د شپې پرخې وربانده خپله درافشانی کوله چه څو د شمال په ډېره دلاساینه غوټۍ خپل شین داوڼ له مخه لرې کړ.

د چمن طراوت، د مرغانو نغمو، د اسمان د شنې فضا لا انتهائیت، د لمر زرینو پلوشو، د سپوږمۍ مرغوبیت، د ستورو مرموزو اشارو او د کایناتو نظام ته ئې وکاته او په نیمه خوله ئې وخندل.

چه څو بیا دې خوله خندا ته جوړوله نمر د ماسپښین ځای ته راغلې وغوټۍ د ده خوا ته مخ واړاوه او سرئې ټیټ کړو.

کوم وخت چه د نمر پربواته له پلوه د نمر د طلائی پلوشو سره د نسیم په لګیدو د غوټۍ تازکی پاڼې رپیدې نو دې په داسې اواز چه ایله د شاعر د زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوړونو اوريدی شو ويل: پاکی تالره ده ای خالقا ، ای د کايناتو صانعا ستا عالم څومره ښايسته دی، څومره ګلالی دی او څومره وسيع؟ مګر ای خاونده ! زما د زندګی وار همداو «پس له لږ سکوته» باداره؟ پاکی ده تالره زه راضی يم چه ستا د بې انتها ملک يوه ذېره، جزئی برخه په ما ښايسته شوه؟

ستا د مخلوقاتو د سترګو طراوت وګرځېدم، بلبلان را باندي وچغېدل، بوراګان راباندی والوتل، د صبا وږمی زما خوشبوئی يووړه او خپه زړونه ئی پې خوشحال کړل – ذېره ثنا ده تا لره چه زه ګل يم او اغزی نه يم، نمر د غروب په حال کښې و ، ګل خپل زړه په خپلو مړاوو پاڼو کښې را ونغښت او د خپل حيات په وروستيو لمحو کښې ئی يواړې بيا دا وويل: «ذېره ثنا ده تا لره ای خاونده ! چه زه ګل پيدا شوم او اغزی نه شوم» او ورژيده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خادم:

## د اوښکو ارزاني

که غله او ارتزاقيات قيمته شي، خو د فصل په راوتلو رفع کېږي که کالي او لباس قيمته شي، نو بيا هم څه نه څه ګوزاره کېږي.

خلک وائي: «برېنډ له لارې اوړي، وږی نه اوړي».

که فيشني شيان قيمته شي نو قيمته دې شي کنه. «تجمل بيل شی دی او زندګی بيل شی دی» که اسعار قيمته شي نو د يو دولت په تصميم ئې علاج ممکن دی چه غير ضروری او دويمه او دريمه درجه شيونه له استعماله وغورځوي.

که دا ټول شيونه په يوه سويه ارزانه شي د يو مملکت دپاره د رفاه او اسايش وسايل لاس ته راځي اما اجتماعی سعادت او خوشبختی دغه وخت هم نه حاصلېږی. د ژوند سعادت او خوښی د ماديات په زياتوالی او ډېروالی دومره اړه نه لری لکه د ضمير په آزادۍ او د روح په خوشحالی پورې.

په ژوند کښې خطرناک او مدهش حال دا دی چه اوښکې ارزانه شي ويره، دهشت او درد موجود وي او دوا نه وي.

په طب کښې د هر درد، خوږ، پرهار او تب علاج شته مګر د زړه درد او زخم د زړه د درد علاج پخپله د زړه درد دی او بس. د اوښکو د ارزانۍ علاج د پول او پيسو د ارزانۍ غوندې ندی چه د اقتصاد کوم ماهر ئې علاج وکولای شي. او نه د زراعت متخصصان په دې کار پوهېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بی دردی په یو قوم او جامعه کښې داسې یو مرض دی چه په علاج ئې فقط پیغمبران پوه شوی دی.

ای خدایه ! مونږ نه هغه زړونه واخله چه د مظلوم او بې وزلی له سترګو څخه په عبث توئیدونکو مرغلو نه خوږېږی او هغه لاس او پښې او ژبه مه راکوه چه بی لاسو او بې پښو ته صدمه رسوی او خلک ژړوی.

بېنوا:

## د خاندان خولۍ

د ژوندون په لوی ډګر کښې هر چا هر چا زیار یوست چه ځانته د ښه ژوند لار پیدا کړی.

دوی لوړی ژورې ولتولې، هرې خوا ته ئې منډې ووهلې او هر څه هر څه ته ئې لاسونه واچول، خو تر ډیر تلاش وروسته ټولو ته دا ثابته شوه چه تر هرڅه د مخه باید د علم لمن ټینګه کړی او د علم په لاربښونه خپل مطلب ته ځانونه ورسوی نو ټول د علم په زده کړه پسې ولاړل، هیڅوک د ژوندون په لوی ډګر کښې بی تلاشه پاتی نشول – یوازی د هغه لوی ډګر په یوه ګوټ کښې یو مغرور بی علمه زلمی ولاړو چه د علم خوا ته ئې حرکت ونه کړ او د علم د زده کوونکو په ډله پسې رهی نشودی مغرور او ناپوه زلمی د ځان سره هیڅ علمی سرمایه نه درلودله یوازې د ده پر سر د «خاندان» یوه زړه خولۍ وه چه د ده ټول غرور په همدې خولۍ وه.

ده ته د دې خولۍ سیوری د همای سیوری ښکاریده او د ژوندون ټولی کامیابی ئې تر دی خولۍ لاندې ګڼلې ټول بشری احترامات او انسانی تعظیمات ئې همدې خولۍ ته وړبلل استراحتونه، ثروتونه او خوندور ځواکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئی یوازې د همدې خولۍ د خاوند حق ګڼه ده ته هغه څوک ناپوه ښکاریده چه دا خولۍ به ئې پرسر نه وه. دا ناپوه زلمی همداسې مغرور ولاړو څو چه د علم د زده کړې وخت وربانده تیر شو خو ده ئې هیڅ پروا ونکړه علم ته ئې په سپکه سترګه وکتل خولۍ ئې کېږه کړه وې ویل: «هغه څه چه د دې خولۍ تر سیوری لاندې کېدای شي د دنیا هېڅ علم ئې نشي کولای».

د کار وخت راغی دا ناپوهه زلمی همغسې مغرور او بې پروا په دې فکر کښې وچه «د دې خولۍ د خاوند دپاره باید نور خلق کار وکړی» شلم قرن راغی له دې ناپوه زلمي څخه ئې د تحصیل د پلومه وغوښتله زلمي په ډېر غرور او فخر د خاندان د خولۍ توصیفنامه ور وړاندې کړه او د هغې امتیازات ئې وغوښتل.

خو شلم قرن ورسره اشنا نه و، هغه توصیفنامه ئې ونه لوستلې شوه نو زلمي څخه ئې د کار محصول وغوښت بې عمله زلمي بیا خولۍ ورپېښ کړه او وئې ویل: «دا د کار فرما خولۍ ده – د کاریګر خولۍ نه ده؟».

شلم قرن دې بې علمه او بې عمله زلمي ته په غضب شو او د عصبي ښوونکي په خیر ئې څپېړه جوړه کړه او دا زلمي ئې په داسې ضربه له ځانه لېرې وغورځاوه چه د «خاندان خولۍ» ئې له سره ولوېدله او ورته ئې وویل:

«ای ناپوه او بیکاره زلمیه: دا خولۍ ډېره زړه شوی او له موده لوېدلې ده نور په دې خولۍ ځان مه غولوه او مه دنیا درپورې خندوه – ولاړ شه علم زده کړه – کار وکړه».

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېنوا:

# لاربنوونکی

له فریب او دروه سره نا اشنا وم مکر او چل می زړه ته لار نه درلوده دروغ می نه پېژندل د ژوندون لوبې لارې مسافروم..

له پریشانه خوبه را پاڅېدم قافله ډېره پرمخ تللې وه – یوازی زه وم چه د لاربنوونکې په انتظار مې لویې لاری کتلې، ډېر راغلل تېر شول مګر یوه هم د زړه سوی په سترګو راته ونه کتل ځینو به د ګوتو په اشارو لار راوښودله خو د ګوتو د اشارو لاری ډېری اوږدی وی ځینو به د دی دپاره چه ځانونه په ما وساتی زه به ئې د ځان سره روان کړم – خو چه خطر به تیر شونو بیرته به ئی زه پرلویه لاره پرېښودلم دوی به ولاړه ...

همداسی د لاربنوونکی په انتظار د ژوندون په لویه لار کښېناستم ولاړوم – څو ته راغلی زه دې تر لاس ونیولم زه هم په پاک زړه په تا پسی روان شوم او د لارې د موندلو په غرض می ستا لمنه ټینګه کړه هری خوا ته چه به تلی درپسی تلم او تا هم ما ته د لارموندلو ډاډ را کاوه... نا څاپه

موسمی توره وریځ پیدا شوه، پاران اورېلی اوریدل شروع شوه – اسمان او ځمکه په خروش راغلل لارې ګډې ودی شولې: خو زه ډاډه وم چه تا غوندې لاربنوونکی لرم او تا ته می سترګی وی چه د زمانی په دی توره دربیله کښی په لار راوښيي... مګر په هم هغه حال کښې تا په ډېری حیرانتیا مخ را واړاوه او له ما څخه دې پوښتنه وکړه چه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«ای مسافره لار راوښیه–لار کومه ده؟؟» هغه وخت نو زه پوه شوم چه زما د ژوندون د لاري لارښوونکی یوازي زه یم – او باید زه پخپله خپله لارښوونه وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتين:

# نوی کال نوی زېری

د خپلو زرينو پلوشو په حنځيرو کښې د براسونو ذری او بخری د وريځو تاپوانو ته وخيژول هلته ژر ژر له تاوه اوبه شول او بيرته د بوټو او ژويو د ژوندانه او خيرازۍ د پاره ځمکی ته راکوز شول.
د ځمکی په غېږ کښې پرتوويدو بوټو او شيناو د ژمی له اوږده خوب نه سترګی وغړولی، د ورېځو له جزيرونه راغلو څاڅکو ورله مخونه ووينځل، د نمر تودو وړانګو پکښې ګرمی او تودوښی واچوله؛ د اوچتېدو، پاڅېدو، پورته کيدو قوت ئی وموند خپل ټاټوبی را والوته، په سمه او غر، کلی او بيديا، لوړه او ژوره وګرځيده او د يوی مهربانی مور په څير ئی د ونو او بوټو د ماشومانو په سر د مينی لاسونه راښکل، د ونو څانګی او ښاخونه، د پوټو لښتی او غندلونه، د ګلونو ثوکی او ډندرونه ئی يو له بل سره نژدي کړل د ژوند سائی پکښی وپوکله او د زيرېندي ودي او لويښت تومنه ئي پکښي واچوله د اسمان په شنه چمن کښي هم د ژوند ګړيال وغږېد، برېښنا وخندل، ستورو ونځل، تالندو ډولونه ووهل د وريځو اوښان يوه خوا بله خوا وزغليدل، د بالښتو او متروکو د سپينو وريځو مالوچ شاوخوا وشيندل د غرو له لمنو د لړو سپاره تاو شول منډی تړی الغاوتل غاو های هوی جوړ شو. د لويو غرونو او ناوو نو څخه هم د ژوند غږ راوخوت د سختو ډبرو له منځه د ژوند چينی راووتلي. د هندوکش او سپين غره د زړونو مينه د ابا سيند غېږې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له غاړه غړۍ ورغله د اوبو په سر د مستۍ چیني راغلي او د سیندونو ، رودونو دریابونو له منځ څخه د ژوندانه زوږ پورته شو ، لنډه دا چه غرونه وجړکېدل، سیندونه و شنېدل بادونه وزغلیدل ستوري وځرخیدل کاینات وخوحیدل، د زیربندي او ودي له مخې بندیزونه لرې شول، د ځمکې لړمون وسپړدی شو او د پسرلي ښکلي خیره را برخیره شوه د سبا باد په لرې ملکونو د ښادۍ زېرې وګرځاوه، ښایستوکې مرغۍ او ګلالۍ بلبلې خبرې شوې په ډېره مینه، په ډېره تلوسه، په بېړه پېړه ئې ځانونه د ګلونو د خندېدو تماشې ته را ورسول د سرو ګلانو کتارونه جوړ شول او د زېړو ګلونو صفونه ودرېدل د رنګ او بوی قافلې را ووتې او د خوشبوئې چوپې وچلیدې د بلبلو چغار ، د زرکو کتهار ، د مرغیو چونهار ، د توتیانو نغمې ، د بوراګانو زمزمو ، د تاروګانو او ښځرونارو د تاوسانو نڅېدو زړونه په اوچتیدو او شوقونه په مستیدو راوستل. د شین بخملي ګلالي فرش د پاسه د هوسیو او کبلو د رغښتو او ټوپونو سېل ته ریدی او غاتول په یوه پښه ودریدل د رنګینو او ښایست کاروان د دښت په لور د لبږد نغمه شروع کړه د شپونکې شپېلۍ په حوش راغله، ګډې او اوزې په مزه مزه په خر لګیا شوې، ګلالي ورغومي او پې مخې وری په مستۍ مستۍ د شنو وښو د پاسه ورغښتل او سترګې په یوه دېره ښایسته تماشه کښېوتلې.

جونه او زلمي هم د ژوند ذوق او د ګلو شوق د باغ و بڼ، دښت او بیدیا په اوررا ښکل، په زړونو کښې د میني یوه ځړیکه را ولاړه شوه د سترګو پیمانه له نشو ډکه واووښته په پښو او لاسونو کښې نوی حرکت غزووني وکړې له دې تولو کیفیتونو او خوندونو څخه د نڅا او اتڼ نندارہ جوړه شوه د تورروبل میرمنو د ګلانو غنچې په لاس د شینکي چمن په غیږ کښې د خوندوری نڅا ، رنګینه تماشه وښودله، د پاولیو او سپینو روپو ډکه لمن د تاوس د رنګینو او ګروو څانګونو په شان تاو را تاوو چورلیده د امیدونو غوټۍ ګل شوې، د آرزوګانو ګلونه ومسیدل مینه د شوق په تال کښې وزنګیده، خوندونه په لپو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپو وشنیدی شول د ژوند د ناوی په سرکو شونډو د نازنرۍ خندا وغوړیده ګړګوتې زلفې خورې ورې لاړې ګورې څنې د نیسم په پستوګو توتار په تار شوې په دې نشه ایزه نڅا کښې د خوږو ارمانونو پاکو مینو ستر منو آرزوګانو او سپیڅلو امیدونو ماشومان وزنګیدل ګلالې سندرغاړې د وریښمینو غاړو له پستو غږونو سره د اتڼ په میدان ورګډې شوې.

داودی نغمو یوه بله شان تماشه جوړه کړه، سترګو یو داسې خوند ولید، غوږونو یو داسې تال واورید چه په عمر ئې نه اوریدلی او نه لیدلی و.

د ذوق غونچې په زنګیدو وراغلې او د مینې غوټۍ په غوړیدو.

د نوی کال استاځی او د نوی ژوند قاصد په ډېر درز او دروز دا کسوس په غاړو د ښایسته بلخ په ورشو د هرې رود په څنډو او د غور په غوړې مرغې د بست په لرغونو مېنو د هیلمند په ګل کڅونو د قندهار او کابل په دربارونو د غزنی په یادګارونو د پکتیا په زړو دیرو د بولان او ګومل په تاریخی درو، د کسی غره او سپین غره په څوکو د خیبر او تاترې په تړو د سوات او پنیر په سردرو د باګرام په باغ و بڼ د چترال او ګلګت په ځنګلونو د بستی او ګوادر په بندرونو کښته پورته وګرځید او د ابا سیند د غورځنګونو تماشی ته ودرید.

لنډه دا چه د پښتیانا ټوله سیمه ئې وغوښتله او په ښځو او نرو، وړو، پیغلو او ځلمو ئې د نوی ژوند او نوی کال زیری وکړ.

دا زیری د پوهی او لوړتیا د ودې او ترقۍ د یووالی او نژدېوالی زیری دی، د دې زیری ټوله پوره معنی دا ده «چه د پښت (افغان) سا ووتوکم پخپله لرغونې پلارنۍ خاوره او ځمکه کښې د خوشحالۍ او ترقۍ خپلواکۍ او سرلوړۍ ښکلی ژوند وکړی او د پوهی او مدنیت په لاسونو د مینې او محبت په غیږ کښې ځان له د وروروڵۍ او پښتونولۍ یوه نوی دنیا جوړه کړی، لوی کال او نوی پسرلی د نوی سیاست نوی فکر او نوی ژوند نوی زیری دی».

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتين:
د هند سفرنه

# د مشهد ليدنه کتنه

ماسپښين په دوه بجې د افغاني قونسلګرۍ سرکاتب راغی او له ده سره د تفريح دپاره ووتم د مشهد په نوی ښار کښې تر اخره لاړو خو کومه خاصه دلچسپی مو پکښې پيدا نکړی شوه بيا مو په «ګلشن» کافې کښې چای وڅکله د کافې وضعيت، موقعيت هرڅه ښه و مګر په چوکيو کښې د ارام په ځای نارامی ليدل کيده د دې کافی ټولې چوکۍ د وچو لرګيو يا په بله ژبه پښې لرونکې دړې وی سرکاتب وويل: چه دا په ټول مشهد کښې ښه کافی دی چوکۍ اکثرې د ميلمنو په انتظار کښې خالی پرتې وې، بيا ماښام ته نزدې سر کاتب په قونسلګرۍ کښې خپلې خونی ته بوتلم دی ځانګړی په يوه کوټه کښې اوسی چه له پنځو کالو راهيسی ورسره آشنا دی د دی کوټی جغرافيائی وضعيت دومره خوند راکړه چه د مشهد له ټول بازار نه هم زيات خوندورو.

د دی وړی کوټې په منځ کښې وړه بخاری لګېدلې وه نمر خاته څنګ ته چپرکت سرته ئې ميز، کتابونه او د دارو بوتلو نه ښکاريدل چه په جنوبې ګوټ کښې دريشې جامې، او نور شيان زوړندو.

په شمالې کونج کښې د مشهد د ښايستو کومرغيو پنجرې ځوړندی وی.

په دوو پنجرو کښې د جوړه مرغيو او دوو نورو کښې د يوی يوی مرغۍ نری اوازونه اوريدل کيده د شرقې خوا په ګوټ کښې په يوه بله پنجره کښې يوه مرغۍ په هګيو ناسته وه د و د دی کوټې د ښايست دپاره ئې بچې پيدا کول، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی مرغیو بنهی زېربخنې او له چوغکې څخه لږی وړی وړی وی، دی مرغیو ته «کنېری» وائې چه تش په یوه نری اوازئې خلک ډېری پیسې ورکوی.

د کوټې په شرقې او جنوبی دیوال د دووتابلوګانو منظره دومره رابنکونکې وه چه یو شاعر یو ادیب خوپرېږده یو بې ذوقه او بې شعوره بنیادم به هم تری سترګې بل خو ستنی نکړی شی. تا به ویل: چه د دی تابلوګانو رسم ګراو کشیده ګرد خپل فن ټول مهارت خرڅ کړی و. دا تابلوګانې په اصفهان کښې د کوم ماهر فن کار او انځور ګر په ساحرانه ګوتو رسم شوی دی او تعجب دا دی چه دا ټول رسم او انځور د ټوټې دپاسه ویستل شوی و ما د کاغذ دپاسه دغسې صفا او بنکلی نقش نه ولیدلی چه د ټوټې د پاسه مې ولید د انسان د مرموزو او پټو کمالونو یوه بله پرده راته بنکاره شوه،

د مولانا اوبو الکلام ازاد خبره چه حسن هر ځای حسن دی په اواز کښې وی که په څیره کښې وی که په بل څیز کښې وی دلته د دنیا ټول حسن د دی تاپلو په رسم کښې یوځای شوی او مجسم شوی و. تابلو یو ګز پلنه او دوه ګزه اوږدوه، په دی تابلو کښې د نارون د جګو جګو ونو د یو شین باغ په خوا کښې د سپینو صافو او بو یوه ویاله بهیده د ویالې په غاړه د فطرت ټوله طبعی منظره په پوره مهارت تر دی چه د اوبو په غاړه واړه واړه پوټی او د بنو پاڼی هم د رسام له نظره څخه نه وی پاتې شوی په دغسی رنګینئ کښې یوه بنکلې بناپیرۍ چه د غټو غټو سترګو په بنو کښې ئې د اوبو مرغلې ځورندې وی او د کودې کودی خورې وری زلفې ئې په اوږو راخورې وی په ویاله کښې د لمبا په حال لیدل کیده تا به وی چه د اوبو په منځ کښې د بلورویو غر پرکیږی او د سپین بربښ په رڼا کښې ئې اوبه سپین زر شرموی.

د رنګینی بنایسته دوپټې یو سر د اوږی دپاسه او بل پلو ئی په یوه سینه اوېزان ترزنګنو پورې ځوړند بربښیده دا په څنګ او اړخ دا شان ولاړه وه چه د پردی ځایونه پټ او د سینی اننګوړی د ډوډو لاندې د بلورو او جمال په رڼا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېږي څلاند او پړکیدونکی ښکارېدل بل خوا ته د باغ په سر کښېږي د ویالې خوا ته نژدی د یو ډېر مست او په دوو پښو ولاړ اس د پاسه یو ښکلی پیمخی ځلمی په داسی شان رسم شوی و چه بس دا اوس د باغ خوا ته را رسیدلی دی او د دغی پیغلی په ننداره ځای په ځان بې خوده ولاړ دی یوازې دی نه بلکه د ده داس د مستۍ واګی هم سستی شوی دی او د حسن د سنګر په لور یو قدم هم نور مخکښې نه شی اخستی.

منظره نه وه قیامت و تابلو نه وه آفت وه د نقاشۍ او کشیده ګرۍ سحر کارۍ خو هسی قیامتونه را کوزوی او بیا چه دا نقاشی د ښایست او جمال د کاملې نمونی یعنی لطیف جنس نمایندګی وکړی نو بیا خوترې په الفاظو کښې تعبیر کول یوه مشکله معما شی ستاسی به سودا شوې وی چه دا رنګینه دومره لطیفه تابلو د چاوه؟

ګورئ زه به ئې درته ووایم خو په زړونو مو ګوتې کیږدئ چه ټوپ ونه وهی او له ګوګل څخه نونه اوزی تابلو د شیرین او خسرو پرویز وه هغه شیرین چه فرهاد ورپسی غرونه سوری کول او هغه شیرین چه خسرو پرویز ورپسې د شبدیز په ښه شان ملکونه د پښو لاندی کول.

بله منظله هم د غسی وه ده نویو په شین ځنګله کښې یوه پیغله د ویالې د شګو په غاړه کړه و لاړه ښکاری او سپین اندامونه ئې د لمر پلوشو سره د آینه برقۍ مخابره کوی ما سرکاتب ته وویل چه دا کوټه خو د یو شاعر او یو عاشق کوټه ده د دغسی ښکلو منظو سره ښه ښه شعرونه او ښه ښه اوازونه ښائې ده وویل زه په خوله څه نه وایم زما هر څه په زړه کښې دی ما وویل هوا ته په چپه خوله شاعر او په پټه خوله ویاند یې شاعرانه ذوق په تا کښې دغسې پټ دی لکه یوی چه دت ګل په پاڼو کښې یوازی له سترګو څخه پټ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قندهاری رشاد:

# زړه زړه نه دی

ماخوستن چه دی[1] بیدیده د نوی ناوې د وصال بیتابی هڅې ئې د غوجل وره ته د تمبې ایښوول له خوا او خاطره ایستلی وو، سهار وختی چه ور معلومه شوه چه: برابی لیوانو څومره ځیرلی دی د پسرلی د تنا[2] غوندې وغړومبید، سره وایشید، پر له تاو شو د قهر ټکه[3] ئی ستنا پر تنکی او نازولی ژوند پر یوتله، وبلله. او بی رحمې منګولی ئې په خورا شدت او تلوار ستنا لور ته د اوړدې شوې د ککړۍ تر خوروورو[4] ویښتانو ئې ونیولې او د خواږه خوب له تاوده بستره ئی د خونې د وره خواته رخې کښلې.

وی، نه می هېرېږی...

چه د ژمی د څلې په هغه وچه یخ کښې چه کانی سره چاودل ته ئې په شنه خړه[5] په وهلو ټکولو، شلیدلی ګرالبې، یبلې پښې، لڅه ککرۍ او له خوبه

1- پښتنې مېرمنې د مېړو نوم نه اخلی او غایب واحد مذکر ضمیر (دی – ده) د غیاب په حالت کښې استعمالوی.

2- تنا تالنده (رعد).

3- ټکه تندر (صاعقه).

4- خورو خپرو.

5- شنه خړه سهار وختی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډکې سترګې له کوره وشړلې، له ساړو څخه دی زامې سره کړپیدلې، ګګړ وزی(1) اخیستی وې په نازولی سرت(2) کښې دی وینه وچه شوی وه میښ پاتې وی چه دا بلا څله راباندی نازله شوه؟؟؟

او پلار تربوروولی ما ته تربور شو؟؟؟

وی وی نه می هېرېږی چه په دغه حال کښې دې شونډې مری مری کېدلې(3) خو ونه پوهېدمه چه د بېرحمی چپلاخی له بېرې دې رېږ ترخو له نه خوت او که دې د ځوانی د رانژدې پسرلی غرور پر خوله لاس نېولی وو؟...

تودی اوښکی په رنځورو سترګو کښې د ورې هیسته رغښتلی خوو نه پوهیدمه چه د ظالم پلندر د قهرېدلې بڼې له پرتمه دی رابهولای نشوای؟

که دې پښتنی ضبط د سترګو په ګاټو کښې تمولې؟؟

په هر صورت نه می هېرېږی چه اوښلنی سترګی دی د لور او مرستی په هیله د مرګی په خوړو پرتی مور ته مړې مړې را اړولی او پر ګام ګام دې تر شاکتل خو افسوس چه نه می په مړ ژوانده زګېروی او سوی کوربل(4) کښې دومره اثر وو چه ستا د تاند(5) نازولی سرت او د هغه مال په تاوان د لیونی شوی دماغ د ظالم او غښتلی لاس ترمنځ ګواښ(6) وکړی شی چه ستا د نیمه خوا پلار

---

1- ګګړوزه لړزه، رېږد.

2- سرت صورت (جسم).

3- شونډې مری مری کیدل د ژړا په شروع کښې د شونډو قبض او ضربان.

4- کوربل: چیغی- بغارې- غلبلې.

5- تاند: تنکی – تازه.

6- ګواښ منځګړیتوب، د جنګ ممانعت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تربورګلوۍ او زما بې بختی د اجباری مړوښې په حکم ئی در ځخه غضب کړی دی او نه می په غړو غامو کښې دومره توان وو چه لویدلی ریزدیدلی په ناروغه ځان درپاځم، پر سر دی لاس راکاږم، اوښکی دی وچی کړم، په خوا پوري دې ونیسم او پربېوزلی یتیم تا به او معصوم مظلومیت دې یو څو تودې غټې غټې اوښکی توئې کړم نه می هېرېږی چه کله ستا وروستیو کتو د ځوانی مرګ پلار د هغی قلا له وره ځخه چه تا د ژوند ۱۲ کاله بشپړ پکښې تېر کړی وو په خورا حسرت او نامېندی خدای په امانی اخستله هغه دوی تودې او غټې غټې اوښکی دې چه له پر له ایشیدونکې ژړا ځخه راوتلی او پښتنی ضبط په لیمو کښې تمی کړی وی بې اختیاره پرباړخوو را وبهیدلې او د ګرالبو په څیرو، ولو کښې ورکې شوې- ونه پوهیدمه چه ستا زړه د فوری بې اثرۍ په ملاحظه بېرته ژر وزغملی او که د انتقام پرښتې خوندی کړې چه بیا به ئی د ده په لیمو کښې د اوو دانو<sup>1</sup>، په څیر را څیژوی په هر صورت ته ولاړې خو ستا دا دوه ځاځکی اوښکی زما پر زړه لکه دوې سکروټې تر اوسه پرتې دی او زخمی زړه می لکه سوی پتنړ د کوګل په فانوس کښې پلیتکی دریسې وهی.

ته ولاړې خو زما مینه لکه سیوری دریسې ده، روح می د یوه وحشی اړمرغه غوندې تېیږی چه زر د بدن له قفسه دریسې والوزی او هغه لوړ واک ته چه ستا د مظلومیت صحنه په خورا بی نیازۍ ګوری او هیڅ نه وائی د یوې مهجورې مور د زخمی زړه دا عرض په خورا تلوسه او بی تابۍ وړاندې کړی چه:

«د یتیمو دا سویلی څپی چه ستا د، درانه عرش کلکې ستنې لړزولای شی، نو د یوه واړه زړه د غوښو نازکې پردې ولی ښورولای هم نشی؟؟»

خو یقین لرم چه عرش به د زلزلې په ژبه راته ووایی:

---

1– اوو دانه– یو ډول درنه او غټه دانه ده چه په سترګه کښې راخېژی او سرې په ړندیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«له زړونو چه رحم او عاطفه وزي ځاى ئى قهر او سبعيت نيسى هغه وخت، نو زړه زړه نه دى او تاسى د زړه په سترګه مه ورته ګورئ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفت:

## دوه دهقانان

دهقانانو د منی فصلونه ټول کړه او د کروندی کارونه تمام شوه، هر چا خپله غله کور ته وېوړه او خپل وابنه ئی په ځای کړه، د ژمی واوری شروع شوی، هر څوک تیاری غلی ته کښېناست نرخونه له پخوا نه جگ لاړل، د پروړی قیمت یو په دوه شو.

یوه دهقان فکر وکړ چه اوس د قلبی غوایان خپله نیمه بیه په نس خوری او یو پنډ وابنه پنځه روپۍ خرڅېږی، ښه به دا وی چه خپل غوایان خرڅ کړم او په وښو خرڅولو هم دیری پیسی پیدا کړم چه ژمی تیر شو او پسرلی راغی بیا به د یوې دپاره غوایان واخلم خپله دهقانی به کوم.

بل دهقان غوایی نه درلودل هغه هم ده غوندې هوښیار او د فکر خاوندو، هغه وویل چه اوس ژمی دی غوایان په نیمه بیه لاس ته راځی نو راشه همدغه اوس غوایان واخله او پسرلی ته مه گوره ځکه چه هغه وخت دغه نرخ نه پاتی کېږی. دا دوه هوښیار دهقانان په سودا کښې جوړ شوه، او هر یوه دا ومنله چه دغه سودا د ده دپاره سودمنه ده.

په دې سودا کښې دواړو خپل عقل او فکر ښه جنگولی دی مگر دا یوه قیمار دی چه وړونکی ئی لا نه دی معلوم. انسان که هر څومره عمیق او دقیق فکر وکړی بیا هم د یوه شطرنج باز مثال لری چه ټول فکر ئی د قمار په لوبه کښې خرڅېږی او بې د چانس له موافقته لوبه نشی وړلی. دا دوه دهقانان هم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت کښې شطرنج بازان دی او هغه چالونه شطرنج بازان ئې د آس او پیل په وړاندې کولو او بیرته کولو کښې سنجوی دوی ئې د غوایانو په خرڅولو او اخیستلو کښې له نظر لاندې نیسی مګر دومره خبره ده چه دوی له یوه چا له زیات نشی سنجولی او فکرونه ئی له ابتدا نه انتها ته تجاوز نه کوی هغه یو د وښو ګرانی وینی د غوایانو ارزانی نه وینی دغه بل د غویو ارزانۍ ته ملتفت دی د وښو قیمت ته یې پام نه دی.

د غویو خاوند چه خپل غوایی په هغه بل خرڅ کړه هغه مجبور شو چه د ده وابنه هم په ګران قیمت واخلی او خپله کڅوړه تشه کړی.

د دوی سودا خو سر ونیوه اوس به ګورو چه چانس او طالع له کوم یوه سره ملګرتیا کوی او دا بیع د چا په ګټه تمامیږی.

په دې انتظار کښې څه موده تېره شوه، پسرلی لا نه وراغلی چه ټاکو راغی او دهقان دواړه غویان په تیره چوړکۍ حلال شوه لومړی دهقان پخپلې هوښیارۍ شکرونه ویستل او بل ئی چه زه پوهیدم چه زنده جان مال مرګ او درد لری هسی نه چه د څاروو مرض راشی او لوی تاوان راواوړی نو راشه خپل غوایی خرڅ کړه او پیسی نغدې کړه په کور او کلی کښې به یوه او بل ویل چه د غویو پلورونکی هوښیار وګټه ئی وکړه هغه بل کم عقل و څکه یې تاوان وکړ.

هر کله چه د لومړی دهقان هوښیاری ټولو ومنله نو هغه بل خپلې ناپوهۍ ته ملتفت شو او ګمان ئې کاوه چه هغه په ربښتیا دغه ورځ لیدله او زه خدای ړوند او کوڼ کړم چه له پسرلی نه می د مخه غوایی واخیستل.

څو ورځی چه نوری هم تېرې شوې د لومړی دهقان په کور غدۍ ولوېده دی کم بخت ووژل شو او پیسی غلو ویوړی. دا ټاکو د غویو له ټاکو نه هم بتر و چه هم سرلاړه او هم مال. په کور کښې یې کونډه او یتیمان پاتې شول چه خپل خوراک او پوښاک ته حیران و، هر چا به ویل چه نغدې پیسی په کور کښې ساتل همدغسی کارونه لری ده غریب د څاروو مرګ او درد لیده او خپل مرګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئی نه لیده دغه وخت دا معلومه شوه چه دوهم دهقان یعنی د غویو اخستونکی تر ده هوښیارو د هغه بلا په مال ولګیده او د ده په ځان شوه اوس نو ده خپل بریت تاوول او ځان ته ئي عاقل خان ویلی.

دغه وخت پیښو او حوادثو دا څرګنده کړه چه د دهقانانو په پوهه او سنجش کښې څه ډېر فرق نه و دواړه لکه د یوه خره غوږونه برابرو یوه که د غویو مرض لېده، د توری شپې غله ئې نه لیدل هغه بل چه له غلو نه خبر و د غویو مرض ورته نه و معلوم.

وګورئ: پیښې او حوادث زمونږ په قضاوتونو او فیصلو کښې څومره دخل لری که د دهقان په کاله غدی نه وای لویدلې هوښیاری ترینه هیچا نشوه وړلی مګر کله چه غلو د ده سرا او مال وېوړه هر چا پرې د بې عقل فتوا کړه.

دا ده زمونږ پوهه او هوښیاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفت:

## دوه جنازې

په یوه ورځ په یوه ساعت کښې له یوې شفاخانې نه دوه جنازې راووتلې هغه یو د کم خونۍ په وجه او دا بل د فشار خون په سبب مړ شوی و د هغه جنازه څلورو تنو په اوږه را آخستې وه. د دی په جنازی پسې بې حسابه لوی او واړه موټرونه روان و.

هغه یوه وینه نه درلوده ځکه مړ شو. د دغه بل وینه زیاته شوې او تېزه شوې وه. ځکه ئې ژوند ونشو کړای.

دوی دواړه مړه شو مګر مرګونه ئې یوراز نه و او مرضونه بیل و یوه د نورو وینې هم څکلې وی او دیته محتاج و چه ډاکتران ئې له وجوده وینه وباسی.

بل ته چا خپله وینه نه وه پریښې او بې وینې و.

یو د افراط او بل د تفریط له لاسه مړ شو، هغه چه فقیرو او په فقر الدم مړ شو د هغه له مرګه د باختر اژانس هیڅ خبر نشو، د دی بل د مرګ اطلاع اخبارونو په ډېر تاسف اخستې وه او د جرایدو مخونه ئې په ماتم کښې توره شوه.

دوی دواړه یو بادار او بل مزدورو، څه موده پخوا ښاغلی پادار رنځور شو ډاکتر د مزدور وینه د رنځور په وجود کښې انجکشن کړه، د مزدور قوی وجود کمزوری شو او بادار په لږ وخت کښې د هر راز خوراکونو په زور او د عیاشۍ په وجه په فشار خون مبتلا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته چه دغه شان باداری او مزدوری وی دغه شان کارونه کېږی او د یوه په ځای دوی مری.

یو کمزوری کول او بل قوی کول د دواړو په مړینه تمامېږی او د ظالم او مظلوم عاقبت همدغه شان وی.

مونږ دا راز مرګونه طبیعی ګڼو مګر په حقیقت کښې قتل او مقاتله ده چه د وینو پور ورته ویلې شو.

په دغسې مرګونو کښې هم قاتل او هم مقتول شته مګر زمونږ پولیسان او حاکمان پرې نه خبرېږی. او داسی معنوی قتلونه له نورو نه دوی ډېر کوی.

دلته دا عادت دی که چا څوک په ټوپک وویشت یا ئی په چړو وواهه پوښتنه ئی کېږی، مګر که چا د چا ډوډی، وخوړه او هغه له لوږی مړ شو دغسی قاتل ته سزا نه ورکوی دغه راز مقتول ته څوک شهید هم نه وایی او نه څوک پری تبی تړی.

په رښتیا چه مونږ ډیر ظاهر بین یو او حقایقو ته نه یو ملتفت زمونږ ډاکتران هم مونږ غوندی دی او په دې نه پوهېږی چه اصلی مرض ظلم دی او حقیقی علاج عدالت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژواک:

## دعــا

هلته چه د سوداګرۍ بازار ډېر تود وی او په هر سلام کښې سل غرضه پټ وی هلته چه اسان د انسان د مرئی کولو د پاره وی.
هلته چه عزة النفس لکه جوار او اربشی خرڅېږی.
هلته چه علم فروشی او فضل فروشی رواج لری.
هلته چه معنا د مادې غلامی کوی.
هلته چه افتخار په ذلت حاصلوی او سرلوړی په سر ټيټی پيدا کېږي لويه خدايه. زما د ژوند بستره په دغسی ځای کښې مه غوړوه، زه پدغسی ځای کښې ژواک نه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بختانی:

## د غاښو ایستل

څلور غاښونه مې وویستل، درې په اسانۍ ووتل او یوه ډېر تکلیف راکړ، هغو د ریو ډېر دردونه تیر کړی وو، او دې بل پړسوب درلود.
یوه حکیم وویل: مرګ هم دغسې دی.
چا چه ډېر دردونه او کړاوونه تېر کړی وی مرګ ئی آسانه دی او که ځان ئې غټ کړی وی نو ځکندن ئې ګران.

بختانی:

## د ژبی نعمت

خبری ئی نشوای کولای، ژبه ئی نه چلېده، د لاسونو، سر، سترګو او اعضاؤ په حرکاتو یی خپل مطلب ادا کاوه.
د ګونګې غټ او جسیم بدن د افادی په لحاظ د وړې ژبی قدرته کار نه ورکاوه د عقل خاوندان د ده په اشارو څه نه څه پوهېدل یو ساده پیدا شو، د ده حرکات ئی د ځان تحقیر وګاڼه خپړی یې ورسره ولګولې.
ټول حاضرین خواشینی شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي منظرې ما ته د مدرسی کار را کړ او د بی ژبی قوم په حال پوره پوه شوم له اشارو څخه مې درس واخیست او په اشارو مې تېر کړ هوښیارانو ته به دغومره اشارت کفایت وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صداقت:

# رزان ځیز

بازار ته ووتم، په جیب کښې مې ایله یو شپاړس پولې و د قصاب دوکان ته ودریدم چه د دې غوښه راکړه، هغه چاړه په بیلو راښکله، زما لاس ته ئې وکتل وئې ویل د یو شپاړس پولې غوښه؟؟ د ده نه تیر شوم د نانبای دوکان ته ورغلم شپاړس پولې مې ورته ونیو چه ډوډۍ راکه، د زنې څورنکړې تارونه ئې وخوځېدل موسکی شو په ملنډوئې وویل: «نموشه» د بزازۍ دوکان ته وریدم شپاړس پولې مېې وراوړېد کړ لالا د دې رخت راکړه- د ببرو بریتونو لاندې ئی د شونډو موسکا په زحمت لیدل کیده مخ ئی واړه اوه خپل انډیوال ته دې کا: «خان د شپاړس پولی رخت غواړی» ، د ده تر څنګ د میوی دوکان ته مې مخه کړه ورته مې وویل: کاکا د دې شپاړس پولی انګور راوتله؛ ورمیږئی کوږ کړ «برو ملا خورک نشده».

ما د ځان سره چرت واهه چه کاشکی زما په جیب کښې هم د نورو غوندې ډیر شپاړس پولې وای چه اوس مې ...

په دې کښې مې د یو سوالګر «د خدای په نامه یو شپاړس پولی» غږ د چرتونو سلسله پریکړه چه کاته مې د عمومی سرک په څنډه نیم بربنډ په یوه پښه شل ماشوم ناست دی د یخنۍ نه رېږدی په یوه سالګیا دی: د خدای په نامه یو شپاړس پولی، ما چه د شپاړس پولی نه بل کار نه شو اخیستلای هغه مې د ده په لاس کښې کیښود. او ده په پر له پسې ګردان ګړو دعاګانو د محبت او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مايوسۍ، نفرت او خوشحالۍ نه په ګډه و د نظر دا را وښووده چه د شپاړس پولی
په مقابل کښې ئې خپل مات زړه ما ته تسليم کړ نو دا راته څرګنده شوه چه په
دې بازار کښې د هر څه نه د زړونو عرضه ډېره او تقاضا لږ ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمزه شینواری:

# ګله !

ستا د دې ملالې خندا وجه څه ده؟ ستا په رنګین لغت کښې به د پرېشانۍ او زړه چاودون مفهوم همدغه وی نو.

که نه دا خندا د فطرت د ډېروپټو رازونو ترجمانی کوی؟

څه خوشته چه بلبل درنه د خپل فریاد جواب وغواړی او ته ورته په خاموشه خندا سر شی د هغه جواب وشی او د هغه چیغې سورې هم سوا شی لږ خو مې پوه کړه چه بلبل څه پوه شی؟

فطرت ټوله شپه ستا د یوې خندا دپاره اوښکې توی کړی او ایله چیرته سحر سحر له ستا یوه مسکا ښکاره کړی هغه ستا د فتر په دې طریقه خو رول غواړی؟ د نسیم دا مسته چپه چه په هر قدم د یو تین دک سره مخ کېږی چرته روانه وی؟ هغې سره څه وی که د څه د حاصلولو ارمان د خود نه ویستی وی؟

معلومېږی چه ته د ژوند په راز پوه ئې او ستا هو ! ستا نه د ژوند پور اخستل او راز زده کول ضروری ګڼې ته د فطرت د پرېشانۍ او ژړا یو خندنی جواب ئې ستا په پرېشانۍ کښې جمعیت غزوونی کوی... ته په دې پوه ئې چه ستا کاینات ستا خپل نه دی ته صرف د رسولو یوه- ذریعه ئې... ته په دې ډېر ښه پوه ئې چه ستا خوشبویی که هر څو چمن زاده ده لکه چه په هغې کښې ستا او ستا د چمن قسمت نشته هغه ستا د محیط او ماحول برخه ده نو ځکه ته ورته په خندا او پرانستې غېږ په مخه ښه وائی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا رو رو ستا نازکی ستا نه رخصتېږی ستا په صورت د فنا عمل جاری وی او رو، روو، ژربږی خو په خندا کښې دی هیڅ نه رائحی. بی شکه د خپل محیط دپاره... قربانی ورکول خندا... او مسکا پیدا کوی او د خندا په ظاهره پرېشانۍ کښې... جمعیت پټ پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرمن عظمت:

## ته لړم نه ئې !

زه ښځه یم ته نارینه... لیکن خبر ئې؟ چه ته ځنګه نارینه شوې؟ که ته فکر وکړی نو یوه زمانه وه داسی زمانه چه ته هیڅ هم نه وې... هو ! ... ته هیڅ نه وې بالکل په نشت حساب وې ما تا له د خپل زړه غوښې او د ځیګر وینه درکړه لوی انسان مې کړې نارینه مې درنه جوړ کړ لیکن نن چه ته نارینه شوې ستا متهو کښې زور پیدا شو نو ته ما نه زما حق شوکوی زما مری، خپه کوې او ما خورې ولې؟صرف په دې وجه چه زه ښځه یم؟کمزری یم؟او د خپلو متهو زور مې د زړه د غوښې او د ځیګر د وینې په شکل ستا متهو ته درکړی؟آیا دا نرتوب دی؟...

دا انصاف دی؟ ... دا انسانیت دی؟ ... نه دا نه نرتوب دی، نه انصاف، نه انسانیت دی دا د لړم فطرت دی لیکن ته لړم نه ئې انسان ئې او زه ستا موریم نو دی د پاره ته د خپل انسانیت ثبوت ورکړه او خپله مور مه خوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالخالق «خلیق»

## پـــیر

زمونږ د کلی یو ټکه دار «زرمک» کنبي میکه اختسټي وه د هغه سره د یوه مسود څه معامله وه چرته په حساب کنبي د دوارو جګړه شوه او د دوارو د فیصلي دپاره تحصیلدار منصف مقرکړ.
منصف دا ډول فیصله وکړه چه یادی ټکه دار قسم وخوری او یا دي مسود خو چا چه قسم کولو نه منع وکړه هغه په پروی ټیکه دار ته معلومه شوه چه مسود په ناحقه په خدای هم قسم خوری او په قرآن هم مګر په «پاونده ملا صاحب» چه د هغوی پیر دی قسم نه خوری، نو ټیکه دار په دي ټینګ شو چه په پاونده ملا صاحب دي قسم وخوری، مسود ډېرو وي چه په خدای قسم کوم په قرآن به قسم وکړم مګر ټیکه دار ونه منله، اضرمسود دی ته تیار شو چه ځکه ټیکه دار دي قسم وکړی خو زه به قسم پرېږدم.
د ټیکه داریو هوښیار ملازم و هغه پټ مسود ته وویل چه زه د ټیکه دار نه سخت خپه یم او د هغه په ګټه خوشحاله نه یم زه ستا د فایدي دپاره یو چل درښیم ټیکه دار په خدای قسم کوی، په قرآن قسم خوریږ مګر ته دي دوه وسره قسم مه ورکوه او ورته ووایه په بابو حیدر صاحب قسم وکړه، مسود ووي بابه حیدر څوک دی؟ هغه ووي بابو حیدر صاحب زمونږ د وطن یو لوی پیر دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماستر عبدالکریم:

# پاکه پاڼه

پاڼې په څو څه قسمه دي، دوني پاڼې د ګل پاڼې، د قرآن پاڼې، د ژوند د کتاب پاڼې او د تماکو پاڼې، سره د دې چه هره پاڼه پخپل خپل ځاې ډېره درنه ده خو په ټولو کښې د قرآن پاڼه ډېره پاکه او مبارکه ده. مګر زیات کار نن سبا د تماکو له پاڼې نه اخستې شي...

یوازې کور؛ کوټه، حجره، ډېره، پوله، پټې نه دی چه ګڼې د تماکو د پاڼې پېریان پرې ناست دي.

که د سګرټ په جامه کښې سکول، کالج، دکان، دفتر او ښکلو ماڼو ته ورسېده نو هغه ده د نسوارو په ډبلی کښې د جمات محراب کښې ناسته ده او ان د ملا صاحب نه سر سایه اخلې ولې ډېره موده کېږي چه د چین ماچین ښاپیرو زمونږ دی وطن ته یوه نوي پاڼه واوړېده او دا وطن د دی پاڼې دومره خوښ شو چه خپل ټول قام قبیله ئې ورپسې په کډه راوستلې او نومې پاڼه ئې شاته کړه.

دا پاڼه د رنګه توره او د خوی نه ترخه ده خو بیا هم د خلقو تن وجود دی او هر سړی ورته دومره متازه دی چه بې د دې د اجازی نه د کوره بهر ته نشې وتې بس د هر چا د کور میرمن ده، دی ته د چایو پاڼه ویلې شې، پخوا به خلقو سحر سبا په جمات کښې د قرآن په پاڼه سترګی غړه ولې، ولې اوس خو چه ئې د چا یو پاڼه ښکل کړی نه وی د قرآن پاڼې ته کتلی قدری نشی.

که چای د خوی نه ترخه ده نو خواږه ئی هم شته که د پټې ته دې وړاندې کړه نو مقدمه به وګټې که په وکیل دی ووهله نو رښتیا په درله دروغ کړی او دروغ به درله رښتیا کړی چه د تانې تحصیل د واکدارو د چا یو غم کوی نو بیا سپین

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازګرزه خیر دی که بې لیسنه ټوپک ساتی او که غلا غلطۍ او جواری کوی که دعوه کټې قاضی صاحب باندی ئی نوش کړه که مړی بخښنی نو ملا صاحب ته ئې هبه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صاحبزاده محمد ادریس:
د پیغلی کتاب څخه

# د دعوو وکیل

زما دفتر د قصه خوانۍ نه بهر د اسلامیه کلب عمارت کښې ونهه بجې ورسیدم... منشی راته ووی.

«جې بوه زنانه زما کمره کښې ناسته ده هغه ستاسو په خدمت کښې څه غرض کول غواړی رایی ولم» ما سر وخوزوو. هغه ښځه راوسته هغه په ډیر بد حال وه ما ترینه تپوس وکه: «ترورې خیر خودی؟» هغې ووی بچیه که خیر وای نو ما به په دې سر دۍ او څاڅکو کښې دلته څه کول.

دایی ووی او په ژړا شوه... او بیا یې ما ته لاندینې واقعات بیان کړه: خدای دې بادشاه که، د سر ګل شی، باغ باړی شی مور و پلار دې خدای په خوږو ماړه که، زمونږ په شان د غریبانو سره خدای دی او ستا په شان د خدای بندیان دی.

زه د سپینې وړې او سیدونکې یم او د سید خان کنډه یم. خاوند مې پروسه کال نه بل کال مړ دی، درې اولاده مې مړه دی او اوی د خدای مال دی یو هلک دی او دوه جینکۍ مشره جینۍ مې پروسه کال واده کړی ده په غریب آباد کښې زوی می سر بلند خان سره نوکر و او کشرۍ جینۍ هم د هغوی کار و پار کاوه یو څو ورځی شوی عجب خان راته ووی موری درخانی اوس لویه شوه په کار دی چه اوس کور وی د خان دری ځوانان زامن دی دوه دری یې نور نوکران دی زه د ټولو نه کشریم د چا راباندې نظر هم نه ښبلی نو موری زه دا نه غواړم چه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور دی د بل چا کره کار کوی ته نه پوهېږی چه دا غټان خلک د بل لور خور گاذره، مولی گنی بچیه د ډیرو ورونو ځونه دغه خبره زما زړه کښې هم گرزیده خو د خان د ویری نه مې غږ نشو کولای بی بی هم له مزاجه ډېره تیزه ده او دا می هم خیال وه چه درخانۍ لا ماشومه ده څوارلس کاله عمر څه عمر دی.

ولی دنیا خرابه ده د جینکو په لمنه داغ زر لگی نو زه هم دا غواړم چه درخانۍ دی اوس په کور شي زه به هغې ته ووایم چه سبا بې بې خبره کړی چه د بلې ورځی نه به هغه د خان کور ته د کار د پاره نه ځي. تا نه قربان شم زه څه خبره وم چه دی نه به فساد جوړیږی د درخانی بی بی ته وینا نه شر جوړ شه. بی بی جښني ته ډېری بدې ردې ووی خیر ندو تا سو نه دا ځان ځنگه هیر شه؟

او ته ئی ځوک چه پخپله مرضی به مونږ کره راځی او پخپله مرضی به ځی. که مرې او که چوې دلته به کار کوی. زه به در له سر وخریم او مخ به درله تور کړم ته ما پیژنی؟ د ډېران پیدا. دغه نوری اپلتی ئی ورته وغزولی درخانۍ غریبی دا هر څه د زهرو په شان تیر کړل مابنام چه کور ته راغله نو سترگی ئی سری وی او مخ ئی زیړ و ماوی: ولی جینۍ دا ژړلی دی په څه دی؟ هغی راته ټول حال ووی زما زړه ولړزید او خدای ته مې لاس اوچت کړه چه ای د تمام جهان پادشاه ترڅو به مونږ غریبانانو بیکسانو باندی دا سختی او ظلمونه کېږی؟ مونږ خو هم ستا بندیان یو ته زمونږ دا حال نه وینی زمونږ دا آه او زاری نه اوری.

بچیه؟ ډیر می وژړل او پخپل دی کړیدلی ژوند ډیره ستومانه شوم ماسوختن می ځوی د حجری نه راغی نور کله به چه هغه کوخی ته را ورسید نو په تاو به ئی اواز وکه بی بی کوریې؟ جوړه خوئی که نه؟ خو په دی ورځ چه کور ته رانئوت نو داسی ولکه چه را پریوزی او په سر ئی د اوښ انبار پروت وی.

ماوی عجب خان؟ شهزاده خیر دی؟ ته ولی داسی په فکر کښې پروت ئی؟ هغه ووی موری څه به ووایم د غریب دپاره د خدای دا لویه دنیا تنگه ده اوس چه راتلم نو خان را وبللم ړومبی ئی ډېر وکنځلم او بیا ئی راته ووی عجیبه؟ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مست شوی یی زموږ په ټوکړو لوی شوی یی او اوس دی مغزو کښې نشه راغله د خور نه بی بی جوړوی ګوره که صبا هغه کورته کار له رانغله نو زه به درسره پوی شم داسی به دی وغربوم چه دا معتبری به درله د سره وباسم.

وکیل صاحب! موږ غریبان یو دی کښې شک نیشته چه خان خان دی او نوکر نوکر خو بنیادم توب کښې ورسره شریک یو په درنه مونږ هم خو شحالیږو او په سپکه مونږ هم خپه کیږو، مونږ په خپله غریبۍ کښې عجب خان ډیر په نیازلوی کړی دی که د خان دپاره عجبی دی نو د خپلی مور دپاره عجب خان دی.

نو د عجب خان خبری چه می واوریدی په زړه می اور بل شه او ما ورته ووی د زړه سره زهیر مه شی که خان، خان دی نو ځان له خان دی زما دپاره ته د خان نه اوچت یې د خان زما په لور هیڅ حق نیشتی زه به د کوڅو خاوری چاټوم تاسو به پردو سپورو ستو غوته نه پریږدم درخانۍ به خان کره نه ځی که هر څه پیښیږی تانه ځار شم هغه شپه په مونږ ټولو ډیره د غم تیره شوه د بی بی او خان د طبیعتونو مونږ بنه واقف وو د غم اوږده شپه تیره شوه سحر شه او ځوی مې د خان هجری ته د کار د پاره لاړ زه په فکر کښې پرته وم چه څه په کیږی: یو ګینټه به تیره شوی وه چه نغری ته ناسته وم چایو له می اوبه ایشولی چه دې کښې کوڅه کښې خبری شوی څه ګورم چه عجب خان په فریاد کورته را دننه شه د محلی یو سړی د یوی لیچی نه نیولی و او بل د بلی نه هغوی راته ووی:

«هله که ترور» د عجب خان دپاره کټ جوړ که ماوې یا الله خیر حال راته ووایئ په بچی می څه وشوه هغوی وې حال به وروسته وایو کټ تیار که ما کټ جوړ که او هغوی دواړو پکښې عجب خان اوچت که او څملولو ته یی تیار که ما ولید چه د هلک په ملا ځادر ترلې وه ماوې «په خلقه عجب خان حال راته ووایی ګورئ زړه می چوی» «دی کښې عجب خان چغه کړه» «لالا وریښتی مې خوږیږی» چه په کټ کښې ځملاست نو بیا ئی چیغی کړی زه پری را پریوتم

(c) ketabton.com: The Digital Library



درخانۍ چيغې کړې د محلې سړو چه دا حال وليد نو سر ئې وخوزوولو کور نه ووتل چه هغوی کوټې نه بهر شوه نو عجب خان راته ووی. بی بی مرم تېوله ملامی چق چوق ده خان او د هغه نوکران دومره وهلی یم چه پښتې یې راله ماتی کړې دی چه خان وليدم نو رانه يې تپوس وکه چه درخانۍ به راځی که نه؟ ماوی، (خان !) تاسو خپه کیږی مه هغه اوس لویه ده مونږ نه غواړو چه هغه دی له کور بهر اوزی دا وينا څه وه چه خان په ما د لتو او سوکونو غوبل چوړ که او بیا یی زامنو ته او نوکرانو ته ووی چه دانګی پرې چه دا حرامی ځان وپېژني وئ موری مړ شوم نو بی بی دې ظالمانو زه داسی وټکولم لکه چه څوک وګی ټکوی.

وئ موري خدای دې څوک غريب نکړی خان وايي چه زما د مينی نه اوزئ یو درنګ به سړی مونږ کره کدې غورځولو له راشی موری دا ظالم خلق دی د دوی زړو به د غوښی نه دی کاڼی دی شکر دی موری چه زما د وهلو په وخت ته او درخونه وئ ماوی څو یه لوګی شم تا ته زه به اور کښې ژوندون تیر کړم خو د دی شرمښ مینه کښې به ونه اوسم دا مي وی چه دې کښې د خان سړی راغلل او ما ته ئې ووی وباسه کډه خان وائی چه دا ساعت دې د مینی نه اوزی هغوی زما کور خیزونه کوټی ته غورځول شروع کړل ما سر وټکوه سینه می وټکوله خو په دی څه کیدل مونږ د کور نه په زور وویستلی شوو او د عجب خان کټ په یخه هوا کښې د کوټی د وینې په غاړه پروت ؤ درخانۍ ته می وې جینی منډه که سمندرخان را وبوله سمندر خان زما ځوم دی خپله مینه ئی ده او په ذات پښتون دی مونږ هم پښتانه یو خو د عجب خان نیکه هر څه په مقدمو کښې پايللی و تر مینی پورې سمندر خان یوه ګینټه کښې سره د خپلې حجری د ملګرو راغی عجب خان ئی په کټ يوړ او کډه ئی په خرو او په سرونو. بچیه تا له مې غوږونه وخوړل خو زما زړه خوږ دی او هیڅوک د غریب فریاد اوریدلو له تیار نه دی ما وی تروری وایه ته ګنه چه زه ستا دوهم ځوی یم د عجب خان مشر وررو هغه را

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاخیده او زه ئی ښکل کړم بیا ئی په ژړا کښې ووی: څکه خو خلق وایی چه ریاض خان فرښته دی څویه.

خدای دې عمر د خضر که به درست جهان کښې ما یو ته ولیدې چه د غیب درد خپل درد ګڼی بچیه که د عجب خان نه به دې کم ګڼمه نو غاړه به می نیولی وی تا ځان زما عاجزی څوی وګانه زه ښېشکه عاجزه یم خو د مینی دولت کښې د ډیرو غټانونه زیاته یم...،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سید راحت زاخیلی:

# کونډه نجلۍ

دا قصه د یوې کونډې جنې ده او د هغې بیوزلی د ژوند نقشه تصویروی د دې قصی مطلب دا نه دی چه د هوجری وخت پرې ښه تیر شی بلکه دلته د قام یو لوی ظلم نه د قام فکر کول غواړم.

رښتیا خبره خو دا ده د پښتنو ښځه چه کونډه شی نو سخر او خواښی ته ئی محض ډوډی ورکول لا ګران ایسی، نو که مونږ د دی ژوندی بنی آدم د برباديدو سببونه ولټوو نو راته ښرګندېږی چه اصلاً د دیوال رده ورانه ده ځکه دیوال کوږدی.

اول خو پلرګنۍ د لور او خور په سر باندې دومره روپۍ واخلی چه سخر ګنۍ د پولۍ پرق ته کښېنول شی او په دې خیال چه دا خو د بل د کور ده ځه علم او هنر هم نه ورښیی دې ته نه ګوری چه دا هم بنی آدم د خدای ج پر ځمکه زمونږ په شان د خوراک او چښاک حق لری او دا حق خدای ج پر مونږ ایښی دی د خدای په قانون ئی له مونږ سره برخه شته بلکه د یوه غوائی په شان ئی بل ته جلب نیولی په لاس ورکړی، ترڅو چه ئی خاوند ژوندی وی خو بیا ئی هم په یو ډول د ډولونو عمر تیرېږی دروپو او وریجو غوړو حسابونه خو ورسره کېږی د قرضونو ورسره قصی وی د تېرونو پیغورونه وی بیا هم هغه بی زبانه مال د هغه دوو سترګو ته ګوری او څه لنډه تنګه ساه کاږی، نو خدای ج مه که، که کونډه شی راشه که ئی ګوری د خسر ګتۍ کره خوبی ځکه ځای نه وی چه د هغوی بوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پټې تللې په سلمونو او سودونو کښې ډوب شوی وی نو چه دی بټ ته ګوری ګړی په ګړی غصه ورځی د کور ټول با مبېرئی په غاړه کښې ور واچوی ډول ډول خبری ورته کوی، خو بیا ئی هم تاونه سرېږی، پلرګنی خو ورسره یوځل دښمنی کړې وی او حقونه ئی تری لاندې کړی وی یوه ټوکره ډوډۍ ورته غربښکاری بل خاوند هم د پیغورونو کوډۍ وی.

په زرګونو ظلمونو کښې په لکونو تباه شوو کونډو کښې د یوی پیغلی قسه دا ده.

۱- د مرجانی په مرغۍ سترګی ولګیدی نو لکه زمری وغړمبیده او سری سترګی ئی پری راوښکې.

توری بلا: زما د ګل پشانی زوی دی وخاته اوس مو لا شرموی بیل...

د مرغۍ له سترګو نه د اوښکو لښتی روان شول په سلګو سلګو ئی وویل...

مرجانه: ګړا دی میراته شه په زړا باندې خلک ویروی یو پوټی خبره وشوه بس ستا اوښکی روانی شوی ودریږه چه د جمال پلار راشی څمکه به ښه درباندی سره کړی په زړه خوږی مرغۍ ځان ټینګ نه کړای شو، یو وارخطا چغه ئی ترخولی ووتله او د خېرنی لربتې (پوړنی) پېسکه ئی مخ ته ونیوله او وئی ویل: ابۍ ته زما په دې خوږ زړګی ولی مالګی دوړوی!

مرجانی: نور څه ونه کړه خو یو ښه سوک ئی ورحواله کړ. خبر دار شه. بیا ما ته «ابۍ» ونه وایی ګنی ژبه به دی له کومی نه را وباسم اور دی پورې شې په داسې کور چه تا غوندې نوغی پکښې زرغونېږی د داسی مېندو ګیډی خو دی وچی شی چه ستا په شانی ټوټکه تری نه پیدا کېږی زه ستا په زړه مالګی اچوم بی حیا. که تا زما ځیګر سکاره کړ. داسی سپېرهٔ مخی خو دی خدای د چا په کور او غولې نه ورولې خدای دې ژر په زېږ وتلو له دې کور نه وباسه. په غونډی کانی دې پېښه وښوئیږه زما د نولسو کالو غمی تورو خاورو ته لاړ سوک د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغۍ په تشی لګېدلی وله ډېره درده تړقید له او په اوښکو ئی د لوپټې پیسکه خشته پشته کړې وه.

په سلګو سلګو ئې ووې: مورې نور وهل نشم زغملای ښه اخر زما ګناه خطا خو را وښیه هسی می وهی ولی «پښتنه جنۍ ګوره او خوابنې نه دا پوښتنه کول چه: «زه دې ولی ووهلم» دا د مرغۍ یوه داسی ګناه ده چه د بخښلو وړ نه وه د مرجانی ټټر باندې اور ولګیده ژبه ئی وویسته ټول کورمالت ئی په سر واخیسته درواغجنه ګوره چه ما سره ناندرۍ وهی په وروغوندې می د ګوتو سرونه ور ورسیده ته به وایی په تورو می کړمه کړه چه داسی د ګل غوټۍ وی نو مور او پلار واده کولې څه دپاره؟ تاویز کړې به ئې وې او په غاړه به ئې ځړولې وې- په ستن کښې تار اچول نه ورځی نخرې ګوره؟ نه کار نه روګار ډوډی ځلور په شمار خمڅۍ وینځل ورته لوی غرښکاری، سترګی په ډډه شی ټول لوښی لرګی مردار پراته وی... دې نه مخ کښې بیا د مرجانی ژبه څه وه توره وریځ وه د کنځلو رلۍ ئې را شروع کړی- مړی ژوندې ئې ټول وستابل- مشر، کشر ترې خلاص نه شول بدبختې کوندی سره د دی د ښکنځلو بل جواب نه و».

په ژړائې د سلګوو ارنه کیده. پوهیده چه یو ساعت پس به ګل محمد خان راشی او په ما به د غضب تندر را پرېوزی.

(۲)

مرغۍ ښایسته وه، قابله وه همزولو به ئې وې چه د دی په خبرو کښې جادو دی هرڅوک را ماتوی اوس هم چه به د دې پخوانۍ همزولې چرته د اختر په بانې چغ یوځای شوې نو د دی خبرې به ئې را یادولې په خپل کلی کښې د مرغۍ اصیل والی او سیالتوب مشهورو، لیکن افسوس د پښتنو ناروا رواجونه هغه بې برخې کړه سپیره ئې کړه (بدشګومه) د هغې په تندی تیاره شوۀ پلار ئې په روپو پسې رنډېده پخپلو سپېرو لاسونو ئې ډولۍ کښې کښېنوله او لرې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړه یو څو میاشتی پس د هغې کوڅې ببرې شوې او هغه یوه کونډه وه او نجلۍ کونډه د غمونو غرئي په سر را پرېوتی و.

پلرګنۍ کره خو ئې ځای نه و خسرګنۍ بیا سپېره ورته ویل اوس هغه سپیره مخې وه (نیک پاله نه وه) ناکاره وه د ټول ټبر پیغورونه به ئی تیرول د سخر کنځل به ئی زغمل ټوله ورځ به ئی کار کښې زړګی وچاود خو بیګاه به ئی د سترګو پټولو حق هم نه و هغې ډوډۍ نه خوړله بلکه ډوډۍ دا خوړله خیر نو خچخوکالو ته ئی هم زړه نه کیده کفن به ئی را یاداوه داسی ورځ پرې حرامه وه چه څلور شپږ کنځل به ورته نه کیدل یوه ورځ داسی هم نه تیدېدله چه یوه یا دوه پنې به ئی نه خوړلی یوه ورځ ئی په سر کښې ږمونځ ووهله خسر پرې د توت د لښتی وار وکړلو چه ډېرې ورځې ئی په هغه لاس کار نه شو کولای لوپټه ئی خیرنه خچنه ریخانګی وه نو مرغۍ د مور د کور لوپټه په سر کړه سخر پرې له شا نه د خاورو تیل واچول تیلی (اورلګیت) ئی ورته کولو خدای ترې بچ کړه دا ننی جنګ په څ و؟ په دې چه د شپاړسو کلو جنۍ چه تمامه ورځ ئی په میچنو زړه شین شو د ګرمۍ خولې نیز (سیلاب) غوندې پرې روانی وې د باد دپاره کوټې ته وخته بس دا نه وه بلا وه د مرجانی په سترګو کښې اغزی اغزی کیده تیر ماخوستن مرغۍ کټ کښې لړه غونډې ملا نیغه کړه چه ګل محمد خان کورته را ننوت نو د راتلو سره ئې خوله وربادې وسپړله: ستا ملا ولې ماته ده؟ ډیوه کښې لا باتۍ خلاصه نه ده- ته بیا مرداره شوې یې پاڅه لاس وینځونی راواخله.

مرجانی په یوه ټوپ ورته مخ کښې شوه او وئې وې «دی ته څه مه وایه دا د محل رانۍ پری ده چه خوب وکړی که ستا څه کاروی نو زه به ئی کوم ده مره ساعت کښی مرغۍ کوزه او لاس منځی لاس کښې خسر ته ورغله.»

مرجانی ورته په سینه کښې یوه داسی ټیله ورکړه چه غریبه لکه خانګی را وغورځیده مرجانی ووی: بس بس مونږ وبخښه د خپل خاوند خدمت به زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپله کوم ته ځه پالنګ کښېږ ويده شه ته راښۍ ئی مرغۍ د اوښکو ډکې سترګې ورته راواړولی او وئې ويل ابۍ زه راښۍ چيرته يم ستا وينځه يم ته هسې خپه کېږې مرجانې پرې لرګی را اوچت کړ ته بيا ما سره خبرې کوی.

وګوره خلقه ما د دې سره څه کړی دی چه دا هر وخت ژاړی ما که تش دومره ووې لوری دا کار د سيالانو نه دی- ته کونډه ئې داسی مه کوه. نو ما بده خبره کړی راښۍ له هغه وخت نه راهيسی تندی تريو نيولی دی او ژبه ئی راباندې ايستلې ده بيا ئې لا هم ارمان پاتې دی؟

ګل محمد خان چه دا خبره واوريده نو خپلې ښځې ته ئې ووې «ته د دې بدبختې سره څه مه وايه- دا بدبخته به يوه ورځ زما پوزه پرې کړی دا خو تا اول وار پر خپل سر خيژوله- هغه بله ورځ چه مې پرې د خاورو تيل واچول او سوځله مې چه د غمه ئی خلاصه شو نو ته زما مخی ته راغلی او مخ کښې مخ کښې کيدلی او رانه خلاصه دی کړ. اوس مزې کوه، مرغۍ په سلګو سلګو د خسر په پښو کښې ولويده او وئې وې بابا جی: ما دی خدای مړه کړی که به ما د ابۍ سره- لام کلام کړې وی خدای خبر چه ولی د سهار راهيسی راپسې شوی ده.

ګل محمد خان چه دا خبره د مرغۍ له خولی واوريده نو په سر باندی ئی يوه ښه څپېړه ورکړه او وئې وې:

(لرې شه: تا ته دې خدای مرګ درکړی چه زما عزت په ځای پاتی شی زما د غمی په شان زوی دې وخوړ اوس په دی سپينه جامه داغ هم راږدې.

مرغۍ پاخيده او په زاريوئی لاس پر تندی کښيښود او وئې وې.

بابا: که رښتيا داسی وی لکه چه ته وائی نو ما اوس وسوزه چه سبا ستاسی د ډيران ايرې يم او ځوک مې نوم پخوله وانخلی «ګل محمد خان چه دا خبره واورېده تر خولې ئی ځګونه راغلل په ډير تاوو ولاړ شو»، مردارې- پليتې، سيطانې زما له لاسه سول غواړې».

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرغۍ: بابا جی سول غواړم له خپله لاسه راباندی اور ولګوه زما تر ژوند مرګ ښه دی زه که یم څه او که نه یم څه؟.

ګل محمد خان: کم اصلی د راز محمد پلیت نوغی زه په په تا اوس ښه اور بل کړم (دا خبره ئی وکړه) او ښځی ته ئی اواز کړ:

د جمال خان موری هغه د تیلو بوتل راوړه په دی وخت کښې پربېوزلی مرغۍ را ګرزوی او په وهلو شروع کېږی پس له دی په غولی کښې دغه دری اوازونه اوریدل کېږی نور هیڅ یو ږغ نه و، یو د ګل محمد د لرګی شرکهار بل د هغه دا چغی چه «اور غواړی» «حرامونی اور غواړی».

بل د مرغۍ په زوره چغی چه ویل به ئی «باباجی مړه شوم د خدای دپاره رسول ته ګوره... خپله پلاره... خپلې موری... یه کاکا صاحب... را ورسېږی یه لویه... ځوانه مدد... زه خو بی ګناه یم... زه خو بی خطا یم... یه خدایه... یه ربه!»

(۳)

د بدبختی مرغۍ مخ نن لږ غوندی روڼ ښکاری- بدن کښې ئی ایله وینه ګرزیدلی ده دا ځکه چه یو نیم کال پس مور کره تللی ده د مشر ورور واده ئی دی د خسر کره ئي ښه په وهلو وهلو داسی شوی ده لکه چا چه چنه پری دوړلی وی په ژړا ژړائی سترګی سپینی شوی دی دي وي چه مور کره به یو څو ورځی په خندا تیرې کړم قسمت ورته ویل چه د کونډی هیچیری د خوښې ځای نشته مور غیږ ستا د پاره اوس یو سور تنور دی- مرغۍ پس له ډیری مودی د خپلو مزولو څهری لیدلی وی خوشحاله وه د خپل غم هغه اوږدی قصی یی شاته کړی وی- د هر چا سره ئی په خندا خبری کولی جامی ئي پس له ډیري مودي ښخه اغوستی وي چه دي نوو جامو ئی همزولو ته بیا هغه تیر ښایست ور په یاداوه د ورور واده چه به ئي په زړه د خوشحالۍ یاد را والوزاوه نو کله به ئي د نجونو سره ټوکی ټکالي هم کولی خو بیا به ئي د نجونو سره سندری ویلي چه ورور به ئي ولید نو دا به تر مور زیاته ور څاریدله لنډه ئي دا چه د ډولۍ وخت راغی «ورا»

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیاریده د هلک او نجلۍ جوړې جامې را واخستې شوې او ښځې روانیدو ته را پاڅیدې د واده پنډوکی وتړل شوه نو هر څا د ناوی او زوم کالي او زړوکی کتل د بده مرغه مرغۍ هم د ورور لونګۍ ته ګوتې وروړې ښځو په دې کار وترټله دلته د مور هم ورته پام شو نو یوه داسې مضبوته څپیړه ئې ورته ورکړه چه د ګوتو تغمې پکښې جوړې شوې مرغۍ اریانه ودریده مور ورته ووې چه کونډه ښځه د واده جامو ته لاس وروړې؟ ته خو سپیره کونډه ئې تا ولې ګوتې وروړې؟ هغه ور چه مرغۍ ئې د ځیګر په سپینو پیو لویه کړې وه او نازوله ئې ننه ورته له خوده ووته دا سپیره پال هغه چیرې ژغملای شې- چه د یوې کونډې لاس د «ورا» جامو ته ګوتې وروړې؟ په دې وخت کښې د خدای فضل و چه د مرغۍ د پالار په زړه د رحم اوبه تیرې شوې او د مرغۍ مور ته ئې ووې: «خیر دی داسې خطا له بنده څخه کیږي» ګني خدای خبر دی چه د مرغۍ به کوم ځای مات و.

د مرغۍ زړه ډک و- ژړلای ئې هم نه شوای ځکه چه ژړا تر هغه لا په همدې وخت کښې بده وه، نو د اوښکو ډکې سترګې کوټې ته ننوته- نوې جامې ئې و ایستلې او زړې ئې واغوستلې لوپټه ئې په مخ واچوله د خوني ګوټ کښې ځملاسته- «ورا» ولاړه ډولۍ راغله- غال بول تیر شو- خو مرغۍ پرې خبره نشوه نه ئې چا تپوس وکړ چا یاده هم نه کړه کونډه بدبخته د چا په یادوې.

غوټه نیمه شپه شوه مرغۍ د «ادیزو» پر سړک باندې روانه ده- تیاره دومره ډیره ده چه د لاس ګوتې نه معلومیږې خو مرغۍ نه د مار نه ویریږې او نه هم د غله یا بل ځناور نه د سیند غاړې ته وریده پښه ئې ونیوله- بیا د سړک نه په ډډه لاړهن او لرې د یوه کمره پر سر کښېناستله- په ټکرې ئې مخ پټ کړ او د زړه له اخلاصه ئې وژړل وروسته ئې په زړه کښې دا ډول ګیلې له خدای نه شروع کړې:

ای زما لوه یخدایه! زما د بدنصیبۍ خو اوس د مور په غیږ کښې هم ځای نشته- زه اوس سپیره بلله کیږم- او بې برخې خسر ګنې که مې بیګانه خلک و- د هغو نه خو ګیله نشته مګر زه خو نن په خپل کور کښې هم بد پاله او سپیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وبلله شوم افسوس خدایه چه ښځې دې ولی پیدا کولې- خدایه تا خو داسی نه دی ویلی.

او نه ستا رسول داسی دی- دا پښتانه خو ځانونه مسلمانان بولی دوی ولی داسی کوی؟

دوی خود اذانو سره سم جماعت له هم ورځی- لمونځونه هم کوی ږیرې ئې شته د دې ډول عبادتونو سره په دی ظلم کولو هم مسلمانان بلل کیږی؟ دوی وایی چه مونږ کښې لوی لوی بزرګان او عالمان شته مګر د لور او خور سره چه کوم کارونه کوی هغه خو په کفارو کښې هم نشته- لور چه پیدا شی بده او سپیره وی چه واده شی بیا سپیره کیږی چه مړه شی هم سپیره وی خدایه؟ ته په اخرت کښې دوی ته جنت هم ورکوې؟

په دنیا کښې ښه ورځ هم پرې راولې- مونږ خو هم ستا پیدا یو او د بنی آدم له ذاته یو مونږ سره دا دومره نارو اولې کیږی- زه خو په دې خبره پوه نشوم ستا په دې دومره لویه دنیا کښې خو ما د سر سیوری پیدا نکړ کوم کور کښې چه ما سترګی غړولی وی او وړه پکښې لویه شوې وم هغه هم نن زما دپاره دوزخ شو- دوی زما دوه کاله کونتون ته ونه کتل او نه ئی دا زړه ته تیره شو چه د دې حال څرنګه و او دی- نو څکه تا ته التجا کوم چه ما له مرګ راکړی څکه زما مرګ لویه پرده ده.

که څه هم وایم هغه شرم- که څه اورم هغه شرم. زما ناسته او ولاړه- خوراک او څښاک ټول- شرم شول- نو زه غواړم چه دا د شرم بوج له ما نه واخلی او پټه شم (سلګی... بیا سلګی) اې سینه؟ ته لویه پرده ئې- ستا لوی زړه دی. بنی آدم چه د چا د لوی زړه صفت کوی نو وایی:

«ستا زړه لکه دریاب دومره دی» ته د دې خپل لوی زړه روی ومنه- ما ته غیږ خوره کړه؟ ته د خدای او رسول روی ومنه ما ته پخپله لویه غیږ کښې ځای راکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما پخپله لويه غيرۍ کښې ونيسه- زما د پاره پرده شه.

د خداى په دى دومره لويه ځمکه کښې زما دپاره زما د ارام ځاى نشته- تا ته ننواتى راغلې يم.

هسې نه چه ته هم زما د خواښى او خسر په شان ما ورتېى- ما مه رټه؟ زه د مسلمانانو پښتنو د لاسه په توره شپه تا له ننواتى راغلى يم دوى خواخوږى نه لرى- دوى د رحم زړونه نه لرى دوى د ظلم نه هم دومره خوند اخلى لکه د رحم نه چه ئې زړه سواندى انسان اخلى- نو ته زما ننواتى و منه؟

دې نه پس د غرمب يو اواز شو د سيند زړه د مرغىۍ په زاريو نرم شو- او د حال په ژبه ئى ورته ووې:

زما لمن لويه ده زما غيرۍ تا ته خلاصه دۀ زه ستا نه خواښى يم او نه خسر- زه نه ستا موريم- نه هم يو انسان زه تا ته په غيرۍ کښې ځاى درکوم ښه راغلى؟؟ ښه؟؟

(پښتو نثرونه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل ختټک:
کچکول نه

# جومات او قبر

چه په کلي ورننوتم نو د يو قبر په تماشه شوم.
د تماشې خبره دا وه چه د قبر نه ګير چاپيره د جوارو ډلۍ لګيدلې وې، د ښو او لرګو امبارونه پراته و، يوی، جغ او ما له غاښو را ايښې شوی و قبر نه و د ټولې علاقې د زميدارو د مال حال څوکيدار يا ټيکه دار معلوميدو څه ګورم؟ چه تازه دين يو ګيډۍ واوړو او درز شو چه د قبر خوا کښې يې وغورځولو او ورته ئې ووې «بابا ستا په اسره ئی پرېږدم او سوی لاس به يې درنه غواړم» معلومه شوه چه دا بابا څوک ولی الله دی او دا ټول له علاقه ترې دومره ويرېږې چه د ده د بڼ نه ازغی نشی ماتولی او چه دلته څوک څه امانت کړی ورته پاس هم نشی کتلای.
ما په دې خبره فکر کوله چه دا واقعی د دی بابا زور دی او که د دی خلقو عقيدې داسی دې او دې فکر کښې ډوب د کلی خيلمه جومات ته ورسيدم د ماښام وخت و، ما وی څه به ټکری خوری راځه هډو دی جومات کښې ئی واړوه.
چه جومات کښې مې پښه کيښوده نو ملا صاحب راته نيغ نيغ وکتل را ته ئی وويل:
ملنګه! دا جومات د خدای کور دی مسافرخانه نه ده، ځه چيرته حجری ته يا بازار ته لاړ شه! زه خوشحال شوم چه شکر دی چه مولانا صاحب حجره او جومات کښې فرق خو کولی شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو چه خیال می وکړ نو د جومات څلور واړه ګوټو نه د کټونو ، صندوقونو ، زړو جامو ، ګوری او صابون د پنډکو ، چانکونو ، پیالو او لرګو مرګونه داسی ډک و لکه چه دا جومات هم حجره وی هم مسافرخانه او هم ګودام خانه.

ما ملا صاحب ته ووی چه نمونځ کوم نو خیر دی بیا ځم هغه جواب راکړو تن چا د کوهی بوکه پټه کړېده اوبه نشته بل جومات ته ولاړ شه ! ما چه د جومات د کوهی جاج واخیستو نو رښتیا د بوقی پړی چا په چاقو وهلی و او د خدای د کور نه یې بوقه سره د پړی پټه کړی وه.

دلته نور هم فکرمند شوم ځکه چه عجیبه، مخلوق دی چه د یو قبر نه خو دومره وېرېږی چه ازغی ترېنه نشی ماتولی او د ټولی علاقی امانتونه ورسره پراته وی څوک ورته پاس هم نشی کتی او بل خوائی دا حال دی چه د خدای نه دومره نه وېرېږی چه د هغه د کور نه یعنی د جومات نه سره د پړې بوقه پټوی او پروا نه کوی.

او دی زړه کښې می ووې ملنګه؟ د داسی خلقو نه هور هم لری کور هم چه د کوم کلی خلق د خدای نه زیات د قبر نه وېرېږی که دوی ډېر ځان ستړی کړی بناده ورځ نشی موندی، او دا ځکه چه څوک د خدای نه پاغیان وی هغوی تو همات نشی سمولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اجمل خټک:
کچکول نه

## ښه هم ښه بد هم ښه

دا می څویم ځل دی چه دې کلی ته راځم ولی هر ځل چه دې کلی ته راشم نو دلته وپروی ژړاوی او څه غم خو پیښں وی.
یره؟ داسی غمیدلی خلق ما نه دی لیدلی.
پروسه کال چه راغلی وم نو دلته یو ښه شاه ځلمی چا مړ کړی و، ټول کلی ورته راغونډ و او ټولو ورته ژړل.
یره هغه واقعی د ژړلو ځلمی و، ما چه په وینو لېت پېت ولېد نو زما زړه هم ټینګ نشو په ژړا شوم ځکه چه د مورو پلار یو شهزاده څوی و، لکه چه د ګلو لښته وی غریب ئی په خوا روزارولی کړی و او چه د ګټې وتې شو او اوه ورځی پس یی واده و نو ګنډېری بی ګناه بی خطا په رڼا ورځ په حجره کښې په چاقو ووهلو او پخپلو وینو یی ولمبولو. په کلی کښې داسی څوک نه و چه په ګنډېری یی لعنت نه ویلو او د دی شهید پاره یې ژړل نه.
نن چه راغلم هم هغه کلی دی هم هغه حجره ده بل کټ پکښې پروت دی او خلق پرې را جمبر دی په چغو چغو ورته ژاړی لکه چه بل یو بی ګناه ځلمې د چا د خپلی سری ډولۍ په ځای سور کټ ته او د سور شال به ځاې سور کفن ته ورسولو.
چه ور نږدې شوم څه ګورم؟ چه هم هغه سورږیری کاکا، هم هغه د غټ پګ والا بابا، هم هغه د لویو بریتو خان هم هغه لنډی هم هغه بوچی چه پروسکال ئی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه وښکی هغه ځلمی شهید ژړلو او په بل وښکی ئی په ګنډیری لعنت ویلو نن ئی په سترګو کښي اوښکې دی او په خوله ظالمانو ته بدرد وائی.

ما دی زړه کښي ووې چه خدای دې خیر کوې په دې یو کلی یو ظالم څنګه داسې عادت شویدی چه یو کور د ویر نه خالی نه پرېږدې، چه ورنږدې شوم او یو ځوان نه مې تپوس وکړو چه دا بیا څوک بې ګناه وژلی شوی دی چه دا خلق غریبان ټول پرې شریک ژاړی هغه راته ووې ملنګه ! نن ئې ګنډیری غریب مات څټ د جیل نه راوړیدی.

ماوې کوم ګنډېری هغه پرو سکال چه ئې...

هغه ویل هم هغه غریب مظلوم ګنډیری نن پانسی شو او دا دی ظالمانو ورته څټ مات کړیدی پروت دې چه څوک ئی وینې ورته ژاړی.

ما کچکول ترخ کښې مضبوط کړو او کندمې په اوږه سم کړو، دوه پښې مې خپلی کړې دوه پردی او دی کلی نه په تیښته راووتم. ماوې چه د کوم کلی خلق په مظلوم او ظالم، قاتل او مقتول پسې یو شان ژاړی د هغی نه تیښته په کار ده، په غوی به تل غم وی ښادې به که خیر وی په سترګو نه وینې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندر د بدرښو:
پښتنې نه

# صاحب جانه

صاحب جانه خدای پاک د ښایست د دولت میرمن کړې وه...

د صاحب جانې د پښتون حسن په لیدو پسې ډېرو ناوزګارو کارونه پرېښي، ډېرو لمونځ ګذارو نمونځونه قضا کړی و، ډېر زاهدان ئې په یادولو یادولو د ارمان په جهان کښې ورک شوی، دا د صورت او هم د سیرت میرمن د خدای تعالی د رحمت یو مظهر و... ډېرو په لوړو ختلو ځملو ورته بینونه وغړول ډېرو مستوئې د تپو سره غوړونو ته خپل غړونه وروسول، ډېرو په ځان غلطو ریباری ور ولېږلې او ډېرو ننګیالو د پښتو په دود هم وغوښته خو هغه... د قیمت خان ځملی په نصیب شوه.

قیمت خان لوړدنګ، سور سپین ځلمی و... دا ښکلې ښایسته ناوې د ده د کور ډیوه شوه.

په نوی کور کښې د ناوی ورومبنۍ شپه تیره شوه ورځ د خپلی رڼآ سره راغله نمر په دنیا پلوشې خورې کړې خو داسې زړونه هم و، چه د هغو د غم شپه نه تلونکی وه او لاړه نشوه.

ورځې د جمعې شوې، جمعې میاشتې شوې میاشنی، کالو نه شول، کالونه پیړۍ شوې. شپېته کالونه تیر شول د قیمت خان بابا عمر پنځه اتیا کاله شو او صاحب جانه انۍ اوه اویا کالو ته ورسیده خو په دې اوږده موده کښې د دوی اولادونه شو نه ځوی او نه لور د ستړی او بی خونده ژوند په اوه اویایم کال صاحب جانه انۍ ناروغه شوه ښښتن ئی غریب و، خو تر خپلې وسې ئې د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملګرې دارو درمل په ښه شان وکړل ولې هر څو چه ئې علاج کيده رنځوره ورځ په ورځ پرېوته تر دې چه طبيبان ترې پاڅيدل. صاحب جانه انۍ چه په ځان پوهه شوه نو وئې ويل چه ما ته د مراجی نه (د کلی نوم) مشره خور او نور خپلوان را وغواړۍ؟ مراجی ته سړی ولاړ او د رنځورې په تپوس کلی را وچليدو، رنځوره ئې وليده بخنبل سره واخستی شول، څوک امروزه لاړل څوک سبا ته لاړل او څوک دوه ورځې پس در هر چا د خورې او مينې خپله خپله اندازه وه آخر نور ټول خلق لاړل او مشره خور ورسره پاتی شوه خور د خور خدمت له وريده. د مينی او وينی په غم کښې ډېر فرق دی. صاحب جانه انۍ ورځ په ورځ پرېوته حالت ئی خرابېدو، تر دې را ورسيده چه اوبه ئی په څمڅۍ کښې ورا چولې، ښې ئی وپړسېدې، د خبرو کولو نه پرېوته پټې سترګی پرته وه او خور ورته اوښکی څڅولی اوه شپې ورځی يې د خور له غمه سرونه لګولو په اتمه ورځ کچه غرمه ناڅا په رنځورې سترګی پورته کړی او سر ته ناستی خور ته يې په غټو غټو وکتل د ښو په اشارت ئی پوهه کړه چه ګنې په ما باندې را ټيټه شه غمچنه خور پرې ور ټيټه شوه د نو رنځورې ورته د سرينده د راکښلې زير د تار غوندې په نرې او کمزوې آواز ووې چه زما خولې ته دی غوږ را نږدې کړه، خور د صاحب جانې په خوله خپل غوږ کيښود او هغې ورته داسې په سرينده باندې لينده را کښه.

خورې زه د لږ ساعت ميلمه يم زما سره يو پټ راز دی چه تقريباً د شپيتو کالو راسې زما د زړه په صندوق کښې پټ ساتلې دی نن يې تا ته ځکه ښکاره کوم چه د دی دنيا څنې اوس زما تعلق پرکيدونکی دی رنځورې چه دا خبره وکړه نو د دمې کولو دپاره غلې شوه او خور ورته ټوله غوږ غوږ شوه لږ ساعت پس صاحب جانې په سرينده لينده داسې راکښه.

خورې زه چه را واده شوم نو په ړومبۍ شپه راته خاوند راغلو، په کټ کښې راسره کښيناستيدو، هغه ما ته وکتل ما هغه ته وکتل دی ډېر مړغيژن غوندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



و داسې ښکاريدو لکه چه په سر ئې د غم لوی غر پروت وی د يوا رورين او سيلی سره ئې ووی:

هغه: ميلمنې په خير راغلې !

زه- خدای تعالی دې وبخښه په خير اوسی.

هغه: - پس له دې خو به ته د دې کور مېرمن يې.

زه: - انشاء الله د ختو ګټو د کور هم او د خپل څښتن د زړه د کور هم.

هغه: - بې شکه خو... !

زه: - (په حيرانتيا ) هن ! خو ! ! !؟

هغه: - پښتنه يې؟

زه: - زه فخر کوم پخپله پښتو - د پښتون نمسی- د پښتون لور- او اوس د يو پښتون ښځه يم.

هغه: - ښه نو د خپلې پښتو له مخه په ما شادر خور کړه په ما پرده واچوه !

زه: - (په حيرانتيا ) خم ! پرده ! پوه نشوم !

هغه: - پښتنې ! ما په وخت د حيا له کبله مور پلار ته ونه ويلی شول په دې وجه ستا دا بی مثله ځوانی خاورې ايرې شوه.

زه: - (په ډېره حيرانتيا ) خاوری ايرې.

هغه: - هو ! دريغه چه زه ستا د ډولۍ د راتلو نه اول مړ وای.

زه: - نو چل څه دی ! ما خو پوه کړه کنه !

لکه د ګلاب چه ډنډر مات شی زما د څښتن هغه شان څټ ځولۍ ته مات شو اوو رويې ووې چه: ...

هغه: - زه ستا د جينسی وظيفی د پوره کولو جوګه نه يم.

زه: - هيڅ غم مه کوه زه پښتنه يم د خپل څښتن سره به تر خپل ژوند پښتو وپالم انشاء الله تعالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صاحب جانی خبری چه مشری خور واوریدی نو د اوښکو ډنډيې سیلاب شو رنځوری بیا لږه ساه وا خیسته او تار ته یی بیا ترنګ ورکړو:

خوري ! ما د هغې اولنۍ شپې راسی څه کم زیات څلویښت کاله هره ورځ هر سحر اوړی په ژمی لنبلی دی. اوبه می بیولی دی او تر دی ساعته می هره سخته په ځان زغملې ده خو د خاوند سره می هیچری شر او ترخه خبره نه ده کړی. خدمت می یې په ډیره راستۍ کړی دی چیری می ورسته ستغه نیولی نه ده او سره د دې ټولو خبرو د خپل عصمت مرغلره می هم امانته، سلامته او رڼه ساتلی ده. صاحب جانی انۍ نور هم څه ویل خو وخت ختم شو، دې یو اوږد زبېرګی وکړو خور ته ئی یو وار بیا سترګی را پورته کړی دا قدرئی ووی- چه خوری ! ما بس وبخښه وینایی په شونډو کښې پاتی شوه او د سریندی تار وشلیدو (انا لله و انا الیه راجعون)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندر د بدربنو:
پښتنې نه

# ملاله

څه کم زيات د اتيا کالو خبره ده کال دولس سوه اوه نوی هجري و د برات د مياشتې اولسمه ورځ وه د پرنګي فوځ د ميوند په ميره کښې پروت و په هر ساز او سامان پوره، په خوراک څکاک موړتک سور اوړی و، د آسمان اوروريدو، ځمکه تيغنه وه ملک سورتنور وکاڼې د ګرمۍ له تاوه چاودل، پيريانو تنورونه اچول و، هوا سره لمبه وه اوبه نه وې او که چيرته کوهۍ يا چينه وه نو په هغو د دښمن قبضه وه د مسلمانانو غازيانو سره اوبه خلاصې شوې وې له تندې د هر چابې وتلې وې مرۍ وچې؛ شونډې سپينې تښتيدلې وې، سره د دې ملاتړلې ولاړو او دا يې غوښتل چه د دين دښمن، د آزادۍ دښمن د خپل ملک نه وباسې ورک يې کړي خو د دښمن زور ډېرو او خښ ناست و او جنګيدو آخر چه په غازيانو تندې ډېر زور کړو نو داسې وايې چه ځينو ځېنو په شا وکتل، زړونه يې پريوتل، وارئې خطا شو، امام حسين(رض) مسلمانانو ته يو سبق پريښې دی چه که چيری هم د حق او باطل ترمينځ جنګ وی د باطل ډير زور وی د حق ملګری په سرونو هم کم وی او په وسله هم اولوږې تندی پری هم راشې خو بيا هم بايد دی چه د ذليل ژوند ځنې د عزت مرګ واخلی خو کله کله مسلمانان دا سبق هېر کړی نو ځکه پری وارخطايې غلبه وکړی همدغه وجه چه په ميوند کښې هم مسلمانانو تېښته وکړه او په شا روان شول وروستو د دوی ښځې وې په هغو کښې يوې جينۍ سر هسک کړو او د ځان سره ئی ووې چه دا خو کار خراب شو؟ دا جينۍ ملاله وه، ملاله د ملی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرور او کلکی پښتو ږکه په تلوار د ښځو د منځ نه د غازیانو په لور ور روانه شوه چه نږدی ورغله لکه زړوره، نره شیره ببره، ودریدله او لکه یوه جرنیله ئې د زړه د اخلاصه نعره وکړه چه:

ای پښتنو میړنو؟

د هر جنګیالی پښتون غوږ ته دا چغه ورسیده او په جنګ کښې ئی د ملالې ورته وکتل ملالې د زړه د جوشه دا لنډۍ ووی چه:

یه که ځار:

کـه پـه میونـد کـې شـهید نشـوې خدایږو لالیه بی ننګـۍ تـه دې ساتینه

د ملالۍ د لنډۍ یو یو توری د هر غازی په زړه لکه د غشی وربنخ شو او دې چه دا ټپه ختم کړه نو سمدستۍ ئی د الله تعالی نامه واخیسته «الله اکبر» او لکه د وږې زمرۍ ئی د دښمن په لور ورمنډه کړه او په منډه کښې یې دا بله لنډۍ شروع کړه:

یه قربان:...

خــال بــه دیــار پــه وینــو کیــږدم چه شینکی باغ کښې ګل ګلاب وشرمومه

د ماتو مسلمانانو غازیانو د غیرت جذبه په جوش شوه، مات زړونه یی جوړ شول لکه چه مړه راژوندی شی د هر غازی په رګ رګ کښې پښتنی وینی منډه وکړه وښنته ئی ودرېدل، ملاله بیا د دوی ترمنځ وتلی او په دښمن ورغلې وه هر یو وریسی ورمنډه کړه او د کفارو په لښکرو ورغلل دښمن څه مقابله خو وکړه خو مسلمانان چه یو وار په کلکه د الله تعالی نوم واخلی نو غرونه ورته هم نه ټینګیږی آخر دښمن مات شو هغوی به په شا وتښتیدل او میړنو غازیانو به وهل ډېرئی مړه کړل او ډېر وتښتیدل توپې او ګولۍ ترې په ځای ځای پاتی شوې میوند فتح شو- دا چا فتح کړو؟- دا پښتنی ملالۍ:

نه زرها ځلمـۍ ورغلی تـر کمالـه نـه یـوه نـره ملالـه میوندوالـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ایوب خان اڅکزی:

# اعتبارات

وائی چه یوه ورځ یو زاهد و یو رند میخانه ته وویل ترڅو به په دغه فسق او فجور مبتلا ئی راځه د ما سره چه د نجات او هدایت په لار دی برابر کړم د رند خوښه شوه او د زاهد سره یو، غره ته ولاړ، هلته د زاهد او رند ټول کائنات پریوه بشقاب مشتمل و او بس. د یو څه زمانی بعد زاهد ورته وویل چه اوس نو زه ځم چه نور ګمراهان پر لار برابر کړم نو ځکه په بشقاب کښې زما حصه و ما ته راکړه. رند ورته وویل:

چه ستا جدائی وما ته تر حد زیاته د غوصی ده و لیکن بشقاب واخله زما حصه می هم تا ته بخښلې ده، زاهد ورته وویل چه ډیر احمق یی زه کم ګدا ګر او سوالګر خو نه یم چه ستا حصه و ماته راکوی زه خو صرف هغه قدر غواړم چه مذهباً و ماته روا دی یعنی نیمه، رند ورته وویل چه ما تول یی څه فائده نلری، زاهد اصرار وکړ او سرئې ورند ته خشم ورغلی او بشقاب ئی په زوره پر ووهی او نیم ئی و زاهد ته ورکړ وښوراوی د میخانې هغه زاړه یاران چه زړونه ئی د جام او مینا په شان صاف او ماحول ئی د امن او سکون څخه معمور یو یو تر سترګو تیریدو او په دماغ ئې رسم کیدو ما چه دا حال ولید نو می وویل چه په لفظو یوه او په معنی ناپوه د جسم او روح د فرق لاعملی او فقط د حکم په حیث د الفاظو تعمیل د انسانی اوصافو څخه بعید دې او د بعضی پابندو، او تربیت یافته حیوانانو مترادف حرکت دی او بس.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ایوب خان اڅکزی:

# اعتبارات

وائی چه یوه ورځ ملکه پخپل محل کښې په یوه کار مشغوله وه، دروازه وټکیدله، ویلی څوک ئی؟ ورته وویل شوه چه ولیعهد.
ملکی اعتتنا ونکړه او خپل مشغولیت ئی جاري ودرلود.
د کافی انتظاره بعد، بیا دروازه وټکول شوه ملکې وویلی څوک یې؟
جواب ورکړل شو چه ستا فرمانبردار ځوی.
ملکې فوراً دروازه ور خلاصه کړه او ورته ویې ویل چه ګوره ځویه؟ همیشه کوشش وکړه چه په دنیا کښې پخپلو انسانی اوصافو او خصایلو وپیژندل شې ولی چه دنیا وی حیثیت اضافی او اعتباری شی دی چه هر وقت فنا کېدونکی دی.
ما چه واوریدوو مې ویل تر څو چه په دنیا کښې د انسانانو تربیت پر داسې بلند سطحه او لوړ معیار باندی ونشی د انسانانو دا موجوده فراموش کاری چه عموماً نتیجه وی د جاهلانه خود فراموشیو نه اصلاح کېږی او دنیا به د حقیقی او انسانی سکون سره هرګز دوچار نشی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايوب خان اڅکزی:

## لنډې ويناوې

په مصيبت کښې له چا سره همدردی کول دومره بلندی نه ده لکه په کاميابۍ کښې له چا سره همدردی لرل.

❀ ❀ ❀

ډېر خلق د نماز دومره قايل نه دی لکه د جای نماز.

❀ ❀ ❀

د دنيا څخه ټوله لمن تېرېدل دومره مشکل کار نه دی لکه په اغزو بنده لمن صحيح او سلامته راوړل چه مشکل کار دی.

❀ ❀ ❀

په دنيا کښې آسانترين کار تر ژوند تېرېدل دی او مشکلترين کار ژوند تېرول دی.

❀ ❀ ❀

زه په دنيا کښې د هغو اشخاصو څخه هم د لطف توقع لرم چه نيکی په دې دنيا کښې کوی او انعام يې په بله دنيا کښې غواړی.

❀ ❀ ❀

د شاعر دنيا ډېره صلح جو او امن پسنده ده که زمونږ په تمدن، اخلاقو، او سياستو کښې شاعرانه اخلاق پيدا شی نو دا دنيا زمونږ جنت کېدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ش- مجروح:

# د علم په باب کښې

ګورئ؟ دا ګمان ونه کړئ چه زه د علم په فضيلت کښې کومه موعظه کوم، ځکه علم د دې څخه بې نيازه دى چه په فضيلت کښې ئې څه وويل شى (آفتاب آمد دليل آفتاب) او انسان هم (زمونږ په شمول انشاء الله تعالى) له دې مرحلې څخه تير شوى چه هغه ته د علم د فضيلت په حقله څه وويل شى.

دا تصور هم مه کوئ چه ګوندې زه د علم په حقيقت کښې څه وايم نه دا هم! ځکه د علم حقيقت باندې څه ويل ما غوندې سړى ته ګران کار دى.

ډېره موده کېږى چه د فلسفى د قلمرو نه ټول علوم (د تجربې د طريقې په بناء) وتلې دى او استقلال ئې غوره کړى دى يوائې څه چه فلسفې ته پاتې شوى هغه الهيات، اخلاق، او ايستيمالوجى يعنى د علم پر حقيقت باندې بحث دى چه د هغې د افادې دپاره ډېر دقيق نظر او صلاحيت په کار دى او سمدستى د دې مقالې له نظر اندازه هم بهرنه دى، نو راځئ چه د علم په سرګذشت باندې خبرې وکړو او د علم داستان يا د علم تاريخ باندې ځان مشغول کړو، مګر افسوس، د علم قصه هم دومره اوږده او دومره پېچلې ده چه له هر قلمه او له هرې خولې د هغې ليکل او ويل پوره نه دى، خو که ستاسى اجازه وى زه به لږ ډېر د علم د تطور د تاريخ لنډيز يا د علم د تطور خلاصه تاسو ته وړاندې کړم او هغه دا چه «حاصل عمرم سه سخن بيش نيست، خام بدم، پخته شدم، سوختم» نو راځئ چه د علم تماشا هم په دې درې واړو مرحلو کښې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو وخت خلکو گمان کاوه چه د یونان په خواو شا کومه نامعلومه جزیره کښې او د بابل په ښار کښې چرته یو برج دی او په دې برج کښې علم او معلومات او مغیبات ذخیره شوی دی په کوم طلسم او چل ول ځینی خلک ورننوزی او له هغه ځایه د کائناتو اسرار او د شیاؤ حقائق ځان ته معلوموی علم او پوهه، اختراع او ابتکار ټول د دغه برج څخه د نیک بختو لاس ته ورځی.

د تکامل د نظریې نه را په دې خوا انسان په دې پوه شوه چه هېڅ یو اجتماعی مظهر د تکامل د قانون د احاطې نه بهر نه دی او علم هم د نورو ځیزونو په څېر تغیر او تبدیل حرکت او سکون، آغاز او انجام لری او دا هم لکه دا نور اجتماعی مؤسساتو د یو خاص بدایت نه دې نهایت ته (پرزېدلی، غورځېدلی، خوزېدلی) را رسېدلی دی.

یعنی علم هم د تکامل او تطور په لاس کښې لوېږی او لوېدلی دی، گویا دا نظریه هغه شاعرانه مفکوره چه خامی او پختیا اورژېدل د عمر حاصل گڼی رېښتینی بولی.

هو ! لکه هرڅه چه بې د خدای له ذاته (جل و علی شانه) متغیر او متبدل وی او د تکامل د سیر په قدمونو د یو ابتدائی ناقص صورت نه یو جامع او کامل شکل ته اوړی را اوړی دا رنګ د انسان ټول اجتماعی تاسیسات هم متغیر او متبدل دی، د ده علم، د ده پوهی، د ده فلسفې او د ده فکر د تطور مراحل تېر کړی او تېروی ئې.

د دې نظریې په بنا علم هم تاریخ لری او د دې تاریخ په رڼا کښې علم دومره اوړېدونکی او اوښتونکی او غورزېدونکی او پرمخ تلونکی ښکاری لکه طفل چه د مور د غېږی را وزی او د حیات مراحل طی کوی.

مونږ وویل چه علم هم د انسان د نورو اجتماعی مؤسساتو په شان د تکامل د قانون تابع دی او د انسان په اجتماعی مؤسساتو کښې یو هم دولت (حکومت) دی که مونږ علم د دولت سره مقایسه او مشابه کړو زیات به مناسب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی ځکه دولت د انسان په ځت او علم د انسان پر مغزو حکم فرمائی کړې ده، د دولت د اوامرو او نواهیو انتقیاد د قانون په نامه او د علم د احکامو د قواعدو په نامه پیروی شوې ده، دا دواړه د قوت او د سلطی خاوندان دی نو ځکه یو بل ته سره ورته او مشابه دی، دولت د خپل تکامل په مزله کښې دری دوری درلودی:

۱- د پلار او د کورنۍ د مشرانو حکومت چه په پای کښې قبیلوی طوائف الملوکۍ ته منجر شوی.

۲- متمرکزه او قوی حکومتونه چه په پای کښې جهان شموله امپایرونه (شاهنشاهۍ) جوړې شوې.

۳- ملی حکومتونه چه دموکراسی او د عواملو د هغې نتیجه او خاصه ده او له مرحله د هرج و مرج او د نارکۍ دوره ده دوهمه دوره کښې په انسانی جوامعو کښې اداره په ډېر قوت سره لیدل کېږی او دسپلین د اندازې نه زیاتېږی د اقدار خاوندانو ته سرونه ټیټېږی او اطاعت ئې کېږی، په دریمه مرحله کښې قانون د مقتدرینو ځای نیسی او جمعیت قوی کېږی اوس که مونږ علم د دولت سره مقایسه او تطبیق کړو علم هم دا دری مرحلې لری چه دلته به پر هره مرحله بېله بېله پیښنه وکړو او لږه لږه به یې وڅېړو.

۱- د هرج و مرج یا انارکۍ دوره:

په دې دوره کښې هر سړی د علم ادعا کوی او هېڅوک عالم ندی په دې مرحله کښې انسان لا د تقسیم عمل سویې ته (لکه څرنګه چه ښائې) نه دی رسېدلی، نو هر سړی هر کار کوی او هېڅوک په هېڅ کار کښې (لکه څرنګه چه ښائې) استعداد او لیاقت نه لری، هر سړی هر څه چه کړی هغه ریبی او هغه خوری د خپلو ساتلو شویو حیواناتو نه ځان ته جامې او غذا اخلی، تجارت په ډېر ابتدائی مراحلو کښې ښکاری هر څوک خپل مازاد تولیدات د بل د زیات شوی مال سره جنس په جنس بدلوی او د تاجر په نامه کومه خاصه طبقه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موندله کېږی، هره کورنۍ یا قبیله د خپلو رمو او ګلو او ورشو او سیمو حاکمه ده او د هغې د حفاظت دپاره د نورو تجاوزونه په خپل سر دفاع کوی او د امنیې او پولیس په نامه څه نه ښکاری د حاکم او قاضی په حیثیت څوک منځ ته نه راځی، داسې هم لا د علم او د پوهې خاوندانو کومه خاصه طبقه نه ده جوړه کړی او د هر چا هر څه زده دی او د مکتب په نامه کوم خاص مرکز د علم دپاره نشته په دې مرحله کښې د ستاره شناسۍ معلومات د زراعت او مالدارۍ په اطرافو کښې پوهه د علاج او طبابت په نامه ټوټکې د هر چا سره شته او هر سړی د خپلې زمانې دایرة المعارف دی، هر سړی په دې وخت کښې د خپل کور یا کورنۍ مدرسه کښې د خپل زمانې را ټول شوې معلومات زده کوی دا معلومات یا مفاهیم د مورنۍ ژبې سره سم د هر فرد مغزو ته د جمعیت نه منتقل کېږی.

تاسې خو پوهېږئ، چه ژبه په خپله د ډېرو افکارو او مفاهیمو حامله او د ډېرو حقائقو ناقله ده د هر چا د علم افق د هر چا د فکر قالب د هغه مورنۍ ژبه او یا زده کړی فرهنګ دی (له فرهنګ مطلب د لغاتو مجموعه ده) همدا وجه ده چه د علماؤ ژبه وسیعه او د بې علمه خلک ژبه محدوده ده په دې دوره کښې علم د خرافاتو سره د کوډو او ټوټکو سره ګډوډ او لړلی دی او د علم او د جادو د علم او د افسانې په منځ کښې توپیر نه لیدل کېږی، د حساب او ریاضی او ستاره شناسۍ سره ساحرانه ذهنیتونه او د طب او د زراعت سره د خرافاتو پسندۍ فکرونه یوځای او تړلی دی په دې دوره کښې د علت او د معلول په سلسله کښې بې ربطې موجوده ده د طبیعت ډېرو پېچیده علایمو او پېښو ته ساده سببونه او ډېرو ساده او ښکاره مظاهرو ته کاږه واږه علتونه پیدا کړی او خپل ځان غولوی مثلاً د سپوږمۍ د توربدلو نه د کوډګرو په نیولو تعبیر کېږی او د جاذبې د قانون په ځای د زمکې د مدار دپاره د غوائۍ ښکر په فکرونو کښې ګرځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سبب دی چه مونږ داد ورهرج و مرج او د انارکیزم دوره وګڼله.

۲- د تمرکز او اقتدار مرحله:

په دې دوره کښې د تقسیم عمل په وجه په انسانی جوامعو کښې طبقات لیدل کېږی او یوه طبقه هم د علماؤ په نامه منځ ته راځی. علم د بدویت د مرحلې نه راوتلی او څه ناڅه پرمخ تګ ئې کړی دی. دې مرحلې کښې که څه هم ټول علوم په یوه ځای کښې او یا یوه فکر کښې را غونډ دی، مګر ساحه ئې لویه او نظر اندازئې وسیع دی علم او فلسفه لکه سور لال دایرونه را وتلی دی او د علماؤ په پټکی کښې له ورایه برېښی کوی او معلومېږی. په دې دوره کښې لکه چه د اقتدار خاوندان د چا مشوره نه منی او یا یوې طبقې ته د نورو خلکو نه ځان بل شان ښکاری او د اشرافو خطاب لری، علم هم له خپله اقتداره کار اخلی او د چا خبرې ته غوږ نه ږدی، د عالم او د جاهل په منځ کښې بېلتون کنده دومره ژوره او ارته ده چه پر هغې باندې د ارتباط پول نه ایښودل کېږی.

لکه څومره چه حاکم له محکومه جدا دی. لکه څومره چه د هغه او د ده په ذهنیت کښې فرق دی هومره د عالم او د جاهل په منځ کښې افتراق او اختلاف موجود دی په دې مرحله کښې د عالم وینا لکه د حاکم فرمان بې اعتراضه منل کېږی او په دې نامه فلانی عالم ویلی د علم فرامین چلېږی او په هغې کښې بحث ته مجال نه ورکول کېږی د دې نظریاتو د نه منلو په وجه خلکو ته سزا ورکوله کېږی او له جمیعت څنی شړل کېږی، په دې مرحله کښې د سقراط او د افلاطون او د ارسطو نظریات پېړی پېړی د انسان په مغزو بې قیده او شرطه حکومت کوی او د هغای مخالف که د ګالیلی غونډې سړی هم پیدا شی د قاضی مخې ته ئې د محاکمې د پاره راکاږی.

په دې مرحلې کښې په اسلافو او د صلاحیت پر خاوندانو انتقاد ګناه ده.

له عوامو سره د انتقاد قوت خو نه و چه د دې نظریاتو پر حقانیت باندې بحث وکړی او خواصو هم د تقلید افیونو دومره سست کړی و چه د انتقاد او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابتکار قدرت پکښې پیدا کیده نه علماء هم لکه اشراف په خپلو خیالی قصرونو کښې ناست و او له پاسه به یې د عوامو ټیټې سطحې ته کتل.
دا کتل به زیات د نفرت او کله کله د رحم او شفقت و، دوی هم د پیروۍ او د تقلید د طلسم څخه نشو وتلای.
۳- د علم د دیموکراسۍ دوره:
په دې مرحله کښې علم هم لکه سیاست او حکومت د عوامو لاس ته راځی او د علم د پوهې او د نشر په سبب په هر چا کښې د خپل نظر د ښکارولو صلاحیت پیدا کېږی په دې مرحله کښې د زړې زمانې د علم اقتدار طلسم ماتېږی او پر فلسفه او سیانس او په افلاطون او په ارسطو باندې اعتراض او انتقاد رواج پیدا کوی. په دې مرحله کښې علمی انجمنونه او جمعیتونه د پارلمان غوندې صلاحیت د یوې محدودې طبقې د لاسه اخلی او د تتبع او استقراء طریقه د قیاس برهانی نه معتبر ګڼل کېږی او د استقراء جزئیات لکه رایه عامه د علمی مسایلو د تائید دپاره د نظر لاندې نیول کېږی په دی مرحله کښې د طبیعت د مظاهرو طبقه بندی تحلیل او تجزیه په ډېر دقت سره کېږی او د طبیعت د ټولو مظاهرو دپاره خاص قوانین منل کېږی چه د هغو قوانینو په برکت ډېرې مشکلی مسئلی او سوالات حل کېږی.
په دې مرحله کښې د طبیعت د میکانیزم مفکوره منځ ته راځی او د خود سری او خود رائی خپل ځای په علومو کښې هم قوانینو او ترتیب ته پرږدی.
لویه خبره دا ده چه په دې مرحله کښې انسان د خپل فکر قصور او نارسائی ته ملتفت کېږی او د ماوراء الطبیعه د سرګمی مشوری نه حیاتی مسایلو ته توجه کوی ګویا انسان دې ظرافت او حقیقت ته رسی چه د انسان فکر د کائیناتو د اسرارو د حل کولو او د وجود ماهیت ته د رسیدلو دپاره نه دی برابر باید دا فکر د حیات د بقا دپاره په کار واچول شی او خپل روزمره ژوندون تر نظر لاندی ونیسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې مرحله کښې ما فوق الطبیعه په زړه، طبیعت او په دماغ کښې ځای پیدا کوي یعنی د واجب د تصدیق دپاره میني او اخلاص او د ممکن د تسخیر دپاره عقل او فکر ته خلک متوسل کېږی په دې مرحله کښې د تجربې او تجزیې طریقه په اکثرو علومو کښې رواج پیدا کوی او د حیوان او د نبات او د مائع او د ګاز او د هغې او د دې حتی د ذرې ګېده سپړل کېږی او د هغې د ترکیب او د ترتیب نه خلک ځان خبروی علم نور د بلند پروازۍ د آسمان د حیات او دتطبیق ځمکی ته را کوزېږی او د صنعت د پېشرفت په لاره کښې د انسان سره مرسته کوی د دې دورې خصوصیت په دې الفاظو کښې لنډېدی شی چه علم نه یوائې د علم دپاره تر نظر لاندې نیول کېږی بلکه د معنی د افادیت او د په کار راتللو خوا ته اعتنا کوی د انسان د فکر محصول او د هر چا رأیې ته د احترام په سترګه کتل کېږی تعصبات او تنګ نظری له هرې ناحیې چه وی د علم په ساحه کښې ورکېږی علم او دولت سربېره په دې مشابهتونو یو بل مشابهت هم سره لری او هغه جنګ او جګړه ده، د علومو په منځ کښې هم جګړه او مشاجره لکه چه د دولتونو په منځ کښې پېښېږی پېښه شوې ده.

ډېر علمونه دی چه یو له بل سره ئې ناسازی او خواشینی ښکاره کړې ده، ډېر علوم دی چه یو د بل له سرحده تېرېږی او د بل په قلمرو کښې تصرفات کوی، ډېر علوم شته د سرحد د اشغال په وجه د دوی په منځ کښې سرحدی پېښنې او واقعات پیدا کېږی، د دې مشاجراتو د رفعې د پاره کار شوی او کار کېږی او د ګډ ژوند (زیست باهمی) پالیسۍ دلته هم منل شوی او منل کیږی.
یوه بله خبره د یادولو وړ ده او هغه دا چه دې دور ته د زمانې تعیین ممکن ندی.
داسې آثار او مظاهر د انسان په ټولنه کښې اوس هم لیدل کېږی چه د اولې دورې سره څه لږ ډېر مشابهت لری او یا کت مټ د هغې زمانې یادګار او میراث معلومېږی او داسې علایم او آثار اوس هم سترګو ته راځی چه د دوهمې دورې صبغه لری.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څه چه وی وی به ولی د علم روش د علم آینده او د علم اسلوب د دریمې دورې په پالیسۍ بنا شوی او پر مخ روان دی، علم د تجربې او د مثبتیت په ساحه کښې حسابی او یا ریاضی کېږی علم د هر څه د پاره یوه سلسله اوزان او مقادیر، طبقه بندی او مقیاسات ټاکی او اوس اوس ئې د هر څه نه زیات ذرې ته د امید سترګی نیولی دی خدای دې کاندی چه دا د دوهمې دورې باقیات یعنی د اقتدار خاوندان او یا د امپریالیزم شوقیان ذره د خپلو شومو اغراضو د پاره استخدام نه کړی او علماء پرېږدی چه د بشر د خیر او سعادت د پاره د انسان د مشترک کور د پاره خدمت وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد موسی «شفیق»:

# برکت

(۱)

د خان صاحب کلی د هغې لویې لاری په سر پروت دی کومه چه پایتخت په لمر ختیځ ولایت پوری تړلې همدغه لاره ده چه د لمر ختیځې خوا ته د غرونو هیواد ته خپل او پردی، کورنې او پردیس را ننباسی او ورنه باسی ئې په همدې لاره ما کلونه کلونه پخوا د خپل پلار سره یوځای سفر کړی او دا سفر به تل د هغه موجود په شاکیدو په کوم په چه هر ځه د بنیاد مونه نیولی آن تر تیګو، وسپنو، غلو، ځاروو او مراغانو پورې بارو او لارې به ئې ورته ویل. د خان صاحب کلی په یو خوړ کښې پروت دی او چه د لارې دوه سره پایتخت او د لمر ختیځ ولایت لوی ښار ونیسو نو دا ځای به ئې لوید ځې خوا ته ځیرمه پروت وی د لاری لمر خاته خوا ته برخه هم هماغومره سړه او هیبتناکه او د خطر نه ډکه ده لکه د مغرب خوائې. په کورنۍ برخه کښې یې د لیوانو د بیګر، د غلو، او داړه مارو او سیلابونو خطر زیات دی مګر په برنۍ خوا کښې د یو هیبتناک ګړنګ شته چه یوازې په یوازی د دې ټولو خطرو سره مساوی دی.

د لاری ویشتونکی چه په دغه ګړنګ را برابر شی نو په روغه تیریدل، ختل او کوزیدل ورنه معجزه ګڼې، په لارۍ کښې سواره کسان چه د ګړنګ حد له را ورسیږی نو هر ځومره سورتونه او دعاګانې ئې چه زده وی هغه ټ،لې ختمې کړی، شش کلیمې درستې کړې او ځان په مړوو شماری، د لوی ځوان نذر ومنی او اخرت ئې سترګو ته وردیږی. په دی خپه شی چه ولی ئی وصیت نه دی کړی ولی ئی حج نه دی کړی، ولی ئی لمونځ قضا کړی، ولی ئی هغه میا صاحب او

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پاچا صاحب د ځان نه خپه کړی دی زما پخپله یادیږی چه کله به لاری دې ګړنګ ته نژدی کیده نو ما به تباشیر د جیب نه را وویست او د لاری په وسپنو او لرګو به می په څو څو واره ولیکل:

«یا الله خیر، خدا حافظ، یا غوث الاعظم دستګیر» ما ته دا ویل شوی وو چه سړی دا عبارات په کومه لاری ولیکی نو هغه نه اوړی رښتیا رښتیا او دروغ دروغ چه زمونږ لاری تل د ګړنګ نه سلامتې تیریدلې.

(۲)

دولس کاله پخوا د دغه کلی هوښیار او پوه خان صاحب چه هم ئی د زمانی ډیرې سړې تودې لیدلی وې او هم د خدای په لاره سم و، یوه ورځ سهار په جومات کښې خپلو کلیوالو ته وویل:

هلکو ! سږکال چه دا خوړ زمونږ او ستاسی کلی ته تنبه شوی و اوورنه چپ شو دا بی څه نه دی. ما ته داسی معلومیږی لکه چه په همدغه شاوخوا کښې د کلئ د خوړ پلو دیوال ته نژدی کوم شهید پروت دی هر چا چه کومه ننبه ولیده ما ته دی ووایې دوه دری ورځې چه تیری شوی یو ببر سری غوندې سړی خان صاحب ته راغی او د شهید د ننبې د پیدا کېدو زیری ئی ورکړ.

بله ورځ د ببر سری سړی سر نور هم پسې ببر شو، څنې ئی اوږدې شوې، د سر وښتان ئی کړی کړی شول، یو کچکول ئی غاړی ته واچولو او د کلی د خوړپلو دیوالو ته نژدی یو لوړ شان قبر ته دیره شوه. د قبر دپاسه ئی یوه سره جنډه لکه کړه او ځان ئی د شهید ملنګ کړ قبر چه زیارت شو او ټول عناصر ئی پوره شول نو د کلی خلک به ئې جوپی جوپی زیارت ته راتلل او دعا به یې ورته کوله، کال ته چه بیا د خوړ د مستۍ شپی راغلی او کلی ته څېرمه شوه خلک وارخطا و او نوریې په تشه دعا ډاډ ګیرنه کیده د هر چا چه څه په وسه کښې و هغه به ئی زیارت ته را ځغلول او همدا سوالونه به ئی کول «شهیده ! دی خوړ ته دی زور وښیه» خوړ بیا د شهید د قبر سره ودرید او په کلی را ونه خوت. دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



حادثې نه یوازې د کلي د خلکو او زیارت په رابطه تاثیر وکړ بلکه د ملنګ او د شهید په علاقو کښې ئې هم یوه تازګې پیدا کړه. ملنګ توب په مجاورتوب بدل شو. که پخوا به شهید د ملنګ روح له قوت ورکاوه اوس ئې ملا هم تړې او جیب ئې هم ډکوي. د لویو کسانو په خواپورې چه سړې پریوزې بې څه خوئې نه پریږدې د خوږ د مستۍ د شپو نه برسېره به هم کلیوال زیارت له تلل راتلل هلکانو به ښځې غوښتې، نجونو به میړونه، میږو ښو به زانګو اچولې اولاد به ئې غوښته پنوبه نذرونه منل چه ګرانې شې د چا به چه سره مخه وه هغوی به د زیارت خاور په ځان پوروی منبلې چه ښه شي، مرادونه به چه تر سره شول نو په زیارت کښې به نذر پخېدلو او خلک به پرې را ټولیدل د دې ټولو واقعاتو نګرانې به ببر سرې ملنګ مجاور کوله. همدې راشه درشه هغه مجبور کړ چه د زیارت سره یوه کوټه هم جوړه کړې او هلته د «مراجعینو» او «مشتریانو» د استقبال څه تیارې هم ونیس. د خان صاحب بیبیانې او هغه پخپله هم د شهید زیارت له همیشه تلو راتلو...

خان صاحب به تل په دې خبره د ځان سره ډېر خوشالېدلو چه د شهید قبر د ده د هڅې او باعثتیا په اثر پیدا شو او دې خبرې به ورته لا ډېره مزه ورکوله چه د شهید قبر د ده په ځمکه کښې پیدا شو...

(۳)

څومره چه د شهید اواز خپرېده او د زیات ډول ټکورئې زیاتېده په هماغه اندازه ئې چندې هم لوړېدلې. د لارې په سر به چه لارې تېرېدلې اوس به هغو سورلیو هم د زیارت سرې جندې...

د ورایه لیدلې کله کله به چه لارې د خان صاحب د کلي خوا ته د اوبو یا د دمې دپاره ودریدې نو هغو سورلیو به زیارت ته له ورا دعا کوله کومو به چه په لارې کښې پخوا هم سفر کړې و او سترګې ئې پخې شوې وې مګر نوکې سواره

(c) ketabton.com: The Digital Library



به تل په منډو منډو د شهيد زيارت ته په خپله ورتلل او د خير سفر به ئې ورنه غوښتلو د ګړنګ وېرى به تل په دې دعاګانو کښې يو خاص تاثير لرلو..

طبيعى ده چه سورليو به د نذرانى په ورکړه کښې د هر چا نه زياته ميړانه ښودله. د ملنګ عائدات ورځ په ورځ زياتيدل د هغه په کړه وړه کښې کوم پدلون رانه غى مګر شتمنى ئى پټه پاتى نشوه ګروى ئې واچولې، واده ئې وکړ او ماو تا ته ئې پټ پټ قرضونه هم ورکړل. خان صاحب خو زيارت ته پوره عقيده لرله، مګر د ملنګ دومره ترقۍ ورله خوند ورنه کړه. د يوې خوا نه د ده خپل اقتصادى حالت چندانى ښه نه و د بلې خوا نه دا خبره هم بايد په ياد ولرو چه د ده خانى د خلکو په احتياج ولاړه وه نو د دغه رفع کول د ده نفوذ ته صدمه رسول و، برسېره پر دې د زيارت جم و جوش د ده حجره او د يره هم ماته کړې وه.

هر څومره چورتونه به ئې چه ځان سره وهل د دغه کار تدبير ئې نه شو جوړولې او دا په شا راوړلې بلا يې نه شوه ورکولې.

شپې او ورځې، جومې او مياشتې خان صاحب په همدغه فکر بوخت و، او د خپلو تجربو په درياب کښې ئى د دې معمې په حل پسې غوټې وهلې.

(۴)

د خان صاحب د کلي نه يو څو ميله لرې نمر خا ته خواته ځوړې کې يوې درنې لارې تېل خلاص کړه. په هغو سړو شپو کښې چې د لاريو شمېر هم کم و، د ماښام تر تيارو پورې هېڅ موټر پېښنه ونکړه. د شپې د پاره سورليو يوې کوټنۍ ته ځان ورساوه او هلته پرې وتل. سهار چه را پاڅيدل يوازې د غاړې جامې ئې په ځاى وى او نور ترى هر څه غلو وړى و. خبره طبعاً حکومت ته لاړه او د هغه ځاى نه سپاهيان او اوالدار د خان صاحب کلي ته راغلل او د ده په حجره کښې ئې د تحقيقاتو ټغر وغړاوه چه وهل او ټکول او نورى ټولې بې شرمۍ ورپسى

(c) ketabton.com: The Digital Library



را روانی وي او الدار خان صاحب ته وویل: «غله را پیدا کوي او که مونږ پخپله ورپسې بهړی ووهو ؟».

خان صاحب د سپاهیانو خرڅ ورکړ او وعده ئې ورسره وکړه چه که په درې شپو کښې ئی د سورلیو کالی پیدا نه کړل او غل ئې حکومت ته ونه ښود ، نو بیا د هغوی خوښه چه د ده دهقانانو او ولس سره هر څه کوی.

سپاهیان لاړل خان صاحب د کلی خلک را ټول کړل او ورته ئې وویل: «هلکو ! دا غلا به ضرور پیدا کوئ، غل په تاسې کښې دی دلته خو د اسمان نه ځوک راتلې نه شي. هر څه چه شوی خیر دی غلطي له هر چا نه کېږی، توبه وباسئ او ځان د حکومت د بازخواست او د اخرت د بدی ورځې نه بچ کړئ. زه به هم ستاسې په ګناه لمن وغوړېږم هر چا چه مال اخیستې وی ببګا ته دې د شهید په زیارت واچوی او ځان دې هم نه ښیې، زه به پخپله د سپاهیانو او د حکومت چاره وکړم». د ماښام تیاره چه ټینګه شه، خان صاحب خپل یو نوکر مکلف کړ چه زیارت د غرونو کوم ډډ ته پټ شي او که چا څه را وړل او هلته ئې واچول نو دی دی پری فوراً خبر کړی. شپه د نیمې نه اوښې وه، چه د تیارو د ګبدې نه یو ځوک را ووت او یو دوه اوږدو پېټې ئې په زرات کښې ګوزار کړل او خپله لارئی ونیوله.

د خان صاحب نوکر په منډه هغه خبر کړ او هغه دواړه یوه رقعه حکومت ته ولیکله چه غل د ماله سره پیدا شو سپاهیان د سهار په خړو کښې را ورسېدل او خان صاحب د ګوتو نه ونیول او په مال ئې ودرول او بیا ئی د ملنګ د کوټنې په دروازه ورننویستل. د ملنګ متې هماغلته وتړل شوې او مخ په حکومت روان کړی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (۵)

خان صاحب چه د ملنګ نه خاطر جمع شولو د زيارت اداري او تنظيم ته ئې پام شو. د ده لومړنی اقدام دا و چه زيارت يی «مصادره» کړ، فوراً يی خپل يو ببر ږيری نوکر ته امر وکړ چه د زيارت يوه ننبه د لاريو د سرک په سر ودروی. جنډه لکه کړی، د وسپنې پنجه او سره ټوټه ورپورې وتړی او يوه کوډۍ جوړه کړی او ډېرې رنګينې ټوټی ورپورې غوته کړې. دا کار چه تمام شو خان صاحب نوکر ته وويل چه اوږدې جامی واغوندی سر او پښې لوڅی کړی او په کړډۍ کښنی ديره شی، هر يوه لاری چه راځی غږ دې ورباندی کوی چه: «يا الله خير... سفر بی خطر» د اصل زيارت د پاره هم خان صاحب يوه چاره وسنجوله.

د ده يو سر تنبه امام و چه هغه د لاريو سرک ته د زيارت د مرکز د نقلولو سره چه د خان صاحب اصلی آرزو وه شديد مخالفت وکړ.

د خان صاحب او د هغه تر منځه ډېری مباحثی وشوې چه تقريباً حاصل ئې داو:

د خان صاحب: دا زيارت که د لوی سرک په سر جوړ کړو. «ډير خلک ورته رسېدی شی او برکت به ئی هم مسافرو ته رسيږی او هم د کلی خلکو ته.»

ملا صاحب: زيارت د چا په خوښه نه جوړيږی. دا شهيد رحمت الله عليه همدلته پيدا شوی او همدلته ورباندې قبر جوړ شوی دی.

- دلته خو نه دی پيدا شوی خدای خبر چه اصل کښې ئی قبر چېرته و.

- خير خو مبارک هډوکی ئې همدلته پيدا شوی دی او شعری مسئله دا ده چه د يو قبر خوځول بی ضرورته جايز نه دی.

- دا هم يو ضرورت دی چه خلک ورته ښه ورسېږی.

- نه داسی نه ده ضرورت په کتابونو کښې په خپله بيان شوی دی.

- د نبی آخر زمان عليه الصلواة و السلام په شروع کښې هېڅ بی بيانه نه دی پاتی شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- طريق عام يو شرعی ضرورت دی.
- طريق عام يعنی څه؟
- لويه لار.
- ولی هغه باچهی سرک تا نه لويه لاره نه ښکارې، که څنګه؟
- نه مطلب دا دی چه يوه عامه لاره په يو قبر راشی نو هغه ورته ورانيدلی شی.
- استغفر الله ! لويه ځوانه را اورسيږی. چا ويلی چه مونږ د شهيد قبر ورانوو. مونږ فقط د همده زيارت هغلته د هغه لوی سرک په غاړه جوړوو.

دا کار په شرع کښې ناروا دی.

دا خو د شهيد درنښت دی. شهيد برکت په خو هر ځای کښی يو شان وی څه دا ځای او څه هغه ځای ته په شرع کښې فلسفی لتوې او په خپل فکر پسی ګرځی ستا په دې کښې نور کار نشته دا ځمکه هم زما ده او هغه ځمکه هم زما ده زما بابا مشر خان دې خدای پاک غرق رحمت کړی هغه به ويل چه د هغه کوز ورسک څخه را پورته او د هغه بر ګړنګ څخه را ښکته د اسمان هم زمونږ دی.

ځمکه زما ده او شهيد زما دی چه هر چيرته يې ښخوم، ستا پکښې کار نشته.

ښه ده ځمکه خو ستا ده، ګورو به چه څوک د نبی د شرعی پوښتنه هم کوی که نه.

دلته خان صاحب څه لږ غوندې ډيل وکړ. دی چه يو تجربه کار سړی و، د ملا صاحب د اخطار په معنی پوره ورسيد.

دواړه ئی په ذهن کښې غټی غټی سپينې سپينې پکړې نری نری تبرګی او تر اوږو پوری څنی وګرځيدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د طالبانو د قوت او هیبت د تخیل نه دننه ولړزېد ، مګر ملا صاحب ته یې په ښکاره هېڅ وارخطایی ونه ښوده همدومره یې وویل ښه ده ګورو ، به چه څه کېږی سبا له به سره بیا خبرې وکړو.

خان صاحب او ملا صاحب په دی سره جوړ شول چه د شهید ګټه وټه دې د دواړو شریکه وی. ملا صاحب به دا خبره د نبی په شرع برابره وګڼی چه خان صاحب د لاریو د سرک په سر د شهید جنډه او پنجه لګه کړی او یوه ښه معتبر نمایندګی پرې تاسیس کړی د دغی نمایندګی ټول کنترول به د خان صاحب په (ید با کفایت) کښې وی.

ملا صاحب به د شهید د اصلی زیارت په هغه کوټنۍ کښی واړوی چه ملنګ ورنه لاس تړلی زندان ته بوتلل شو.

هر څوک چه په دغه اصلی زیارت پېښېږی کوی د هغوی شکرانې او نذرانی به د خوړ د سیلاب د ورځو په شمول په ملا صاحب پورې تعلق لری.

(۲)

د خان صاحب دپاره د لاریو په سرک باندې د زیارت نمایندګی د سپینو او سرو ژرنده وه ده به شخصاً د هغه ځای اداری او تنظیم ته توجه لرله او کله کله به ئې سرک په غاړه کټ واچولو او په ډېره مزه به ئې هرې لارۍ ته کتل چه د زیارت په جنډه او کوډی به هرومرو ودرېده او موټروان به ئی نوټ او سورلیو به ئی میده پیسی د مجاور (د خان صاحب) د پخوانی مزدور خوا ته ورګوزارولی.

په موټروانانو او سورلیو کښې دا خبره منل شوی وه چه د دغه نا اواره سرک او د دغه بیحسابه پیچومو او مخصوصاً د هغه هیبتناک او خونړۍ ګړنګ نه په سلامتی تیریدل بی د دغه شهید د برکت نه ناممکن کار دی.

خان صاحب په ځمکو باندې نوی کلاګانې واچولی اسونه ئی واخستل شاړی ئی په تقاویو باندې آپادې کړې او دبدبه ئی بی حسابه زیاته شوه، له

(c) ketabton.com: The Digital Library



حکومت سره ئې هم قدر زيات او روابط ئې ټنيګ شول او نور نو د چا مجال نه و چه د ده مخې له ورشي.

(۷)

ډير کلونه پس د سرک مخه وګرځيده. دا سرک نور متروک شو او يو بل نوی سرک جوړ شو چه نه پوهېږم په څه شی کښې د دې زاړه سرک نه ښه و ، مګر حقيقت دا دی چه اوس لاری په هغه بل سرک ځی.

خان صاحب ډېری ورځی غمجن و ، مګر اخر ورته دوستانو مشوره ورکړه چه د شهيد برکت خو لری او نژې يو رنګه وی نو ولی خان صاحب همدغه د زاړه سرک د سر نمايندګی په همدی کم او کيف د نوی سرک سر ته نه نقلوی.

د خان صاحب دا خبره بيحده خوښه شوه او يوه ورځ يی پخپله نوی سرک ته تشريف ويوړ. و هلته يې د غره په اوچتو کمرونو کښې د سرک په سر د ډيرو هيبتناکو ګړنګونو په منځ کښې يو ځای خوښ کړ چه د زيارت نمايندګی ورپاندی بنا کړی لړې ورځی وروسته خان صاحب ته معلومه شوه چه د نوې نمايندګی حاصلات نسبت پخوانۍ ته زيات دی نو بيا ورباندی همدغه سرک چه يوه ورځ ئی ورته د دښمن د حملی د خط په سترګو کتل د لنګې غوا غوندې ګران شو.

زمانه هم عجب کارونه کوي يوه ورځ خان صاحب خپلو دهقانانو ته وويل: په دغه سرک کښې چه هر ستهک يوه نيزه ماتوی لکه زما په کوپړۍ چه ګوزار کوی.

د نمايندګی حاصل چه منظم شو نو يوه ورځ خان صاحب ته چا پيشنهاد وکړ چه د هغې امتياز په اجاره ورکړی.

اوس د خان صاحب خاطر د پخوا نه هم لا ښه جمع شو او هر کال ډيرې روپۍ د دغې نمايندګې د اجاې نه د ده په خزانه کښې زياتيږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۸)

شپه ده او د خان صاحب په حجره کښې ډېر خلک ناست دی.

د چلم د لوګو په ډډوزو کښې په یوه پالنګی کټ کښې خان صاحب پلتۍ وهلی ښکاره کېږی، په بوندۍ سپینه ږیره کښې ګوتی وهی او ډېر په فکر کښې ډوب معلومېږی، د کټ بازو ته یوه کوچی تکیه وهلی چه همدا اوس ئې خپله قصه خلاصه کړې ده معلومیږی چه یو نوی سرک، جوړ شوی او هغه د دې ځای نه ډېر لرې دی.

ګړنګونه خو په هغه کښې هم شته، مګر نه ترې دغه کلی ښکاره کیږی او نه د زیارت غزونه.

خان صاحب د قصې د خلاصېدو نه وروسته اول خپلو کلیوالو ته وویل:

«زما په دې خبرو باور نه راځی» او بیا ئې د نوسرکونو د جوړولو «اضرار» بیان کړل او وریسی ئې د «اسراف او تبذیر» په ذم کښې ډېرې مقولې، احادیث او آیتونه را نقل کړل. او د نوی سرک د مصارفو اټکل ئې هم کروړونو روپو ته وخېژاوه په حاضرینو کښې یو چا وویل: صاحب اول خو به خدای پاک دا خبره دروغ کړی او که بیا خدای ناخواسته رښتیا وه نو په هماغه سرک به د یو ګړنګ په سر د زیارت دپاره یوه کړېدۍ جوړه کړو شهید څه لرې او څه نژدې، قربان ئې شم برکت ئې هر چېرته رسېږی او که دا ځل ستا مهربانی وی نو زه به ئې په اجاره واخلم. د شهید د قبر پوښتنه نو څوک کوی چه چېرته دی.

د خان صاحب تندی ورو رو روښانه کېدو چه اخر ئې یو تبسم هم په شونډو ښکل شو، دا تبسم د یوې ډېرې زړې خاطرې د رایادېدو نه پیدا شو خان صاحب کلونه کلونه پخوا خوب لیدلی و چه یو بختور سړی راشی په سر ئې لاس راکاږی او ورته ووائی:

«بچیه خدای دې په ځمکه کښې برکت پیدا کړه».

(c) ketabton.com: The Digital Library



میراجان سیال:

# مړاوی ګل

په دې نژدې ورځو کښې مو د یوه صاحب د ناروغتیا واورېده نو د هغه پوښتنې ته د یو دوه نورو ملګرو سره روان شوم.
هلته چه ورېدو د دروازې د ټکولو سره سم د صاحب نوکر راغی او مونږ ته ئی د انتظار د خونې رهنمائی وکړه، لږ ساعت وروسته بیا نوکر راغی او مونږ ئی د صاحب آیینه خانې یا ګل خانې ته بوتلو.
دا ځای ما ته بېخی نوی ؤ ځکه داسې ځای مې کله نه ولیدلی.
د کوټې ساز و باز لا پرېده عجیبه خو دا ده چه په دې سره ژمی او کړنګه ځله کښې چه شین بوټی اېونه ښکاری دلته راز راز او ډول ډول ګلان او شنه بوټی و.
زه دې نوې عجیبه نظارې ته حیران شوم چه دا ګلان څه رنګ شنه او تازه پاتې شوی دی؟ خپلی دې حیرانتیا او بې خبرۍ پوښتنی ته اړکړم نو له یوه ملګری څخه می پوښتنه وکړه دا څه رنګ چل دی؟ چه نور، هر څه وچ دی او دا ګلان شنه او تاند پاتی دی؟ ملګری وویل چه لږ شانتې سترګی وغړوه او ووګوره چه د دې ګلانو د ساتنی دپاره څومره بندوبس شوی دی، لاندې باندې دا د هنداری کوټه او په مینځ کښې یې لګیدلې تودنیۍ. دا خو ستا کور نه دی چه د ډاک ژرنده ترې ډیره ښه سودمنه ده.
دا خو د ... صاحب کور دی، کور!
ایمان دی نصیب شه! خلک داسی ژوند کوی، ژوند خو د ېته وائی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي کښېې صاحب د خپلو ګلانو په ليدلو او پلټنو پيل وکړ خو ناڅاپه ئې په يوه مړاوی ګل سترګی ونښتې او مؤظف نوکر ته ئی وويل چه دا ولې؟

ته د څه دپاره يې؟ دا ګل ولی مړاوی دی؟ او څه پرې شويدی؟

ښه ده ! بخت دی ويښ دی چه دا ميلمانه ناست دی چه دوی ولاړ شی بيا به زه له تا سره ګورم.

صاحب په قهر کښېې ډوب د خپل نوکر په د ګلو بوخت و، ما ډېر ورو خپل ملګری ته په غوږ کښېې ووېل:

ګوره ! چه د ګل د مړاوی کيدو پوښتنه دا صاحب کوی نو د دې سړی د زړه د مړاوی کېدو پوښتنه به لوی خاوند نه کوی څه؟

ملګری راته ووېل چوپ شه دا څه لګيايی ! څوک به د ګل په مړاوی کيدو ماليار نه دګی څه؟ ما ويل خو زه هم وايم چه د سړی په مړاوی کيدو به پاک خدای څوک نه ترټی څه؟ هغه ووېل ګل خو ګل وی او خاوند لری.

ما ويل دا هم سړی او د خدای مخلوق دی کنه او لوی خاوند لری.

په دی کښېې صاحب ناڅاپه د ميلمنو خوا ته مخ را وګرزاوه او زمونږ د يوه ملګری سره ئې مخاطبه شروع کړه خو زه په دغه وخت کښېې د رنګارنګ خيالاتو په طوفان کښېې په دې فکر ډوب تللی وم او په زړه کښېې می دا تېريده چه ارمان په دنيا کښېې د مړاوی ګل په اندازه د مړاوو او خپه زړونو پوښتنه هم کيدلی نو د مظلومانو چغې او د ظالمانو د کردار د کرکی نه ډک او زړه غوڅوونکی مناظر به چا نه ليدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ارسلان سلیمی:

# غازی محمد جانخان

د عیسوی حساب ۱۸۷۹ کال و په دغه کال کښې د کورنو جګړو ځپلی او استعمار ټوټې ټوټې کړې افغانستان د پایتخت (کابل) په عسکری منصب دارانو کښې (د محمد جانخان وردک) په نامه د توپ خانی یو جرنیل و چه وروسته بیا د غازی محمد جانخان په نامه مشهور شو ده له خپل ملک او خپل ولس سره بې اندازې زیاته مینه لرله...

دا وخت د غربی استعمار ښامار د هند لویه او ارته مځکه د خپل ستونی نه تیره کړې وه او خوله یی د ګران افغانستان نغرلو ته هم را اچوله پیښور او کویټه یی ترې شوکولی وو او د خیبر او بولان د هضمولو په هڅه کښې وو...

د افغانستان په زړه (کابل) کښې د سرو ګوره ګانو فوځونو غوبل جوړ کړی و...، د ټول ملک د تباهی او د ټول افغان ملت د ابدی غلامۍ او مریی توب سخت خطر و... پادشاه د خپلی کمزورۍ په نتیجه کښې د پیرنګیانو په لاسو کښې بندی و او د واکمنې کورنۍ د افرادو تر منځ به ملک کښې د واک اختیار د خپلو لو په غرض نه ختمیدونکی جګړې روانې وې.. د یوې کورنۍ د افرادو د ځانګړو او شخصې غرضونو د سرکولو دپاره په ټول ملک کښې د بی اتفاقیو او شخړو اور بل و... انګریزی استعمار هم د خپلی کامیابۍ په غرض دغه اور ته ببوزی واهه او هغه د لوګی د پردې تر شاپله پسی را وړاندې کیده او د لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اما کمزوری شوی افغانستان د وجود نه يې ټوټه ټوټه بيلوله او د خپلې هندی مستعمرې په پيخکو لمنو پوری يې ورتپله..

په داسی خطرناک وخت او دا راز تياره محيط او محاول کښې ځمونږ ځلی جرنيل (محمد جانخان) د خپلی مقدسی عسکری وظيفې او د خپل ډېر درانه مسؤليت احساس د اشتعال داسی درجی ته رسولی و چه د قام او ولس د ډيرو ساده مغزو او مړو احساساتو لرونکی افراد يی هم په شور ورسره راوستل..

زلمی جرنيل لاان د هغه وخته دغه خطر ليد چه د پيرنګی فوځونه کابل ته نه وو را رسيدلی دی به ډېر ځله په نيمه شپه کښې په ډېر اضطراب له خوبه را پاڅيد خپلو توپونو ته به ورغی پاکول به يی لاسونه به يی پری وهل او ښکلول به يې.. کله به يې د نيمی شپې په تپه تياره کښې چه واوری به هم وربدلې خپل توپونه را ويستل يوی بلی خوا ته به يې ګرزول په لوړو به يې خيژول غرونو ته به يی پورته کول او بيا به يی کندو او ژورو ته کوزول.. خلکو ته به د ده دا شان کارونه نا آشنا او د ليونو شانته ښکاريدل او په مطلب به يې نه پوهيدل.. خو حقيقت دا و چه د جرنيل محمد جانخان زړه د خپل لوی افغان او ستر افغانستان د ټکړی ټکړی د خطر په را رسيدو دومره پريشانه او مضطرب شوی و چه شپه او ورځ او غرونه او کندې يې په نظر کښې يو شان ښکاريدل.. د هغه سره د خپل ځان او خپلی کورنۍ غم نه وو هغه د کوم مقام او موقعيت يا د کومی رتبی او درجی د ګټلو خواهش نه درلود.. د هغۀ فکر او ارزو دومره لوړ او عالی و چه دا شيان ورته ډير سپک او حقير ښکاريدل.. د هغه سره د ټول ملک لوی افغان او ستر افغانستان غم و... هغه ته ځرګنده و چه د ملک ننګ شرافت او آزادی تر اوسه هم د ټول افغان د اتفاق متحد مټ په زور ساتل شوی او اوس هم د ټول افغان د متحد مټ زور په کار دی چه د خپل پلار نيکه ټاټوبی وساتی او افغانی پګړۍ پرې نږدی چه د انګريزی استعمار د اسونو په پښو کښې په مځکه پريوزی..

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمونږ غازی جرنیل د (ګوربت) نومی غره په لمنه کښې زیږیدلی او لویږدلی و او غوښتل یې چه د (ګوربت) یعنی (عقاب) په څیر خپل ټاټوبی او وطن د خپل ګران ولس او لوی افغان آزادی وساتی.

جرنیل محمد جانخان تر هغه وخته لا ځینو ساده ګانو ښه نه پیژاند چه تر څو د افغانستان ښکلی او ګران مرکز (کابل) د انګریزی فوځونو د اسونو تر پښنو لاندې شوی نه و... په دغه وخت کښې د زلمی جرنیل د صبر کنډول بیخی ډک شو ځکه چه په ګران افغانستان کښې استعماری پوځونو غوبل جوړ کړی و، د ده ښکلی توپونه د بابر د غونډۍ په سر کښې و او د دښمن په لاسو کښې او دی د کابل نه لرې د (وردګو) په منځ په خپله کلا کښې د ملک نه د دښمن د شړلو او خپل قام او ولس ته د نجات ورکولو په فکر کښې ډوب و... دلرې نژدې ځایو څخه د افغانی ځلمیانو «ډلی ډلې د جرنیل ځای ته ورغونډیدل او په دې ترتیب د استعمار نه د وطن د نجات دپاره لوی لښکر جوړ شو... د لښکر شمیر چه د شلو دیرشو زرو کسو نه زیات شو او جرنیل ته دا یقین وشو چه د هیواد نه د دښمن دشړلو دپاره کافی ځلمیان غونډ شویدی نو یی ډیل ونه کړ او سم د لاسه د کابل په لور روان شول...»

د غازیانو او استعماری فوځونو ترمنځ پله پسی او ډیر خونړی جنګونه وشول خو دښمن بالاخره د جرنیل د لښکرو سیلاب ته ټینګ نه شو او داسی ماتی یې وکړه چه بیا یی د همیشه دپاره (کابل) ته شا واړوله..

دا وخت هر چا ته دا حقیقت پوره پوره څرګنده شوه چه غازی محمد جانخان لیونی نه بلکه ریښتینی هوښیار دی ځکه هغه د دغه وطنی جنګ په ګټلو سره دا حقیقت څرګند کړ چه د ټول افغان سره یو کیدل او د یوه مقصد دپاره په یوه لاره روانیدل دومره لوی او ستر طاقت دی چه په هر ډول اړیکیو او مشکلاتو بریالی کیدای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګلاب ننګرهاری

## نوی کال

نوی کال نوې آرزو، نوی ټکل، او نوی ژوند څومره خواږه ټکی دی...
پنیادم په نوی څومره مین دی زړه پسخوی شوق پاروی او اعصاب تخنوی.
انسان تحول پرست دی... ځکه چه طبیعت د تحول مورده...
نوی د زاړه تحول نه پس راحی ځکه خو:
انسان تحول خوښوی.
دا دنیا د تحول ده تحول باندې ودانه.
خوږ او تریخ به څنګه پیژنی...؟
تور او اسپین به په څه شان بېلوی او د نوی، زاړه فرق به په څه راځې...؟؟
په تحول!
نوی کال یو تحول دی... بهار یو تحول دی... او د زاړه د تحول نه وروسته یو نوی تحول دی.
نوی کال.
نوی غم که نوی خوشحالی؟؟ که څوک وغواړی که نه!... او د چا زړه ښه شی که بد... خو طبیعت خپل پخوانی چیلنج یعنی د زندګۍ زوړ سوال په کال کښې یو ځل نوی کوی.
پسرلی د ژوندانه د شباب د غروضې موسم دی، په دی عظیمه مظاهره کښې د طبیعت د تخلیق ټولې نمونې د دې سوال اوربدو دپاره حاضرېږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په چا غم وی... په چا ښادی وی... ځوک ژاړي او ځوک خاندی... خو فضا ورته داسې په ننداره کښې وازه خوله حېرانه او وارخطا وی لکه د انسان لاس ته د طبيعت ګريوان په يوه کال کښې د بهار او خزان دوه انقلابونه د طبيعت دوه سترګی دی داسی دوه سترګې چه په يوه ژاړی او په بله خاندی.

پسرلی او منی د ژوندانه دوه تصويرونه دی.

د چا په زړه کښې چه آرزو او مينه ده او په سينه کښې ئې د ژوند د مينې ګرمی ده نو د هغه د اميدونو غوټۍ سمسور او زيړی ګلونه دی. خو زار د هغو چه سرد جوش دی، د هغوی د ژوندانه پاڼې زيړې شی او ورژيږی.

هغوی چه په زړونو کښې آرزو او د آرزو دپاره دقربانۍ اراده او د متهو طاقت نه لری د غوټۍ او ګل د لطف او کيف نه بېخبره دی. ژوند د هغوی دپاره غم او د اوږو پېټی دی. او ځکه خو د دې ټول عرصات له خوا په مرګ او فنا محکومېږی.

کوم ژوند دی چه په بهار کښې خوځند او هنګامه خېز نه دی.

پسرلی د نشاٌت طراوت او سينګار يو داسی متحرک موسم دی چه پکښې وچ خوړونه وبهېږی...

سيندونه څپاند او طوفانی شی... د ښايسته ګلونو او کوکيو بوټی په مزه مزه د ارتقا مزل را واخلی غوټی شی، ګل شی، سترګی وغړوی... دنيا ته وګوری... ځانته مخ واړوی... ومسېږی او د خپل جمال په نشه کښې په قهقهو سر شی:

قطره او شبنم د ځمکی اسمان د عالمونو منځ کښې د باخبرۍ ساتلو دپاره څنګه ستړي او خوځنده ده.

پيغلې د ځومره رنګينو او ګلپو شو ارزوګانو په پدرګه ښار سپيره پرېږدی او بيديا ښار کاندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نسیم د رنګونو د قافلو نه د خوشبوئی جوپې بار کاندی او فضا ټوله شرابی شرابی شی.

حرکت د خیر او برکت دوهم نوم دی... ولی ښه حرکت... منظم حرکت حسن او جمال ځو مره شوق انګیز دی...

بی شرابو مستی د جمال خاصه ده... بی اوره سیځل د حسن کار دی او بې تیغه حلالول د ښکلا جامه ده.

بهار په آرزوګانو کښې نوی کشش واچوی... نوی شوقونه مست کاندی. صبر و قارېږی او د خود داری فال بدل شی.

هر ګل ته د یار د سترګو کتل، هر تاک ته ګیلاس نیول... هره سپوږمۍ د یو شرابی شباب د رقص نندارې ته رابلل... د هر ګلبوټې سیوری د یوې ګلعذاری د راز و نیاز دپاره خوښول.

هر چمن د یو جانانه ګلګشت فرش ګڼل... هر آپشار ته د خپلو شبابی تقاضو بهېر ویل آزاد او معصوم ستوری دیو مغرور حسن د غاړی په هار کښې بندول... د پسرلی دا عالم عالم کیفیتونه د چا د شباب ترانه خیالول... او د طبیعت دا ټولې رنګینۍ د یوې شهۍ د ښکلا تصویر فرضول د داسی نړېدلې رومانی دنیا کاینات دی چه هغه اوس بالکل بوډۍ ده او مخ ئې د لیدلو نه دی.

نوې دنیا نوې لیلاوې لری... د بهارونو کاینات د دې لیلې په زلفو کښې ګیر دی.

د دې لیلی د وصال شرط ډېر ساده او بسیط مګر همت ازمای دی.

د ژوند مینه... د ژوند آرزو... د قربانۍ جذبه... د همنوعۍ احساس، د مسئولیت خیال ژوندی زړه... د اخلاص رڼا... او د یقین رهبری د یو قوی حرکت په ملګرتیا... داسې حرکت چه منظم وی او پس له غوره فکره وی ځکه چه: د بهار حرکت پس له کاله وی...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دی د نوې لیلی د وصال شرط، د دې شرط په پوره کولو کښې ای قامه ولسه ! ! ای د قام او وطن شاعره ! او ای د ملت رهبر او لیډره ! ! شاته مه ګوره، زاړه غمونه مه شماره، د نویو خوشحالیو فکر وکړه.

چا ستا د آرزوګانو حوصله افزائی وکړه؟ او چا ستا د حق په ځای کښې په کلمه ګوتی کېښودې.

وطن د یو ابدی او بې خزانه پسرلې انتظار آرزو کوی. د پښتانه بابا لکونه ځامن پخپلو خولو کښې ډوب دی او پخپلو غوړو کښې پخېږی؟ هغوی پسرلی ته نشی کتی؟؟ د هغو د پیغلو برخه په دې بهار کښې نشته؟ دی ته خپه ئی !؟؟ دا ډېرې آسانی خبرې دې... دا ټولې خبری ستا په عزم ارادې او ستا په آرزو او حرکت پورې غوته دی.

بهار به د هغوی کاله ته سلامی ورشی... د پسرلی ګلونه به د هغوی د پېغلو زلفې څه چه پښې به ئی ښکل کړی خو که چا یو ځل د نوې لیلی زلفو ته د زنګلو دپاره ځان ورساوه.

ولی که داسی ونه شی نو، پسرلی د طبیعت د اړخ یو معمولی بدلون و، راغی او تیر شو... د تاریخ د پګړی یوول زیات شو... د سینما د یوې پردې ننداره دی وکړه او پناه شوه... دنیا لکه څنګه چه ټول عمر په ځان پورې خاندې... هر سهار د ندامت او پښیمانۍ نه ګریوان څیروی... هر ماښام پخپله بده ورځ ماتم کوی، دغسی په کال کښې یو ځل تا پوری هم خاندی، دې خندا له د فرشتو د عصمتونو ناموس د جنتی حورو د ښکلا پیغمبران او د طبیعت خلقتونو شهکارۍ او رنګینۍ راولی د دې خندا ختم په ژړا دی خو هغه وخت مو هیڅ د لاسه نه کیږی او لاس تر زنې به ناست یو...

| | |
|---|---|
| د ستورو د لمر سلا ده وینښ شه ! | د سرو ګلو اقتضا ده وینښ شه ! |
| سیلۍ به دې واړه ساګ یوسی | ای بیخوده نامراده وینښ شه ! |

کابل - ۱۳۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېک محمد «پکتياني»

# پښتنه مېرمن

شيرين زمونږ د کلي يو دروند سپين ميری و، ښه شته ئې لرل، په خپل چم ګاونډ کښې ئې نوم لاره قرض دار او احتياج نه ؤ، په خپل محيط کښې د مځکې او مال له خوا پوره ؤ، د مېلمه عزت او ډوډۍ ته ښه رسيدلی شو، د خوار، غريب سره يې مرسته هم کوله. شېرين سپين ږېری و او اخر چه انسان په کومه لاره يون کوی، ده هم وکړ يوازې يو زوی چه يار دل نومېده ورڅخه پاتې شو.

ياردل مروجه لوست کړې و، او په خپل محيط کښې د سواد خاوند او د رحمان بابا په ديوان ډير مين و.

د ياردل ځواني هم ځوانې وه، ميلمه پالنه، د خپلو سره ښه ګذاره او سلوک، خوږه ژبه، وېره تېنده او ښايسته خندا او ښه به تل له ده سره وه.

د پلار له مړينې نه وروسته خپلو خپلوانو ياردل ته د واده کولو خبرې کولې ياردل به په خندا ورته وويل چه واده کول اسان کار دی، مګر دا د عمر مسئله ده په دې کښې فکر کول په کار دی چه بيا سړی په خپلو کړو پښېمانه نه وی او مونږ پښتانه خو دا عنعنه لرو چه بيا ښځه پريښودلې هم نشو د يو کال نه وروسته زمونږ د کلي نه تقريباً څلور ميله برېه (اتماني) کښې ياردل چه په څه پسی ګرزيده هغه ئې بيا مونده، يارګل (تماس) ته ځو جرګې ور ولېږلې او د ده لور يې وغوښتله او اخر کښې ئی د رسم او رواج سره موافقه راغله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یاردل اوښکې واده زما په زړه دی ځکه هغه وخت زه کمکی وم او مونږ همزولو دومره خوشحالی او مستی پکښې کړی وی چه حساب یې نه ؤ.

دا می هم په یاد دی چه زه خپله هم له (خېښې)[1] سره اتمانې ته تللی وم او په سبا د تماس تره مونږ ته لونګۍ راکړې او بېرته کوروته راغلو.

د واده ورځ می ښه یاده ده څه وخت چه له اتمانی څخه مو ناوې له ورا سره راوستله د لارې د کلیو ښځې به را ووتلې او د ناوې مخ به ئی کوت، مونږ واړه خو آزاد وو مونږ به هم د ښځو په ډله کښې د ناوې مخ وکوت او رښتیا چه ناوې د ناوې توب په دړیو او سرو شنو ټکریو او رویمالونو ښومره ښه ښکاری او پسول ئی څومره د خوند آوازونه کوی چه هیڅ ساز او موسیقی کښې هغه کیف او مزه نه وی.

ښځو به چه د ناوې مخ ولیدنو وبه ئې ویل چه:

د ګل غوندې ښایسته ناوې ده، د مور د پروزی شی مبارک شه...

هغه شپه چه ناوې کلی ته راوړه شوه ډمانو سازونه او سندرې غږولې، زلمیو او سپین ږیرو او ښځو او جنکیو اټنونه اچولی و او له داریا سره یې بدلې ویلې. مونږ هلکان خو بیخی مست وو، هری خوا ته منډې تړې وې ښې او فکرونه یو مخیز د خوښۍ خوښۍ وو.

کله به مو د سندرغاړو آواز او سازو ته غوږ نیوه او بیا به مو د اتڼ ننداره کوله او کله به د ښځو په اتڼ او بدلو ورګډ شولو هغه شپه تر سبا پورې د خوشحالیو او مستیو حساب نه و.

1– خېښه یو پښتنی دود دی چه له واده نه یوه هفته مخکښې د زوم کوره یوه نژدې مېرمن چه اغلب خور، ترور یا داسی نژدې له پنځلس شل کسو سره د ناوې کره ځی او د خېښی وظیفه دا وی چه د ناوې د راوړو ترتیبات نیسی خېښه د ناوې تر راوړلو پاتې کېږی او ورسره تللی نفر سبا بېرته کور ته ځی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نکاح شپه مې هم ښه یاد ده چه اخوند صاحب په مجلس کښې حاضر و، له شاهدانو څخه ئې پوښتنې کولې او بیا وروسته ئې څو ایاتونه ولوستل او نکاح وتړله شوه او هریو به یاردل ته مبارکی ورکوله.

یاردل او ښنګښه ډېر سره خوشاله و او له خپل ژونده دومره راضي و او دومره یو په بل مین وو د ځینو خو به رخه راتله شاید د طبیعت هم رخه پیدا شوې وی ځکه چه طبیعت تل د خوښیو سپینې پریکوی...

یاردل د سپرلی ښه اس لاره، د ښکار ډېر شوقی وښکاری ټوپکونه او د هغه سامان به ئې له ځان سره ساتل د ښکاری ټوپک کارتوس په ده خپله ډکول، دارو، چرې او پټاقی به ورسره وې.

او چه کله به وزګار شو، نو بیا به ئې د کارتوسو په ډکولو پیل وکړ.

یوه ورځ په معمول ډول یاردل د کارتوسو ډکولو سامان له کوره واخیست او د کلی چوترې ته ووت چه هلته په کار بوخت شی.

چوتره د کلی سره جوخته سهیل ته واقع وه، د چوترې ساحه ارته وه ګڼ سپیدارونه ولاړو.

د چوترې د قبلې خوا ځینی حصه جومات وه، چه د محراب په ځای یوه تیږه هلته ایښودل شوې وه، د جومات په منځ کښې میده سال غوړیدلی و، داوړی او ګرمو ورځو کښې به لمونځونه هملته کېدل او د چوترې شرقي خوا د خبرو او مجلس ځاي و، زلمیانو به چلم دلته څکاوه او ګپ شپ به ئی لګاوه.

چوترې ښه ګڼ سیوری لاره او یو لښتی هم د ونو ښیخ ښیخ کښې پکښې تېر شوی و او د لښتی په غاړه د اودسونو کولو مناسب ځایونه جوړ شوی و.

یاردل هم د جوترې په شرقی خوا کښې د ونې لاندې په کارتوسو ډکولو پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاردل خو تل د کارتوسو د ډکولو کار کړی و، خو کله بده پېښه نه وه شوې او پدې ورځ یې هم په معمولي ډول د کارتوسو د ډکولو په کار لاس پورې کړ.

دا ځل... هو دا ځل... د یاردل د یو عالم خوښۍ او په زړه پورې د خوشحالیو ژوند، طبیعت نشو زغملی، د یوې پټاقۍ له چاودلو او جرقې څخه هغه دارو چه ورته پراته وو اور واخسته او داسې پېښه ورڅخه وشوه چه زړو ټکانونه وخوړل، سترګو اوښکې وپهولې احساسات ولړزیدل...

یاردل ډیره موده بستری و د ژوند تمه ئې زښته کمه وه،

خو بنګښې ئې داسی خدمت وکړ چه سړی ورته حیران شی شپه او ورځ ئې په ځان ترخه کړې وه او د یاردل د ښه کېدلو کوښښونه ئې کول څه موده وروسته یاردل مرګه بچ شو د کښېناستلو او ورپسی د ولاړېدو شو.

کومه ورځ یاردل خپل مخ په خپله مینځه خوچه لپه ئې په مخ را تېره کړه او د لاس په لمس ئې د مخ لوړې ژورې او د تلو سترګو کاسی ځانته معلومې کړې نو پوه شوه چه څه لوبې را شوی دی.

یو څو ورحې پس ئې بنګښې ته وویل چه:

زړه می غواړی چه پلار دې تماس کاکا او ستار وروڼه او زما د تره زامن یوه شپه مېلمانه کړو.

زه خدای له مرګه بچ کړم او ګپ شپ به هم ولګوو.

یوه شپه د بنګښې پلار او وروڼه د تره زامن د یاردل کره را ټول او د یاردل د ښه کېدلو شکرونه ئی کول.

دې منځ کښې یوازې یوه سینه وه چه په هغه کښې پټ طوفان او زورور شور جوړ کړی و. له ډودۍ خوړلو او خبرو اترو وروسته یاردل په خبرو شو او وئې ویل:

«د دې مجلس له جوړېدلو زما یو خاص مقصد و چه هغه زه تاسی ته ووایم، خو خواهش کوم زما خبرې به په سړه سینه او سنجش واورئ دا مقصد

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په نزد زښت مهم او حساس دی او امید دی، د عقل او فکر په بدلولو داسی نتیجي ته ورسېږو چه هم خدای خوښ وی او انسانیت ته صدمه و نه رسېږی» تماس کاکا پوښتنه ورخخه وکړه چه:

«هر څه چه دي په زړه کښي دی هغه موږ ته ووایه، مونږ به ئي ضرور واورو او په اطرافو کښي به ئي فکر وزغلوو. بیا به نتیجه ورخخه اخلو».

یاردل: «د تاسي شکر سترګی په ځای دی، زما اوسنی حال نشی درک کولی البته د کامی او خپلوی او انسانی عاطفي او احساساتو له کبله به زه ستاسی په نزد قایل رحم او د زړه سوی وړ یم، خو زما حال په خپله زما په نزد بل ډول دی.

ځکه ما سترګی لرلي د شپي د شنه آسمان په ستر سیند کښي می د ستورو سترګکونه لیدلی د سباوون شفق تر هغه وخته چه نمر به دغو ګیری⁽1⁾ نه پنا کېده او زړی وړانګي به ئي د سروتی⁽2⁾ او مچلغو په غره لاوی ما لیدلي، د ورځی په رڼا کښي چه تر کومه حده نظر لګی، هر څه به ما لیدل هغه وخت په دي خوند نه پوهېدم مګر اوس پوهېږ چه په دي لیدلو کښي څومره خوندونه و.

د سپوږمی په شپو به زه له کوره را وتلم په مزه مزه به پټیو کښي ګرزېدلم او له کیفه ډکو خیالاتو کښي به غرق وم او په زړه کښي به مي له سپوږمی سره رازونه او نیازونه کول او دا لنډی به می ویله:

سپوږمی د خدای روی می دروړی پهدوو مینو پسی مهوړه مشعلونه

---

1– غوګیری او سروتی د غرو نومونه دی.

2– غوګیری او سروتی د غرو نومونه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پسرلی نندارتون، د کوچیانو بهیرونه، د رمو قطارونه، د زانو پروازونه، د ښتو شنلیو د سرو شنو ژیړو ګلانو جم و جوش او مستی او داسی نور واړه ما لیدل.

زه ښکاری وم د زرکي او سوی ووړ حرکت به می هم ځاره.

زه په ښایست او رنګ مین وم د دنیا په کیف او رنګ او ښه او بد هغه ځوک پوهېدلی شی چه سترګی لری.

د رحمان بابا دیوان او نور کتابونه به زه څه اوس لولم.

اصلی ښکلا دا ده چه ما سترګی لرلای او هر څه می لیدلای، کاشکی له موره ړوند پیدا وای چه هېڅ نه وای راته معلوم نو هېڅ به می هم نه ولیدلی، ولی اوس خو زما زړه په سینه کښې دومره تنګی کوی چه هغه یوازې زه او بس زه درک کولی شم...»

تماس او نورو ورته وویل:

«یاردله ! زمونږ زړونه ولې ځوروې، البته خدای ته به داسی منظوره وه، بنده خو په هر حال باید صابر وی».

یاردل بیا خپلو خبرو ته دوام ورکړ وې ویل:

«یوه حساسه خبره ده پخوا به زما فکر له نظر سره هرې خوا ته پاشان کېده او هېڅ کله هم په سینه کښې داسی لکه بندی مرغۍ نه وراګیر شوی اوس زما فکر تل له خپل زړه او زړو خاطراتو سره دی، نو ما په پوره حوصله په زړه کښې فکر او سنجش کړی او له هغه څخه می یوه نتیجه لاس ته راوستلې او هغه به زه تاسې ته induced ووایم، ګوندې تاسی هم قناعت راسره وکړئ نو زه دې نتیجې ته رسیدلی یم چه د ځان د خوښۍ له پاره د بل انسان ژوند خرابول یا هغه ته صدمه رسول ظلم او له انسانیت څخه وتلی کار ګڼم نو دا څه انسانیت به وی چه انسان دې بل انسان سره ظلم او د هغه په حق دې تېری او د هغه په آرزوګانو او غوښتنو دې خاورې واړوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو ! زه ړوندیم خو چه کله په خپل مخ لاسونه را تېر کړم دا راته معلومه شي چه د لیدلو نه یم.

څه چه مقدرو هغه وشول نو ما دا پریکړه کړې چه د ځان له پاره د هغه چا چه ما ته ئې زښت قدر او ارزش لاره او زما د ژوند څه پانګه وه یوازی همدا وه یعنی د ځان د پاره د بنګښې عمر نه تباه کوم.

ما په ډېر شوق و ذوق واده وکړ او د ښو شپو ورځو امیدونه راسره و – آرزوګانې می لرلې، خو د خدای وېره دنیا راباندی تپه تیاره شوه لکه تولی توی یووړی.

نو ما د ځان سره داسی فیصله کړې چه بنګښنه آزاده کړم، چه په خپل زړه او خوښه ژوند وکړی.

که څه هم تاسی به زما نظریه په دې رده کړئ چه په پښتنو کښې دا ځلی نشته. ولې زه خو هم له زړه سره څه سلا او مصلحت لرم نو د ځان له پاره هغه هم داسی ځان چه هېڅ درد نشی دوا کولی؛ د ګرانې بنګښې عمر چه له هر څه راته ګرانه ده ولې بربادوم او که زه بنګښنه آزاده کړم او د خپل زړه ژوند ته ئې پرېږدم، نو څوک به ما په څه ملامتوی. په داسی ملامتو او پېغورونو سترګې شرمېږی، نو زه خو سترګی هم اوس نلرم، د خلکو د ملامتو او پېغورونو پروا به څه کوم.

بنګښنه به زما له جایداده پوره برخه اخلی او څه نور به می د تره زامنو ته ورکړی شی او معمولی دومره څه چه زه مړ شم چه د کفن او خیر و خیرات کفایت وکړی شی هغه به له چا سره امانتی وی هر وخت می چه سا وسپارله بیا به د هغه نه زما د ګور کفن سرشته کوی، نو زما فکر او قرار داسی وچه درته ومی ویل».

د حاضرینو سترګی یو بل ته واوښتې په دې خبرو لکه چه حیران شوی غوندې وی او بی خبره او بې مقدمی راګیر شوی و او دې ته ئې انتظار وبیست چۀ د دې خبرو ځواب به څوک وائې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غیر تماس کاکا یاردل ته مخ واړاوه وې ویل:

«مونږ ستا دردناکې خبرې واورېدلې خو د یوې پوښتنې ځواب راکړه هغه دا چه:

تا او بنګښې په دې باره کښې مصلحت، سلا او مشوره سره کړې ده که نه؟»

یاردل ویل: «ما له دې اوس څخه پرته بیا په دې باره کښې تکی هم له خولې نه نه دی ایستلی ما تاسی د همدې خبرو له پاره راغوښتی وئ چه درته ومی ویل» تماس د خپلې لور خوا ته مخ واړاوه او پوښتنه ئې ورڅخه وکړه:

«لوری ! د یاردل خبری خو پوره او ټولې تا واربدلې او دا موضوع هم پخپله تا پورې اړه لری یاردل خو د یوې انسانی وظیفې سرته رسولو له امله خپله غاړه خلاصول غواړی ته په دې باره کښې څه فکر لرې او څه وایې؟».

بنګښې په ژړه غونی آواز او ډکی مری د خپل پلار ځواب داسی ورکړ:

«پلاره ! زه خو دې نه مخکښې د یاردل په دې فکر نه وم خبره او دا اوس ستاسی د وړاندې لګیا شوی دی، هغه وخت چه یاردل ښه ځوانی لرله او سترګې ئې جوړې وې زما د عمر تړون ورسره وشو زه هغه وخت ورسره خوښه وم او ګذاره مې ورسره کوله، خو اوس چه دی له سترګو خلاص شو او معیوبه شو، نو ګذاره به نه ورسره کوم او خوښه به نه یم؟ دا خبری بیخی بیځایه دی پښتنې به مرورې شی، یاردل خو اوس لا د خدای فضل ژوندی په کور کښې راته ناست دی نو خدای دې نکړی که یاردل مړ هم وای په ما بل میړه وړور دی او تر څو چه ژوندی وای ما به د یاردل نوم په عزت او شرافت ساتلی وای ولی اوس خو د دې خبرو هېڅ حاجت نه پاتې کیږی او یاردل شکر ژوندی دی او زما په نظر له هغه پخوانی یاردل څخه نن زیات قدرمن ښکاری ځکه چه پخوا یوازی مینه وه او نن مینی او ترحم دواړو لاسونه سره ورکړی او زما سر یې د یاردل په وړاندی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټيټ کړې دي. د جلا والی فکر شيطان په خوب کښې هم زما په مغزو کښې نشي ننيستلی.

يو حل خو زما د ژوند تړون له ياردل سره شوی د بل سره نشي نوی کېدلی.

که ياردل دې صدمی مايوس کړی وی نو زه د يوې پښتني او د عمر د ملګری په حيث ډاډ ورکوم چه دا سودا له زړه څخه وباسی زه به په شرافت او صداقت د ده او د ده د مال، دولت ساتنه کوم.

زه به د ده د نوم او ناموس ساتنه کوم.

زه به ټول کړاو په خپله غاړه واخلم.

آخر مونږ له څه نه تنګ يو؟

شکر هرڅه شته احتياج نه يو د چا پور هم را باندې نشته البته که زما نه څه سهوه هم شوی وی چه زه به نه يم پرې پوهېدلې يا کومی خبرې دی ځورولی وی، نو ما به وبښی کنه زه خو به داسی خبره يا حرکت ونه کړم چه په هغه ياردل خپه او يا له ژوند څخه مايوسه او په زړه موړ شی.

داسی پېښې واقع کېږی، چاره نه وی او که دا کار ممکن وای ما به خپلې دواړه سترګې ياردل ته ورکړی وای زما دا سرې خواهم ياردل دی، نو دی نبايد داسی ويرجن او زړه ماتوونکی فکرونه مغزو کښې ځای کړی. نور نو څه ووايم خو دا مې واورئ چه زما ژوند له ياردل سره تړلی دی که د ده کور نه وی خوښ په زيارتونو ګرزی، نو ما به ئې هم لاس نيولی وی ورسره يو ځای به يم، زه ياردل نشم پرېښودلی او نه ورڅخه جلا کېدلی شم».

تماس او نورو حاضرينو د شاباس او آفرين غږونه پورته کړه تماس ورته وويل چه: «لورې عمر دې ډېر شه، که تا د کوم غلط فکر اظهار کړای وای، په خدای قسم دی چه له خپله لاسه به می د مرګ سزا درکړې وه، خو اوس نو زه په جګه غاړه دا وايم چه بنګښه زما ګرانه او پښتنه لور ده».

تماس بيا ياردل ته مخ واړاوه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاردله زویه ته مایسه کېږه مه دا څه چه در پېښنه شوه، تقدیر به داسی و امید لرم زما لور به ستا عزت او قدر کوی، تا به نه خپه کوی د ژوند په چارو کښې به مونږ هم او د تره زامن دې هم مرسته درسره کوو که خدای زوی درکړ بیا دا چرتونه ټول تش او په خپله به دې له مغزو څخه مندي کړی ته تل دا کوښښ وکړه چه دا فکر بېخی ستا له مغزو څخه ووځی.

یاردل له لوی اسویلی کښلو وروسته وویل:

زه مو په خپلو خبرو ستومانه کړم ما چه څه مخ کښې وویل د کوم خپگان او زړه پدی په اثر نه و بلکه ما ما سره یوازی دا فکر و چه بنگښنه په ما زښته گرانه ده له دې جلا کېدل ما ته د روح او بدن جدایی ښکاری د همدې زیاتی علاقې او گرانښت له کبله و چه ما د خپل ځان له پاره د دې ژوند نه غوښت چه خراب او برباد کړم.

له بنگښې څخه عفو غواړم چه زما خبرو به د دې زړه ته صدمه رسولې وی.

مجلس هغه شپه په دعا او خوښۍ پای ته ورسید بنگښې به د یاردل زښت دارمدار کاوه د یاردل هر څه کار جوړو، او څه چه کم و هغه دوه سترگې وې د یاردل نور ژوند جوړو.

پښتنې مېرمنې:

پښتنانه باید په تا افتخار وکړی!

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفت:

# ملیت او ملي استقلال

هغه وخت چې یو کوچنی ماشوم په خبرونه پوهیږي او خبرې نه شي کولی نود مور او پلار نومونه هم نه پیژني او په ذهن کې یې دخپل اوپردي مفهوم نه وي ناست دکورنۍ او قبیلې دقام اوملت څه فکر له ده سره نه وي اوله دغو الفاظو سره وروسته اشناشي، مګر په همدغه حا ل کې هم دومره تمیزلري چې خپله مور پیژني اوخپل پلار هم نه غلطوي.

دا دپوهې لومړی نښه ده چې دماشوم په سترګو کې ظهور کوي او دایره یې ورځ په ورځ لوئیږي.

دا احساس له عقل اوتفکر نه پخوا پیداکیږي او دمشرۍ حق لري، د انسان دمعرفت اساس همدغه دی او له همدغسې نقطې نه دبصیرت او بصارت لیکه شروع کیږي د ماشوم فکرچې هرڅومره وده کوي هغومره دخپلوانو په پیژندلو زیات موفق کیږي او خپلوان یې ډیریږي یعنې له کوره کورنۍ ته راشي اوله کورنۍ نه قبیلې ته ورننوزي اوبیاله ملت اوملیت سره اشناشي، یعنې دخپل ولس ټول افراد خپل وګڼي او دیوه بل ملت ټول افراد ورته پردی ښکاره شي.

دخپلو او پردو د پیژندلو وروستی حد همدغه دی او ددنیا ملتونه په همدغه حدولاړدي. دیوه متمدن او مترقي انسان معیار همدغه دی چې د قرابت سلسله یې دغه حدته ورسیږي اودکور او کورنۍ دقام اوقبیلې په تنګه دایره کې ایسار پاته نه شي ددې خبرې معنی دا نه ده چې دنږدې خپل او لرې خپل په منځ کې به څه فرق نه وي او دملت هرفرد به عینا خپل سکنی ورور ګڼي یابه دکور او کورنۍ دایره محوه کوي او په دغه لویه دایره کې به اوسي.

نه هیڅکله داسې نه شي کیدای بلکې څنګه چې هرسړی په خپل کورکې اوسي اوکوربې په یوه لوی ښارکې وي او ښارپه یوه مملکت کې واقع وی هرفرد به په خپل ملت کې همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شان وي اوپه دغه ډول به ځان ديوه ملت جزګڼي خپل ځان ديوه ملت جزګڼل اودغه کل پېژندل همدغه معنى لرى چې دخپل او پردى فرق به کوي او دواړوته به په يوه نظرنه ګوري.

که څوک دخپل ملت او د پردى ملت فرق نه کوي ياپې نه شي کولى هغه دکوم ملت جزنه ګڼل کېږي، که څوک هېڅوک پردى نه ګڼي په حقيقت کې هېڅوک خپل نه ګڼي او خپلوان نلري. که پردېتوب په دنياکې نه واى خپلتوب به هم نه وه.

مليت اوملي وحدت په همدغه احساس بنادى چې سړى دخپل اوپردى فرق وکړي او دواړو ته په يوه نظرونه ګوري داحس په انسان کې ډېر قوي او ډېر طبيعي دى. دانسان په فطرت کې داخبره پرته ده چې له پردي زويه به خپله لورښه ګڼي او خپل به ورته ښاغلى معلومېږي.

دغه احساس په يوه قام او يوه ملت پورې اختصاص نه لري.

هرچېرته همدغه حا ل دى اوپه دې کارکې دامې اوملا څه فرق نه شته دخپل او پردي تميزيه ډېرو بې تميزو خلکوکې هم شته مسلمان او کافر يوه او ناپوه د خپل او پردي په فرق قايل دي.

څو زره کاله پخواهم خپل، خپل و او پردى، پردى و، څو زره کاله وروسته به هم دغه شعور او دغه احساس موجودوي داهغه حقيقت دى چې په شرق او غرب کې نه بد لېږي اوپه هردين اوهرائين کې شته هغه زمانه په خيا ل اوتصوير کې نه راځي چې يا وروري او عزيز ګلوي دومره بېخونده شي چې ديوه پلار زامن ځانونه پردي وګڼي ياپردي خلک دعشق اومحبت هغه جذبه  پيداکړي چې هرڅوک هرچاته ورور او عزيز ووايي او ديوه ميراث د ټول عالم حق وګرځي، زه يقين لرم چې هېڅکله به مېندې او پلرونه  د نورو اولاد ته په هغه نظرو نه ګوري لکه چې خپل بچوته ګوري.

زه دا نشم منلى چې دخپل اوپردى مرګ به په خلکو يوشان اثروکړي او په دغه ويراو هغه ويرکې به څه فرق  نه وي موجود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په عمرونو به دمور ژړا او دخور ژړا له نورونه فرق لري او هرڅوک به دخپل پلار په مرګ یتیم کېږي.

هغه زمانه دهېڅا په تخمین کې نه راځي چې دخپل اوپردي کاله توپیر او تمیزله منځه لاړشي او ټول کورونه خپل شي یاټول پردي شي.

اوس خو ړوند هم دخپل کاله لاره نه ورکوي او ځاروي هم ماښام خپل کاله ته راځي. په دې بې ثباته دنیاکې چې کوم شی ډېر ثابت او پایدار معلومېږي هغه دخپل اوپردی فرق دی.

ملیت او قومیت په همدغه ټینګ اساس ولاړ دی اوملي وحدت دفطرت دتشکیلاتو فصل اوباب دی.

دغه متمایز رنګونه چې په اقوامو اوملتونو کې وینئ ډېر پاخه دي او هېڅوک یې نه شي بدلولی.

له دغه وحدت سره چې په یوه ملت کې یې وینئ هغه غیرت تړلی دی چې یوملت یې دبل په نسبت احساس کوي.

که چا د خپلو او پردو فرق نه کولی، ملتونه به نه و جوړ شوي او دغه سیاسي اوملي تشکیلات چې نن وینئ په دغه ډول به نه ؤ.

همدغه دځان اودبل فرق دی چې یوملت دبل ملت سلطه اونفوذ نه مني او دخپل ملي استقلال دپاره ډېرې لوېې قرباني ورکوي.

مراکش او تونس همدغه احساس له فرانسویانو نه بېل کړل او الجزایر هم ددغه حس او شعور په قوت دفرانسې له لوی قوت سره په جګړه اخته دی.

دپښتونستان توریالی ملت د پاکستان په مقابل کې همدغه احساس ټینګ درولی دی. هغه پردیتوب چې ددې دواړو ملتو تر منځ موجود دی ارومرو دوی یوله بله بېلوي او دا بېلتون ډېرحتمي اویقیني دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه راز ترکیب اوتالیف چې په زور او جبر بناوي اوانساني فطرت ترېنه کرکه کوي ډېربې بقا اوبې وفا معلومېږي.

دخپل او پردی تمیز دفطرت قانون دی او هر سیاست چې له دغه قانون څخه مخالف وي هېڅ قوت یې حمایت نه شي کولی.

دبشر فطرت او طبیعت په بله خوا ګرځول دانسان کارنه دی اوعقل یې نه مني، نن ملي شعور اوملي احساس ډېرقوت موندلی دی اوله دغه قوت سره هېڅ قوت مقابله نشي کولی. ځینې ګمان کوي چې که علم ډېره ترقي وکړي او د ګډ ژوند وسایل زیات شي نو ملي اوقومي تعصبات به ورک شي او ټول عالم به دبشریت په نامه یو وجود شي یعنې بیا به دخپل اوپردي فرق نه وي او درست ملتونه به یوملت شي دا آرزو په اول نظر ډېره ښکلې معلومېږي مګرله حقیقت نه دومره لرې ده چې مونږ د مریخ له کرې نه هم دومره لرې نه یو.

اوس خومونږ وینو اوګورو، چې ددنیا ډېر پوه او مترقي ملتونه له نورونه په خپل ملیت ډېرټینګ دي اوملي احساس په متمدنو قومونوکې ډېر قوي دی.

همدغه احساس دنن ورځې په ادب او فلسفه کې ډېراثر لري اوپه انسان کې یې ډېره خودي او خودشناسي پیداکړې ده، دجهان دخو زرو کالو تاریخ په همدغه بنسټ ولاړ دی اودغه بنیاد یې ډېر مضبوط کړی دی.

نن دهر ملت په نظرکې خپل ملي استقلال دیوه ډېرلوی ناموس حیثیت لري او له دې نه لوی افتخار بل نه شته، ددغه مقصد دپاره خلک سرونه مالونه او اولادونه قربانوي اوبې استقلاله ژوند ډېرلوی ذلت ګڼي، که چیرې ملي احساس اوملي شعور په ډېرقوت موجودنه وای د استقلال قیمت به ډېر لږو او ددنیا لویې امپراطورۍ به نه ړنګېدې، استعماربه دغسې بده قیافه نه درلوده او یوملت به دبل ملت سیورۍ لاندې خوشحاله و.

دغه ملي جشنونه چې هرمستقل ملت یې دخپل استقلال په یادکوی اوپه ډېر قدر ورته ګوري دملیت تجلیل اواحترام پکې پروت دی او همدغه معنی لري چې یوملت دبل ملت حاکمیت په ځان نه شي منلی. مونږ باید په دې خبره ډېرفکر وکړو چې ملي استقلال دملي احساس او شعور محصول دی هر څومره چې دغه حس قوی وي هغومره به زمونږ استقلال هم قوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. داستقلال ساتنه دمليت قوي جذبې ته ډېر شديد ضرورت لري که دغه احساس په يوه ملت کې کمزورى شي هغه داستقلال په قدر او قيمت نه شي پوهېدلى او دهمدغسې ناپوهۍ په وجه دغه لوى نعمت ساتلى هم نشي.

مونږ بايد خپل ملي امتيازات ملي شعوراو ملي احساس ډېرټينګ وساتو او دخپل استقلال تقويه ورپورې مربوط وګڼو.

الف:

# ملي يووالى

هغه خلک چې په يوه وطن کې اوسېږي، ګټه او زيان يې يو وي، ديوه واکمن امرته يې غاړه اينبى وي، له يوه بيرغ لاندې راټولېږي اومشترک تاريخ لري يوملت بلل کېږي.

افغانستان يووطن دى، ددې وطن ټول او سيدونکي يوملت دى، ددې ملت نوم افغان دى. لکه چې په افغانستان کې ساړه او تاوده، وچ او لامده، هسك او ټيټ ځايونه شته چې په ځينو کې يو رازغلې او ميوې کېږي په ځينو کې بل راز، په ملت کې هم راز راز خلک شته چې کړه وړه يې يوبله ځينې فرقونه لري مونږ ته په کار دى چې په دې خبره ځان ښه پوه کړو چې وطن هغه تنګ او کوچنى کورنه دى چې ديوه پلار او ديوې مور اولادونه به پکې استوګنه لري اونه هغه کلى دى چې تول اوسيدونکي به يې يوخيل يايو قوم وي په دې اوسنۍ زمانه کې اوس ځينې داسې کورونه هم شته چې يومسلمان پښتون له يوې روسۍ يا امريکايۍ ميرمنې سره پکې اوسي او دواړه د يوه اولاد موراوپلار وي.

هرکله چې په يوه کاله کې داحا ل وي نو په يوه لوى وطن کې به ولې هندو اومسلمان، شيعه اوسني، پښتون اوتاجک ديوه ملت په حيث نه اوسېږي.

زه ډېر داسې دوه ورونه پيژنم چې يوپښتو وايي اوبل فارسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې پښتانه پلرونه مې هم ليدلي دي چه اولادونه يې پښتو نشي ويلى.

که مونږ په پښتو او فارسي ژبه کې ښه ځيرنه وکړو او لرې نظر وکړو دواړه ژبې د يوه باغ ونې دي چه نيلې او ريښې يې يو له بله تړلي دي.

دا چه مونږ د افغانستان اوسيدونکي د پښتون، تاجك، نورستاني، بدخشي، ترکمن، ازبك، هزاره، ايماق او عرب په نامه يادوو عيناً هماغسې مثا ل لري لکه چه پښتون دصافي، شنواري، مومند، اپريدي، وزير، مسعود، يوسفزي ، اڅکزي، کاکړ، بارکزي، او سدوزي په نومونو يادوو.

په دغسې مختلفو او متعددو نومونو زمونږ ملي وحدت هيڅکله نه خرابيږي او هر څوك پوهيږي چه:

هزار خونې واړه ښهر يو بغداد دی.

څنګه چه د يوه وجود غړي ډېر نومونه لري لکه: لاس، پښې، سر، غوږ، پوزه، سترګې او داسې نور....دغه شان د يوه ملت اعضاٴ او اجزاٴ هم دي چه په ډېرو نومونو ياديږي مګر ملت يو وي او وطن هم د کليو او ښارونو په بيلو بيلو نومونو نه بيليږي. د وطن په باغ او بڼ کې راز راز ونې او بوټي وي چه پاڼې، ميوې او ګلونه يې يو له بله ډېر فرق لري، مګر باغ يو وي او دغه د ونو بوټو اختلاف د باغ يو والي ته زيان او ضرر نه رسوي.

د وطن او ملت د پاره، باغ ډېر ښه مثا ل دی.

په يوه شعر کې چه باغ يې عنوان دی د وطن او ملت تصوير داسې ويستل شوی دی:

يـــــوه بـــــاغ کښـــــې وې ولاړې ډېـــــرې ونـــــې

هـــــره پاڼـــــه يـــــې لايقـــــه دســـــتاينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواپــه خواغـــاړه پــه غـــاړه خولـــه پـــه خولـــه وې

لـــــه يـــــوې خـــــاورې پيداډېوکالــــــه وې

لــــه يــــوې ويــــالې اوبـــه ورتـــه راتللـــــې

پــــه يـــوه هواکښـــــې تـــــولې لويېــــدلې

ددې تولويــــــــــــــــــــــوخزان اويوبهـــــــــــــــــار و

نـــه اوبـــدېي وشـــريک يـــوېي واكـــدارو

ځينـــې جګـــې ځينـــې تيټـــې كوزوپـــاس وې

لکـــه ګـــوتې ديـــوه وجـــوددلاس وې

چـــامېوه لرلـــه چـــا ښايســـته ګلونـــه

دچاســــــيورۍ و ډېرښـــــه دچاقدونـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چنـــــــــارلوی وشـــــــــفتالو لکـــــــــه ماشـــــــــوم و

دمڼــــــــې اونــــــــاک توپیرلــــــــه ورا معلــــــــوم و

لــــــه یـــــــوه ســــــره لـــــــویي وه نورخــــــه نــــــه و

بــل ســره د رنــګ او خونــد نصــیب ډیــر ښــه و

دمرغـــــــــــــانونغمې وې پکښـــــــــــــې خـــــــــــــورازه

هرمرغـــــــــه موپیژانـــــــــده لـــــــــه خپـــــــــل اوازه

رنګارنـــــــــګ ګلونـــــــــه و یـــــــــوه چمـــــــــن کښـــــــــې

لکـــه وي چـــې ولســـونه پـــه وطـــن کښـــې

پـــــه حقونوکښـــــې یـــــې نـــــه وخـــــه تـــــوپیر

باغبـــــان وپـــــه هـــــرې ونـــــې ډیرزهیـــــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوله بله بېـي په هرحال کښې شرکت و
په تمامه معنی یوصحیح ملت و

مملکت همدغه شان وګڼه وروره
واخله درس د خپل نظر له سپین او توره

دوه سکه وروڼه لري بېل بېل نومونه
بېل رنګونه بېل غږونه بېل خويونه

که ته پوه شې دا بیلتون څه بیلتون نه دی
څوك وائي چه تاجك ورور د پښتون نه دی

الفت:

# ژوند

ښايي چې تاسې به کله داسې سړی لیدلی وي چې لاس اوپښې نه لري سترګې يې ړندې او ژبه يې ګونګه وي، مګر ژوندی وي.

دغه راز سړی که په ګېډه موړ او په تن پټ وي او په ښه کورکې اوسي يعنې دشتمنې کورنۍ غړی وي بیا هم دده ژوند بې خونده اوبې اهمیته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوندکې چې حرکت او فعالیت نه وي او له قوت اوقدرت نه محروم وي څه ارزښت نه لري. هغه ژوند چې پوهه اوبصیرت ورسره نه وي او دشعور و احساس برخه یې نیمګړی وي ښه ژوند ورته نه شوویلی. ګېډه مړول، په ښه کورکې اوسیدل اوښه اغوستل دژوند لومړی ضرورتونه دي مګر کافي نه دي.

په ژوندکې د ذهن او روح اطمینان، دآینده په نسبت ښه انتظار، دانساني ازادۍ اوبشری حقوق تامین او تکمیل ډېرمهم ضرورتونه دي.

په ژوند کې له کمیت نه کیفیت ډېرمهم دی. ژوند باید ښکلی اوښاغلی وي.

دژوند لپاره جما ل او جلال دواړه په کاردي.

لذت اوافتخار دژوند لاس اوپښې یا د الوتلو وزرونه دي.

که ژوند خوار اوغریب وي دادومره ډېره د افسوس خبره نه ده.

ډېر افسوس هغه وخت په کار دی چې له ژوند نه دخلکو زړونه تورشي او ژوند ته په کرکه وګوري.

د یوه هیواد دواکمنو اومشرانو کاریوازې دانه دی چې دخلکو ژوند ښه کړي بلکه ستراو مهم خدمت دادی چې دژوند مینه په زړونوکې زیاته کړي او هیلې، اسرې راژوندۍ کړي.

کیدای شي چې په جنت غوندې ځای کې سړی له ژونده بېزاره شي یاپه جونګړه کې له ژوندانه سره مینه ولري.

په ژوند کې یو معتدل حالت ډېر ښه دی او ښه ژوند هماغه دی چه اعتدال پکې وې یعنې نه ظالم وي اونه مظلوم، نه د چا باداروی او نه یې څوك بادار وي.

هو؟ اجتماعي عدالت دژوند لپاره ډېر ضرور دی، دژوند ساتنه دژوند وده اودژوند خوشحالي په همدغسې معتدله هواکې امکان پیداکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چېرته چه عدالت اوعدل نه وي هلته ژوند خوښ اوښاغلی نه وي او په دغسې ځای کې ژوند ډېرلوی عذاب دی (( وقنا ربنا عذاب النار))

((الفت))

# مترقي ژوند

ژوند دتحول اوتکامل نوم دی، دصحراکانې چې په پيړيو پيړيو په يوه حا ل پاتې دي ژوندي ورته نه شو ويلی.

دپسرلی ګلونه چې له ځمکې راټوکېږي، لوېږي، غوړېږي، مړاوی کېږي او خاورې کېږي په ژوندانه کې برخه لري او ژوند دهمدغسې تغيراو تحول نوم دی. هغه غله چې په کندو ياپه کوډي کې پرته ده او هغه چې دهقان يې په ځمکه کې کري دژوند په لحاظ ډېر فرق لري.

همدغه له خاورو لاندې زرغونېدل، لوئېدل او پخېدل د ژوندانه مظاهر دي او مترقي ژوند همدغه دی.

که مونږ انساني او حيواني ژوند مقايسه کړو پوهېږو چې په انساني ژوند کې تغيراو تحول يعنې دحالاتو بدلون ډېر زيات دی او غيرله انسانه په نورو حيواناتوکې تحولات ډېر لږدي. حيوانات په زرګونو کالوکې هغومره فرق نه کوي لکه چې انسانان يې په څو کالوکې کوي.

انسان په مرور دزمان خپل لباس، خپل کور، خپل خوی، خپل فکر بدلوي اووخت په وخت په بل رنګ اوبله بڼه راوزي.

يو عصر له بل نه دهمدغو تحولاتو په بنا بېلېږي اوبدلېږي.

دعصر او زمانې په اقتضا له ماضي نه مستقبل ته راتګ، زوړ حا ل پرېښودل اونوی حا ل قبلول مترقي ژوند دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه  قام چې دحالاتو په بدلون قادرنه وي اوخپل زوړ فکر، زو ړخيا ل، زوړ عادت زړه پوهه په نوي نه شي بدلولی مترقي ژوند نه لري.

دژوند دبقا او لوړتيا دپاره  دانسان په طبيعت کې دتحول او تجدد غوښتنه پرته ده او قدرت هم دتغير او تحول قانون په ټولو مخلوقاتو جاري کړيدی.

هغه ژوند چې دودې اولوړتيا په حا ل کې وي د تجدد خواته ډېر تمايل لري.

کوم ژوند چې مرګ ته نژدې وي طبعاً دمړينې خوی او عاد ات پيداکوي.

همدغه سبب دی چې کوچنيان او ځوانان نوو شيانو ته ډېره هڅه کوي نوی لباس نښه ګڼي او نوی کور بې له زړې جونګړې نه ډېر خوښ وي، مګر زاړه اوسپين ږيري له زړوشيانو او زړښت سره خدای پامانی ته ندي تيار.

که مونږ ددنيا مترقي ملتونه له هغو قومونوسره مقايسه کړوچې ژونديې دترقي په حا ل کې نه دی دابه ومنوچې دمترقي حالت تغير اوتحول ډېر ګړندی او په ببرته پاتې قومونو کې تحولات ډېر ځنډني دي. دجهان تاريخ هم دابنيي چې دبشري ټولنو تحولات په لومړيو مرحلوکې ډېرسست و اواوس پکې ډېر ګړنديتوب  راغلی دی.

که ځوک غواړی چې خپل ارتقايي سيراو حرکت ځانته معلوم کړي خپلواجتماعي  تحولاتوته دې ځير شي او  ودې ګوري چې په عمومي اوضاعو او حالاتو کې ځومره فرق راغلی دی.

ديوه ملت دپوهې او هوښيارۍ دمعلومولوپاره هم اجتماعي تحولاتو او تجدد پسندۍ ته کتل په کار دی.

دعلم اوپوهې خاصه او مميزه  همدغه ده چې په انسان کې دزړو دودونو او رواجونو پابندې کموي او دنوي عصر ضرورت او احتياج ته يې متوجه کوي يعنې دتقليد پېتې سپکوي اودعقل ومنطق په اساس دنوو افکارو اونوو خيالاتو دقبلولو استعدادته ترقي  ورکوي او ابتکاري قوه زياتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دعرف اوعادت له غلامۍ څخه آزادي دمدني او عرفاني پیشرفت په برکت حاصلیږي او زاړه ناکاره رواجونه دهمدغې رڼا په مرسته له مینځه ځي.**

**راشئ! چې اوس خپل ځانته په ځېر ځېر وګورو او پخپل حق کې قضاوت وکړو چې مونږ دنوي ژوند په قبلولوکې څنګه یواو دنوو افکاروپه خرګندولوکې څومره جرئت اوهمت لرو؟**

**زمونږ ذهني ازادي چې دپوهې اوتنو یرنتجه ده ترکومه حده ده او له اجتماعي نهضتونوسره څومره علاقه لرو؟**

**الفت:**

# د خلکو نظر

**انسان ډېر زیار کاږي چې دنوروپه نظرکې ښه شي او خلک ورته ښه ووائي.**

**ددغه مطلب دپاره دی ډېرځله سمه لاره پرېږدي اوپه کږه لاره ځي یعنې حقیقي ښه والی بدلوي او ددې دپاره چې دخلکو په نظرکې ښه معلوم شي نو دریا اوتګې رنګونه هم په ځان پورې منبي.**

**دخلکو نظرهم عموماً سم نه وي اوښه یا بد پېژندل دهرچا کارنه دی، ځکه ځینې بد کسان هم دخلکوپه نظر ښه ورغلي دي.**

**زه دانه وایم چې سړی دې دنورو د نظر مراعات نه کوي.**

**او دود و دستورته دې نه ګوري ځکه داکار هرڅوک نه شي کولی اوعلی الا طلاق ښه هم نه دی.**

**ماته معلومه ده چې دنوروښه اوبد نظر دانسان په ژوندکې څومره اثر لري، دډېرو خلکو ډېرې خوشحالۍ اوډېر خپګانونه دنورو دنظر اغیزه ده او دخلکو نظرپه سړي باندې هر څه کولی شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې دیوه نظر باز نظر روغ سړی رنځورکوي او ډېره ښه ماڼۍ رانړوي، دغسې د اجتماع نظرهم ډېر قوت لري اوډېر خلک یې ځانته تابع کړي دي.

ډېرکسان شته چې پخپلو سترګوځه نه ګوري اوښه وبدد نوروپه نظرپېژني.

دخلکو نظرونو ډېرښه شیان اوډېر ښه خلک هم بدمعلوم کړي یابې بدښه ښودلي دي، خلک لا پرېږده چې یوازې دحاکم په نظر یه هم ښه سړی بدېږي او بدسړی ښه کېږي، یعني د نورو نظرپه سړي اثر اچوي او په ژوندانه کې ډېر دخل لري، که هر څنګه سړی وي او دهودو ځوان وي بیاهم دنوروپه ښه نظر خوشحالېږي او په بدنظر خوابدی کېږي، کله کله سړی د دې دپاره چې دخلکو ښه نظر ځانته جلب کړي دهغوی نظرته دومره ورجذب شي چې هرڅه دنوروپه خوښه کوي او له هرڅه نه ورته تېرېږي. دهمدغې جذبې دپاره کله انسان ځینې ښه کارونه هم کوي او له ناوړو کارونه ځان ساتي، قرباني او فداکاري، دنورو خیر غوښتل او نوروته ګټه رسول، په فن اوهنرکې نوم ایستل، دنورو دښه نظر دجلبولو اثر اوبرکت دی، که چېرې چا دنورو نظرته په اعتنا نه کتلی انسانان به لکه دصحر اکانې یوله بله بې تعلقه و او بل شان ژوند به یې کاوه مګر ډېرښه ده چې دغسې نه دی اودنورو په نظریه هم کارکوي داکار داخلاقو داصلاح دپاره هم ښه دی او دبې مبالاتۍ مخه نیسي.

زه دغه کارته ښه وایم مګر داسې نه چه په هېڅ حد او اندازه ورته قایل نشم.

سړی باید په دغه باب کې دومره افراط ونه کړي چې دنورو دنظر حلقه بګوش غلام شي او خپل فکر اوشعور یکې داسې بایلي چې د ده شخصیت اوحریت محوه شي او هېڅ ورته پاته نه شي.

څومره چې دانسان دشخصیت تجلي ته دنورو حسن نظرپه کاردی هغومره دنورونظر ته ځان سپارل دانسان شخصیت هم محوه کوي.

دهرمجلس په رنګ رنګین کېدل اودهر چافکر اونظر ته خضوع او خشوع دسړي شخصیت راټېټوي اود عا دي انسانانو په ډله کې یې دروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان باید ډېر کوښښ وکړی چې خپله ازادي ورځ په ورځ زیاته کړي، دفکر دحریت دپاره خدمت وکړي او پخپل شخصیت متکي شي.

دهنر خاوند چې هر څومره له ابدیت نه زیاته استفاده وکړي او له انسانیت سره زیات تعلق پیداکړي هماغومره له خپل عصر اومحیط څخه لوړېږي اومعاصرین ورته په ښه نظر نه ګوري.

دعصر اوزماني له خلکو سره غوړ په غوړتلل او دهغوی په فکر ځان برابرول د عادي خلکوکار دی، فوق العاده اشخاص او دلوړفکر خاوندان هېڅ کله په دغسې قیداو زندان کې نه اوسي اودخلکو ستاینې ته دغومره سرنه ټېټوي.

پوهان هروخت په هرڅه کې دخپل وجدان اوضمیر غږته غوږ ږدي اوناپوهان له اندازې نه زیات دیوه اوبل نظر ته ګوري.

دبصیرت خاوندان له دې خبرې سره دومره ډېره علاقه نه لري چې دخلکو په نظر کې ښه ښکاره شي بلکه کوښښ کوي چې د خلکو نظرښه کړي او ښه نظر پیداشي.

دجامعې اصلاح اودفکر خدمت سړی مجبوروي چې له هغو خبرو اوهغو شیانو سره مبارزه وکړي چې هغه په جامعه کې ښه ګڼل شوي دي مګر ښه نه دي.

که څوک دخلکو دنظر مراعات کوي نو هغه بتان نه شي ماتولی چې خلک ورته په ښه نظرګوري بلکه مجبورېږي چې سرورته ټیټ کړي او خلک ده ته هم په ښه نظر وګوري.

دغه راز خود خواهي او خود پرستي چې ظاهراً غیرپرستي ده باید سړی پرېږدي او دنورو دنظر مراعات له اندازې نه زیات ونه کړي. دخلکو قضاوتونه اکثر اًصحیح نه دي اوپدې نه ارزي چې سړی هرڅه ترېنه قربان کړي.

دخلکو خدمت دانه دی چې سړی اورمرو د دوی دخوشحالۍ دپاره کار کوي بلکه حقیقي خدمت دادی چې دخلکو خیر او ګټه په نظرکې ونیول شي اوفکرونه، نظرونه، کارونه، خویونه اصلاح شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سړی دهرچا کارته ښه وايي چې هغه خوشحاله شي اوده ته په ښه نظروګوري داډېره ټېټه سوداده او دغلامۍ بوی ترې نه ځي. که څوک خپه کېږي او که خوشحالېږي، که خلک سړي ته په ښه نظرګوري که په بد نظر، سړی باید ښوته ښه او بدوته بد ووايي. دبيان او وينا ازادي همدغه ده، دفکر اوقلم ازادي همدغه تقا ضالري.

ديوه اوبل ښه نظر دومره قيمت نه لري چې دانسان ازادي سلب کړي او په غوږ کې يې د غلامۍ کړۍ واچوی دنورو نظرکه هرڅومره ښه وي بيا هم هرسړی پخپلو سترګوبينادی اوله خپل نظرنه کار اخيستل په کاردی.

که څوک هرڅه دنورو په نظرګوري خپل نظر ته به شرمنده وي اودبصيرت حق به يې نه وي اداکړی سړی بايد يوازې دپوهانو نظرپه نظرکې ونيسي اوبس.

الفت:

# دحق اظهار

په هر هېواد کې، په هر ولس کې، په هر عصر کې ځينې اشخاص په کاردي چې د حق اظهار خپل فر ض وګڼي اوخپل ما ل، خپل سر، خپل مقام ونه ساتي حق او حقيقت وساتي.

ولسونه دغسې خلکو ته له حده زيات محتاج دي، دظلم، دجبر او د ناروا ملا همدغه کسان ماتوي.

که دغسې خلک په يوه محيط کې نه وي هلته داسې تياره او تور تم وي چې دحق او باطلو فرق نه شي کېدای، خدمت او خيانت، روا او ناروا د خلکو په نظرکې يوشان جلوه کوي.

هغه اشخاص بايدله سرو او سپينو سره وتلل شي چې دزور اوقوت يا دما ل او دولت په خاوندانو پسې نه وي روان بلکې په حق اوحقيقت پسې درومي اوحقايق څرګند وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسونه دهمدغسې ایماندارو خلکوپه بدرګه منزل مقصودته رسیږي او همدغه اشخاص دي چې ظلم او استبداد محوه کوي.

که دغسې خلک چیرته نه وي نو هلته عدالت نه شته، انصاف نه شته، حقیقت نه شته او انسانیت هم بل راز څېره لري.

هرڅوک بایدپه دې پوه شي چې حق ویل لوی عبادت دی او حق نه پالل لویه ګناه ده داګناه په دنیاکې هم انسانان په سل رنګه عذابونو ګرفتاره کوي او په ژوندونې بنیادمان په دوزخوکې اچوي.

که حق اوحقیقت ظاهر نه شي او لکه مستوره مېرمن په حجاب کې وي حق مري او دحقیقت رڼا مړه کیږي دامرګ دملت اوولس مرګ دی او دعدالت جنازه هم سمه ورسره وزي.

ځینې کسان وايي چې دحقایقو په اظهار کې دوخت اوزمان او دمحیط اقتضاآت په نظرکې نیول په کاردی اوهغه حقایق چې ویل یې زیان اوضرر لری اونتایج یې بد دي بایدونه ویل شي.

مونږ دوی ته وایو د حق او حقیقت شان له دې نه ډېر پورته دی چې موقع شناسي وپېژني او داشخاصو داقتضاآتو قید اوشرط ته غاړه کېږدي.

دحقایقو داظهار دپاره حدود ټاکل او له قیداو شرط لاندې یې راوستل له حقایقو سره مجادله او مبارزه ده.

حق او حقیقت هرکله هر چیرته د هر چاله خولې چې وي د اوریدلو اومنلو شی دی، د حقایقو پیروي په هرکارکې اوپه هر حا ل کې د هر چادپاره په کار ده، ترڅوچې یو قام او ولس په حقیقي لاره روان نشي او حقیقي اساسونه قبول نه کاندي توره شپه به یې سبانه شي.

یو مملکت هغه وخت سعادت، قوت اوشهامت پیداکولی شي چې حقایقوته نژدې شي، په حقایقو پوه شي او په حقیقي اساساتو استناد اواتکا ٔولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت لکه د مداریانو ننداره نه ده چې هرساعت بېل رنګ اوبېل شکل ولري یوه سمه اومستقیمه لاره که لږ غوندې کږه شي نو بیا ورته سمه نشوویلی او تور هر کله تور او سپین سپین دی.

الفت:

# ډار

زه چې وړوکی وم دشپې به بیبکې توړی دتناره په غاړه دپیریانو او دیوانو یا د روو او شیشکو قصې کولې اوما به ورته غوږ ایښی و.

دې قیصو به ماکې ډېره وېره پیداکړه چې زه بې دشپوله تورتمه، له ورانو کنډوالو، له قبرونو او هدیرونه ډېر وډار کړم اوهرشپه به مې پرېشانه او ویرونکې خوبونه لیدل.

اوس چې لوی شوی اوپوه شوی یم هغسې نه یم.

هغه ویره اوس زما په زړه کې نه شته او دشپې له تیارونه نه ډارېږم.

که زه کومه شپه دهدیرې او یا ورانې کلا له څنګه تېرشم پیریان راباندې نه کښیني، مړي مې مخې ته نا راپاڅېږي، د قبرونو له شناختونه راته بلاګانې نه پیداکېږي.

ما اوس دشادمان دیو قیصه هېره کړې ده او دشیشکو ډارمې له زړه وتلی دی.

مګر ګورئ داګمان ونه کړئ چې زما وېره به اوس ښخې ورکه وي او هېڅ ډاربه راسره نه وي ځکه چې بې ویرې ژوندانسان ته نه ښایي اوهغه انسان چې په زړه کې هېڅ ډارنه لري له یوه څناورنه ډېر فرق نلري.

زما ډار اوس له پخوانه ډېرشویدی پخوا زه دشپې ډاریدم اوس د ورځې هم ډارېږم ، د رڼا ورځې ډار د شپې له ډارنه ډېرهیبت لري.

څومره ویره چې له ښاغلی انسان نه په کارده له دیو اوپیری نه نه ده په کار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوازه له مرګه ویرېدم اوس ژوند زما په نظرکې ډېر مهیب دی.

زه اوس له مړونه نه ویرېږم له ژوندو ویرېږم.

کله چې زه کوچنی وم زما ډار هم کوچنی و.

هغه وخت چې زه ناپوه وم زما ډار هم ناپوه و او د ډارولو په چل دومره ډېرنه پوهېده، یو کوچنی ماشوم د خلکو له ځیږو اوقهر وغضب څخه ویرېږي مګر لوېان او پوهان دخلکوله خندانه هم ډارېږي.

څومره چه زمانه هوښیارېږي هغومره ډار او ویر ه زیاتېږي.

یوپوه او هوښارسړی له مکروبونو او دملیریا له میاشونه هم ډارېږي مګر ماشومان اونا پوهان له دغسې ډارسره اشنانه دي.

دیوه کوچني ماشوم د ډار دپاره تعویذونه هم شته مګر دلویانو ډارپه تعویذ هم نه ورکېږي. د واهمې ډار دومره دوام نه لري لکه دعقل او پوهې ډارچې دروند او دوام دار دی. پخوا مونږ له هغه جنګ څخه ویریدو چې په کوراو کلي کې به پېښ شو اوس له هغو جنګونونه هم په ویره کې یو چې ددنیا په یوه سراو بل سر کې پیداکېږي.

یووخت زه نورو څخه ویرېدم اوس له خپل ځانه اوله خپل عمل څخه هم ویرېږم پخوا به چې چاد لارې ملګری پیداکړ ویره به یې کمه شوه مګر اوس له خپل ملګری ویرېږي او ورور له وروړنه په خوف کې دی.

مونږ اوس پوهېږو چې شیشکې او دیوان و پیریان انسانانو ته څه زیان اوضررنه رسوي لکه چې خپله انسانان یې یو بل ته رسوي.

زمونږ دښمنان په کور و کلي کې بلکه زمونږ په ځان کې موجود دي.

مونږ بایدله ځانه وډارشو اوپه ځان وډارشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفت:

# حقیقت

داکمله زمونږپه نظرکې ډېره ښکلې معلومېږي او په تقدس ورته ګورو، مګر څومره چې حقیقت ستایو هغومره حقیقت نه وایو.

که حقیقت رښتیا وبولو نو رښتیا خو یا لیونی وایي یا زورور، او دا دواړه زمونږ په هیواد کې ډېر لږ دي.

دحقیقت له لفظ سره ډېر ځله دتریخ کلمه یوځای کوي او وایي:

"دایو تریخ حقیقت دی".

هو! حقایق اکثره ترخه وي او حق په تریخوا لی ستایل کېږي.

په عملي اصطلاح حقیقت په درې ډوله دی: مهجور حقیقت، متعذر حقیقت اومتعارف حقیقت.

په دغه لحاظ ویلی شو چې زمونږ په خبرو اترو کې دحقیقت برخه ډېره لږه ده.

په شعر اوادب کې خومعلومه ده چې له حقیقت نه د مجاز او استعارې پله ډېره درنه ده. د ادب ژبه دحقیقت ژبه نه ده اوډېر خوږشعر هماغه دی چې له حقیقت نه لرې وی (اعذ به اکذ به).

دمعاشرت آداب او دمجلسونو آداب هم دحقیقت له اظهار سره ډېرموافقت نه لري اوډېرځله یوسړی دحقیقت په ویلو بې ادبه معلومېږي.

یوه ورځ یوه لوی سړی خپل لیکلی مضمون چې څوک یې په معنی ښه نه پوهیدل څوتنو پوهانو ته لوسته اوخلک یې په ستاینه مجبورکړي وو په هغه مجلس کې خو هیچا څه انتقاد ونه شوکړای مګرپه بل مجلس کې چې هغه جناب نه و د حق ویلو او حقیقت بیانولو مسابقه شروع شوه او له ډېر اخلاقي جرئت نه کارواخیستل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ويل چې په ټول مضمون کې له سره تراخره دمبتدا ګانو يوه سلسله وه چې هيڅ خبرېې نه درلود بل ويل داځکه چې دی پخپله مبتدي دی اوله هيڅ نه خبرنه دی. دغه راز حقايق چې دښاغلي په غياب کې وويل شوه دغيبت رنګ يې پيداکړچې شرعی جواز يې نه درلود او اخلاقاً ممنوع و.

اوس چې زه دغه حقيقت داسې بيانوم چې نه دهغه لوی سړي نوم اخلم او نه دغيبت کوونکو پته دربنيم دابيايوبل ډول حقيقت دی چې بايد ګونګ حقيقت ورته ووايم.

هو! دحقيقت ژبه ګونګه ده او فصاحت وبلاغت دادب ژبه ده چې په مجاز، کنايه، اشاره، استعاره چلېږي.

اوس پوه شوئ چې زمونږ په ويناکې د حقيقت برخه څومره خواره ده او دحقيقت داظهار دپاره څومره موانع موجود دي؟

الفت:

## زما نظر

صحر اته لاړم يوکاڼی له بل سره برابرنه و.

غرونو ته وختلم ځينې جګ اوځينې ټيټ و.

ښارونه مې وکتل ځينې کورونه لوی او ځينې واړه و.

په باغونو وګرځېدم ټولې ونې په يوه مېچ نه وې.

دسيندونو کبان مې وليدل يوله بل سره په تول کې برابرنه ختل.

دهوامرغان هم ځينې غټ اوځينې کوچني و.

ملايان مې وليدل دچاپګړی غټې او دچا وړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کتابونه مې ولټول هلته هم ډېر تفاوت موجودو.

له یوه هېواد ه بل ته لاړم اوله بل نه بل ته په هرځای کې ټیټ وپاس اولوړې ژورې وې.

په هېڅ ځای کې نه دیوه لاس ګوتې برابرې وې اونه دیوې خولې غاښونه.

دلوی خدای کتاب مې بېرته کړاو د امې پکې ولوستل:

ایاپوه اونا پوه برابر دي ؟ ایا د ړنداه اوبینا څه فرق نه شته؟ ایا دجنت او دوزخ خاوندان څه توپیرنه لري؟ ایانور اوظلمت یو راز دی؟

په دې پوښتنو دغفلت له خوبه راوبښ شوم اوهرې خواته مې په ځیر ځیر وکتل څنګه چې دیوه پټې ټیپر او دیوه بوټې کدوان یو رازنه ؤ د انسانانو سرونه هم غټ او واړه او د ټولو خولې برابرې نه وې.

ماپه دې عالم کې په وارو واروسترګې وغړولې او هرچاته مې له هرې خواپه غور وکتل.

همدغه وخت زه د پرښتو اولعینانو په معنا پوه شوم، قصابان او شپانه مې وپېژندل، د عدل او ظلم، دخیراوشر دعلم اوجهل فرقونه راته ښکاره شوه.

هغه دېوان چې خلکو له کوه قاف نه هغه خواګڼل مادلته په کوراوکلي کې ولیدل.

دانسان په بڼه شیطان او دپرښتو په صورت دېوسیرته انسان ته مې پام شو.

اوس زما له سترګونه ډارپه کاردی ته زماله حقیقت بین نظرنه وډارشه!

الفت:

## عشق او هوس

نظرونه ټول یوراز نه دی، هر چا هرڅه یوشانته ندی لیدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعشق نظر اود هوس نظريو له بله ډېرفرق لري. دمين او بوالهوس ترمنځ دځمکې او اسمان قدر فاصله موجوده ده، مين يوه ليلیٰ لري اوهغه پې هم داسې ليدلې ده لکه چې په توره شپه کې دغره له څوکې سپوږمۍ لږ غوندې سربښکاره کړي او بيا سمدلاسه په تورو وريځو کې پټه شي.

عشق دهمدغسې اسماني پربښتې يوه جلوه ده چې دعاشق په زړه کې طوفانونه پيداکوي اودانسان نظريوې نقطې ته داسې جلبوي چې نورڅه بيانه شي ليدلی اوهغه هم نه ويني. نور خوندونه اونورې نندارې دسړي هېرې شي او شپه ورځ د هجر اوفراق په لمبو سوزي مګر دهوا او هوس خاوندان دعشق له غمه بې غمه دي، دوی هره شپه په خرابات او ميکده کې بل شان لوبې کوي او دعشق اوعشرت په باده مست دي.

عشق دناکامۍ او محروميت نوم دی. هوا او هوس، بې مشقته لذت او بې هجرانه وصا ل ته وايي.

معشوقو ته رسېدل هغه ګران کاردی چې دجهان لوی لوی امپراتوران بې هم له حده زيات سرګردانه کړي وې، اوځينې کسان دډېرو لښکروپه زورهم دغه سعادت ته نه دي رسيدلي مګر هوس پالونکي هره شپه يوه نوې ليلی په غيږ کې نيسي اوهغه شوندی ښکلوی چې ډېرو نورو بې هم په وارو وارو خوند ليدلی دی. هغه چې دهر خريدارلپاره ځان سينګاروي او ديوه په غيږکې بل ته خاندي، دهوسرانۍ دپاره پيداده نه دعشق لپاره.

دغه راز مبتذل خوندونه دهوسنا کو خلکو لپاره لرنه دی له دغسې نا پاکې يارانې نه د عشق داستان نه جوړېږي ددوه مينووصا ل هر چاته ښکلی معلومېږي او هرڅوک د مجنون اوليلی په فراق متاثر کېږي، مګر د هوس دخاوندانو معامله بده ګڼي او په نفرت ورته ګوري داځکه چې عشق دخلکو په نظرکې دروند معلومېږي او هوس ته په سپکه سترګه ګوري، هغه دپټنګانو کاربولي او داد مچانو.

هرکارچې دعشق دپاره وي په هغه کې اورمرو يوڅه فوق العادګي موجوده وي او دهوس د خاوندانو کارونه ټيټ اوعادي معلومېږي، هغه قوت او قدرت چې له عشق سره شته هوس ترېنه محروم دی، فرهادي عزمونه دعشق دخاوندانو په برخه رسيدلي دي، ايثار او فداکاري،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهوس دخاوندانو کار نه دی. سربازي اوسرفرازي دواړه له عشق سره ملګري دي. په شعر اوادب کې هم د عشق برخه معلومه ده، هغه څه چې په یوه عالي احساس او لوړ خیا ل بناوي اوهغه چې د هوا او هوس دپاره وي او په ټیټ غرض بناوي برابرنه دي. چاچې دغه هنر (ادب) ته دعشق په نظرکتلی دی او ددنیا د سود او ګټې دپاره داکارنه کوي هغه کله کله په ډېرو جګر خونیو یو ادبي شهکار د ابتکار میدان ته راباسي او دزړه وینې پې خوراک وي. څوک چې د بازار رونق ته ګوري او دخپلو هوسونو د تامین دپاره څه لیکی هغه هر ه ورځ بې زیاراو زحمته مبتذل مضامین بازار ته وړاندې کوي او ظاهر ي ډول پې برابروي، هغه هېڅکله عمیق فکرنه کوي او په لوړو خیالاتو پسې نه ګرځي.

دژوروفکرونو او دلوړو خیالونو خریداران هر کله او هر چېرته ډېر لږدي.

دا راز متاع دخرڅولوهم نه ده، څه شی چې په دنیاکې ډېر نادر وي بې له احمقانونه یې بل څوک نه خر څوي. دذوق او هنرپه خاوندانو که هر رنګه بده ورځ راشي خپل ګران او ډېر بې بها شیان نه خرڅوي مګر عادي او معمولي شیان له کوره باسي.

هغه چې پخپل فن مین دی اوله خپل کارسره عشق لري هرراز نا کامي اومحرومیت قبلوي، مګر عشق په هوس نه بدلوي.

زه دامنم چه د هوس خاوندان له روحی عذابونو او شکنجونه خلاص دي او ددنیا په خوږو کې له نورونه ډېره برخه لري په دې هم پوهېږم چې دعشق په کارکې څومره مشکلات موجود دي او په دغه خطرناکه لاره تک څه مصیبتونه په مخ کې لري، مګر د عشق محرومیت او ناکامي، د عشق رنځ او عذاب یو بل کیف لري او دغه افتخار په ډېرو بدبختیو او کړ اوونو کې پټ دی. د فن اوهنر خاوند باید له هوا اوهوس نه ځان وژغوري او له عشقه برخه ولري، په خپل کار کې عشق ګډ کړي او دعشق دپاره هر څه قبول کړي.

دحقیقت عشق، دازادی عشق، دجما ل عشق، دوطن اوملت عشق که په شعر اوادب کې ځای ونه لري نو هوا او هوس یکې ځای نیسي او تجارتي متاع ترینه جوړیږي یعنې دابتکار ځای ابتذا ل نیسي او شهوات په عواطفواو احساساتو غلبه پیداکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاعر او ادیب  باید د ذوق او قریحې دپاره څه ولیکی او دآني مصلحت په قید کې ځان ایسار و نه ګڼي، که دغه راز متاع نن خریدارونه لري او څوک ورته په قدرونه ګوري، له دېنه لویه صله بله نشته. راشئ! چې د خرڅون فکرورتېو اوکوچنۍ سوداپرېږدو د شعراو ادب ازادي همدغه  ده چې هېڅ قیمت ونه لري او دما ل په نظر ورته  ونه کتل شي ، ذوق د خرڅولو شی نه دی. څوک چې خیا ل اوفکر خرڅوي هغه ددغه شي ازادي نه شي ساتلای اوخپله ازادي اروبرو له لاسه ورکوي.

که ازادي دانسان معشوقه وي او دهوس په نظرورته نه ګوري، که څوک غواړي چې خپله آزادي، په خپلو آثارو، پخپلو افکارو، پخپلو خیالاتو کې وساتي ، مادي سودا دې د زړه نه وباسي او د سودوزیان د ډار او امیدغلامي دې پرېږدي.

دشعر او ادب ارتقااو اعتلاله هر څه نه دغې ازادۍ ته زیات احتیاج لري او له معنی نه د مادیاتو قربانول غواړي.

داقرباني دهغه چاله لاسه پوره ده چې شعر او ادب ته دعشق په نظرګوري نه د هوا او هوس په نظر.

 عشق ډېر خطرات، ډېر زیانونه اوډېرې ګټې له پښو لاندې کوي او په همدغه وسیله لوړېږي او دلوړ تیا حقیقي راز د هوا او هوس په قربانو لوکې پټ دی او عشق دقربانۍ او فداکارۍ نوم دی.

قرباني او فداکاري دلوړو احساساتو اوعواطفو کاردی چې په یوه شاعر او ادیب کې باید اروبرو موجودوي. که دغه کسان دغه کارنه شي کولی اونه یې کوي،  هرڅوک پوهېږي چه له دېنه زیات معنوي ا نحطاط په تصور کې نه راځي، دفکر اوادب حقیقي پالنه دډېرو پاڼو په تورولو نه شي کیدای او مقید ذهنونه دغه کارنه شي کولی، داد هغوکسانو کار دی چې دلوړ شعور او ادراک خاوندان دي او دعقیدی له مخې کارکوي، داکار زما په ګمان دلته ښه نه دی شوی او دغه وظیفه چاښه نه ده په ځای کړی، دلته دوطن مزدورانو او کاریګرو څه نا څه خپل کار کړی دی او موټر وینوچې څوک لاري جوړوي او پیچومي او اروي، څوک کارخانو اوفابریکوکې خدمت کوي، ځینې ماڼۍ اوقصرونه آبادوي، ځینې نور د ورانولوپه کاربوخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ځکه وايم چې دلته ناپوهانو ډېرکار کړی او ادبيان يا ډېرلږدي ياخپلې وظيفې ته ښه ملتفت نه دي او له عشقه محروم دي.

څومره توجه چې معنی ته په کار ده اهل معنی بې معنی ته نه لري اوپه دې باندې ډېر افسوس اوحسرت په کاردی ، مګر دغه کارهم بوالهوس نه شي کولای او ددرد خاوندانو ته ضرورت لري.

الفت:

## مضر احتياط

که رښتيا ووايم مونږ ډېرې هوښيارۍ او ډېرو احتياطونو برباد کړي يو.

يو چا زمونږ په حق کې ويلي و: داخلک له ضرورته زيات هوښيار او محتاط دي.

راځئ چې په دې خبره کې فکر وکړو.

هوښياري چې له اندازې نه زياته شي او هام قوي کوي.

احتياط چه ډېر زيات شي لاسونه او پښې شلوي.

شمی اکا زمونږ په کور او کلي کې په ډېرې هوښيارۍ مشهور و او هر چابه چه کومه مشوره غوښتله ده ته به راتلل.

دده د هوښيارۍ او احتياط يوه ښه دا وه چه ده تر آخره پورې خپل کور ته برق رانه ووست او ويل به يې که کله برق شارټ شي، نو حريق به واقع شي او کور به مې وسوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده داعادت وچې په موټرکې به نه سوریده او ډېرلرې ځاي ته به هم پیاده روان و ځکه چې دموټرله چپه کیدلو وېرېده اواحتیاط پې کاوه.

هو! دی له ډېره عقله پیاده ګرځیده اوکورکې به بې رڼا هم ډېره لږه وه.

دغه شان هوښیاران او د احتیاط خاوندان زمونږ په مملکت کې زښت ډېردي او د نوي تهذیب اوتمدن قبلول له برق اوموټر نه هم زيات مضربولي.

زمونږ په ادارو او شعباتو کې ډېر هوښیار اوډېر محتاط اشخاص زيات ليدل کېږي. دوی دنوي نهضت او نوي رڼا په قبلولو کې ډېرسخت مقاومت کوي اوهغه کسان چې له ځینو مزخرفاتو او مضروافکارو سره مجادله کوي بې تجربې او افراطي هلکان ګڼي. دوی وايي په هرکار کې اعتدا ل ښه دی اوبايد په هرڅه کې له ډېر احتياط نه کار واخيستل شي.

هغه څوک چې يوقدم دعصر خواته نږدې کېږي او آرزولري چې ددنياله سيرسره موافقت وشي، دوی وربانـدې سترګې سرې کړي او تهديـدوي يې چې تاسې دقـوم له روحياتو، دمحيط له مقتضياتو ناخبره ياست اوجامعه بربادوئ.

دوی ځانونه داسې ښيي لکه چې دعلم اوعقل او تجاربو سرمايه داران همدوی وي او دنيا ددوی په ښکر ولاړه اوپه دوی ودانه وي، مګر رحمان بابا وايي:

دا دنيـــــا پـــــه احمقـــــانوده ودانـــــه دانـــا نــــه کاپـــه دنيـــا بانـــدې غـــرض

دوی هروخت داعتدال پسندی په نامه دنـوي نهضت او مدنيت مخه نيسي او غواړي چې وړاندې تلونکي اوپيشرفت غوښتونکي په شټ بوزي او بيرته يې وګرزوي.

دوی خيا ل کـوي چـې اعتـدال اواحتيـاط سکـون او جمـود قبلـول دی او يوقـدم وړانـدې اېښودل له احتياط او اعتدا ل نه وتل دی.

تاسې پدې پوه شئ چې همدغه کسان په شټ تلونکي مرتجعين دي چې اعتدا ل په حقيقت کې نه پيژني اويا په دغه نامه دملت دپيشرفت مخه نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه محتاط او اعتدا ل پسنده طبقه چې په اصل کې له اعتدا ل نه ډېرلرې دي دوی کې د مسامحه کارۍ، مماشات او سازشو نو استعداد موجود دی، په کوم ځای کې چې دحق او حقیقت اظهار په کار وي دوی غلي او خاموشه ناست وي اوهر څوک چې هرڅه وايي دوی ورسره سر خوزوي او خپل محبوبیت ساتي.

ددوی داعادت دومره قوي شوی چې دخدای رضا هم دخلکو په نارضایي کې نه خوښوي اوکه دقوم له روحیاتونه خلاف وي ددین او عقیدې اظهار هم نه کوي.

له یوه خان او ملک سره دومره ناجایزه مراعاتونه کوي چې طوایف الملوکۍ ته خبره ورسېږي، له سپین پکړیو سره تردې حده مماشات اختیار کړی چې دحقیقي اسلام په عوض ورسره جعلي او موضوعي خبرې ومني.

هو! دوی له هر چا سره سازش کوي مګر له عصري ترقیاتوسره بې جوړه نه راځي. دوی په عین حا ل کې چې دنوی نهضت او عصریت له زړه نه مخالف دي یاپې دخپل مفاد دپاره مضر ګڼي، ځلمواوځوانانو ته داسې ښکاره کوي چې تاسې نه پوهېږئ او پخواله وخته دنیاته راغلي یاست.

مونږ غواړو چې مخکې ولاړشو اوترقي وکړو مګرقوم جاهل دی او بایدله ډېر احتیاط او اعتدا ل نه کار واخیستل شي.

دوی ته باید وویل شي چې که تاسو غوندې محتاط او اعتدالیون موجودوي داجهل او ناپوهي به هېڅکله نه ورکېږي او څوک به یوقدم وړاندې وانخلي.

مګر که تاسو خلکو وپېژندلئ او زماني ستاسې حا ل ښکاره کړ، بیا به ډېر ګړندی منزل مقصودته ورسېږو او تاسوته به دپښتنو په تاریخ کې بې ملامتۍ نورڅه پاتې نشي.

هغه ځوانان چې تاسو بیرته راګرزولي دي اوپه نوو مغزوکې مو زاړه فکرونه اچولي دي تاسو سره به په خجالت کې شریك اوسهیم وي، اوستاسې دهوښیارۍ او مضر احتیاط مس به ډېر ژر ښکاره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه خپل وجداني مسئولیت رفع کوم او وایم: کومه رویه چې تاسې نیولي ده اعتدا ل نه دی تفریط دی بلکه هیڅ نه دی اوتاسې هیڅ نه کوئ مونږ تاسې پېژنواوپېدې خبرونه غولېږو.

ستاسې هوښیاري او احتیاط ډېر ضعیف احتمالات اوتوهمات غښوي اوتاسې وېروي.

تاسې زمونږ قافله ځای په ځای درولې ده او د خپلو اسونو جلوونه مو دومره ټینګ نیولي چې یویو قدم وروسته اوپه شاځي.

دا ارتجاعي قدمو نه مونږ ته ډېر مضر تمامېږي، تاسې دکاروان اوقافلې مخه نیولې ده او ستاسې توقف دټولو دمعطلۍ سبب ګرځي. دخدای پار دی تاسې له مخې لرې شئ او مونږ پرېږدئ چې وړاندې ولاړشو او یوه ځای ته ورسېږو.

الفت:

## حاکمانو ته وایم

ای هغو کسانو چې ستاسې په لاس کې دحکومت لښته ده ستاسې په امر یو سړی وهل کېږي، ترل کېږي، جرمي کېږي او هرڅه کېږي.

ستاسې په نظر یه یو بې ګناه په محبس کې لوېږي او یو ګناهګارله بنده خلاصېږي.

ستاسې په عدالت مظلومان له ظلمونو نجات مومي اوستاسې په یې انصافۍ، ظلمونه، جبرونه په عالم کې خپرېږي.

ستاسې غفلت اوبې خبري عالمونه تباه کوي او ستاسې په وېښتوب او هوښیارتوب ډېر ښه ښه کارونه کېدلی شي.

که تاسې په سمه او صحیح لار روان شئ ډېربې لارې خلک به په لارکېږي، که تاسې پخپله دنفس اوشیطان په لاره درومئ نوپه عالم کې دظلمونوله لاسه بې تمیزه قیامت اوبې میزانه محشر جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې فساد د ډېرو فسادو باعث گرزي او ستاسو په اصلاح ډېر ډېر اصلاحات کيداى شي.

ستاسې په لاس کې دحکومت زور او قوت موجوددی که تاسې لېوان يا لېونيان شئ د خداى مخلوق تباه کيږي.

که تاسې ماشومان او اطفا ل اوسئ ستاسې په طفلانه لوبو ډېر کورونه خرابيږي. که تاسې ړانده او کاڼه شئ حق او عدالت مري او ظلمونه، فسادونه، بدبد کارونه رواج مومي.

تاسې پدې پوه شئ چې ددنيا دنظام او انتظام دپاره خداى دوه شيه پيداکړی دی. چې يوه ته حکمت او بل ته حکومت وايي.

حکومت هېڅکله بې له علم او پوهې، بې له تدبير او سياست څخه چې له دې ټولونه په حکمت تعبير کيدلی شي مخکې نه ځي او تش کوتک په دنياکې نه چلېږي.

اوس په متمدنه او مترقي دنياکې يوسړی په ډېر علمي لياقت اولوړ شخصيت حاکم کيدلی شي او هغه څوک دغه رتبه اومرتبه ګټلی شي چې په تدبير اوسياست کې اوله درجه مهارت لري او دمهموصفاتو خاوندوي. مګرپه تاسې کې لا اوس هم بې سواده، بې ذوقه، بې علمه، بې رحمه، بې انصافه اوله جهانه نه نا خبره اشخاص پيداکيږي،چې بې رشوت اخستلو، وهلو او ټکولو، کنځلو اوبدوويلو، په نور څه نه پوهيږي اونه شي پوهيدلی.

تاسې پدې پوه شئ چې حکومت پس له دې نه تجارتي متاع نشي کيدلئ چې څوک يې په پيسواو رشوتو نو واخلي.

هغه وخت او زمانه په تيرېدو کې ده چې څوک د حکومت چوکۍ په خوشامندو اوتملقونو وساتلی شي يا ظلم او بې شعوره قوت په يوه منطقه کې حاکميت وکړای شي.

مونږ ددې عصريه شپوکې داخوبونه ليدلي دي چې علم او لياقت، خير او اصلاح به ډېر ژر خپله کرسۍ اشغا ل کړي او جهل او ناداني،ظلم ستم، ريا کارۍ اوفريب کاري به له خپلې چوکۍ راولوېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې خپل ځانونه اصلاح کړئ اوپخپل ځان ګوتې ووهئ مقصد ظاهري فيش او ارايش نه دی بلکه دعيبونو اصلاح او دځان معنوي جوړول مراد دی

راشئ دا زړه طريقه نوره پرېږدئ اوهرکار دسوتې په زورمه کوئ!

انسانان خدای دوهلو اوټکو لودپاره نه دی پيداکړی.

دمجرمينو دقايلو لواو اصلاح کولو دپاره نوروسايل هم شته.

ظلم په ظلم باندې هېڅ کله نه ورکېږي.

تاسې به ډېرخلک په وهلو معيوب کړی وي.

ډېرکسان به ستاسې دشدت او تشددله لاسه تبتيدلي او ورک شوي وي، مګر جرايم او جنايتونه نه دي ورک شوي.

يوشاعر وايي:

دانسان اصلاح په پوهه انسان کړی نا پوهان ېې په وهلو دانسان کړي

نوراشئ له علم او پوهې نه کارواخلئ ظلمونه او جبرونه پرېږدي!

بې ګناه خلک په وهلو اوټکولو مه قايلوئ!

په رشوتونو اولحاظونو له حق او حقيقت نه مه تېرېږئ او ديوه په ګناه بل ته جزامه ورکوئ!

تاسې پخپل نفس او خپلو خواهشاتو حاکميت پيداکړئ او دهمدغه حاکميت په اثر ځانونه ددې لايق کړئ چې په نورواسې حکومت وکړئ لکه چې يوپلارېې پخپلو زامنو باندې پخپل کورکې کوي اوهېڅ راز ظلمونه پکې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# میلونر خیرات خور

که څوک خپه کېږي که خوشحالېږي زه خوځه وایم او خپله غاړه خلاصوم، ګوندې داساده مخلوق لږ غوندې پوه شي اوفکر وکړي.

زه اروپاته نه یم تللی، امریکامې نه ده لیدلی، په افریقا کې نه یم ګرځېدلی او هېچېرې نه یم تللی، مګر یوعجیب مملکت مې لیدلی دی او عجیب مخلوق پکې اوسي.

په دې مملکت کې ددی په ځای چې بډایان او مالداران خوارنو او غریبانو ته څه ورکړي، خواران او مسکینان دډېر ما ل او دولت خاوندانو ته څه ورکوي او هغوي هم نه شرمېږي اخلې یې.

ته به وایې دی رشوت خواره ماموران او حاکمان یادوي چې په لکونو روپۍ اوبې حسابه جایدادونه لري له یوه ډېر عاجزسړي نه هم په ډېره جزیي فقره کې تر څو سل دوه سوه روپۍ وانخلي نه یې پرېږدي.

نه زه دغه بې رحمه بې انصافه رشوت خواره نه بنیم، خیرات خواره بنیم.

په دغه مملکت کې چې زه ورته عجیب مملکت وایم ملیو نر خیرات خورهم پیداکېږي او ډېر غنیان دخوارانو اومسکینانو خیراتونه خوري.

په دغه وطن کې ماداسې خلک ولیدل چې اسونه ورته ولاړ دي موټرلري، قصرونه او باغونه، ځمکې اوپټې یې په هر ځای کې شته مګر له داسې خلکونه خیراتونه او شکرانې اخلي چې هغوی دخپل اولاد نفقې او جامې ته حیران دي او ددوی نوکرو ته هم نه رسېږي.

په دغه مملکت کې معکوس وضیعت دی او وږي بربنډ یې له مړو او دولتمنو سره مالي مرسته او کومک کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوم ځای کې چې دبې وزلو او خوارنو په خيراتونو او شکرانو، غنيان او متمولين ځمکې او جايدادونه، کورونه او باغونه، موټر او اسونه اخلي.

ايا دهغوئ په حا ل افسوس او حسرت نه دی په کار؟

ای خوارو او بې وزلو پښتنو! هرڅوک چې غني او دولتمن شي مياوي که ملا، سيدوي که پيراو پيشوا هغه دخيراتونو اوزکاتونو مستحق نه دی.

هغوی بايد تاسې غوندې عاجزانوته خيراتونه او زکاتونه درکړي او په تاسې باندې زړه وسوزوي، که تاسې نه دريږئ او اورمرو نورو ته څه ورکوئ، دقصرونو او باغونو خاوندانو ته څه مه ورکوئ بلکه ګوډ، شل، ړانده، کونډې، يتيم، بندي مسافر ته يې ورکړئ چې په اخرت کې په ښه درشي.

ستاسې په خيراتونو په عمرو عمرو خلکو مزې، چړچې او ورميږونه وکړه، که رښتيا ووايم نو شرابونه هم پرې واخيستل شوه او فحاشي پرې وشوه، لږ سترګې وغړوئ او لږ غوندې هوښيارشئ. اخر ړانده خونه ياست داڅه دربادې کيږي.

تاسې خپلو شکېدلو جامو، خپل فقر او مسکنت او ددوی ما ل اودولت وګورئ! چې دوی څنګه دي اوتاسې څنګه ياست؟

که دوی نه شرميږي اوستاسې خيراتونه قبلوي بلکه غواړي يې، تاسې ددوی له حيثيت اوشان نه وشرميږئ او دوی ترقيامته اوپه قيامت کې مه شرموئ.

((الفت))

# ګرانه ليکواله!

ددې عصر قافله ډېره ګړندی ده، له دې کاروان سره برابرتګ نوې اقتضاګانې لري اود انسان په ظاهري او معنوي حال کې بدلون غواړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخوابه يوه کارواني له ځان سره پتيرې اخستې اوپه پښو به يې ميخونه او نالونه وهل، مګراوس دالوټکو په سفرکې دغه شيان نه دي په کار اوددې وخت مسافرت هغسې نه دی.

موږ اوس دژوندانه په نوې مرحله کې داخليږو او له يوه حاله بل ته انتقا ل کوو.

هغه څوک چې له خپل خره راکوزيږي او په الوتکه کې الوزي بايدفکر او نظرېې بل راز شي او ناسته ولاړه بې هغسې نه وي.

هغه چې ټول عمرپلی ګرزېدلی اوله عقله پياده دی دآس يابا يسکل سپرلی هم ورته ډېره ګرانه معلوميږي، د سپوږمۍ کرې ته ختل خو لا څه کوې.

له يوه زاړه جهان نه نوې دنيا ته ورتګ او په نوو توغنديو سپريدل ډېر مراحل په مخکې لري او نوې عصري پوهه غواړي.

انسان لکه دتجارت ما ل داسې نه دی چې داوښ له شانه الوتکې ته رانقل شي او هېڅ تغير پکې رانه شي.

تجارتي مالونه هم د اوښانو په شا په څټو او غوندو کې وي او په الوتکوکې خپله جامه او ظرف بدلوي. هغه وخت چې موږ دخپل کلي او کور له څوتنو کاروانيوسره په خروپسې روان وو او اوس چې دمختلفوملتونو له افرادو سره په الوتکو کې لرې هېوادوته ځو او راځو بايدله هغه حاله ډېرفرق ولرو او هغسې نه اوسو.

که هغه وخت زموږ نظر محدود و زموږ مزلونه هم لنډو مګر اوس له دغه اوږدو مزلونواو لوړو پروازونو سره لوړفکر اولرې نظرهم په کار دی.

زموږ خلک خواوس دهوايي سرويسونو له برکته له ځمکې نه لوړې فضاته هسک شوه او وزرونه يې پيداکړه مګر دخلکو فکرونه او اخلاق لوړول دغومره اسانه کارنه دی چې کوم داخلي يا خارجي شرکت يې سرته ورسوي.

داکار ترډېره حده دهيواد د پوهانو اوليکوالو کاردی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داد دوی وظیفه ده چې دیوه نوي نهضت او ارتقا یي حرکت ملګر تیا وکړي او دخلکو ذهنونه د نوو افکارو او عصری ایجاباتو قبلولوته تیار کړي. نوي نهضتونه په هرځای اوپه هر وخت کې پالونکي او رټونکي لري.

په هرملت کې (نوې خوښې) او (زاړه خوښې) شته.

زاړه هر چېرته زاړه رواجونه او عادتونه خوښوي، ځوانان هرکله دنوي فکر او دنوي ژوند طرفداروي.

ددې دواړوډلو ترمینځ یوه بله ډله مینځګړیتوب کوي یعني ځینې نوي شیان ښه ګڼي او ځینې بدبولي، په زړوشیانو کې هم ځینې خوښوي او ځینې نه .

دادریمه ډله په جامعه کې معتدل اشخاص ګڼل کېږي او هغه دوه نورد افراط او تفریط خاوندان بولي.

زه دلته دانه وایم چې دافراط طرفداران ښه دي که اعتدا ل پسند، مګر په لیکوالوېدا پیرزوېنه لرم چې دوی باید هر کله او هر چېرته دنوو نهضتونو ټینګ طرفداروي اوهغه زاړه رسمونه او رواجونه بدوګڼي چې دیوې جامعې دبیرته پاتې کیدو موجب دي. لیکوا ل باید خلک پدې پوه کړي چې ددوی اجتماعي اوانفرادي ژوند څه راز دی؟ دوئ څه کوي؟ ددوی خویونه فکرونه عملونه اونېتونه څنګه دي؟ دنن ورځې د ژوند دپاره څه په کار دی او دسباورځې ضرورتونه څه دي؟

دیوه ولس دحقیقي سعادت دتامین دپاره له هر چانه دپوهانو اولیکوالومرسته ډېره په کارده، دوی باید خلک داصلاحي فعالیتونو او پروګوامونو په ښېګڼوپوه کړي او په عالم کې داسې خوشبیني پیداکړي چې واقع بینی ته زیان ونه رسوي.

مونږ لکه چې دښو اوسمو لارو جوړولوته ډېر ضرورت لرو دېته هم اړیو چې په ښه لاره تګ خلکوته وښیواو ښه حرکت راپیداکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که سړک هرڅومره ښه جوړشي او لیاره ډېره اواره هم وي چې څوک په سمه لاره نه ځي او د حرکت اراده نه لري څوک به يې څه کړي؟

که دچا صحت هرڅومره ښه وي او په وجود تکړه وي چې خوی يې وران اوعمل يې بدوي نوڅه فايده؟ ترڅوچې زموږ عادات اواخلاق سم نه شي او بد ذهنيتونه راسره ملګري وي که داملک جنت هم شي زموږ بد عملونه اوبد رواجونه به يې په جهنم بدل کړي او په هغو اورونو به سوزو چې زموږ له نفسونو نه يې لوخړې اولمبې پورته کېږي. که موږ خپل ځانته متوجه شو اوخپل کردار اورفتار په نظرکې ونيسو زموږ هغه ظلمونه او جهالتونه چې د رسم ورواج اوعرف اوعادات نوم پرې ایښودل شوی دی زموږ د بدبختۍ ډېرمهم عوامل دي چې يوه اساسي مجادله اوقلمي مبارزه ورسره په کار ده.

په دې اوس وخت کې چې دتحول ورمه درسم و رواج پوړنی له مخه اخلي او محجوبيت له مينځه ځي دليکوالو په غاړه ډېر مهم مسئوليتونه پراته دي چې دحقايقو له مخې پرده لري کړي اوښوته ښه بدوته بد ووايي يعنې له هېچانه ونه وېرېږي حتیٰ چې له عرف وعادت نه يې هم سترګه ونه سوزي او دحقانيت په جذبه د ناپوهۍ له هغه بدذهنيت سره مجادله وکړي چې قوت او قدرت يې دزړې زماني له فرعونانو نه کم نه دی اويوازې ابراهيمي جرئت ورسره مقابله کولی شي.

دليکوا ل لويوالی په همدغه ټکي کې پروت دی چې دجامعي عرف وعادت ته په انتقادي نظر وګوري اوخپله عقيده پټه نه کړي.

هغه څوک چې خپل صحيح فکراو نظردعا م ذهنيت په مخالفت نه شي څرګندولی څوک ورته په نفرت نه ګوري مګر کوم ارزش هم دجامعي په نظرکې نه لري.

رښتياني ليکوا ل اوستر ليکوا ل هماغه دی چې د راتلونکی نسل قضاوت په نظرکې ونيسي اوله سبا ورځې وډارشي نه له نن ورځې نه .

يو مسلمان بايد هغه ورځ په نظر کې ولري چه يو صحيح قضاوت پکې کيدونکی دی او حقيقت پکې له رسمونو او رواجونونه لوړمقام لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګه چې په یو ه باغ کې هروخت ناکاره بوټي، درب اوکبلې پیداکیږي باغبانان یې له بیخه باسي چې له باغ نه ځنګل جوړنه شي په یوه ولس کې هم په مرور د زمان ځینې وران خویونه اوبدعادتونه پیداکیږي چې انساني باغ وبڼ ته زیان رسوي.. هغه اصلاحي نهضتونه چې په ملتونوکې وخت په وخت پیداکیږي دهمدې دپاره وي چې دغه راز بد بوټي ورک کړي او دخلکو په ذهن کې نوې رڼا پیداشي.

دجهان تاریخ چې سړی ګوري او دستر و لیکوالو او پوهانو د ژوند انه مطالعه کوي دا ورته معلومیږي چې دفکر اوپوهې مشرانو او لو یانو دخپلې عقیدې اوفکر و نظریه اظهار او ابلاغ کې له څومره جرئت او جسارت نه کار اخستی او خپل ژوند یې د نورو د ژوند ښه کولو دپاره څومره خوارکړی، بلکه قربان کړی یې دی.

دراتونکي نسل په نظرکې خپله لویي ثابتول څه اسانه کارنه دی چې خوشې په خوشې لاس ته راشي. که سړی دپوهې اوفکر په رڼاکې دحقایقو په اظهار نن هر څومره منفور واقع شي اوعام ذهن ونظر ورته په کرکه وګوري هغومره به دغه سړی دسبا ورځې په رڼا او د راتلونکي نسل په نظرکې ښکلی او محبوب ښکاري.

((الفت))

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

پښتانه شعراء لومړی ټوک
مخزن الاسلام قلمی نسخه
سلوک الغزات قلمی نسخه
د میرزا انصاری دیوان قلمی نسخه
د دولت دیوان قلمی نسخه
د خوشحال دستار نامه
د خوشحال خان دیوان
فوائد الشریعه
د رحمان بابا دیوان قلمی نسخه
د احمد شاه بابا دیوان قلمی نسخه
د احمد شاه بابا دیوان بله قلمی نسخه په تاشکند کتبي
د حمید دیوان قلمی نسخه
پټه خزانه قلمی نسخه
د عبدالقادر خان دیوان قلمی نسخه
خه لیکل یا لیک پوهه
زما د ډیرې مودی یادداشتونه
ادبی جرګی
د کابل ځینی مجلی او سالنامې
شعر او ادب
غوره نثرونه
د افضل خان تاریخ مرصع
د پښتونخوا شعر هار و بهار
در اورتی ګلشن روه
سبک شناسی د ملک الشعراء پهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هنر انشاء و نویسندگی

فن نگارش

د پښتو ادب تاریخ

پښتو پښویه (پښتو مرکه)

لومړی کتاب د پښتو پښتو خبرې

پیغله (صاحبزاده ادریس)

د قصه خوانی گپ

پښتو نثرونه لیک دود

بایزید روښان (خادم)

ادبی فنون

ادبی بحثونه

کچکول

پښتني

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# A FEW NOTES ON THE ORTHOGRAPHY AND COMPOSITION OF PASHTO LANGUAGE

By

**GUL PACHA ULFAT**

PUBLESHED BY

**PASHTO ACADEMY KABUL**
**AFGHANISTAN**

FIRST EDITION 1959
SECOND EDITION 1961
REVISED ENLARGED

Government prining House

دولتي مطبعه

www.ulfat.de

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**